بسم الله الرحمن الرحیم

شیخ زاید علمي ــ څېړنيز ژورنال

علمي او څېړنيزه درې مياشتنۍ خپرونه

۱۴۰۲ لمريز کال، دويمه ګڼه، کب – پرله‌پسې ۳۳ مه ګڼه

۳۳

# شیخ زاید علمي – څېړنیز ژورنال


**د تأسیس کال ۱۳۸۸ لمریز**

**علمي او څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه، ۱۴۰۲ لمریز کال، دویمه ګڼه، کب پرله پسې ۳۳مه ګڼه**


**کتنپلاوی**


پوهنوال محمد شفیق مندوزی/ حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

پوهنوال عبدالخلیل اقغاني/ کرنې پوهنځی

پوهنوال زرولي صدیقي/ ټولنیزو علومو پوهنځی

پوهنوال محمد الله مندوزی/ حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

پوهنوال عبدالتواب عزیزي / ښوونې او روزنې پوهنځی

پوهنوال امان الله ځدراڼ / حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

پوهنوال شفیع ګل شفیقي / کرنې پوهنځی

پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب / ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پوهندوی صالح خان صالح/ کمپیو ټر ساینس پوهنځی

پوهندوی سید کمال شاه بنوري/ شرعیاتو پوهنځی

پوهندوی غازي جان محمدي/ ښوونې او روزنې پوهنځی

پوهندوی نقیب الله عطیش / ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی

پوهنمل ګوهرشاه ګوهري / کمپیوټر ساینس پوهنځی

**د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون**

**مسؤل مدیر: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب**

**علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي**

**علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل**



**پته: شیخ زاید پوهنتون، د څېړنو او علمي مجلې معاونیت، علمي مجلې آمریت، خوست – افغانستان**

journals@szu.edu.af

**۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱۶۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

| گڼه | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ملګرو ملتونو سازمان اختصاصي سازمانونه | پوهنوال محمدالله مندوزی او<br>پوهنمل فضل الرحمن ایوبي | ۱ |
| ۲ | د افغانستان زهري نباتات | پوهنوال عبدالخلیل افغاني | ۱۷ |
| ۳ | د غړیزې ککړتیا د ناوړه اغېزو څېړل | پوهندوی خان وزیز عادل او<br>پوهندوی غازي جان محمدي | ۴۰ |
| ۴ | د محمدظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال د افغانستان او پاکستان اړیکې | پوهنمل محمد شاهد او<br>پوهنمل عرفان | ۵۴ |
| ۵ | د نباتاتو په وده او حاصل باندې د خالصو حیواني سرو کمپوسټ او د نباتي کمپوسټ سره د ګډو حیواني سرو آغېزې | پوهنمل محمد اسماعیل مقبل،<br>پوهندوی شفیع ګل شفیقي او<br>صفي الله همدرد | ۶۴ |
| ۶ | د کاربونیل ګروپ د تراکمي تعاملاتو د میکانېزم څېړل | پوهنمل دکتور غلام اقبال مرستیال او<br>پوهنیار نورالله حسین خېل | ۷۳ |
| ۷ | په نړېوالو سیاستونوکې تعارض | پوهنمل محمد شاهد او<br>پوهنمل عرفان | ۸۹ |
| ۸ | د افغانستان د یو شمېر سیاحتي ځایونو ټولنیز او اقتصادي ارزښت | پوهنمل قدرت الله صدیقي | ۱۰۰ |
| ۹ | د $H^1$ N.M.R سپکتروسکوپي میتود په واسطه په عضوي مرکباتو کې د هر ډول هایدروجن تشخیص | پوهنمل دکتور غلام اقبال مرستیال او<br>پوهنیار نورالله حسین خېل | ۱۱۷ |
| ۱۰ | د عامه اړیکو اخلاق | پوهنمل فاروق جان منګل او<br>پوهنیار هلال ارشاد | ۱۳۱ |
| ۱۱ | د پیچلو شکل لرونکو جسمونو د حجمونو پیدا کول | پوهنمل احسان الله همتي او پوهنمل محمد زبیرتنویر | ۱۳۹ |
| ۱۲ | د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د فقهي او فتوا په ډګر کې د ښځو ونډه | پوهنمل فضل کریم شرف | ۱۵۳ |
| ۱۳ | جایگاه اشعار تعلیمی شاعران اخلاق‌گرا در تأدیب اخلاق جوانان | پوهنمل عبدالبصیر حکیمي | ۱۷۱ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | افغانستان کې د ښکاري مرغانو پيژندنه | پوهنيار زاهدالله ذهين او پوهندوی غازي جان محمدي | ۱۸۷ |
| ۱۵ | په کليوالي پراختيا کې د کار آيجادونې( کار آفريني) رول | پوهنيار ثابت احمد باوري او پوهنمل ولي الله يوسفزی | ۱۹۷ |
| ۱۶ | بررسی، سنتز و کاربرد نمک‌های دای‌آزونیم | پوهنيار سيد محمد رامش و پوهنيار نورالله حسين خيل | ۲۱۵ |
| ۱۷ | د نفقې د نشتوالي له امله د ښځې او خاوند ترمنځ د قضائي تفريق حکم | پوهنيار نسيم الله هجران | ۲۲۸ |
| ۱۸ | د پکتيا ولايت سينديزه حوزه او د هغې اقتصادي ارزښت | پوهنيار عصمت الله زيار<br>پوهنيار زينت الله آرمان<br>پوهنيار عبدالحفيظ سليمانخېل | ۲۴۰ |
| ۱۹ | د بيع سلم پر اساس د تمويل څرنگوالی | نصرالله سعود نيازی | ۲۵۳ |

# د ملګرو ملتونو سازمان اختصاصي سازمانونه

پوهنـوال محمـدالله منـدوزی د شـیخ زایـد پوهنتـون د حقوقـو او سیاسـي علومـو پـوهنځي د نړیوالـو اړیکـو او سیاسي علومو دیپارتمنت استاد
پوهنمـل فضـل الـرحمن ایـوبی د شـیخ زایـد پوهنتـون د حقوقـو او سیاسـي علومـو پـوهنځي د نړیوالـو اړیکـو او سیاسي علومو دیپارتمنت استاد
ایمیل ادرس: prof.mandozay@gmail.com
ایمیل ادرس: fazal.ayoubi@yahoo.com

**لنډیز**

د هغې ورځې را په دې خوا چې د ځمکې پرمخ دولتونه را څرګند شول، نو د دې اړتیا هم پیدا شوه، چې څنګه وکولای شو د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړو. همدا علت و، چې د سیمو هېوادونو د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په خپلو منځو کې په سیمه‌ییزه کچه ( په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، مذهبي، نظامي ...) برخو کې سازمانونه تأسیس کړل او دې پروسې د وخت په تېریدو سره نړیواله بڼه ځانته غوره کړه. په اوسنیو شرایطو کې د دا ډول سازمانونو تعداد زرګونو سازمانونو ته رسیدلی دی، چې د دولتونو او غیر دولتي مؤسساتو ترمنځ یې د همکارۍ یوه وسیله ګرځیدلې ده. همدا شان د ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې تخصصي او مسلکي سازمانونه هم تأسیس شوي چې دا پروسه اوس هم دوام لري.

د دې مقالې په لوستلو سره به محترم لوستونکي زیات معلومات ترلاسه کړي او په دې به وتوانیږي چې د نړیوالو سازمانونو د محتوا او نورو ګڼ شمېر مسائیلو سره آشنا شي.

**کلیدي کلمې:** تړونونه، چاپېریال ساتنه، سازمانونه، سیر، ملګرو ملتونه، یونیسکو.

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.

په نړۍ کې د بېلابېلو لویو، کوچنیو، نړیوالو، سیمه ییزو، اختصاصي عمومي او نورو ډول ډول سازمانونو شتون د نن ورځې د نړۍ یو واقعیت دی. د دغو زیات شمېر سازمانونو پېژندنه یو مهمه اړتیا ده؛ خو تر پېژندنې د مخه باید په مجموع کې د هغوی د تاریخي پس منظر، هغو ته اړتیا، د هغو مفهوم او مشخصاتو، د رامنځته کېدو عوامل، حقوقي شخصیت، صلاحیتونو، مصؤنیت، حقوقي اجراآتو، په هغه کې د یوه هېواد د غړیتوب، مالي سرچینې او داسې نورو مهمو مسایلو باندې خبرې وشي. په زړه پورې ده، چې دغه سازمانونه په بېلابېلو ډګرونو کې په پراخه او کوچنې کچه فعالیت کوي. هر هېواد خامخا د دغه سازمانونو له جملې څخه په یو نه یو سازمان کې غړیتوب لري،

**د څېړنې موخه**

دا چې افغانستان د نړۍ یوه برخه ده، نو لازمه ده چې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د برخې کارکوونکی او نور مینه‌وال د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو په اړه معلومات حاصل کړي او په هغوی باندې پوهیدل د دې علمي مقالې اساسي موخه په ګوته کوي.

**د څېړنې ګړنلاره او د کار توکي**

د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه یوازې او یوازې د کتابتونې، ساحوي او د اوسنۍ تکنالوژۍ څخه ګټه اخېستل دي؛ نو د دې مقالې په لیکنه کې د ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو څخه کار اخېستل شوی دی. پدې هیله، چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

**د نړیوالو سازمانونو تاریخي سیر**

د تاریخ په اوږدو کې تجربو ښودلې ده، چې نړیوال سازمانونه دي، که سیمه‌ییز او که فرا سیمه‌ییز؛ ټول د یو شمېر اړتیاوو له مخې رامنځته شوي دي. زیاتره دغه سازمانونه د ملتونو او هېوادونو د نژدې کېدو او یو بل سره د اقتصادي او امنیتي همکاریو د پرمخ بېولو په موخه رامنځته کېدل؛ په تېره بیا هغه سازمانونه چې موخې یې د بشري نیکمرغۍ او اقتصادي ترقۍ لپاره وي تل؛ د ستایلو وړ دي. په تیره بیا کله چې د ملتونو ترمنځ اقتصادي او سیاسي اړیکو پیاوړتیا ومونده؛ نو دا ډول سازمانونو د تأسیس لپاره اړتیا زیاته شوه، چې موخه یې د اقتصادي، سیاسي امنیتي مسایلو لپاره د یوه مېکانېزم رامنځته کول و.

**د نړیوالو سازمانونو مفهوم**

نړیوال سازمانونه د غړو دولتونو هغه ټولګه ده، چې د یوه هوکړه‌لیک پر بنسټ رامنځته کېږي او غړي هېوادونه خپلې ګډې موخې د ځانګړو اداري واحدونو او ارګانونو په چوکاټ کې په دوامداره توګه پرمخ وړي.

د پورتني تعریف له مخې، د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې په لاندې ډول بیانولای شو:

۱. نړیوال سازمانونه د دولتونو په یوځای کېدو سره رامنځته کېږي.

۲. نړیوال سازمانونه د یوه نړیوال تړون پر بنسټ رامنځته کېږي.

۳. د سازمان غړي ګډې موخې لري.

۴. د سازمان فعالیت د ځانګړو اداري واحدونو په چوکاټ کې ترسره کېږي.

۵. د سازمان فعالیتونه دوامداره دي.

**د ملګرو ملتونو د سازمان تاریخچه**

د ملګرو ملتونو سازمان جوړېدل د بېلابېلو نه ستړي کېدونکو هڅو لاسته راوړنه ده. دغه هڅې د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه په بېلابېلو وختونو کې تر سره شوي دي. د متحدینو اعلامیه، د

اتلانتیک منشـور، د مسـکو کنفرانس، د ډمبارټن اوکس او یالټا او د سـنفرانسـیسـکو کنفرانس د پورتنیو هڅو غوره بېلګې دي.
او بالاخـره د (۱۹۴۵) م کال د فبروری د (۲۱) نېټې څخه د مارچ د میاشتې تر اتمې نېټې پورې د سانفرانسسکو کنفرانس و، چې په همدې کال د اکتوبر په (۲۴) نېټه د م.م سازمان منشور تصویب او نافذ شو او دا ورځ د م.م د ورځې په نوم سره یاده شوه.( ۳: ۷۲).

**ګډې موخې (هدفونه)**

د ډله‌ییزو ګټو د سـاتلو پـــه برخه کې دولتونه خپلې موخې د نړیوال سـازمان په چوکاټ کې تعقیبوي. نړیوال ســـازمان خپلې موخې د خپل فعالیت په قلمرو کې ټاکي. همدارنګه نړیوال سازمانونه د موخو له مخې په دوو لویو ډلو وېشل کیږي:

۱- نړیوال سازمانونه د عامه موخو له مخې

۲- نړیوال سازمانونه د ځانګړو موخو له مخې

هغه سازمان چې عامې او پراخې موخې تعقیبوي د ملګرو ملتونو سازمان دی. هغه سازمانونه چې ځانګړي موخې تعقیبوي هم زیات دي. دا ډول سـازمانونه د موخو او هدفونو له مخې لکه نظامي (ناټو، وار سا، سنټو) سیا سي لکه (د ناپیلتوب غورځنګ، د ا سلامي هېوادونو کنفرانس) اقتصادي لکه (د اروپا اقتصـــادي ټولنه، اوپک، آســـه آن...)، فرهنګي لکه (یونســـکو...) او نورې موخې تعقیبوي وېشـــل کیږي. په هر حال د ګډو موخو درلودل په یوازې توګه نه ترســـره کیږي. بلکې ســـاز مانو نه هـغه ا قدا مات چې د خپلو ار ګانونو له لارې یې ترســـره کوي، خپلو موخو ته رسیږي.(۱۷:۳)۰

**د نړیوالو سازمانونو د منځته راتګ لاملونه**

د تأ سیس په سند کې پدې باره کې په صراحت سره باید ذکر شوي وي، چې سازمان کیدای شي چې نه یوازې د څو هېوادونو د نه ګډون له امله له منځه نشي تللی بلکې کیدای شي د ټرون د ټولیزو اړخونو په رضـایت نوموړی سـازمان بلا قید او شـرطه له منځه ولاړ شـي. دا موضـوع په ١٩٤٦م کال د می د میاشتې په ۲۳ د ویانا په ټرون لیک کې په صراحت سره لیکل شوي ده.
په ببلا قیدو شرطه د نړیوال سازمان انحلال د حساباتو تصفیه او پورونو وېش یې منځ ته راوړي او هغه مالي ژمنې چې غړو هېوادونو د سـازمان په مقابل کې په غاړه اخېسـتي وي، له منځه ځي او محدودیږي. د سازمان دارایي، وېش، د طلبکارانو د حسابونو د تصفیې څخه وروسته صورت نیسـي. هغه وخت چې سـازمان د موجودیت لپاره ټاکلی شـوی وي، کېدای شـي چې د وخت په بشپړېدو سره سازمان خپل فعالیت ته خاتمه ورکړي. ولې د وخت د تمدید له امله سازمان کېدای شي خپل فعالیت ته ادامه ورکړي.

کولای شــو درې ډوله بې له قیده و شــرط انحلال په ګوته کړو: ۱. د ټاکلې مودې خاتمه ۲. د وخت د تمدید له امله ۳. د نوې موافقتنامې په لاسلیک سـره د زوړ سـازمان ځای نوی سـازمان نیسي (۳: ۱۴).

**د جغرافیایي وېش پر اساس د نړیوالو سازمانونو ډلبندي**

د جغرافیایي جوړښت پر بنسټ د نړیوالو سازمانونو ډلبندي، چې د پورتنیو معیارونو په اساس په نړیوالو او سیمه ییزسازمانونو وېشل کېږي.

**الف: نړیوال سازمانونه**

نړیوال سـازمانونه (Universal Organizations) هغه سـازمانونو ته ویل کېږي، چې د علاقه لرونکو هېوادونو د الحاق لپاره یې لاره خلاصه وي. په دې شرط چې په اساسنامه کې د غړیتوب شرایط ومني.

څرنګه چې پورته ورته اشــاره وشــوه، په دا ډول ســازمانونو کې غړیتوب د جغرافیایي چاپېریال پورې نه محدودېږي. نورهېوادونه هم په نوموړي سـازمان کې د غړیتوب حـــــق لري، د مثال په توګه: (د ملتونوټولنه)، د ملګرو ملتونو سازمان او د ملګروملتونو اختصاصي نړیوال سازمانونه لکه: یونسکو، یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان او دې ته ورته نور....

**ب: سیمه‌ییز سازمانونه**

هغه سازمانونه دي، چې د نړۍ په بېلابېلو براعظمونو هېوادونه پکې غړیتوب ترلاسه کولای شي، دغه ډول سازمانونه نه کومې سیمې پورې تړلي او نه یوه براعظم پورې، بلکې هېوادونه له بېلابېلو سـیمو د یو شــمېر ځانګـــــړو موخو په خاطر پکې یو ځای کېږي. یعني د دغه دوه ذکر شــوي ګروپونه (سـیمه‌ییز ه او هم نړیواله) بڼه لري. یا په بله وینا د دغو سـازمانونو غړي د نړۍ د بېلابېلو سیمو څخه یو ځای شوي دي. نو له همدې امله ورته سیمه‌ییزه سازمان نه شو ویلای، د بېلګې په توګه: اسلامي کنفرانس، د عربو اتحادیه او د ناټو سازمان (۱۴: ۲۰).

**ج:- غیر دولتي سازمانونه**

دا ډول ســـازمانونه د نړیوالو عمومي حقوقو د تابعینو په ډله کې نه راځي او په خپل وار ســـره په دوو ډولو ویشل کېږي:

الف:انتفاعي غیر دولتي سازمانونه.

ب:- غیر انتفاعي او غیر دولتي سازمانونه (۵: ۲۴).

**د ملګرو ملتونو سازمان پورې اړوند اختصاصي سازمانونه په لاندې ډول دي:**

**۱- د کار نړیوال سازمان (ILO)**

د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په (۱۹۱۹) کال کې د وارسا د سولې په کنفرانس کې تآسیس شــوی دی. لومړۍ نړیوالې جګړې چې ډېر زیانونه او تلفات یې له ځان ســره لرل او تقریباً ټول فشـــارونه د کارګرانو په اوږو وو او د ټولنې د نورو کارکوونکو له خوا وړل کېده، د دې لید

لوري له طريقه چې د عدالت د تأمين اوسـولې د کارگرانو ژوند او د هغوی د کارشـرايط تقويه کړي. هماغه و، چې د سازمان (International organization) اساسنامه د سولې د تړون په (۱۳) فصلونو کې ځای پرځای کړه. د کار نړيوال سازمان خپل لومړی کنفرانس د (۱۹۱۹) م کال په نومبر په وا شنگټن کې دائير او په همدې وخت کې يې يو شمېر کنوانسيونونه د مقاوله نامو او سپار ښت ليکونو په بڼه تصويب کړل چې لومړنی کنوانسيون يې د بېکارۍ په اړه و او په ضمن کې فيصله وشوه چې د کارنړيوال سازمان مرکز دې د ژينوا په ښار کې وي. د دې لپاره چې د کار نړيوال سـازمان د ملتونو ټولنې سـره ځانگړې اړيکې پيداکړي او وروسـته بيا په (۱۹۴۶) م کال کې د تړون په لاسليک کولوسره د کارنړيوال سازمان د يوې تخصصي مؤسسې په توگه د ملگروملتونود سازمان پورې وتړل شو(۱۳: ۹۹).

**۲- د کرنې او غذايي توکو نړيوال سازمان ( FAO) (Food and agriculture organization)**

دا سـازمان په حقيقت کې د (کرنې نړيوالې مؤسـسـې) ځای ناسـتي گڼل کيږي. د کرنې نړيوالې مؤسسې د ملتونوټولنې د فعاليت پرمهال، د کار او روغتيا له نړيوالو سازمانونو سره د اطلاعاتو په راکړه ورکړه کې نږدې همکاري لرله.

دغې مؤسسې همدغه رازد نباتاتو په ساتنه او وده کې هم اغېزمنې هڅې ترسره کړې وې. خو د خوراکي توکـــــو او کرنې سازمان (Food and agriculture organization) له جوړېدو وروسـته، له نوموړې مؤسـسـې څخه د اروپا د سـيمه ييز دفتر په توگه کار واخيسـتل شـو، چې بالاخره په (۱۹۴۸) کال کې په رسمي توگه ړنگه او مسووليت يې (FAO) ته وسپارل شو.

د FAO د تأسيس طرحه په لومړي ځل په (۱۹۴۳) م کال په مې کې د امريکا ولسمشر فرانکلن روزولت له خوا د خوراکي توکو او کرنې په مناسـبت په جوړشـوي نړيوال کنفرانس کې چې د امريکا به ويرجينيا ايالت کې جوړ شوي و، وړاندې شوه.

په دغه کنفرانس کې چې نږدې( ۳۴) هېوادونو برخه لرله، چې په نړۍ کې د بېوزلۍ او لوږې پر وړاندې د مبارزې په موخه د يوه نړيوال سازمان د جوړېدو پر اړتيا خبرې وشوې.

د کرنې او غذايي توکو نړيوال سازمان موخې:

۱- د خلکو د ژوند د سطحې لوړول

۲- د توليد اصلاح او د خوراکي او کرنيزو محصولاتو وېش

۳- په کليوالي سيمو کې د پراختيايي پروژو پلي کول

**۳ - د ملکي هوانوردۍ سازمان ( ICAO Avation Organization) (International Civil)**

د الوتکې جوړونې صــنعت او د هوايي ترانســپورت چټکې پراختيا ته په پام ســره، د هېوادونو تر منځ د همکارۍ او همغږۍ لپاره د یوه مرکزجوړېدو ته اړتيا ولیدل شـــوه. له دويمې نړيوالې جګړې وروســته، ملګروملتونو د ملکي هوايي چلند ســازمان د جوړېدو موضــوع تر بحث لاندې ونيوله.

امريکا په (۱۹۴۴) م کال کې د دې سازمان د جوړېـــــدو په موخه په شيکاګو کې يو مقدماتي کنفرانس جوړ کړ. بالاخره د (۱۹۴۷) م کـال د اپرېـل میاشــــت کې د ملکي هوايي چلنـد (International civil avation organization) سازمان په رسمي توګه پرانېستل شو او د کاناډا هېواد د غوښتنې پربنسټ د دې هېواد مونټريال ښار د نوموړي سازمان مقر وټاکل شو.

د شيکاګو له کنفرانس څخه د ملکي هوايي چلند سازمان تر جوړېدو پورې، د پيکاو (PICAO) په نوم يو لنډ مهاله مشورتي سازمان هم جوړ شوی و.

د شـــيکاګو کنفرانس د تړون د (۴۴ ) مې مادې له مخې، د هوايي ترانســپورت مقرراتو ټاکل او پراختيا، د ملکي هوايي چلند سازمان اساسي موخې وټاکل شوې (۱۶۴:۳).

**۴- د روغتيا نړيوال سازمان (World Health Organization) (WHO)**

له دې ســازمان څخه مخکې د روغتيا نړيوالې اداري په نوم يو بل ســازمان شــتون درلود، چې د ملتونو ټولنې په چوکاټ کې يې فعاليت کاوه او مرکز يې د فرانسې په پاريس ښار کې و.

د ملګرو ملتونو سازمان د جوړېدو پرمهال، برازيل د سانفرانسېسکو په کنفرانس کې د يوه نړيوال روغتيايي ســازمان د جوړېدو وړانديز وکړ. د نوموړي هېواد دغه وړانديز د يو شــمېر هېوادونو له هرکلي ســره مخ شــو او بالاخــــره د (۱۹۴۶) م کال په جون کې د جينيوا په ښـارکې د روغتيا نړيووال کنفرانس جوړ شو.

په ياد کنفرانس کې د روغتيا نړيوال سازمان اساسنامه تصويب شوه او د (۱۹۴۷)م کال په اپرېل کې د اجرا وړ وګرځېده.

د ســازمان د اســاســنامې د لومړۍ مادې له مخې، د دې ســازمان موخه د نړۍ ټولو خلکو ته د روغتيايي اسانتياوو برابرول دي(۱۶۷:۳).

**نړيوال بانک (د بيا رغاونې او پرمختګ نړيوال بانک) (WB)**

هغه وخت چې( ۲۸) هېوادونو د نوموړي بانک په مادو باندې موافقه وکړه، د بيارغاونې او پراختيا بانک(World Bank) په (۱۹۴۴) کال د جولای په مياشت کې د (برتن ووډز) پـــــه کنفرانس کې طرحه او په (۱۹۴۵) کال د ډيسمبر په ۲۷ نېټه تأسيس شوي دی.

د نړيوال بانک او د پيســو نړيوال صــندوق جوړښــت تر ډېره ســره ورته دي. دواړه (۱۸۱) غړي هېوادونه لري. بانک او صندوق دواړه د پور ورکونې سرچينې دي. سربېره پردې، دوی د بهرنۍ پانګې راجلبولو لپاره هڅوونکی رول لوبوي او رغنده مشورې او تخنيکي مرستې برابروي. د پيسو

نړیوال صندوق اړونده موخه د اسعارو د ادلون بدلون د مارکیټونو په کړنو بانديې څار او د هغوی کنترول کول و.

**۶- نړیوال بانک گروپ (W.B.G) یا (World Bank Group)**

له درې مالي مؤسسو څخه، چې تقریباً ورته موخې لري، جوړ شوي دي. دغه درې مؤسسې عبارت دي له: د بیارغاونې او پراختیا بانک، د پراختیا نړیواله مؤسسه او نړیواله مالي مؤسسه.

**الف:- د نړیوال پرمختګ اتحادیه (IDA)**

دا مؤسسه (International Development Association) په نړیوال بانک پورې د اړونده مؤسسې په توګه، د (۱۹۶۰)م کال په جنوري کې د امریکا متحده ایالتونو په هڅو رامنځته شوه، چې موخه یې مخ پرودې هېوادونو سره مرسته او همکاري ده. امریکا تر اوسه پورې د لویو هېوادونو له جملې یو مرسته کوونکی هېواد دی.(۲:۱۲۷).

د نړیوالې پراختیا مؤسسه نه شي کولای، چې د مربوطه هېواد له رضایت او اجازې پرته دغه پیسې ورته ځانګړې کړي.

په هرحال، د نړیوالې پراختیا مؤسسې له خواځانګړي شوي پورونه، د بیا رغاونې او پراختیا نړیوال بانک په پرتله زیات د پور اخېستونکو هېوادونو په واک کې ورکول کیږي.

**ب:- نړیواله مالي اداره (IFC)**

دا مؤسسه (International Finance Corporation) هم له نړیوال بانک سره د یوې تړلې مؤسسې په توګه د(۱۹۵۵) کال د مې په ۲۵ نېټه رامنځته شوه. نړیواله مالي مؤسسه هغه یوازینۍ نړیوال سازمان دی، چې موخه یې د خصوصي مؤسسو پراختیا او مرسته ده.

مالي مؤسسه همدغه راز د دې موخې د پرمخ بېولو په منظور د پراختیایي پروګرامونو د پلي کېدا په موخه هېوادونوته پور ورکوي.

نوموړې مؤسسه ډېر ځله په خصوصي اقتصادي سازمانونوکې هم پانګونه کوي او د دې پانګونې له ګټې څخه خپل عواید لاسته راوړي.

**ج:- د بیارغاونې او پرمختګ نړیوال بانک(IBRD)**

د بیارغاونې او پراختیا بانک ( International Bank for Reconstration and Development) په (۱۹۴۴م) کال کې د پیسو نړیوال صندوق سره په یو وخت کې د برتون ووډز په کنفرانس کې تأسیس شو. د دې بانک اساسنامه د همدغه کنفرانس ضمیمه ده او په (۱۹۴۶) کال کې یې په واشنګټن کې رسماً په فعالیت پیل وکړ.

د بانک موخه، مخ پر ودې هېوادونو ته د پور ورکول دي، څو دغه هېوادونه خپلې پراختیایي پروژې او پروګرامونه پرې پلي کړي.

دا پورونه د برېښنا، د اورګاډي پټلۍ، د ګازونل لیکې، مخابراتو، کرنې، صنعت، د ښځو اوبه او د ښوونې او روزنې په برخه کې همکاري کوي.

**۷- د څو اړخیزه پانګه‌اچوونې د تضمین نړیواله اداره(MIGA)**

هغه پېښې، چې د (۱۹۸۰م) کال په لومړۍ لسیزه کې د نړیوال اقتصاد په برخه کې رامنځته شوې پـــــه پایله کې نیغ په نیغه پانګونې (Financial Direct Investment) کموالي د ځانه سره درلود چې د ډېرو عواملو له جملې څخه یې یوهم په نړۍ کې د غیر ســـیاســـي او ســـوداګریزو خطرونو( د ریســـکونو) زیاتوالی و. څرګند خطرونه چې د بهرنۍ مســـتقیمې پانګونې په ځانګړې تو ګه د پرمختیا په حال کې هېوادونو کې تهدیدونه. د هېوادونو ترمنځ جګړې او کورني شورشونه، د بهرنیو سرمایه ګذارانو سره د تړونونو نقض کول او همدارنګه د پانګه والو د شتمنیو او اموالو مصادره کول وو. د دغي وضعیت رامنځته کېدل په نړۍ کې د مستقیمې بهرنۍ پانګونې د شدید کموالي باعث شوي. د نړۍ مطرح اقتصاد پوهانو د دغه وضعیت په مشاهده کولو سره د داسې چلند د مخنیوي په موخه د داسې نړیوالې مؤسسې د تأسیس په فکر کې شول او د دوی له جملې څخه یو مصري اقتصاد پوه چې دوکتور(شیاني) نومیده هڅې اغیزمنې او د اهمیت وړدي. پدې ترتیب سره څواړخیزه پانګونه د (۱۹۸۸م) کال د اپرېل د میاشتې په (۱۲) نېټه د نړیوال بانک د ګروپ په عنوان تأسیس شو.

د بانک د کار پېژندونکو د مقدماتي ګزارش پر بنسټ اجرائیوي مدیران د مؤسسې د تأسیس سند (ا سا سنامې) مسوده چمتو کړه او دغه مسوده په (۱۹۸۵) کال دغړو هېوادونو د برر سي او نظر د څرګندولو لپاره وړاندې شـــوه. د (۱۹۸۵م) کال د مارچ په میاشـــــت کې اجرائیوي مدیران دغړوهېوادونو د فني کارپېژندونکو په همکارۍ د څېړنې لپاره کمېټه د ذکرشوي تړون د مسودې د اصلاح لپاره تشکیل کړه، څو په پایله کې مسوده نهایي او په (۱۹۸۵) کال د دسپتمبر په میاشت کې د بانک په کلنۍ غونډه کې په ســـئول (جنوبي کوریا) کې د رئیســـه پلاوي ( Board of Governors) په تصـــویب ورســـېده او وروســـته د لاســـلیک او قانوني تصـــویب لپاره د بانک غړوهېوادونو ته وړاندې شوه.

پدې ترتیب د څو اړخیزه پانګونې د تضـــمین مؤســـســـه د نړیوال بانک د ګروپ نوي غړي په (۱۹۸۸) کال کې تأسیس او خپل رسمي فعالیت یې په (۱۹۹۰م) مالي کال کې پیل کړ. افغانستان په (۲۰۰۳) کال کې د جون د میاشتې په (۱۶) نېټه د دغې مؤسسې غړیتوب تر لاسه کړ.

**۸- د پانګونې د شخړو د هوارۍ نړیوال سازمان ( ICSID Settlement of) (International (Centre for Disputes**

د پانګونې د ستونزو هوارۍ نړیوال مرکز په (۱۹۶۶م) کال کې د پانګونې د اجرآ له لارې د ارتقا په موخه په نړیواله کچه تأسیس شـوي دی. دغه مرکز د یوې اداري شـورا او دارالانشـأ لرونکی دی. د اداري شورا ریاست یې د نړیوال بانک د رئیس په غاړه دی.

پدغـــــه شـورا کې د هر هېواد څخه یو تن اسـتازی شـتون لري. د مرکز خدمات او وظایف د نشراتي، څېړنو، مشورتي خدمات او په ځانګړې ډول د بهرنۍ پانګوونې په قوانینو کې شامل دي، خو د دې مرکز اصلي او مهمه دنده د پانګونې د ستونزو هوارول دي.

**۹- د پیسو نړیوال وجهي صندوق (International Monetary Fund) (IMF)**

د دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسـته د نړۍ اکثره هېوادونه د جګړې د زیانونو او نړیوال مالي او پولي حالاتو د جبران او سـمون په لټه کې شـول، همغه وه چې په (۱۹۴۴م) د جولای په (۲۲) نېټه د جګړې څخه دوه سـتر بریالې هېوادونه ( امریکا او انګلسـتان ) په مشـري او قیـــــادت د نوموړوهېوادونو په ګډون د نړۍ (۴۵)هېوادونو اســـتازي د امریکا نیوهمشـــایرا یالات د برټن ووډزسـیمې په (Mount Washinton Hotel ) کې یو کانفرانس جوړشـو، څو پورته ذکر شـوي سـتونزې هوارې کړي. په دغه کنفرانس کې دوې طرحې وړاندې شـوې چې یوه یې د امریکا او بله یې انګلستان هېوادونو استازو له لوري وې.

د امریکا له خوا د طرحې وړاندې کوونکي د امریکا د دولت مالي مشـــاور Herry dexter white و او د انګلسـتان له خـــــوا John maynard keynes و. د کینز طرحې پربنسـټ د پورتنۍ ستونزې هواري په منظور یې غوښتل چې باید داسې یو سیستم رامنځ ته شي څو اقتصادي وده غښتلې کړي یعنې کینز د یوې نړیوالې زېرمه شویو پیسو یا Reserve money غوښتنه یې کوله چې ورته (Bancor/Unites) نوم ټاکلي وه او دغه زېرمـه شوي پیسې باید د یوه مرکزي بانک له خوا کنترول او تنظیم شي او نوموړي مرکزي بانک په دغه برخـــه کې به لوړ ارګان وي مګر بیا د وایټ طرحـــــه د نړیوالو بیو( قیمتونو) د ثبات لپاره وه او د پیسـو یوه نړیوال صـندوق غوښتنه یې کوله ترڅو لاندې دندې سرته ورسوي.

۱- د نړیوالو خزاینو یوه سرچینه وي

۲ـ د تأدیاتو بېلانس کسر له منځه یوسي

۳- د تبادلې نسبت وټاکي او ثابت یې وساتي

**د پیسو نړیوال صندوق دندې**

الف:- څارنه (Surveillance)

ب:- شرطیه مالي ملاتړ (Conditional financial support)

ج:- تخنیکي مرسته (Technical assistance).

**۱۰- د پست نړیواله اتحادیه (UPU)**

د پسـتې د لېږد او رالېږد تاریخ د اوومې میلادي پېړۍ پورې رسـېږي، خو هغه مهال دغه لېږد او رالېږد لا د یوه منظم پستي سازمان په چوکاټ کې نه و راغلی، خو په (۱۹) پېړۍ کې د ارتباطي و سایلو پراختیا او رامنځته کېدو ته په پام کې نیولو سره، منظم پستي خدمات پیل شول او پدې برخه کې د یو شمېر هېوادونو ترمنځ تړونونه هم لاسلیک شول.

په (۱۸۴۰م) کال کې په لومړي ځل انګلستان له پستي خدمتونو څخه ګټه پورته کړه، وروسته فرانسې هم په (۱۸۴۸م) کال کې دغې کار ته مخه کړه.
په (۱۸۶۳م) کال کې د UPU منشي په وړاندیز، امریکا د (۱۵)هېوادونو په ګډون په پاریس کې د پست لومړنی نړیوال کنفرانس دائیر کړ.
دا کنفرانس پدې بریالي شــو، چې د خلکو ترمنځ د اړیکو د ټینګولو په موخه د پســت په برخه کې ځینې اصــول رامنځته کړي، چې دا اصــول د پســت په برخه کې د نورو راتلونکو هوکړه لیکونو بنسټ وګرځېد.
باید وویل شي، چې یادو اصولو کومه الزامي بڼه نه درلوده، بلکې د دغو اصولو ټاکل د اړیکو د تنظیم په برخه کې د ځینو اساسي ستونزو هوارول وو.
د پسـت لومړنۍ کنګره په (۱۸۷۴م)کال کې تشـکیل شـوه او دغه کنګره چې د سـویس هېواد په بلنه او د شـمالي المان کنفدراسـیون د پسـتي خدمتونو د مشـر(هانریش فن اسـتفان) له خوا جوړه شوې وه، (د پست عمومي ټولنې) د جوړېدو لامل شوه.
د پست عمومي ټولنې، د دویمې پستي کنګرې د جوړېدو په ترڅ کې، چې په (۱۸۷۸م) کال کې په پاریس کې جوړه شوه، د پست نړیوالې ټولنې ته ارتقا وکړه.
خو د ملګرو ملتونو سـازمان له جوړېدو وروسـته په (۱۹۴۸) کال کې د پسـت نړیوالې ټولنې او د ملګرو ملتونو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسـلیک شـو، چې له مخې یې دغه ټولنه په رسـمي ډول د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمان په توګه ومنل شوه.

**۱۱- د مخابراتو نړیواله اتحادیه (ITU)**

د ارتباطي وسـایلو د پرمختګ په پام کې نیولو سـره، د (۱۹) پېړۍ په نیمایي کې د سـیم لرونکي مخابراتو ځای بې سیم مخابراتو ونیو. دا چې لدې ارتباطي وسیلې څخه ګټه، په نړیواله کچه د یو شــمېر هېوادونو هوکړې ته اړتیا درلوده، نو په همدې بنســټ د ځینو هېوادونو ترمنځ څو اړخیزه تړونونه لاسلیک شول. په (۱۸۵۰م) کال کې د اتریش تلګرافي ټولنه رامنځته شوه، چې ګڼ شمېر هېوادونو په کې غړیتوب ترلاســه کړ. وروســته د لویدیځې اروپا نوروهېوادونو، لکه: هســپانیا، بلجیم، پرتګال، سوېس او فرانسې هم په ورته اقدام لاس پورې کړ او د (لویدیځې اروپایي ټولنه) یې رامنځته کړه.
د ســیمه ییزو ټولنو په جوړېدو ســره، د نړیوالو ټولنو د جوړېدو اړتیا رامنځته شــوه. په دې اړه د (۱۸۶۵م) کال د مې په میاشــــت کې د ۲۰ هېوادونو په ګډون په پاریس کې د تلګراف لومړنۍ نړیواله ټولنه تأسیس شوه. چې دغې ټولنې د تلګراف نړیوال کنوانسیون هم تصویب کړ.
همدارنګه د (۱۹۰۶) کال د نومبرپه میاشــــت کې د (۲۷) هېوادونو په ګډون د راډیو تلګراف لومړني کنفرانس په برلین کې په لاره واچول شــــو، چې پدې کې د راډیو تلګراف نړیوال

کنوانسیون تصویب شو. د نوموړي کنوانسیون پربنسټ، د سمندري بېړیو ترمنځ اړیکې او ارتباطات جبري ګرځول او الزامي شوي دي.

باید وویل شي چې د دې دوو کنوانسیونونو نه وروسته یو بل کنوانسیون هم تصویب شو، چې د تلګراف نړیوال کنوانسیون او د راډیو تلګراف دواړه پخواني کنوانسیونونه په کې مدغم شول او په (۱۹۳۲م) کال د دسمبر په میاشت کې د (مخابراتو نړیوال کنوانسیون) په نوم نوي کنوانسیون تصویب شو. دا کنوانسیون د (۱۹۳۴م) کال په جنورۍ کې د اجرا وړ وګرځېد. د نوموړي کنوانسیون له مخې، د(مخابراتونړیوالې ټولنې) د (تلګراف نړیوالې ټولنې) ځای ناستي شوه.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په (۱۹۴۷م) کال کې د اتلانتیک سیټي کنفرانس په مخابراتي مقرراتو کې د پام وړ بدلون راوست او د هغه تړون له مخې چې د مخابراتو نړیوالې ټولنې له ملګروملتونو سره لاسلیک کړي وو، د مخابراتو ټولنه د ملګروملتونو د یوه تخصصي سازمان په توګه ومنل شوه.

د ټولنې دندې عبارت دي له: د راډیویي فریکونسۍ ټاکل، د ټیلفوني مکالمو په بیو او قیمتونو کې کموالي، په ټولو هېوادونو کې د مخابراتي خدمتونو د پراختیا هڅې او کوښښونه او د مخابراتو په برخه کې مطالعه او څېړنه او داسې نور.

**۱۲- د معنوي مالکیت نړیوال سازمان ( WIPO) (World Intellectual Property (Organization**

د (۱۹) لسمې پېړۍ په نیمایي کې له معنوي مالکیت څخه د ملاتړ په موخه دوه مهم کنوانسیونونه په (۱۸۸۳م) کال د پاریس کنوانسیون تصویب شو، د هغې له مخې یې (د معنوي ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله ټولنه) جوړه کړه. تر دې وروسته په (۱۸۸۶م) کال کې له ادبي اوهنري اثارو څخه د ملاتړ کنوانسیون تصویب او جوړ شو، چې نوموړي کنوانسیون، د ادبي او هنري اثارو څخه د ملاتړ نړیوالې ټولنې د جوړېدو سبب شو. یاد شوي دوه سازمانونه د (پاریس ټولنه) او د (برن ټولنه) په نومونو یادېږي.

نو موړي کنوانسیونونه د معنوي ملکیت په برخه کې یو نړیوال چوکاټ را منځته کړ، خو وروسته دغه دوه سازمانونه په یو اوبل کې مدغم شول، چې په بېلابېلو نومونو یې فعالیت کاوه او وروستی یې (له معنوي ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله متحده دایره) وه. خو د معنوي مالکیت نړیوال سازمان (World Intellectual Property Organization) د ستاکهلم کنوانسیون له مخې د (۱۹۶۷م) کال د جولای په میاشت کې تأسیس شو او د (۱۹۷۰م) کال د اپرېل په میاشت کې د اجرا وړ وګرځېدو.

له معنوي ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله متحده دائیره اوس هم د پاریس او برن ټولنو دغړو له خوا په قانوني ډول خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

د معنوي ملکیت نړیوال سازمان (WIPO) د (۱۹۷۴) کال کې د دسمبر په (۱۷) د ملګرو ملتونو د څوارلسم تخصصي سازمان په توګه ومنل شو.

## د معنوي مالکیت د سازمان دندې

له معنوي مالکیت څخه د ملاتړ پـــه برخه کې اغېزمن اقدامات، د پاریس او برن د تړونو د اداري دندو پرمخ بیول، د معنوي مالکیت په برخه کې د هوکړه لیکونو لاســلیکول او د معنوي مالکیت په اړه د معلوماتو راټولول او خپرول.

**۱۳- د هوا پېژندنې نړیوال سازمان (World Meterologial Organization) (WMO)**

د پخوانیو سازمانونو له جملې څخه دی، چې په (۱۸۷۸) کال کې د څو محدودو غـــړو له خوا تأسیس شوي وو، خو په (۱۹۳۹) کال کې د یوه نړیوال سازمان په توګه ومنل شو.

دغه ســازمان تر ډېـــــره وخته د خپلو فعالیتونو او تشـکیلاتو د پراختیا لپاره هڅه کوله، ترڅو په (۱۹۴۷)م کال کې د خپل دولسـم کنفرانس په ترڅ کې چې په واشـنګټن کې جوړ شـوي وو، د هوا پېژندنې نړیوال سازمان اساسنامه تصویب کړه او د (۱۹۵۰)م کال د مارچ په (۳۲) نېټه د اجرا وړ وګرځېده.

د هواپېژندنې ســــازمان مهمې موخې د هواپېژندنې د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د نړیوالې همکارۍ اسانتیا برابرول، د هواپېژندنې اټکل، اوبو پېژندنه، د هواپېژندنې چټک اطلاعات، د هواپېژندنې معیاري کول، د هوا بازۍ په برخه کې د هوا پېژندنې د چارو پیاوړتیا او بېړۍ چلونه.

**۱۴- د سمندرونو نړیوال سازمان (International Maritime Organization) (IMO)**

په (۱۹) پېړۍ کې د نړیوالې سودا ګرۍ پراختیا په پام کې نیولو سره، له سمندري ترانزیټ څخه د ګټې اخیستنې د اړتیا له مخې رامنځته شو. دا چې د (۱۹) پېړۍ په نیمایي کې د سمندري نښو، علائیمو او امنیت په برخه کې ځینې اقدامات ترسره شـول، خو د سـمندري حقونو په برخه کې منل شـوي اصـول او قواعد ونه ټاکل شـول. خو د ملګروملتونوسـازمان تأسـیس او د سـمندري سـوداګرۍ پراختیا ته په پام کې نیولو سـره د بېړۍ چلوني او د سـمندري ترانزیت په برخه کې د مقرراتو او قواعدو د تدوین په برخه کې هڅې دوه برابره شـــوې. پدې اړوند، د (۱۹۴۸)م کال د مارچ په شپږمه نېټه د ملګرو ملتونوله خوا په ژینوا کې د سمندري چارو کنفرانس دایر شو، چې په ترڅ کې یې د بېړۍ چلونې نړیوال مشورتي سازمان (IMCO) اساسنامه تصویب شوه.

د سازمان د تأسیس سند د (۱۹۵۸) کال د مارچ په میاشت کې د (۲۱) هېوادونو له خوا تصویب شـو او دغه سـازمان په (۱۹۵۹)م کال د جنورۍ په میاشـت کې په رسـمي ډول په کار او فعالیت پیل وکړ.

د (۱۹۷۵)م کال په نومبر کې د نوموړي سازمان اسامبلې د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې د (بېړۍ چلونې نړیوال مشورتي سازمان) نوم خپل ځای (د بېړنۍ چلونې نړیوال سازمان) ته پرېښود.

د بېړنۍ چلونې نړیوال سازمان (I.M.O) اساسي موخې د بېړۍ چلونې په برخه کې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا، د اغېزمنو مقرراتو ټاکل، د ستونزو او محدودیتونو لرې کول او د غړو هېوادونو تر منځ د اطلاعاتو د لېږد او رالېږد په موخه د اسانتیاوو برابرول او رامنځته کول.

**۱۵- د کرنیز پرمختګ نړیوال سازمان ( IFAD) (International Fund for Agricultural Development )**

د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق په (۱۹۷۴)م کال د خوړو د نړیوال کنفرانس په وړاندیز رامنځته شو. د دغه سازمان ا سا سنامه په (۱۹۷۶)م کال کې د (۹۱) هېوادونو له خوا تصویب شوه او په (۱۹۷۷)م کال د نومبر په (۳۰) د اجرا وړ وګرځېده او د همدې کال د دسمبر په (۱۱) یې رسماً په کار او فعالیت پیل وکړ.

د کرنیز پرمختګ نړیوال سازمان موخه، د مخ پرودې هېوادونو د کرنې د پراختیا، له سرشاره سرچینو څخه ګټه اخیستنه ده. له سرشاره او غني سرچینو څخه ګټه اخیستل، د شرایطو په پام کې نیولو سره صورت نیسي.

همدارنګه د دغه صندوق مسئوولیت د خوراکي توکو د تولید اصلاح او وده ده. دغه صندوق مسئوولیت لري، ترڅو بې وزله او نادارو وګړو سره د خوراکي توکو د مرستې په برخه کې اقدام وکړي.

**۱۶- د صنعتي پرمختګ نړیوال سازمان (UNIDO)**

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د جوړېدو پر وخت یو شمېرمخ پر ودې هېوادونه چې تازه یې د استعمار پړاو پای ته رسولې وو، تر دې وخته لا د صنعتي کېدو پړاو ته نه وو رسېدلي.

په صنعتي برخه کې د مرستې په موخه ملګرو ملتونو بېلابېل پروګرامونه تر لاس لاندې ونیول، لدې جملې په (۱۹۴۸)م کال کې د (ملګروملتونو د مر ستو پراختیایي پروګرام)، په (۱۹۵۸)م کال کې د (ملګروملتونو ځانګړي صندوق) اوپه (۱۹۶۰) کال کې د (صنعتي ودې کمېټه) د یادولو وړ دي. دغو پروګرامونو د مخ پر ودې هېوادونو اړتیاوو ته ځواب ونه شو ویلی، نو په (۱۹۶۷)م کال کې د عمومي اسامبلې له خوا د ملګروملتونو د صنعتي پراختیا سازمان (ODINU) جوړ شو.

د یونیډو پــــه دویم کنفرانس کې چې په (۱۹۷۵)م کال کې په لیما (پیرو) هېواد کې جوړ شوی و، پرېکړه وشوه چې دغه سازمان د عمومي اسامبلې له فرعي څانګې څخه تخصصي ته باید ارتقا وکړي.

د دې هدف لپاره، ملګرو ملتونو په (۱۹۷۹)م کال کې د یوې نوې اساسنامې د تنظیم او تدوین په موخه یوکنفرانس راوبلل شو.

په دغه اساسنامه کې چې د یونیډو سازمان د جوړېدو تضمین په کې شوی و، په (۱۹۷۹)م کال د اپرېل په اتمه نېټه د یوه کنفرانس په ترڅ کې چې شـــمېر یې نږدې (۷۰) هېوادونو ته رســـېدو له خوا تصویب او په (۱۹۸۵)م کال کې د جنورۍ په لومړي نېټه د اجرا وړ وګرځېده.

پـــه نوموړي کال کې د ملګرو ملتونو او یونیډو سازمان ترمنځ د یوې موافقې له مخې، یونیډو د ملګرو ملتونو د شپاړسم تخصصي سازمان په توګه منلی دی.

**۱۷- د اتومي انرژۍ نړیوال سازمان (IAEA)**

د اټومي انرژۍ نړیوال ســازمان د جوړېـــــدو وړاندیز د لومړي ځل لپاره په (۱۹۵۳) کال کې د امریکا د هغه وخت ولسـمشـر ایزنهاورله خوا عمومي اسـامبلې ته وړاندې شـو. په همدې اسـاس عمومي اسامبلې په (۱۹۵۴)م کال کې د (سوله‌ییز اټومي پروګرام) په نوم یو پرېکړه لیک تصویب کړ. د اټومي انرژۍ ســـازمان د جوړېدو په جریان کې په (۱۹۵۶) کال کې د (۸۰) هېوادونو په ګډون یو کنفرانس جوړ شو، چې په ترځ کې یې د سازمان اساسنامه تصویب شوه. د (۲۰۰۷)م کال تر مارچ میاشتې پورې دغه سازمان (۱۴۴) غړي درلودل.

په (۱۹۵۶)م کال کې د اټومي انرژۍ او د ملګروملتونوســـازمان ترمنځ د یوه موافقه لیک له مخې نوموړی سازمان د یوه خپلواک بنسټ په توګه و منل شو.

سازمان د خپلو فعالیتونو په اړه عمومي اسامبلې ته خپل کلني راپور وړاندې کوي او همدارنګه له نورو تخصصي سازمانونو سره نږدې اړیکې لري.

**د اتومي انرژۍ نړیوال اژانس موخې**

۱- د سـوله‌ییزې اټومي انرژۍ په برخه کې د علمي مطالعاتو او څېړنې له پراختیا سـره مرسـته او هڅوونه.

۲- په ســوله ییزو موخو کې د اټومي انرژۍ د کارولو په موخه لازمي توصـــیې او د اســـانتیاوو برابرول یا چمتو کول.

۳- له اټومي انرژۍ څخه د ګټې اخیستنې په برخــــه کې د نویو علمي او فني بدلونونو په اړوند خبرول او معلومات.

**۱۸- د سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO)**

د اتلانتیک تړون چې په (۱۹۴۱)م کال کې د روزولټ او چرچل ترمنځ لاسلیک شو، یوه موخه یې د سوداګرۍ نړیوال عادلانه سیستم منځ ته راوړل وو.

د سوداګرۍ سیستم په اړه د انګلستان، امریکا او کاناډا ترمنځ خبرو چې د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال پیل شوې وې، له جګړې وروسته یې هم دوام درلود.

بالاخره امریکا د(۱۹۴۵)م کال په دسمبر کې د نړیوال اقتصادي نظام په اړه (د نړیوالې سوداګرۍ پراختیا) یوه طرحه وړاندې کړه.

د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شورا هم په (۱۹۴۶)م کال کې د اقتصادي مسایلو د څېړنې او مطالعې په اړه یو کنفرانس دایر کړ.

په پایله کې په (۱۹۴۷)م کال کې په یو وخت کې د ژینوا په ښار کې دوه بېلابېل کنفرانسونه پیل شـول. له ذکر شـویو کنفرانسـونو څخه په یوه کې چې د همدې کال د اپرېل له لسـمې څخه د

اګست تر(۲۲) نیټې پورې دائیر شـوي وو د نړیوالې سـوداګرۍ سـازمان د جوړېد طرحه په کې چمتو کړه.
دویم کنفرانس چې د اپرېل له لسمي څخه د اکتوبر تر (۳۰) یې دوام وکړ، د ګمرکي معافیت او ګټو په اړه په کې خبرې شوې وې.
د کنفرانس موخه د سوداګرۍ نړیوال سازمان جوړېدل وو، خو د یو شمېر مخ پر ودې هېوادونو د مخالفت له امله له ناکامۍ سره مخامخ شو.
د دې مخالفت ا صلي لامل دا و، چې سترو صنعتي هېوادونو د نوموړي سازمان په چوکاټ کې غوښتل څو په نړیوال تجارت کې له پراخو ازادیو څخه برخمن اوسي.
په دې اسـاس، د (۱۹۴۷)م کال د اکتوبر په (۳۰) نېټه شـاوخوا (۲۳ ) هېوادونو ترمنځ د تعرفې او سـوداګیرۍ عمومي هوکړه لیک (general agreement on tariff and trade) لاسـلیک شو.

**۱۹- عرفاني، فرهنګي او د زده‌کړې نړیوال سازمان (UNESCO)**

په علمي او فرهنګي برخه کې د نړیوالو همکاریو پـه موخه هڅې په لومړي ځل په (۱۹۱۴)م کال کې د هالنډ هېواد له خوا پیل شوی.
هالنډ پـه نړیواله کچه د علمي او فرهنګي فعالیتونو د همغږۍ او تنظیم لپاره د یوه نړیوال کنفرانس د رابللو تصـمیم ونیوه. ټاکل شـوې وه، چې دا کنفرانس په (۱۹۱۴)م کال کې دائیر شـي، خو د لومړۍ نړیوالې جګړې له امله وځنډېده.
د ملتونو ټولنې له جوړېدو وروسته، فرانسې او بلجیم د ملتونو ټولنې پـــه چوکات کې د عمومي اســامبلې او شــورا د مشــورتي ارګان په توګه د علمي همکاریو کمېســیون د جوړولو وړاندیز وکړ.کمېسیون په (۱۹۳۰)م کال کې جوړشو، چې یوه اجرایوي کمېټه یې درلودله.
د دې کمېســیون د ملاتړ او تقویې په موخه، فرانســې هم په (۱۹۲۴) کال کې د علمي همکاریو نړیوالې مؤســســې) په نوم یو ســازمان جوړ کړ، چې تر دویمې نړیوالې جګړې پورې یې خپل فعالیت ته دوام ورکړ خو وروسته ړنګ او له منځه لاړو.
په (۱۹۴۵) کال د جولاي په (۱۲) د متحده هېوادونو د پوهنې او زده‌کړو وزیرانو پــه لندن کې د یـــو پرېکړه لیک په ترڅ کې د بریتانیا له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د علمي او فرهنګي سازمان د جوړېدو په موخه یو کنفرانس دائیر کړي.
د ملګرو ملتونو د علمي او فرهنګي کمېسیون (یونیسکو) د تأ سیس په موخه د (۴۴) هېوادونو په ګډون غونډه جوړه شوه، چې د (۱۹۴۵) کال د نومبر په میاشت کې یې د سازمان د تأسیس سند یا ( تړون) لاسلیک کړ.
یونیسکو په (۱۹۴۶)م کال د ډیسمبر په میاشت کې د یوه تړون له مخې، د ملګروملتونو تخصصي سازمانونو په ډله کې وشمېرل شو(۱۴: ۱۰۴).

**پایله**

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان پورې اړوند اختصاصي مؤسسات د یوي اړتیا د احساس له مخې په مخلتفو وختونو کې رامنځ ته شوي دي چې هره ځانګړې اختصاصي مؤسسه خپل ځانګړې تاریخچه تشکیلات او موخې لري او دا موخې یو له بل سره توپیر لري باید یادونه وشي چې دغه مؤسسات په علمي، ټولنیزو برخو کې ګټور ثابت شوي کار او فعالیت یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دوام لري او کیداي شي د اړتیا له مخې په راتلونکي کې نور اختصاصي مؤسسات د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې رامنځ ته شي. مونږ هم په خپله دي لیکنه کې چې د پښتو ژبي د لیک دود مطابق مو په درست ډول تر سره کړه، هڅه مو وکړه چې نوموړي موضوع په خپله عملي هڅه د ځلورو فصلونو، چې هر فصل د مختلفو جزونو، او نور فرعي برخو درلودونکې دي وڅیړله او په خپله علمي وړتیا سره مو په مفصل ډول تشریح کړه الله (ج) دې وکړي چې تاسي ته مو په دې اړه د خپلي علمي توانمندی پر بنسټ هر اړخیز کامل او شامل مواد په دې برخه کې وړاندي کړي وي.

**ماخذونه**


۱- شریفي، حسین . (۱۳۸۸)هـ حقوق بین الدول و سازمان ملل ، تهران: نشر میزان .

۲- شیرزاده، حمیرا.(۱۳۸۱) هـ . فرهنګ روابط بین المللی ، تهران: نشرات وزارت امورخارجه.

۳- صافی، ودیر.(۱۳۷۰)هـ حقوق بین المللي عمومي،کابل: دولتي مطبعه : د ستری محکمې نشراتي ارګان . د محمدالله مندوزي پښتو ژباړه.

۴- صدر جواد .( ۱۳۵۰ )هـ تاسیسات و سازمانهای بین المللي ، تهران: موسسه علوم سیاسي وحزبي.

۵- طراز کوهي، حسن شریفې.(۱۳۸۸) هـ حقوق بین الملل عمومي ، تهران :نشر میزان .

۶- قایم مقام فرهاني، سید عبدالمجید.( ۱۳۷۹) هـ حقوق بین المللي و سازمانهای بین المللي، تهران:دانشګاه تهران.

۷- ګنجي، منوچهر.( ۱۳۵۲) هـ سازمان ملل درتیوري، تهران: کتابخانه حبیبي.

۸- مقتدر، هوشنګ.(۱۳۷۷) هـ حقوق بین المللي عمومي دفتر مطالعات سیاسي و بین المللي.

۹- نارون، سلطان حمید.(۱۳۹۰) هـ دولت و حقوق بین الدول، کابل: چاپخانه سباوون،.

۱۰- ننګ، حبیب الرحمن. (۱۳۹۲)هـ دست نامه اموزشي سازمان ملل متحد، تهران: چاپخانه مولانا بلخي.

۱۱- د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون (۱۳۹۵)م. د بشر د حقوقو مجله کابل (ځلورمه ګڼه).

۱۲- دفتري، احمد.( ۱۳٤٥) هـ سازمان ملل متحد ونقش ان درحفظ صلح جهاني،تهران: کتابخانه حبیبي.

۱۳- محمد غفوري.(۱۳۸٦) هـ سازمان هاي بین المللي، تهران : دانشګاه روابط بین المللي .

۱۴- مندوزي، محمدالله. (۱۳۹۱)هـ د نړیوالو سازمانونو د رامنځ ته کیدو تاریخي بهیر، خوست : خیدر خیل ادبي بهیر.

# د افغانستان زهري نباتات

پوهنوال عبدالخليل افغاني د شيخ زايد پوهنتون، کرنې پوهنځي د اګرانومي څانګې استاد
برېښناليک: aakhalil2007@gmail.com

**لنډيز**

په دغه څېړنيزه کتابتوني مقاله کې د افغانستان د ۵۱ زهري نباتاتو چې د ( ۱۵ ) مختلفو کورنيو سره اړيکه لري د رنګه عکسونو ترڅنګ نور تفصيلي معلومات د بېلابېلو کتابونو، انټرنيټي معتبرو سايټونو او اړونده علمي څېړنيزو مقالو څخه راټول شوي دي. پدې کې تر ټولو زيات زهري نباتات چې شمېر يې ۱۲ دی د Solanaceae په کورنۍ پورې اړه لري، ۱۱ زهري نباتات د Ranunculaceae په کورنۍ پورې اړه لري، ۸ زهري نباتات د Euphorbiaceae د کورنۍ، ۶ زهري نباتات د Asclepiadaceae ، ۳ زهري نباتات د Liliaceae ، ۲ زهري نباتات د Asteraceae په کورنۍ پورې اړه لري. پاتې ۹ زهري نباتات په Cucurbitaceae, Apiaceae, Aracliaceae, Verbinaceae, Meliaceae, Apocyanaceae, Caprifoliaceae, Fabaceae او **Taxaceae** کورنيو ( هره کورنۍ يو نبات) پورې اړيکه لري. د مقالې په وروستۍ برخه کې يو جامع جدول ترتيب شوی چې پکې د زهري نباتاتو علمي يا ساينسي نومونه، د دوی د اړونده کورنيو نومونه، د دوی محلي نومونه ځای په ځای شوي دي. د دې څخه علاوه په دغه جدول کې د دغو زهري نباتاتو د زهري موادو نومونه، د نباتاتو د زهري برخو نومونه، د دغو زهري نباتاتو انسانانو ته د وژونکو يا تهديدوونکو موادو اندازې او د دغو زهري موادو د خوړو په صورت کې په انسانانو باندې د هغوی زهري اثرات ځای په ځای شوي دي.

**کليدي کليمې**

احتياط، افغانستان، نباتات، زهرجن، زهري

**سريزه**

د زهرجن (Poisonous) اصطلاح ډېر قسمه عکس العملونو يا تاثيراتو ته منسوب کيږي، چې د هغې جملې څخه کليدي تاثيرات يې د الرجي رامنځ ته کېدل ( چې د سپورونو، پولن دانو او يا هم په طبيعي ډول د براس کېدونکو مرکباتو چې په هوا کې د نباتاتو په واسطه ازاد شوي دي، رامنځ ته کيږي.)، د پوستکي خارښت، د لمر په وړاندې د پوستکي حساس کيدل او داخلي زهرجن کيدل دي چې د نباتاتو او يا هم د هغې د ځينو برخو د خوړلو له امله رامنځ ته کيږي. په عام ډول سره زهرجن کېدنه او هغه نباتات چې د دغې زهرجن کېدنې باعث کيږي، د وينې د زهرجن کيدو ( wild cherry, *Prunus spp.* )، اعصابو زهرجن کيدو( mushrooms )، د زړه زهرجن کيدو ( foxglove, *Digitalis purpurea* ) او د پوستکي د خارښت ( Poison ivy,

*Toxicodendron radicacans*) رامنځ ته کیدنې څخه عبارت دي. زهري نباتات د همېش لپاره زمونږ د ورځني ژوند برخه پاتې شوي دي. په ۱۹ لسمه پیړۍ کې نباتي زهر هغه وخت تقریباً ساري درجې ته ورسېدل کله چې خلک ډېر ځلې د طبیعي نباتاتو څخه د خوراکي منبع د حصول په لټه کې شول. نن هم ډېرى قوي خطري نباتات زمونږ گیرچاپېر د کورنیو باغیچو او یا هم د کور د باندې د طبیعي منظرو په شکل کې شتون لري. یوې نوې څېړنې ښودلې ده چې په متحده آیالاتو کې تقریباً ۳،۵ سلنه زهر نباتي دي. زهرجن نباتات د غیر زهري نباتاتو څخه په ظاهري شکل توپیر نه لري، نو پدې اساس د دوی پېژندنه ستونزمنه ده. ډېرى زهري نباتات بې مزې خوند لري، ولې ځینې یې د خواږه خوند لرونکي دي او که په زیات مقدار کې وخوړل شي د پام وړ ستونزې رامنځ ته کولای شي، چې ښه مثال یې د *Solanum ducamara* نبات دی، چې سرې غوښنې میوې یې نه یوازې زړه راښکونکې دي بلکې د خواږه خوند درلودونکې هم دي. د زهري نباتاتو تاثیرات د لویانو په نسبت په کوچنیانو کې زیات رامنځ ته کیږي او حتی ډېر کم مقدار هم په کوچنیانوکې زهري عکس العمل رامنځ ته کولای شي [۱].

د شرقي او جنوبي افریقا په لویو روغتونو کې یوې سروې ښودلې ده چې په روایتي ډول د بوټو د استعمال له کبله تقریباً ۱۲،۱ سلنه خلک یوازې د زهري نباتاتو د خوړو له امله مریضان شوي دي [۲].

**موخې**

د دغې څېړنیزې کتابتوني مقالې د لیکلو څخه مې موخه دا ده چې د افغانستان عام زهري نباتات په گوته کړم او د هغوی د زهري اثراتو څخه یې زمونږ د ټولنې وگړي خبرکړم ترڅو د دغو نباتاتو سره اشنا شي او په ځانگړي ډول خپل ماشومان د هغوی له ضرر څخه وژغوري.

**د کار مواد او کړنلاره**

د دغې څېړنیزې مقالې په لیکنه کې مې کتابتوني کړنلاره کارولې او د معتبرو انټرنیتي سایټونو او لیکنو څخه مې گټه اخیستې ده چې، په دې وروستیو وختونو کې نشر ته سپارل شوي دي.

**زهري نباتات او د هغوي خواص**

د یوه عالم Paracelcus له قوله چې وایي: "ټولې مادې زهرجنې دي ، دلته داسې څه نشته چې زهر نه دي، یوازې صحیح ډوز ( د درملو هغه اندازه چې په یوه وخت خوړل کیږي) زهر له معالجې یا درملنې څخه تشخیص یا بېلولای شي" . نو ویلای شو چې د نړۍ په سطحه ډېرى داسې نباتات شتون لري چې که په زیات مقدار سره وخوړل شي زهرجن واقع کیږي، ولې همدغه نباتات که په صحیح او مناسب ډوز سره استعمال کړل شي کیدلای شي چې د ځینو ځانگړیو مرضونو د تداوي باعث شي. د افغانستان عام او مشهور زهري نباتات په لاندې ډول دي.

**۱ – تاج الملوك** Monkshood (***Aconiturm rotundifolium*** Kar. & Kir.) : دغه نبات چې د Aconite او Wolfsbane په نومونو هم شهرت لري، ***Aconitum napellus*** یې synonyme دی. دغه نبات د افغانستان په شرقي او شمال شرقي سیمو کې موندل کیږي

[۳]. د دغه نبات ریښې، پاڼې او تخمونه په زهري توکو Aconitine باندې مشتمل دي چې په خوړو سره یې عصبي سیستم متأثره کیږي، تنفسي سیستم ناکاره کیږي، بې حسي منځ ته راوړي او د مرگ سبب گرځي. د دغه نبات کمه اندازه مرگوني واقع کیدلای شي. دغه نبات په تاریخي لحاظ د زهرو په ډول په ښکار او وسلوالو نښتوکې استعمال شوی دی [۴].

۲ – .*Adonis aestivalis* L: دغه نبات د افغانستان په جنوب غرب، جنوب شرق، شرقي او د شمال شرقي سیمو په کروندو او خلاصو دښتو کې موندل کیږي [۳].

۳ – .*Adonis scrabiculata* Boiss: دغه نبات د سمندر له سطحې څخه د ۳۰۰ – ۳۱۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په ټولو سیموکې په کروندو، دښتواو خلاصو سیمو کې موندل کیږي [۳].

۴ – *Adonis turkistanicus* ( Korsh.) Adolf: دغه نبات د سمندر له سطحې څخه د ۲۶۰۰ – ۳۳۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په شمال شرقي سیموکې د زینتي بوټو په ډول موندل کیږي [۳].

۵ – .*Ascpleplas curassvica* ( Wild.) R.Br: دغه نبات چې د افغانستان په گرمو او مرطوبو سیمو کې د زینتي بوټو په ډول کرل کیږي، شیدې رقمه عصارې یې زهري دي [۳].

۶- (Deadly Nightshade *(Atropa acuminate* Royle ex Miers: دغه نبات چې د Solanaceae په کورنۍ پورې اړه لري د افغانستان د شرقي سیمو په ځنگلونو کې د سمندر له سطحې څخه د ۲۵۰۰– ۳۰۰۰ مترو په لوړوالی سره موندل کیږي [۳]. دغه نبات تتې شنې پاڼې اود گیلاسو په اندازه ځلیدونکې تورې میوې لري. په حقیقت کې د دوي خوږې میوې دي چې ماشومان او ناخبره ځوانان یې خوړو ته لمسوي. دغه نبات په خپلو تنو، پاڼو، میوو او ریښوکې زهري Atropine او Scopolamine لري، چې د انسان د بدن د زړه په شمول غیراختیاري غړي بې حسه کوي. یوازې په فزیکي لحاظ ددغه نبات د پاڼو سره تماس د پوستکي د خارش سبب گرځي [۵]. ددغه نبات ټولې برخې زهرجنې دي او په طبي ډول استعمال یې نه تایدیږي [۶].

۷- سپلمی ( .*Calotropis procera* ( Wild.) R.Br ): سپلمۍ چې د سمندر له سطحې څخه د ۵۰۰–۹۰۰ مترو لوړوالي په اندازې د افغانستان په شرقي او جنوب شرقي سیموکې موندل کیږي د Asclepiadaceae یا Apocyanaceae په کورنۍ پورې اړه لري او شیدې رقمه عصارې یې زهري دي [۳]. دغه نبات د افغانستان په ټولو گرمو سیموکې موندل کیږي [۶].

۸ – *Catharanthus roseus* (L.) G.Don: دغه نبات چې د افغانستان په ډیری گرموسیمو، استوگنځایونو او گلدانونوکې د کرل کیدونکي زینتي نبات په ډول موندل کیږي ډیرزهرجن نبات دی، ولې په طبي ډول یې الکلایډونه د وینې د سرطان درملنې په حیث هم استعمالیږي [۳].

۹ - ***Chrozophora tinctoria* ( L.) Juss.** : دغه نبات د سمندر له سطحېڅخه د ۳۰۰ – ۱۰۰۰ مترو په لوړوالي د افغانستان شمال غربي، جنوب غربي، جنوب شرقي او شرقي سیموکې د یوکلنوعلفي بوټو په حیث موندل کیږي [۳].

۱۰ – **منه غونی** ( ***Citrullus colocynthis* ( L.) Schrad.** ): منه غونی چې د تربوز ابوجهل په نوم هم یادیږي د افغانستان په جنوب غربي، جنوب، جنوب شرقي او شرقي سیموکې په وچو صحراګانوکې د ۵۰۰ – ۱۲۰۰ مترو په لوړوالي سره موندل کیږي [۳]. ددغه نبات کیمیاوي توکو Cucurbitacine په اړه تصور دی چې شاید زهري وي او د کولمو د میوکوسه د خارښت سبب ګرځي [۶].

۱۱ - ***Colchicum kesselringii* Regel** : دغه نبات چې د سمندر له سطحې څخه د ۱۲۰۰ –۴۰۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په شمالي او شرقي سیموکې موندل کیږي ، ګلان یې ډیرمعطردي او د colchicine په درلودلو سره زهري نبات دی [۳]. ددغه نبات الکلایډونه Cholchicine او اړونده مرکبات زهري دي ، ځکه یې په روایتي ډول استعمالول نه تایدیږي. دغه الکلایډونه د مایکروټیوبولونو د جوړښت مخه نیسي نوله همدې امله مایټوسس نه ترسره کیږي [۶].

۱۲ - ***Colchicum loteum* Baker** : دغه نبات د سمندر له سطحې څخه د ۲۰۰ – ۴۰۰۰ مترو په لوړوالي سره په کم اندازه د افغانستان په شرقي سیموکې موندل کیږي او د colchicine په درلودلو سره زهري نبات دی [۳]. ددغه نبات الکلایډونه Cholchicine او اړونده مرکبات زهري دي ، ځکه یې په روایتي ډول استعمالول نه تایدیږي. دغه الکلایډونه د مایکروټیوبولونو د جوړښت مخه نیسي نوله همدې امله مایټوسس نه ترسره کیږي [۶].

۱۳ - ***Colchicum robustum* (Bunge) stefanov** : دغه نبات چې د سمندر له سطحې څخه د ۲۰۰ –۴۶۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په ټولو تیګه زارو، غونډیو، سیلتې خاورو، دښتو، نیمه صحرایی او شوره لرونکو مالګینو سیموکې موندل کیږي [۳]. ددغه نبات الکلایډونه Cholchicine او اړونده مرکبات زهري دي ، ځکه یې په روایتي ډول استعمالول نه تایدیږي. دغه الکلایډونه د مایکروټیوبولونو د جوړښت مخه نیسي نوله همدې امله مایټوسس نه ترسره کیږي [۶].

۱۴ - ***Conium maculatum* L.:** دغه نبات چې د مرګګ زبان ، شوکران او Fool's Parsley په نومونو هم یادیږي، د سمندر له سطحې څخه د ۳۰۰ –۲۶۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په شمال غربي، شمالي او شمال شرقي سیموکې په کروندو ، مرطوبو سیموکې د هرزه بوټو په حیث موندل کیږي. دغه نبات د coniine الکلایډونو په شتون سره زهری نبات دی [۳]. ددغه نبات ټولې برخې زهري دي، ددې لپاره یې استعمال نه تایدیږي [۶].

۱۵ - **_Cynachum acutum_ L.** : دغه نبات د سمندر له سطحې څخه د ۵۰۰ –۲۸۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په ټولو سیموکې پرته له لوړو غرونو څخه د وچو شویو دریابونو په غاړو موندل کیږي. ددغه نبات شیدې رقمه عصاره زهري ده [۳].

۱۶ - **داتوره ((Datura – _Datura innoxia_ Miller ( = D.metal L.)):** دغه نبات چې د jimsonweed یا devil's trumpet په نومونو هم یادیږي یو له زهرجنو نباتاتو څخه دی چې د نړۍ په استوایی او حاره سیموکې موندل کیږي. ددغه نبات پاڼې، تخمونه او ګلان په scopolamine ، hysoscyamine او atropine باندې مشتمل دي. ددغو موادو په اخیستو سره تنده، د خولې وچوالی، د نظر تتوالی او د لمرسره حساسیت ، د زړه تیزضربان، لوړ فشار، غیرارادي حرکات ، تنفسي ستونزې، کومه، وهم ( Hallucination ) ، لیونتوب ( delirium )، اضطراب ( confusion ) او مرګ رامینځ ته کیږي. ددغه نبات یوازې یوه پاڼه هم په ماشومانو کې د مرګ خطر رامنځته کولای شي[۴]. ددغه نبات ټولې برخې زهري دي او په طبي ډول یې استعمال نه تایدیږي [۶].

۱۷- **داتوره ( _Datura stramonium_ L. ):** دغه نبات د ۵۰۰ – ۲۲۰۰ مترو په لوړوالي د افغانستان په شمال غربي، جنوب شرقي، شرقي، شمال شرقي او مرکزي سیموکې په کروندو او نورو شاړو سیموکې د هرزه بوټوپه حیث موندل کیږي. ددغه نبات ازغي لرونکې میوې چې په hyoscyamine الکلایډونو باندې مشتملې دي، دغه نبات یې په فوق العاده ډول مخدره او زهري جوړکړیدی [۳]. ددغه نبات ټولې برخې زهري دي او په طبي ډول یې استعمال نه تایدیږي [۶].

۱۸ -**_Euphorbia boissieriana_ ( Woron.) Prokh.** : دغه نبات د ۱۸۰۰ – ۳۸۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په شمالي، شمال شرقي او مرکزي سیموکې د غرونو په لمنوکې موندل کیږي [۳].

۱۹ - **_Euphorbia cyrtophylla_ Prokh.** : دغه نبات د ۱۷۰۰ – ۳۰۰۰ مترو په لوړوالي سره د افغانستان په شرقي سیمو او نورستان کې د علفي ډیرکلنو نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳].

۲۰ – **شیدو پی ( _Euphorbia helloscopia_ L. )**: دغه نبات چې د ۶۰۰ – ۱۹۰۰ مترو په لوړوالی پیداکیږي د افغانستان په ډیرو سیموکې د هرزه بوټو په حیث موندل کیږي. ددې نبات شیدې رقمه عصاره زهري ده [۳].

۲۱ -**_Euphorbia osyridea_ Bioss.** : دغه نبات د ۷۰۰ – ۲۳۰۰ مترو په لوړوالي د افغانستان په اکثرو سیموکې د غرونو په وچولمنوکې موندل کیږي. ددغه نبات شیدې رقمه عصاري زهري دي [۳].

۲۲ - **_Euphorbia rosea_ Retz.** :دغه نبات د ۸۰۰ – ۱۸۰۰ مترو په لوړوالي د افغانستان په شمال شرقي او شرقي سیموکې د لارو غاړو ته موندل کیږي. ددغه نبات شیدې رقمه عصاره زهري ده [۳].

۲۳ - **Euphorbia thomsoniana Bioss.**: دغه نبات چې د ۲۲۰۰ –۳۵۰۰ مترو په لوړوالي موندل کیږي، د افغانستان په شمال شرقي او شرقي سیمو کې د غرو په لمنو او تیګه زارو ځایونو کې د ډیرکلنو علفي نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳].

۲۴ - **Hedera nepalensis C.Koch** : دغه نبات چې په ۱۵۰۰– ۲۴۰۰ مترو لوړوالي سره پیدا کیږي د افغانستان په شرقي سیمو او نورستان کې په ځنګلونو کې موندل کیږي [۳]

۲۵ – **ګوړای (Hyoscymus niger L.)**: دغه نبات د ۵۰۰ – ۳۱۰۰ مترو په لوړوالي پیدا کیږي. دغه نبات د افغانستان په شمالي، شمال شرقي او شرقي سیمو کې په وچولمنو، د لارو غاړو او د ځنګلونو له دیوالونو سره د یوکلن یا دوه کلنو نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳].

د خولې له لارې استعمال یې نه تایدیږي ځکه د سخت زهرجن کیدو احتمال لري. د سکوپالامینو مرګونې اندازه ۵۰ ګرامه ده او حتی کمه اندازه یې هم د تنفس د بندیدو له امله مرګونې کیدلای شي [۶].

۲۶ - **Hyoscymus seneclonis Willd** : دغه نبات د ۱۴۰۰ – ۳۵۰۰ مترو په لوړوالي پیدا کیږي. د افغانستان په ډیرى سیمو کې د ډیرکلنونباتاتو په حیث په وچو لمنو او تیګه زارو ځایونو کې موندل کیږي [۳].

۲۷ – **لانتانا (Lantan camara L.)**: دغه نبات چې د ګل بربینه په نوم هم یادیږي، په افغانستان کې په زراعتي ځمکو، ګلدانونو او باغونو کې د زینتي نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳]. ددغه نبات ټولې برخې زهرجنې دي او خوړل یې د مرګ باعث کیدلای شي، زهري مواد یې lantadene A and B دي. ددغه نبات په خوړو سره په ځینې افرادو کې د پوستکي مختلف مرضونه رامنځ ته کیږي.که د وجود د وزن یو فیصد خامې میوې اوخوړل شي ، نو د لمر سره د سترګو حساسیت، د اشتها د مینځه تلل ، زیړى او د ینې تخریب رامنځ ته کوي او حتي د مرګ سبب ګرځي.

۲۸ - **توره بکاڼه (Chinabarry – Melia azedarach L)**: دغه نبات چې د یاسمن ایراني په نوم هم یادیږي، د سمندر له سطحې څخه په ۵۰۰– ۹۰۰ مترو لوړالي پیداکیږي او د افغانستان په شرقي سیموکې موندل کیږي [۳]. د تورې بکاڼې نبات ټولې برخې زهرجنې دي، زهري مواد یې (limonoids ) دي. ددغه نبات پاڼې په طبعي ډول د حشرو وژلو لپاره په ذخیره شویو میوو او سبزیو کې استعمالیږي. ددغه نبات د زهرجنومرګوني موادو اندازه د ۶ نه تر ۹ میوو پورې ده، چې په خوړو سره یې د زړه تکلیفونه، په هضمي او تنفسي سیستمونو کې ستونزې رامینځ ته کیږي، ددې څخه علاوه دماغي ستونزې او ځینو سختومواردوکې مرګونې واقع کیږي [۵].

**۲۹ – ګنډیری (*Nerium indicum* Miller):** د غه نبات د افغانستان په شرقي زراعتي سیمو کې د زینتي نبات په حیث موندل کیږي چې پاڼې یې تل شنې وي. ددغه نبات تفکیک د *Nerium oleander* L. له نبات سره مشکل دی [۳].
**۳۰ – تمباکو/ تنباکو (*Nicotiana rustica* L.)** : دغه نبات د افغانستان په ګرمو سیمو کې کرل کیږي او د لارو ترڅنګ موندل کیږي[۳]. ددغه نبات زهري نیکوټین او نورالکلایډونه په ریښو کې تولیدیږي او وروسته بیا په پاڼو کې ذخیره کیږي [۶].
**۳۱ – تنباکو اصلي (*Nicotiana tobacum* L.)**: تمباکو د نړۍ په سطحه په زیاته اندازه د تجارتي غیرخوراکي نبات په توګه کرل کیږي. ددغه نبات ټولې برخې په ځانګړي ډول پاڼې په زهري الکلایډونو Nicotine او Anabasine باندې مشتملې دي او د خوړو په صورت کې مرګونې واقع کیدلای شي. ددې باوجود چې نیکوټین د زړه لپاره زهرجن دي ولې دغه نبات د نړۍ په سطحه په زیاته اندازه د رواني فعالتوب ( psychoactive ) او اعتیاد ( addictive ) په توګه استعمالیږي. د تمباکو استعمال د نړۍ په سطحه په کلني ډول د ۵ میلیونو څخه زیات مرګ رامنځ ته کوي، چې شاید د همدې وجې دغه نبات د نړۍ په سطحه ترټولو زیات مرګونی نبات وي [۵]. ددغه نبات زهري نیکوټین او نورالکلایډونه په ریښو کې تولیدیږي او وروسته بیا په پاڼو کې ذخیره کیږي [۶].
**۳۲ - *Pergularia tomentosa* L.**: دغه نبات چې په ۸۰۰–۱۱۰۰ مترو په لوړوالي پیداکیږي، د افغانستان په جنوب شرقي ( کندهار ) سیمو کې په وچواستوګنځایونو، په ګرمو صحرایی سیموکې موندل کیږي. دغه نبات بخملي یا پشمي شکل لري او ازغنې میوې لري [۳].
**۳۳ - *Physalis divaricate* D. Don**: دغه نبات چې په ۴۰۰–۱۵۰۰ مترو لوړوالي پیداکیږي د افغانستان په شرقي او شمال شرقي سیموکې د غرونو په سیاه رخ سیمو او کروندوکې د هرزه بوټو په حیث موندل کیږي [۳].
**۳۴ - *Ranunculus afghanicus* Aitch.& Hemsl.** : دغه نبات چې په ۱۴۰۰–۳۲۰۰ مترو په لوړوالي پیداکیږي، د افغانستان په شمال غربي، شرقي، جنوب شرقي، شمال شرقي او مرکزي سیموکې په استوګنځایونو، تیګه زارو او ریګ زارو لمنو کې موندل کیږي [۳].
**۳۵ - *Ranunculus arvensis* L.** : دغه نبات د ۸۰۰–۳۰۰۰ مترو په لوړوالي پیداکیږي او د افغانستان په شمال غربي، جنوب غربي او شمال شرقي سیموکې په نم لرونکو استوګنځایونو، د اوبه خور د تالابونو ترڅنګ او د ډنډونو په غاړو د یوکلن نبات په حیث موندل کیږي [۳].

۳۶ – ***Ranunculus longicaulis* C.A. Mey.** : دغه نباتات د ۲۹۰۰ – ۳۷۰۰ مترو په لوړوالي باندې پیداکیږي او د افغانستان په شرقي او شمال شرقي سیمو کې په غرونو کې په مرطوبو استوګنځایونواو د ویالو په غاړه موندل کیږي [ ۳ ].

۳۷ – ***Ranunculus pulchellus* C.A.Mey** : دغه نباتات د ۳۵۰۰– ۴۵۰۰ مترو په لوړوالي سره پیدا کیږي. دغه نبات د افغانستان لپاره په فلورا اف ایرانیکا کې ثبت نه دی او په واخان کې یې د پیداکیدو احتمال شته. په مرطوبو ځایونو کې موندل کیږي [۳].

۳۸ – ***Ranunculus rufosepalus* Franch.**: دغه نباتات چې په ۳۳۰۰– ۴۸۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږی د افغانستان په شرقي او مرکزي سیموکې په تیګه زارو ځمکو او کروندوکې د ډیرکلنوعلفي نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳].

۳۹ – ***Ranunculus sceleratus* L.**: دغه نباتات په ۸۰۰–۲۴۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي او د افغانستان په شمال غربي، شرقي او شمال شرقي سیموکې په مرطوبو استوګنځایونو، نهرونو، د ډنډونو ترغاړو موندل کیږي، دغه نباتات په مالګین محیط کې وده کولای شي[۳].

۴۰ – ***Ranunculus shaftoanus* ( Aitch. & Hemsl.) Boisss.**: دغه نباتات په ۳۲۰۰– ۵۰۰۰ مترو لوړوالي باندې پیدا کیږي او د افغانستان په شرقي او شمال شرقي سیموکې په تیګه زارو ځایونو کې د ډیرکلنو علفي نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳].

۴۱ – **لوبیایی کاسټر یا ارنډ Castor Bean ( *Ricinus communis* L.)**: لوبیایی کاسټر چې د Euphorbiaceae په کورنۍ پورې اړه لري د افریقا بومي نبات دی او په پراخه کچه د زینتي بوټي په توګه کرل کیږي.ددغه نبات پروسس شوي تخمونه د کاسټرایل یا تیلو منبع تشکیلوي او دغه تخمونه په طبعي ډول په زهري موادو چې د Ricin په نامه یادیږي، مشتمل دي، چې کوچنۍ اندازه ( یوملي ګرام خالص ریسین په یو کیلو وزن په سړیو کې ) یې مرګوني واقع کیدلای شي. ددغه نبات یو یا دوه تخمونه د کوچنیانو او تر اتو تخمونو پورې د لویانو د مرګ باعث کیدلای شي. دغه زهري Ricin په حجرو کې د ننه د پروټینو د جوړیدو مخنیوی کوي، شدیدې کانګې رامنځ ته کوي، د اسهال کیدنې باعث کیږي، یوناڅاپي مرض ( seizures ) رامنځ ته کوي، د ملا شدید دردونه رامنځ ته کوي، خوني پیچس، لوړ فشار، د خولې او مریو سوزش، د زړه ضربان تیزیدل او د زړه دریدل رامنځ ته کوي او حتی د مرګ سبب ګرځي [۵]. ددغه نبات په تخمونو کې موجود ricin قوي زهري دي او مرګونې اندازه یې هم د ۴–۸ تخمونو پورې ده. ددغه نبات په کسټرایل کې د ricinoleic acid لوړه فیصدي د قوي مسهل په توګه استعمالیږي او د مایکروبونو ( وایرس، بکتریا او فنجایی ) مخه نیسي [۶].

د ارنډ نبات د Guinness Book of World Records په کتاب کې د نړۍ تر ټولو زهري نبات ّپیژندل شویدی، ددغه نبات تخمونه ترټولو برخو زهري دي او پاڼې یې هم زهرجنې دي.

۴۲ - .***Sambreus wightiana*** **Wall. Ex Wight & Arm**: دغه نباتات په ۱۴۰۰ – ۲۱۰۰ مترو لوړوالي باندې پیدا کیږي او د افغانستان شرقي سیمو او نورستان کې د ځنګلونو ترڅنګ موندل کیږي [۳].

۴۳ - ***Senecio glaucus*** **L** : دغه نباتات په ۳۰۰– ۳۴۰۰ مترو لوړوالي باندې پیدا کیږي او د افغانستان په ټولو جنوبي سیمو کې د استوګنځایونو، ریګونو، د کروندو ترغاړه او تیګه زارو ځمکوباندې د یوکلنو نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳]. ددغه نبات ټولې برخې د څارویو، اسونو، میږو او وزو لپاره زهري دي [۶].

۴۴ - ***Senecio vulgaris*** **L.** : دغه نبات چې په ۱۳۰۰– ۲۰۰۰ مترو په لوړوالي سره موندل کیږي په دري کې ورته پیرکاه هم ویل کیږي. دغه نباتات د افغانستان په شرقي سیموکې په کروندوکې د هرزه بوټو په حیث موندل کیږي. دغه نباتات د Pyrrolicidine الکلایډونو په درلودو سره زهري دي [۳].

۴۵ - ***Solanum nigrum*** **L.**: دغه نباتات په ۴۰۰ – ۲۴۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي او د افغانستان شمال غربي، جنوب شرقي، شمال شرقی او مرکزي سیموکې په کروندو کې هرزه بوټو ، د دیوالونو او لارو ترغاړو د یوکلنو نباتاتو په حیث موندل کیږي [۳]. ددغه نبات solanine او اړونده الکلایډونه زهري دي ، ددې نه علاوه ټولې شنې برخې یې کمې زیاتې زهري دي ددغه نبات زهري نیکوټین او نورالکلایډونه په ریښوکې تولیدیږي او وروسته بیا په پاڼوکې ذخیره کیږي [۶].

۴۶ - ***Solanum surattense*** **Burn.f.** : دغه نباتات په ۶۰۰– ۲۰۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي او په افغانستان کې په شرقي او شمال شرقي سیموکې د یوکلنو نباتاتو په حیث د غرونوپه وچولمنو، تیګه زارو ځمکواو د لارو په غاړوموندل کیږي [۳].

۴۷ - ***Sophora alopecuroides*** **L.**: دغه نباتات په ۶۰۰ – ۲۳۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي او د افغانستان په شمال غربي، جنوب شرقي، شمال شرقي او مرکزي سیموکې د استوګنځایونو ، کروندو او ویالو ترڅنګ د هرزه بوټو په حیث موندل کیږي [۳].

۴۸ –**تکسوس هیمالیایی** ( ***Taxus controta*** **Griffith**) : دغه نباتات په ۱۸۰۰– ۲۹۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي او د افغانستان په نورستان ولایت کې په تل شنوځیږیو ځنګلونو او مختلطو ستن رقمه پاڼو ځنګلونو او په سیاه رخ درو او غرونوکې موندل کیږي [۳].

۴۹ - ***Vincetoxicum gaucum* ( Wild.) Rech.f.** : دغه نباتات چې په ۱۰۰۰– ۲۸۰۰ مترو لوړوالي باندې پیداکیږي د افغانستان په شرقي سیموکې په سیاه رخ ځایونو او د ځنګلونو ترڅنګ موندل کیږي [۳].

**۵۰ – خمزوره** ( ***Withania coagulans* Dunal** ): دغه نباتات په ۶۰۰ – ۱۳۰۰ مترو لوړوالي سره پیدا کیږي او د افغانستان په شرقي سیموکې په وچو لمنو، تیګه زارو ځمکو او ګرمو منطقو کې موندل کیږي [۳].

**۵۱ – خمزوره (*Withania somnifera* ( L.) Dunal):** دغه نباتات د ۵۰۰ – ۱۲۰۰ مترو په لوړوالي سـره پیداکیږي او د افغانسـتان په شـرقي سـیموکې د اسـتوګنځایونو ترڅنګ موندل کیږي [۳].

جدول ۱ : د افغانستان د زهري نباتاتو لست، د هغوي اړوندې کورنی، محلي نومونه، زهري مواد ، زهري برخې ، مرګونې یا تهدیدوونکې اندازې او په انسانانو باندې د هغوی زهري آثرات

| شماره | زهري نباتات / علمي نومونه | اړونده کورنی | محلي نومونه | زهري مواد | زهري برخې | مرګونې یا تهدیدوونکې اندازې | زهري آثرات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 |  ***Aconiturm rotundifolium* Kar. & Kir.** Synonyme= *A.napellu* | Ranunculaceae | تاج الملوک | Alkaloids/Aconitine mesaconitine, lycoctonine and other terpene alkaloids (up to 2% in tubers | ټولې برخې [۷]. په ځانګړې ډول ریښې یا ټیوبرونه | وژونکی ډوز تقریباُ ۹-۱۸ ګرامو پورې ریښې او ۳-۵ ګرامو پورې aconitine دي. په هرحال د یوه ګرام ریښو په خوړلو سره هم مرګ ریکارډ شویدی [۸]. | د نبض ورکوالی، بې خودي، کمزوري، بې قراري، تنفسي بد نظمي او نس ناستی [۸]. |
| 2 | ***Adonis scrobiculata* Boiss.** | Ranunculaceae | - | Cardiac glycosides. [۷]. | ټولې برخې [۷]. | زیاتو څېړنو ته اړتیا لیدل کیږي. | د ګیډې درد، وینه لرونکی نس ناستی، د کولمو د حرکت کمیدل او د زړه ضربان غیرمنظم کیدل او د زړه دریدل |
| 3 | ***Adonis turkistanicus* (Korsh.) Adolf** | Ranunculacea e | - | Cardiac glycosides. [۷]. | ټولې برخې [۷]. | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | ***Adonnis aestivalis* L.** | Ranunculaceae | - | adonitoxin and other cardiac | ټولې برخې [۷]. | | |
| 5 | ***Ascpleplas curassvica* (Wild.) R.Br.** | Asclepidaceae | - | Cardenolides, Cardiac glycosides such as calotropin and uscharin | ټولې برخې په ځانگړې ډول شيدې رقمه شيره | د حيوان د وزن د يوه فيصد خخه د تازه مواد کمه اندازه [۹]. شيدې رقمه عصاره د سترگو سره د تماس په صورت کې د سترگو ناروغي رامنځ ته کولای شي | Arrhythmias ( د زړه د ضربان غيرمنظم کيدل ) رامنځ ته کيږي او په سطحي تماس سره د سترگو د سپينې برخې پړسوب او تت نظر رامنځ ته کوي [۸]. |
| 6 | ***Atropa acuminata* Royle ex Miers**  | Solanaceae | شاهبیزک | Alkaloids[۷] | ټولې برخې [۷]. | Belladonna is likely unsafe. It contains chemicals that can be poisonous even at low doses [۱۰]. | د سترگو تت نظر، تبه ، د زړه ضربان تيزيدل، د تشو متيازو او خولو بنديدل، وهم، سپازم، دماغي ستونزې، تشنج، کومه او داسې نور [۱۰]. په دغه نبات کې شته ټروپين الکلايډونه انټي کولينرجيک دي، علايم يې د سترگو لويدل، د رڼاسره حساسيت، ، تت نظر، ټيکيکارډيا، ، د توازن له لاسه ورکول، په تندکوتلل، سردرد، خارش، درنگ سره کيدل، د خولې او مريو وچيدل، په يوه غاړه خبرې کول، د ادرار بنديدل، قبض، تردد، وهم، عارضي ليونتوب، او د تشنج رامنځ ته کيدل [۶]. |
| 7 | ***Calotropis procera* (Wild.) R.Br.** | Asclepiadaceae | سپلمې | cardenolides, flavonoids, sterols, oxypregnanes triterpenoids, glycosides.[۱۱] | ټولې برخې [۷] | Dose of 100 mg kg$^{-1}$ to chick embryo [۱۱]. | شيدې رقمه شيره يې عصبي زهري ده، انټي کولينرجيک خاصيت لري. دغه شيرې تريخ خوند او درد لرونکی خارش لري چې د معدې خارش، قي، اسهال، د سترگو د کسولويدنه، تشنج، بې حالي او مرگ رامنځته کوي [۱۱]. د اوبو ضايع کيدل، نس ناستی، د زړه د ضربان غيرمنظم کيدل، د هضمي نل التهابي کيدل [۷]. |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | ***Catharanthus***  ***roseus* (L.) G.Don** | Asclepiadaceae | - | Alkaloids vincristine[Y] | ټولې برخې [۷]. | زیاتو څېړنو ته اړتیا لیدل کیږي. | ددغه نبات زهري اکلایډونه د مایکروټیوبولونو د جوړښت مخه نیسي، عصبي سیسم خرابوي ، د مغز استخوان یا بون میرو فعالیت کموي او د زړه د دریدو سبب کیږي [۸]. د الیکترولایټ غیرمتوازن کیدل، داوبو ضایع کیدل، د ګیډې شدید دردونه، زیات نس ناستی او د زړه دریدل رامنځ ته کیږي [۷]. |
| 9 |  ***Chrozophora tinctoria*** ( L.) Juss. | Euphorbiaceae | dyer's croton. giradol. turnsole or dyer's litmus plant | Phytochemicals (alkaloids, flavonoids, phenols, terpenoids, tannins, saponins and lignas). | ټولې برخې | څېړنوته اړتیا لیدل کیږي. | ددغه نبات استخراج شوي مواد د غله جاتو د ساتنې یعنې د پیسټ د کنټرول په موخه کارول کیږي. |
| 10 | ***Citrullus colocynth* ( L.) Schrad.**  | Cucurbitaceae | منه غوني / تربوز ابوجهل | Alkaloids[Y] Elatermidine, glycosides, resin, dihydric alcohol, heltiacontane, citrullin and citrullinic acid. | ټولې برخې [۷] | د موږګانو په یوه څېړنه کې ښودل شویده چې ددغه نبات ۴۰۰ ملي ګرامه الکولي عصاري د یوه کیلووزن په حساب سره د ځیګري حجرو تخریب رامنځ ته کړیدی [۱۲]. | ددغه نبات اجزاوې که په زیات مقدارکې وخوړل شي د ګیډې درد، اسهال، قی، د تودوخې د درجې ښکته کیدل، د زړه د فعالیتونو غیرمنظم کیدل، دماغي بوج او د ځیګرو پښتورګو د حجرو مړه کیدنه رمنځ ته کوي [۱۳]. |
| 11 | ***Colchicum kesselringii* Regel** | Liliaceae | زرنګه، زرنګان، زونګان | Colchicine | ټولې برخې | **Dose related risk:** <0.5mg/kg Gastrointestinal symptoms | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 12 |  ***Colchicum loteum* Baker** | Liliaceae | پیاز حضرتی، سورنجان | Colchicine | تولې برخې | 0.5 – 0.8 mg/kg Systemic toxicity (10% mortality) >0.8mg/kg Cardiovascular collapse, coagulopathy, acute renal failure (close to 100% mortality) [۱۴] |  د هضمي سیستم غیرمنظم کیدل، د زړه دریدل او د پښتورګو دفعالیت له مینځه تلل [۱۴]. *Colchicum kesselringii* Regel |
| 13 | ***Colchicum robustum* (Bunge) stefanov** | Liliaceae | - | Colchicine | تولې برخې | | |
| 14 | ***Conium***  ***maculatum* L.** | Apiaceae | مرگک زبان / شکران | coniine, conhydrine and other piperidine alkaloids | تولې برخې ، تخمونه | The whole green plant is toxic at dosages of approximately 1% of body weight 6-8 leaves, or an even small dose can cause death [۸] | عصبي زهرجن کیدل، د ذهني توازن له مینځه تلل، د خولې او مریو سوزیدل، قي، د عضلاتو بې حسه کیدل، د تودوخې درجې ښکته کیدل، بې حسه کیدل، تشنج رامنځته کیدل او د تنفس د بندیدو لکه کبله د مرګ واقع کیدل [۸]. |
| 15 |  ***Cynachum acutum* L.** | Asclepiadaceae | | Alkaloids[۷] | تولې برخې [۷]. | خېړنو ته اړتیا لیدل کیږي | د مرکزي عصبي سیستم غیرمنظم کیدل [۷]. |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 16 | ***Datura inn**oxia*  Miller ( = *D.metal* L.) | Solanaceae | داتوره | Alkaloids ( scopolamine, hyoscyamine and traces of atropine, parasympatholytic alkaloids such as atropine and hyoscine | تولې برخې .[۷] | 50-150 seeds or 60-75mg atropine Accidentally (or intentionally) ingesting even a single leaf could lead to severe side effects [۷] |  د هغو عصبي رګونو چې دماغو ته سګنلونه پاس کوي تحریکول او د زړه سست کیدل، تنده، په غیرنورمال ډول د سترګو د کسو ازادیدل، نابینایي، د تنفسي سیستم فلج کیدل، بې قراري، د بلغمي پردو وچیدل او وهم پیداکیدل .[۸] |
| 17 | *Datura stramonium* L. | Solanaceae | داتوره | | تولې برخې .[۷] | | |
| 18 | *Euphorbia boissieriana* (Woron.) Prokh. | Euphorbiaceae | - | Alkaloids[۷] | تولې برخې[۷]. | زیاتو څیړنو ته اړتیا لیدل کیږي. | د پوستکي تناکې، د خولې او مریو خارش، قی، د معدې درد، مسهل، وینه لرونکی اسهال، د زړه ضربان غیرمنظم کیدل، د غوږونو شرنګهار پیدا کیدل، د ینې او پښتورګو امراض رامنځ ته کیدل [۸]. د پوستکي او میوکس پردو خارش، د نظر تتوالی او بدهضمي رامنځ ته کیدل  *Euphorbia helloscopia* L. |
| 19 | *Euphorbia cytophylla* Prokh. | Euphorbiaceae | - | Alkaloids[۷] | تولې برخې[۷]. | | |
| 20 | *Euphorbia helloscopia* L. | Euphorbiaceae | شیلدوبي | phorbol esters in latex,triterpenoids , terpenoids | تولې برخې، شیدې ، تخمونه | | |
| 21 | *Euphorbia osyridea* Bioss. | Euphorbiaceae | - | Alkaloids terpenoids Diterpenoids | تولې برخې | | |
| 22 | Euphorbia rosea Retz. | Euphorbiaceae | - | Alkaloids | تولې برخې | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 23 | *Euphorbia thomsoniana* Bioss. | Euphorbiaceae | - | Alkaloids | تولې برخې | | |
| 24 |  ***Hedera nepalensis*** **C.Koch** | Araliaceae | - | Oil ( Urushiol) [۱۵] | تولې برخې[۱۵] . | د بوټې د سوزیدو په حالت کې که ددې بوټې دود تنفس کړل شي ، د سږو د ستونزو په صورت کې د مرګ تهدید هم پیښبولی شي[۱۵]. | دغه نبات د پیشوګانو، سپیو او اسونو لپاره زهري دی ولې د مارغانو او د نور څاریویو لپاره زهري نه دی.دغه نبات په انسانانوکې زړه بدوالی، قی، اسهال او د تماس په صورت کې په پوستکي کې خارش ګرمکې رامنځ ته کوي[**۱۵**]. |
| 25 | *Hyoscymus niger* L.  | | ګوړای، بنګک دېوانه | Alkaloids ( hyscyamine, atropine & scopolamine | تولې برخې | even at low doses د سکوپالامینو مرګوني اندازه ۵۰ ګرامه ده [۸]. | بې اشتهایي، د خولې افرازاتو زیاتیدل، سردرد، زړه بدوالی، قی، نس ناستی، د نبض تیزوالی، تشنج او کومه رامنځ ته کوي، د تنفس د دریدو له وجې د مرګ باعث کیږي. د پوستکی سره د تماس په صورت کې خارش رامنځ ته کوي [۸]. |
| 26 | ***Hyoscymus***  ***senecionis*** Willd. | Solanaceae | بنګک دېوانه | Tropane Alkaloids( scopolamine and hyscymine) [۱۶] | ریښې، رایزومونه، تنې، پاڼې او ګلان [۱۶]. | خېرنوته اړتیا لیدل کیږي. | د ټروفین الکلایډونو د خوړو په صورت کې په انسانانو او حیواناتو کې اثرات لکه خاربښت، زړه بداوای، قی، هضمي سیستم خرابوالی، عصبي بدنظمي، بې حسي، لیونتوب، د زړه ضربان تیزیدل اوناخاپي مرګ [۱۷]. |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 27 |  ***Lantan camara* L.** | Verbenaceae | لانتانا | lantadene A and B pentacyclic triterpene acids | تولې برخې | A toxic dose for a 500 kg cow varies from about five to 20 kg of fresh leaf (one per cent or more of an animal's body weight), [۸] | ددغه نبات ټولې برخې زهري دي او په خوړو سره مرگ واقع کولای شي. په ځینو کسانو د پوستکي ناروغي هم رامنځ ته کوي. هضمي ستونزې، قی، اسهال او د وینې د گردش بندیدل [۸]. |
| 28 |  ***Melia azedarach* L** | Meliaceae | ټوره بکاینه | Limonoids Tetranortriterpenes | ټولې برخې | د ۶-۹ میوې، ۳۰-۴۰ تخمونه او ۴۰۰ گرامه پوستکي زهرجن واقع کیدلای شي [۱۸]. . | لړزه، نفس تنگي،تشنج، قي او اسهال رامنځ ته کوي.ددغه نبات ټولې برخې زهري دي او په خوړو سره یې خطرپیښیدلای شي. ددغه نبات پاڼې حشره وژونکې خاصیت لري، ددې لپاره په ذخیره شویو میوو او غله جاتو کې استعمالیږي. نو پکاردی چې د ذخیره شویو غذاگانو د استعمال په وخت کې یې پاڼې ونه خوړل شي **[۱۸]**. . |
| 29 |  ***Nerium indic*um** Miller | Apocyanaceae | گنلو یری | oleandrine and several other cardenolides | ټولې برخې | د نبات د تخمونو استخراجي مواد په موږگاکانوکې په لاندې مقدار سره سل سلنه مرگ واقع کوي. 12.5ml/kg [۱۹]. | د ژبې او مریو بې حسه کیدل، زړه بدوالی، قی، وینه لرونکی نس ناستی، تشنج، په غیرنورمال ډول د زړه ضربان سوکه کیدل، د قلبي عضلاتو انقباض، د سترگوپراخه کیدل، د نفس تنگیدل، د شنډو او لاسو شنه کیدل، د تنفس دریدل او د ۲-۳ ساعتونو پورې د مرگ واقع کیدل **[۱۹]**. . |
| 30 | ***Nicotiana rustica* L.** | Solanaceae | تنباکو | Anabasine, nicotine, nornicotine | ټولې برخې | 0.5-1 mg/kg body weight nicotine (~ 40 - 60 mg) [۸] | وهم او پاریدنه رامنځ ته کوي، د خولې او مریو سوزش پیدا کوي، زړه بدوالی، قی ، هضمي سیستم متاثره کوي، د وینې د رگونو |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 31 |  *Nicotiana tobacum* L. | Solanaceae | اصلي تمباکو | | | | انقباض رامنځ ته کوي، د وينې رګونه تنګوي، غيرنورمال د سترګو پراخوالی رامنځ ته کوي، د زړه ضربان غيرمنظم کيدل، ناګهاني مرض رامنځ ته کوي، بې خودي او د تنفس دريدل واقع کوي [۸]. |
| 32 |  ***Pergularia tomentosa* L.** | Asclepiadaceae | ام اللبن | Cardenolide glycosides, aglycones (uzarienin, coroglaucigenin and pergularin, | ټولې برخې[۲۰] . | نورو څيړنو ته اړتيا ليدل کيږي. | دغه صحرايي نبات فنګس او پلازموډيم ضد خصوصيات لري او د عام استعماليدونکي فنګس ضد دوايی griseofulvin څخه ډير موثر دی [۲۱]. |
| 33 | ***Physalis divaricate* D. Don** | Solanaceae | - | | | | |
| 34 | ***Ranunculus afghanicus* Aitch.& Hemsl.** | | | Protoanemonin | | | |
| 35 |  ***Ranunculus arvensis* L.** | Ranunculaceae | - | | شيرې | په دې برخه کې نورو څيړنو ته اړتيا ليدل کيږي. | د رانکولس ټولې نوعې دواړو حيواناتو او هم انسانانو ته زهري دي.کله چې ددغو نباتاتو پاڼې ميده کړل شي دوی د Ranunculin په نوم مرکبات خوشي کوي کوم چې په تندو او زهري تيلوکې چې د پروټونيمونين په نامه ياديږي، ددغو تيلوسره په تماس سره د پوستکي مختلف قسم مرضونه لکه خارش او تڼاکې رامنځ ته کيږي. د ځينې نباتاتو په ژويلو سره د ګيډې درد، اسهال، قی، سربدالي او حتی بې حسي رامنځ ته کوي [۲۲]. |
| 36 | ***Ranunculus longicaulis* C.A. Mey.** | | | | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 37 | ***Ranunculus pulchellus*** **C.A.Mey.** | | | | | | |
| 38 | ***Ranunculus rufosepalus*** **Franch.** | | | | | | |
| 39 | ***Ranunculus sceleratus*** **L.** | | | | | | |
| 40 | ***Ranunculus shaftoanus*** **( Aitch. & Hemsl.) Boisss.** | | | | | | |
| 41 |  ***Ricinum Communis*** **L.** | Euphorbiaceae | لوبیایي کاستور، بید انجیر | ricin (a lectin), ricinine (pyridine alkaloid), ricinolic acid (fatty acid). [۵] | تخمونه | یوازې یو تخم هم د یوه ماشوم د مړینې سبب کیدلای شي. 4 oz. can be fatal 1mg/kg pure ricin in man. Ingestion of a single well chewed bean has caused death, 1-3 seeds can be fatal to a child. [۵] | په رایبوسومونو کې د پروټینو د جوړښت مخه نیسي. کمزورتیا رامنځ ته کوي، د سترگو ښکته لویدل، اوبه ډوله نس ناستی، ډپریشن، د زړه ضربان تیزیدل ، د وینې قي کول، وینې اسهال، د پښتورگو درد، د ینې زیان، تشنج، د زړه ضربان زیاتیدل، د وینې جریان دریدل ( د حیواناتو لپاره هم زهري دی [۵]. |
| 42 |  ***Sambucus wightiana*** **Wall. Ex Wight & Arm.** | Caprifoliaceae | Kashmir elder, dwarf elder | Glycosides ( Cynogenic glycosides) | ټولې برخې ، خامې میوې | نورو څیړنو ته اړتیا شته | د گیډې درد، بیحالي، خولې کیدل او په ځینې سختو مواردو کې د کومه حالت ته تلل او د زړه دریدل شامل دي. |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 43 | ***Senecio glaucus* L.**<br> | Asteraceae | گونگو، پیرکه | senecionine and other pyrrolizidine alkaloids | ټولې برخې | دېروخت لپاره استعمال یې د ځیګر مرضونه رامنځ ته کوي. | نس ناستی، ډپریشن، د مقعد راوتل، په غیرنورمال ډول د بدن په ځینو برخوکې د ماڼعاتوجمع کیدل، په خیټه کې د اوبو جمع کیدل، په سرفشار راوستل، د ځیګر ناروغي حتي د ځیګر د سرطان باعث هم کیدلای شي. |
| 44 | ***Senecio vulgaris* L.** | Asteraceae | - | | ټولې برخې | | |
| 45 | <br>*Solanum nigrum* **L.** | Solanaceae | انگور سگکۍ (سگ انگورکۍ)<br>Poison berry | green fruits and leaves contain teroidal glycoalkaloids such as soladulcidine, | ټولې برخې ، په عام ډول شنې برخې یا خامې میوې | Solanine 2.8mg/kg for man, for children small amount of solanine is fatal [۲۳] | قلبي ، عصبي او هضمي سیستمونو کې ستونزې رامنځ ته کوي. بدهضمي، تشنج، داخلي خون ریزي، د خولې افرازاتو زیاتیدل، لړزه پیدا کیدل، سردرد، عارضي لیونتوب، تبه او کومه، قي کول، د ګیلېې درد، زړه بدیدل، نس ناستي او په ځینو سختو حالاتو کې د تنفس دریدو له امله د مرګ واقع کیدل [۲۳]. |
| 46 | <br>***Solanum suratt**ense* Burn.f. | Solanaceae | Kantakari, indian nightshed | Polyphenols, flavonoids, glycoside, alkaloids, carbohydrates | میوې | د زهري خصوصیاتو لپاره یې باید نورې څیړنې ترسره شي. | Studies on leaf and fruits extracts of S. surattense revealed that, plant extracts are non-toxic in nature, even at higher dose 2,000 mg/kg [۲۴؛ ۲۵؛۲۶ ] |
| 47 | <br>***Sophora alo**pecuroides* L. | Fabaceae | - | Alkaloides ( aloperine, matrine, oxymatrine, oxysophoarpine, sophocarpine, sophoridine) [۲۷] | | د زهري اثراتو او د ګیاه وژونکو په مورد یې باید نورې څیړنې ترسره شي. | ددغه نبات الکلایډونه د ځینې نباتاتو چې په هغې کې رشقه هم شامله ده ضرر رسوونکي خصوصیات لري [۲۷]. |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 48 | *Taxus controta*  Griffith | Taxaceae | تکسوس همالایي | Taxines | پوستکی ، پاڼې او تخمونه | One mouthful is enough to cause death by heart failure. This plant is highly toxic to herbivores. As little as 6-8 ounces of fresh yew may kill a horse. | د اریتمیا یا زړه ضربان د غیرمنظم کیدو له امله د خوړو څخه یوازې یو څو ساعته وروسته مرګ واقع کیږي. |
| 49 | ***Vincetoxicum gaucum* (Wild.) Rech.f.** | Asclepiadaceae | - | | | | |
| 50 | ***Withania coagulans* Dunal**  | | پنیر بند | Withanolide [۲۸] | تولې برخې/ میوې [۲۸] | په دغه برخه کې نورې څېړنو ته اړتیا لیدل کیږي. | که څه هم دغه نبات فنګس، میکروب ضد، چینجیو ضد ، انټي اکسیډینټ، شحمیات ضد او ټوکسین ضد خاصیت لري. میوې یې د شوګر ضد خاصیت په درلودلو سره شهرت زیات کړیدی. Hypoglycemic ددېنهعلاوه خاصیت هم لري ( داسې یو حالت چې په وینه کې د ګلوکوزو اندازه د نورمال څخه ټیټه وي او په نتیجه کې یې په وجودکې دروندوالی، خبرو کولوکې ستونزې، بې حسې، یوناخاپي مرض لکه مرګي او مرګ واقع کیدلای شي. [۲۸]. |
| 51 | ***Withania somnifera* (L.) Dunal** | | خمزوره، خمازو | | | | |

**پایله**

داچې انساني ژوند د خپل چاپیریال سره نه شلېدونکی تړاو لري او چاپېریال موهم د بې شمیره نباتاتو لرونکی دی چې په دوي کې یو شمېر نباتات داسې دي، چې د نړیوالو طبي څېړنو په پایله کې زهري پېژندل شوي دِي او خوړل یې مرګوني ګواښونه رامنځ ته کوي. په دغه څېړنیزه کتابتوني مقاله کې د افغانستان د ۵۱ زهري نباتاتو چې د ( ۱۵ ) مختلفو نباتي کورنیو سره تعلق لري د رنګه عکسونو ترڅنګ نور تفصیلي معلومات د بیلابیلوکتابونو ، انټرنیټي معتبرو سایټونو او اړونده علمي څېړنیزو مقالو څخه راټول شویدي. پدې کې ترټولو زیات زهري نباتات چې شمیر

یې ۱۲ دی د Solanaceae په کورنۍ پورې اړه لري ، ۱۱ زهري نباتات د Ranunculaceae په کورنۍ پورې اړه لري، ۸ زهري نباتات د Euphorbiaceae د کورنۍ، ۶ زهري نباتات د Asclepiadaceae، ۳ زهري نباتات د Liliaceae، ۲ زهري نباتات د Asteraceae په کورنۍ پورې اړه لري. پاتې ۹ زهري نباتات په Cucurbitaceae, Apiaceae, Aracliaceae, Verbinaceae, Meliaceae, Apocyanaceae, Caprifoliaceae, Fabaceae او Taxaceae کورنیو ( هره کورنۍ یو نبات ) پورې تعلق لري. دغه زهري نباتات چې زمونږ په محلي چاپېریال کې شتون لري لومړی باید و پېژندل شي ترڅو خپل ځان او په ځانګړې توګه خپل ماشومان د هغوي له خطرناکو او زهري عواقبو څخه خبر کړی شي او دوهم د واقعې د پیښیدو په صورت کې باید لنډو صحي مراکز وته مراجعه وکړل شي.

**وړاندیزونه**

۱. د زهري یا رناکو بوټو پیژندل پکار دي او په ځانګړي ډول ماشومان یې باید له ضررونو څخه باخبر وساتل شي.

۲. ددغو بوټو د پیژندنې لپاره پکار دي چې په محلي او یا ملي کچه تیلویزونونه وکارول شي ، ترڅو یې له مضرو اثراتو څخه خلک خوندي پاتې شي.

۳. ددغو بوټو نورې لابراتواري تجزیې پکار دي ترڅو د امکان په صورت کې د ضرري کیمیاوي توکو څخه یې د افت وژونکو په ډول کار واخیستل شي.

۴. د هیڅ نه پیژندونکي نبات یا مرخیړیو هیڅ برخه باید ونه خوړل شي او ماشومانو ته باید توصیه وشي ترڅو په خولو کې هیڅ پاڼې، تنې، پوستکي، تخمونه یا میوې وانه چوي.

۵. ټول تخمونه او غوټې باید د ماشومانو له لاس رسي څخه لیرې په خوندي ځای کې وساتل شي.

۶. هیڅکله باید دا تصور ونکړل شي چې ګویا فلانی نبات د مارغانو یا حیواناتو په واسطه خوړل کیږي نوخطر به ونه لري.

۷. هیڅکله باید دا فکر ونه شي چې ګویا د پخیدو یا جوش سره به نباتي زهري مواد له مینځه تللي وي او استعمال یې محفوظ دی.

۸. هریو بوټې په ځانګړو اشخاصوکې عکس العمل ښودلای شي.

۹. کورني نباتات په عام ډول سره د ماشومانو د زهرجن کیدو باعث کیږي، که احیاناً د کوم ماشوم لخوا زهري نبات استعمال کړل شوی وي ، د نبات پاتې شوني باید لیرې شي، د ماشوم خوله باید د اوبو په واسطه پاکه کړل شي او نیږدې صحي مرکز ته ژر تر ژره ورسول شي.

۹. داچې ډیری پورته ذکر شوي زهري نباتات مختلف ډوله طبي استعمال هم لري، پکاردي چې د نورو مرضونو لکه سرطان او داسې نورو لپاره یې د استعمال په موخه نورې څیړنې ترسره شي.

**اخځلیکونه**

١. Sharon MD. Poisonous Plants [Internet]. Department of Plant Pathology and Ecology. The Connecticut Agricultural Experiment station 123 Hungton Street. P. O. Box 1106. ; [cited 2022 Oct 8]. Available from: https://portal.ct.gov/CAES/Fact-Sheets/Plant-Pathology/Poisonous-Plants
٢. Joubert PH, Mathibe L. Acute poisoning in developing countries. Adverse drug reactions and acute poisoning reviews. 1989;8(3):165-78.
٣. Breckle SW, Rafiqpoor MD. Field guide Afghanistan: flora and vegetation. Bonn: Scientia Bonnensis; 2010. Pp. 234, 604.
٤. The Top 10 Most Poisonous Plants in the World: A Comprehensive List. 2023 Take it from https://www.floweraura.com/blog/top-10-most-poisonous-plants-world-comprehensive-list
٥. Malissa P. 7 of the World's Deadliest Plants. [Internet]. britannica. [cited 2023 Oct 15]. Available from: https://www.britannica.com/list/7-of-the-worldsdeadliest-plants
٦. Keusgen M, Breckle S, Fritsch R, Hedge I, Rafiqpoor M. Medicinal Plants of Afghanistan. DCM-Druck Center Meckenheim GmbH.; 2020; Pp. 110, 190, 192,194,288, 340,352, 512,516, 518, 520,526, 530, 532.
٧. Tawfeeq MM, Zabuli J, Rahmati S. Most common poisonous plants of Afghanistan and its related clinical signs in domestic animals. International Journal of Innovative Research and Scientific Studies. 2020 May 29;3(2):46-55.
٨. Serrano R. Toxic Plants: Knowledge, Medicinal Uses and Potential Human Health Risks. Environment and Ecology Research. 2018 Sep;6(5):487–92.
٩. Kingsbury JM. Poisonous plants of the United States and Canada. Soil Science. 1964 Nov 1;98(5):349.
١٠. Therapeutic Research Center. Belladonna. 2023. Take it from https://medlineplus.gov/druginfo/natural/531.html
١١. Wadhwani BD, Mali D, Vyas P, Nair R, Khandelwal P. A review on phytochemical constituents and pharmacological potential of Calotropis procera. RSC advances. 2021;11(57):35854-78.
١٢. Dehghan F, PANJEH SM. The toxic effect of alcoholic extract of Citrullus colocynthis on rat liver. ٢٠٠٦.
١٣. Plant for a future. Citrullus colocynthis Perennial egusi, Bitter-apple PFAF Plant Database [Internet]. pfaf.org. [cited 2023 Nov 25]. Available from: https://pfaf.org/user/Plant.aspx?LatinName=Citrullus+colocynthis
١٤. Long N. Colchicine toxicity [Internet]. Life in the Fast Lane • LITFL. 2019. Available from: https://litfl.com/colchicine-toxicity/
١٥. ForestryNepal. The Potential Risks Of The Himalayan Ivy: Understanding The Dangers Before Deciding To Use It – Forestry Nepal [Internet]. 2022 [cited 2023 Nov 25]. Available from: https://www.forestrynepal.org/the-potential-risks-of-the-himalayan-ivy-understanding-the-dangers-before-deciding-to-use-it
١٦. Dehghan E, Shahriari Ahmadi F, Ghotbi Ravandi E, Reed DW, Covello PS, Bahrami AR. An atypical pattern of accumulation of scopolamine and other tropane alkaloids and expression of alkaloid pathway genes in Hyoscyamus senecionis. Plant Physiology and Biochemistry. 2013 Sep;70:188–94.

۱۷. Kamarul Zaman MA, Mohamad Azzeme A. Plant toxins: alkaloids and their toxicities. GSC Biological and Pharmaceutical Sciences. 2018 Feb 28;6(2):021–9.
۱۸. Phua DH, Tsai WJ, Ger J, Deng JF, Yang CC. HumanMelia azedarachpoisoning. Clinical Toxicology. 2008 Jan;46(10):1067–70.
۱۹. Saravanan K, Senthilkumar S, Elayaraja M, Suresh B. Toxicity of Nerium indicum Miller seed extract on bandicoot rat, Bandicota bengalensis Gray. 2004.
۲۰. Oyen LPA. Pergularia tomentosa L. In: Prota 11(2): Medicinal plants/Plantes médicinales 2 PROTA. Wageningen, Netherlands.; 2013.
۲۱. Fouladvand MA, Sartavi K. Evaluation of Lethal Effect of Pergularia Tomentosa and Priploca aphylla on Trichomonas Vaginalis In Vitro. Iranian South Medical Journal. 2017 Aug 4;20(4):370-9.
۲۲. Tatro. C. Ranunculus is a Toxic Beauty With a Doozy of a Name. 2021.
۲۳. Inchem. (U.D). *Solanum nigrum* L. Take it from https://inchem.org/documents/pims/plant/solanum.htm
۲٤. Gupta RK, Hussain T, Panigrahi G, Das A, Singh GN, Sweety K, Faiyazuddin M, Rao CV. Hepatoprotective effect of Solanum xanthocarpum fruit extract against CCl4 induced acute liver toxicity in experimental animals. Asian Pacific Journal of Tropical Medicine. 2011 Dec 1;4(12):964-8.
۲٥. Ahmed MM, Andleeb S, Saqib F, Hussain M, Khatun MN, Ch BA, Rahman H. Diuretic and serum electrolyte regulation potential of aqueous methanolic extract of Solanum surattense fruit validates its folkloric use in dysuria. BMC complementary and alternative medicine. 2016 Dec;16:1-8.
۲٦. Pingale SS. Evaluation of acute toxicity for Salanum xanthocarpum fruits. BioMedRX, 2013; 1(3): 330-2.
۲۷. Lijing.L., Y.Zhao., K.Shi., Y.Liu., Y.Hu., H.Shao. Phytotoxic Activitiy of Alkaloids in the Desert Plant Sophora alopecuroides. *Toxins*. 2021:*13*(10).
۲۸. Hemalath. S., R. Kumar., M.Kumar . Withania coagulans Dunal: A Review. Pharmcognosy Reviews.2008 July-Dec: Vol 2.

# د غږیزې ککړتیا د ناوړه اغېزو څېړل

پوهندوی خان وزیر عادل او پوهندوی غازي جان محمدي شیخ زاید پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي د بیولوژي څانګې استادان
ایمیل ادرس: ghazijan62@yahoo.com - khanwaziradil@yahoo.com -

**لنډیز**

هر نا غوښتل شوی غږ چې په چاپېریال کې خپرېږي د غږ د ککړتیا په نوم یادیږي. په عمومي ډول د غږ ککړتیا هغه غږ ده، چې د یو چا غوږ ته تخریشوونکې (Irritating) وي، کوم چې له یوې خارجي منبع څخه منځته راځي. پوهیږئ چې غږیزه ککړتیا د انسان روغتیا ته ځومره زیان رسوي، پر انسان باندې د غږ د ککړتیا په اغېزو کې په عمومي ډول روحي سکون ځومره زیانمنوي، پر انسان باندې د غږ د ککړتیا په اغېزو کې په عمومي ډول روحي ګډوډي، فکري پاشلتیا او د اوریدو د ځواک ټیټدل شامل دي. د لوړو غږونو سره عادت کېدل په حقیقت کې د د اورېدلو د حس ټیټیدل دي، ککړتیا همدرانګه په تدریجي ډول خپلې ناغوښتل شوې اغیزې پر ځای پریږدي. د مجاز کچې څخه لوړې غږیزې ککړتیاوې د شهواني ځواک د کموالي،د وینې د فشار د زیاتوالي، سرخوږي، سټریا، تندمزاجي، عصبانیت، د خبر اترو ګډوډي، د یادولو ځواک د کموالي، د جنین د سقط زیاتوالی او د زیږون پر مهال د نویو زیږول شویو ماشومانو د وزن کموالی تر ټولو ستر لاملونه پیژندل شویدي. دغه ککړتیا د نورو ککړتیاوو پر خلاف پر ښاري او ګڼ میشتو چاپیریالونو کې، په ځانګړې توګه په صنعتي سیمو کې شتون لري. د بېلګې په ډول د موټرو غږوونو، د ماشینونو، کارخانې، د راډیو او تلویزون له حده لوړ غږونه، د الوتکو غږ او داسې نور هغه عاملونه دي، چې د غږ د ککړتیا سبب ګرځي.

**کلیدي کلمې**

غږیزه ککړتیا، د آواز اندازه، دېسیبل او په انسان یې ناوړه اغېزې

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین محـمدوعلـی اله واصحـــابه اجمعین. امابعد؛ یو له هغو شیانو څخه چې بشریت ورته اړتیا لري او د اسلامي شریعت له ځانګړي پاملرنې څخه برخمند دی او د اوسني عصر متمدنه نړۍ هم د هغې په ارزښت قایله ده، هغه د ځان او چاپیریال ساتنه او پاکوالی دی. د اسلام مقدس دین نسبت نورو ادیانو ته د چاپیریال د سالموالي لپاره ځانګړي قواعد او قوانین وضع کړي دي، چې د هغې په تطبیق او عملي کولو سره یو سالم چاپیریال منځته راځي. د چاپیریال هره ککړتیا د ټولو ژوندیو موجوداتو او په ځانګړي توګه د انسان د ژوند لپاره زیاته خطرناکه ده، چې یو له هغې جملې څخه غږیزه ککړتیا ده. په عمومي توګه هغه غږونه چې انسانان

د هغوی اوریدلو ته مایل نه وي، آن د موسیقي غږ، چې په نا غوښتل شوي توګه د انسان غوږونو ته ورسیږي او د انسان د آرامی د منځه تللو لامل شي غږیزه ککړتیا بلل کیږي. د غږ ککړتیا هغه وخت منځته راځي، چې غږ لوړ او ډول ډول نابللي غږونه په چاپیریال کې موجود وي. د غږ د ککړتیا په عنوان، د غږ د ډول درک او د شخص په فکر کولو پورې اړه نیسي، یعنې یو مطلوب غږ ښایي یو بل شخص ته نامطلوب اوسي. هغه غږیزې ککړتیاوې، چې تر ټولو بدې شمېرل کیږي او د هغوی شومې اغېزې له هیڅا څخه پټې نه دي او دغه ککړتیاوې له ناخوالو څخه عبارت دي، چې زموږ خلك ورسره هره ورځ لاس او ګریوان دي او له هغې څخه کړیږي. که چېرته د ودونو سالونونو ته تللي یاست او دا به مو ملاحظه کړي وي، چې د موسیقی ځوروونکي غږونه مو څومره په تکلیف کوي. پخوا داسې ویل کیدل چې ټنګ ټکور د روح خواړه یا غذا ده او زړه ته آرامتیا ورکوي؛ خو که فکر وکړو چېرې چې موسیقي ډېره وي هلته د ځان وژنې قضیې رامنځته شوي دي. د زړه اطمینان د الله (ج) د ذکر سره ترلاسه کیږي. پوه اوسه، چې د خدایؑ د یادولو سره زړونو ته ډاډ ور په برخه کیږي او د انسان روح او اروا ورسره خوشحالیږي؛ خو ننی موسیقي د روح غذاب او د روح رمبې دي. ننی موسیقي نه یوازې د انسان روح او اروا کړوي، بلکې د زړه ډاډ او آرامتیا کموي او ستړی کوي یې، چې په خواشینی سره نني ځوانان د پرمختګ، څېړنو او علمي پلټنو پر ځای د موسیقی په لوري وردرومي او هغه هم داسې موسیقی په لوري چې ځوروونکې وي او انسان خفه کوي.د استراحت، خوب او د فکري چارو د ترسره کولو په وخت کې د یو آرام چاپیریال د انسانانو د بنسټیزو ضرورتونو له جملې څخه دي؛ نو ځکه هر هغه غږ چې په یو ډول د انسان آرامي له منځه وړي هغه د غږ ککړتیا ګڼل کیږي.

**موخې**:

- د غږیزې ککړتیا د سرچینو پېژندل
- د غږیزې ککړتیا د اغیزو څېړل
- د غږیزې ککړتیا په لاملونو پوهېدل

**د کار توکي او کړنلاره**

د دغه مقالې په لیکنه کې له کتابتوني کړنلارې څخه استفاده شوې ده؛ او تر ډېره هڅه شوې، چې وروستنی څېړنې او موندنې کومې چې په دې وروستیو کې تر سره شوي وکارول شي، او همدرانګه له معتبرو داخلي او خارجي معیاري کتابونو او ځای ځای له انټرنېټ څخه پکې استفاده شویده، کوم چې د غږیزې ککړتیا په اړه معلومات پکې راټول شوي دي.

**غږیزه ککړتیا**

هر نا غوښتل شوی غږ، چې په چاپیریال کې نفوذ کوي (خپریږي) د غږ د ککړتیا په نوم یادیږي. په عمومي ډول د غږ ککړتیا هغه غږ دی، چې د یو چا غوږ ته تخریشوونکی وي، کوم چې له یوې منبع څخه منځته راځي.هغه میخانیکي موج، چې د اجسامو د چټک اهتزاز په پایله کې رامنځته

کيږي له غږ څخه عبارت دی. هغه غږ چې د موج انرژي يې زياته او امپليتيود (د موج لمن) يې لوی وي غږ يې لوړ؛ او هغه غږ چې انرژي يې کمه وي او د موج لمن يې کوچنی وي، د ټيټ غږ څخه عبارت دی. د غږ ټيټوالی او لوړوالی د غږ د توليد ځای او اوريدونکي تر منځ فاصلې سره هم رابطه لري، ځکه چې غږ د لارې په اوږدو کې انرژي د لاسه ورکوي؛ نو د موج لمن هم کوچنی کيږي، چې بالاخره غږ ټيټيږي.شور ته په انګليسي ژبه کې(Noise) ويل کيږي، چې د لاتينې ژبې(Nausea)څخه اخيستل شوی دی، چې معنې يې د(Seasickness) يا سمندري ناروغتيا يا هغه زړه بدوالی دی، چې د حرکت له امله منځته راځي، او يا هم شور(Noise) کلمه د لاتينې ژبې(Noceo)څخه سرچينه اخيستې ده، چې د زيان رسوونکي معنی ورکوي .غږ د هوا د فشار له امله د څپو په بڼه د غږ توليدونکي څخه تر غږ اخيستونکي پورې په فضا کې ايجاديږي. د غږ خپريدل د تودوخې په ۲۰درجو کې اغېزمن کيدای شي. د غږ توليدونکی هغه څه دي چې کولای شي د هوا په شان يو محيط ولړزوي او دغه لړزه د اوريدو وړ فرکانس (۲۰ څخه تر ۲۰۰۰۰ ) هرتز (په يوه ثانيه کې د څرخيدو شمېر) پورې واوسي. غږيزه ککړتيا ناخوښ موجونه دي، چې د خاصو زماني او مکاني شرايطو لاندې د ژونديو ارګانيزمو فعاليتونو په ځانګړي ډول پر انسان باندې اغېزه کوي او ممکنه ده، چې يو شمېر جسمي او روحي عوارض رامنځته کړي او د هغه د ارامي او راحت اغېزمن يا سلب کړي (۴، ص.۷۱).

د غږيزې ککړتيا سرچينې په دوه ګروپونو يعنې ثابتواو خوځنده سرچينو باندې ويشل شويدي، چې ثابتې سرچينې د صنعتي فابريکو، ساختمانونو جوړول، ريګريشن، د اوسپنې د ويلې کيدو فابريکې او داسې نورو څخه عبارت دی او خوځنده سرچينې د نقليه وسايطو، الوتکو، انفجاراتو، د معدنونو د استخراج او نورو څخه رامنځته کيږي. داوازونو ډول ډول ترکيب د چاپيريال د ککړتيا سبب ګرځي. په ښارونو کې ډول ډول اوازونه لکه مختلف ډوله موټرو اوازونه، د هارنونو مختلف ډولونه او همدارنګه د سرکونو په شاوخوا کې د پلورونکو اوازونو له کبله د خلکو د ارامتيا د مخنيوي سبب کيږي. اواز يا غږ که يو پلو په ذهنونو بدې اغيزې لري، له بل پلوه د نورو سره د اړيکو په توګه کارول کيږي. انسانان، حيوانات او مرغان د  اواز له مخې خبرتيا تر لاسه کوي. د اواز د خوښوالي او ناخوښوالي تر منځ زغم په شخص پورې تړلی دی. د شپې له خوا د اواز د زغملو ناخوښي د ورځې په پرتله کمه ده ( ۲، ص.ص. ۷۱-۱۰۳ ).

**د غږيزې ککړتيا ځينې مشهورې او ځورونکي سرچينې په لاندې ډول دي:**

- ✓ د سرک او کوڅې ترافيک
- ✓ د اورګاډي پټلۍ
- ✓ د الوتکو پورته کيدل او ښکته کيدل
- ✓ د ساختمانونو جوړول

- ✓ د سرکونو برمه کول
- ✓ د مصرف کوونکو محصولات
- ✓ په ښارونو کې د لویو او وړو فابریکو شتون
- ✓ د زړو موټرو، ریکشو او همدارنګه د ډول ډول وسایطو تګ راتګ
- ✓ په ښاري سیمو کې د ترانسپورتي وسایلو زیات شتون
- ✓ په ښاري سیمو کې د بې ځایه او لوړو اوازونو هارن وهل
- ✓ د تیړو ماتول
- ✓ د ودونو په مراسمو کې د موسیقي الاتو د لارې د اوازونو تولیدول
- ✓ د حیواناتو لکه؛ خر، سپی، غوا او پیشکې اوازونه
- ✓ دتجارتي لوډسپیکرونو اوازونه (۳،ص.۳۵۸).



(۱ـ شکل): په انسان باندې د مختلفو اجسامو د اواز د بد تاثیر ښکارونددویي کوي (۶،ص.۵۱).

د اواز اندازه کوونکی واحد ډیسي بل(decibel) دی. د اندازې نوموړی واحد د امریکایي فزیک پوه الکساندر ګرام بل په واسطه نومول شوی دی. په کومه اندازه چې ډیسبل لوړ وي په هماغه اندازه اواز لوړ دی.پر انسان باندې غږیزه ککړتیا د وګړو په رواني حالت باندې ناوړه اغېزې لري. د چاپیریال پوهان عقیده لري، چې د انسان د اوریدلو دستګاه په طبیعي بڼه د ۱۰ډیسبل څخه د پورته غږ د اوریدلو د زغملو توان لري.غږیزه ککړتیا ډیر ډولونه لري، چې په اوسنی ټېکنالوژي کې تر ټولو مهم، ډول ډول موتورونه دي، هغه موتورونه چې د هوا پواسطه وچیږي او سړیږي. دا ډول موتورونه د هغه موتورونو په پرتله، چې د اوبو پواسطه سړیږي، ډیر غږ او شور لري. ځینې

عوامل لکه: واټن، توپوگرافي، د ډبرو او خاورو نوعیت، جغرافیه یي لوری، د نباتاتو ډول او تراکم په چاپیریال کې کولای شي پر انسان باندې د غږونو بیلابیلې اغیزې ولري. ډېسېبل یو لوګاریتمي واحد دی؛ په بل عبارت که چېرته د غږ دوه لیږدونکي په یو وخت کې په یو شدت سره غږ وباسي، له هغوی څخه حاصل شوی اغیز به دوه برابره نه وي بلکه له ۳ څخه تر ۶ ډېسېبل پورې به د هغه غږ په اندازه وي،چې دوی یې په انفرادي توگه وباسي.د دې لپاره چې پر غږیز کمیت او کیفیت باندې ښه پوه شو او د غږ د لیږدوونکو تر منځ پرتله والی منځ ته راشي باید بیلابیلې تجربې تر سره کړو.د نقلیه وسایطو هارونونه، موټرسایکلونه په څلور لارو د ترافیکو د تیریدو او راتیریدو په سیمه کې، د موسیقي غږ په رستورانتونو او کافیخانو کې، د تجارتي لوډسپیکرو غږونه په ښارونو او یا بازارونو کې او دې ته ورته نور، چې دا ټول په غږیزو ککړتیاوو کې ځانګړی رول لري، چې دغه ککړتیاوې په شورماشورو سیمو، د ودونو په هوټلونو او رستورانتونو کې ډېر وي او د غږیزو ککړتیاوو په رامنځته کېدو کې ستر رول لوبوي (۴، ص. ۷۶).

۱- جدول: د شورماشور د مختلفو ډولونو نمونه وي جدول (۵، ص.۸۷)

| د شورماشور منبع | په ډیسیبل(dB) سره د اواز شدت | انساني احساس |
|---|---|---|
| د سپکو ترافیکو تگ راتگ له ۳۰ مترو څخه | ۵۵ | ارامه |
| د اپارتمانونو داخل | ۳۰ | // |
| معمولي خبرې | ۶۵ | // |
| برقي اره له ۱۵ مترۍ څخه | ۸۰ | ستړي کوونکي اوازونه |
| د الوتکې هوا په ۳۰۰ مترۍ کې | ۱۰۰ | ډېر لوړ |
| الوتکې په نږدې فاصله کې (د الوتلو په وخت کې) | ۱۳۰ | د غوږ د درد سبب گرځي |
| راکټ د پورته کیدو په حال کې | ۱۹۰ | // |

د زغم نورماله اندازه ۸۰dB ده او لدې پورته اندازې څخه د غږ د کچې لوړیدل د غږیزې ککړتیا په نامه یادیږي. د اوږدې مودې لپاره د ۸۰dB په کچه د غږ اوریدل ښئي زموږ د غوږونو د موقتي او یا دایمي زیان سبب شي. د ۱۳۰dB په کچه د غږ اوریدل د غوږونو د درد سبب گرځي؛ ځکه چې د غوږ پردې په ډېر شدت سره اهتزاز کوي. کله چې غږ د ۱۵۰dBکچې ته ورسیږي، د غوږ

د پردې یا د غوږونو د هډوکو د زیانمن کېدلو سبب ګرځي او کېدل منځته راوړي. ځینې ډېسیبلونه په لاندې ډول تشریح کولای شو:
۳۰dBخاموشه کتابتون، تاسې به دلته د ارام احساس او د سکون وړ مطالعه وکړئ.
۷۰dB مصروف ترافیک، شورماشور لرونکی رسټورانت. شورماشور به ستاسو د اوریدلو توان اغېزمن کړي، که چېرې په پرلپسې ډول د هغې په وړاندې قرار ولرئ.(۶)
۸۰dB د ښار د ترافیکو درنده ګڼه ګوڼه، په دوو(۲) فټوکې زنګ لرونکي دیوالي ساعتونه د فابریکو شورماشور، دا شورماشور خطرناک دی که چېرې تاسې د اتو (۸) ساعتونو لپاره ورسره مخامخ شئ.
۱۰۰dBد زنځیري ارو، سټریو غوږ فونونو (Stereo head phones)،د هوا په فشار چلیدونکو برمو په وړاندې د دوو ساعتونو لپاره مخامخ کېدل خطري دي او د هر dB په زیاتیدو سره ساتنه نیمایي راکمیږي.
۱۴۰dB د ټوپک ډز او جیټ الوتکه، د هغوی په وړاندې د واقع کېدلو د وخت د زیاتېدو سره خطري دی او په غوږ کې به درد ډېر کړي (۷، ص. ۷۲).




(۲ـ شکل): د اواز د اندازه کولو اله راپه ګوته کوي (۷، ص.۷۲).
څرنګه چې انسان صنعت او ټېکنالوژي ته لاس رسی وموند او د ځان لپاره یې د سوکالۍ او آرامۍ وسایل برابر کړل؛ نو په هماغه کچه یې د کړاو او تکلیف وسایل هم ځان ته برابر کړل. د ټېکنالوژۍ پرمختګونو او د انسان په لاس جوړ شویو وسایلو او ککړتیاوو د دې پیړۍ د انسان پر هستۍ یې وژونکي ضربه وارده کړه، چې نور نشي کولای دغه ورانۍ په ساده ګۍ سره جبران کړي. دا هر چاته څرګنده ده، چې د ژوند دغه پرمختللي وسایل کومو چې آسانتیاوې او سهولتونه رامنځته کړي دي؛ نو په هماغه اندازه یې د اوبو، خاورې، هوا او نورو ککړتیاوو څخه منځته راتلونکي زیانونه هم منځته راوړي دي. کیدای شي په کراتو کراتو دې مطلب سره مخامخ شوي یاست، چې کله بازار، دفتر او نورو ځایونو ته ځئ، نو د موټرو هارنونه به اورئ، چې ډېر بوږنوونکي

دي. آیا د ګاونډي د کور زنګ او یا د موټر د هارن سره، چې د غونډو او مجلسونو څخه کور ته ستنیږئ روږدي یاست؟ دوی پرته لدې چې فکر وکړي، چې شاوخوا خلك پدې کار سره په تکلیفیږي او یا هم ښوونځي ته د خپلو بچیانو د وړلو پر مهال دغه عمل ترسره کوي، چې ډېر کړوونکی دی او دې مسئلو سره هره ورځ مخامخیږي (۱۴، ص.۲۴۰).

آیا تاسو پوهیږئ؟ د یوې څېړنې په اساس، چې د یوې ډلې استرالیایي ساینس پوهانو پواسطه چې په ۱۹۸۸ زېږدیز کال کې تر سره شوې ده: دوی پخپلو څېړنیزو معلوماتو کې دا ولیکل، چې هغه د اوریدلو الې چې د موسیقي د اوریدلو لپاره په اونۍ کې تر ۶ ساعتونو زیات واوریدل شي، نو په ۳۰ کلنۍ کې به د انسان اوریدلو حس تر ډېره زیات راټیټ کړي. زموږ په غوږ کې ۲۵۰۰۰۰ د ویښته ډوله حجرې چې زموږ په غوږ کې څپې تولیدوي، چې د فریکونسیو د مختلفو اندازو په وړاندې غبرګون ښیي. د اواز د سطحې د لوړیدو سره نوموړي حجرې له منځه ځي او زموږ د لوړو څپو د اوریدلو وړتیا راټیټوي. شورماشور یو ډول ککړتیا ده، دا په مزدحموښارونو کې یو عمومي مسئله ده. د ذهني فشار سبب ګرځي، د زړه ضربان او د وینې فشار لوړوي او همدرانګه د خوب مزاحمت کوي. زموږ د فکر د متمرکز کیدلو په برخه کې ستونزې رامنځته کوي، چې په اسانۍ سره ټکر رامنځته کیږي، ځوریدل د دې سبب کیږي، چې زیاتره وختونه په قهر کیږو. **د** (DOE) سروې ښیي، چې په ښوونځیو کې شورماشور له هغې اندازې څخه ډېر دی، چې د (WHO) په واسطه سپارښتنه شوې ده. د شورماشور سطح به د شاګردانو فکري تمرکز اغیزمن کړي. د شورماشور د موانعو نصبول او د شورماشور له ککړتیا څخه په خلاصو ځایونو کې د ښوونځیو بیا جوړول ډېر لګښت غواړي او دا د لنډې مودې حل دی. یوه پر ځای د حل لاره د عامه ترانسپورټ اصلاح، په شخصي عراده جاتو باندې د ګمرکي تعرفو(Tariffs) وضع کول، بایسکل چلول او پیاده ګرځیدلو څخه عبارت دي (۱۵، ص.۳۲۱).

**د نن ورځې په برخه کې احتیاط کول**

دایمي کڼیدل (Irreversible hearing loss) حتی د ۷۰dBپه کچه غږ سره د ۸ ساعتونو د مخامخ کیدلو په صورت کې د وینې فشار ۱۰mmHg– ۵ لوړیږي.

د اوریدلو د وړتیا له لاسه ورکول په dB ۹۰ – ۸۰کې شروع کیږي، ۱۴۰dB دردناکه دي او په ۱۸۰dB حتی کولای شي، چې یو شخص ووژني.

د امپلیفایر پواسطه د موزیك لوړ شوی اواز ۱۲۰dB دی او ډېر الکترونیکي موټرونه تر ۸۰dB لوړ اواز لري.

د شورماشور لوړه سطحه په ځارویو، د طبعي دورانونو لکه د تغذیې، د کړو وړو، د نسل د تولید عادت او لیږیدلو د لارې په برخه کې مداخله کوي.

یو شمېر اغیزمنې ستراتیژۍ موجودې دي، چې د غږ زیان رسونکي اندازه راښکته کړي:

ـ د غږ د موانعو استعمال

ـ د حمل و نقل وسایلو د سرعت محددول
ـ د سرکونو مخ په جوړښت کې بدلون
ـ د درندو عراده جاتو محدودول
ـ په عراده جاتو باندې ترافیکي کنټرول، چې د سرعت مخه ونیسي، د ټایرونو ډیزاین او نورو ته پاملرنه کول (۶، ص.۴۸).

**پر انسان باندې د غږیزې ککړتیا روغتیایي اغیزې**

- **د اوریدلو د حس کموالی**

هغه ساده عارضه چې د ازاروونکي غږ له امله یو انسان ته رسیږي، د اورېدلو د قدرت د کموالي څخه عبارت دی، په بل عبارت : په انسان باندې د لوړو غږونو اغېزې د اوریدلو د حس د کمزورتیا څخه عبارت دی او حتی په دوامداره توګه لږ لوړ غږونه هم د انسان لپاره مضر دي. طبیعي اوریدل د غوږ د درې برخو د روغتیا او سلامت تیا پورې اړه لري . د لسو دقیقو لپاره د هغه اواز اوریدل چې شدت یې (۱۰۰dB) وي د شلودقیقو وخت لپاره یوه کاملاً ارام چاپېریال ته اړتیا لیدل کیږي؛ تر څو اغیزې یې جبران شي. همدارنګه د لوړو غږونو په صورت کې کوڼوالی هم رامنځته کیږي. په یوه غالمغالي چاپیریال کې کار کول د دې باعث کیږي، چې د اوریدلو سلولونه له منځه وړې او په یوه داسې کوڼوالي بدلیږي، چې د رغیدو وړ نه وي، دې ډول کوڼوالي ته دایمي کوڼوالی وایي. د غوږ زیانمن کیدل له هدایتي، حسي او عصبي لارو څخه تر سره کیږي.د هدایتي اورېدلو کموالی هغه وخت صورت نیسي، چې د غوږ خارجي برخه صدمه وګوري، د حسي اوریدلو کموالی د غوږ د داخلي برخې (حلزون ډوله) زیانمن کیدو له امله رامنځته کیږي او د عصبي اوریدلو کموالی د غوږ د عصبي رشتو د زیان له امله رامنځته کیږي. د حسي او عصبي اوریدلو د کموالي اغیزې د تغیر وړ نه دي او کله چې یو کس پرې اخته شي بیا نه رغیږي. د عمر زیاتېدل د اوریدلو په حس باندې هم اغیزې لري، یادونه کیږي، چې په مختلفو کسانو کې د عمر د زیاتوالي سره د اوریدلو حس سره توپیر لري. په ښځو کې د عمر اغیزې د اوریدلو په کموالي کې د نارینه په پرتله لږې دي.همدارنګه د عصبي اوریدلو کمښت د عصبي نیورونونو د زیانمن کیدو له امله منځ ته راځي او په واقعیت کې د اوریدلو د سلولونو حساسیت کمیږي، چې د صوتي فرکانسونو پورې تړاو لري.کومې اغیزې چې د حسي او عصبي اوریدلو د کمښت څخه منځ ته راځي، دایمي وي او د رغونې وړ نه دی. دغه دایمي تغیرات او اغیزې کیدای شي، چې د یو اوچت او لوړ غږ (لکه د چاودنې غږ) له امله په یو لنډ وخت کې او یا هم د یو ټیټ غږ له امله په اوږد وخت کې منځ ته راشي. د ازاروونکو غږونو په وړاندې د انسان د اوریدلو سیستم غبرګون کولای شو په څلورو برخو ووېشو(۷، ص.۶۶ ).

۱.پلی کول او تطبیق: همدا چې د انسان د اوریدلو حس د اوچت غږ په وړاندې واقع شي؛ نو ځان د نویو شرایطو سره تطبیقوي تر څو د احتمالي زیانونو څخه په امن کې اوسیږي.

۲.د اوریدلو د ځای تغیر او بدلون: دا پړاو د تطبیق پړاو څخه وروسته صورت مومي او د ازاروونکو او لوړو غږونو د دوام په صورت کې موقت کوڼ توب پیدا کیږي.
۳.د اوریدلو په سیستم کې دایمي بدلون: که چیرې د اوچتو غږونو سره د یو کس تماس د اوږد مهال لپاره دوام پیدا کړي؛ نو د هغې اغیزې پر هغه کس باندې ژوری او دایمي کیږي.
۴. د اوریدلو سیستم کې هغه بدلون چه د رغونې وړ نه وي: پدې پړاو کې د اوریدلو سلولونو زیانمن کیږي او د اوریدلو په سیستم کې داسې بدلون رامنځ ته کیږي چه د رغونې وړ نه وي (۷، ص.۶۶).

- **کلینکي اغیزې**

د غږ د نورو نا غوښتل شوو اغیزو څخه چې د انسان په روغتیا باندې یې لري د سر درد، سوء هاضمه، قبضیت، د معدې او کولمو زخم، د پوستکي حساسیت او خارښتت، عصبي نارامتیا، د وینې د فشار لوړوالی، د زړه دریدل او بالاخره په خوب کې د ګډوډۍ څخه عبارت دي. په دوامداره توګه لوړ غږ د ادرنالین او کورتیزول د هارمونونو د زیاتوالي باعث ګرځي. د ادرنالین هورمون د زړه د ضربان د زیاتیدو او کورتیزول هارمون په شخص کې د سترس او اضطراب د لوړیدو باعث ګرځي. غږ د زیات شدت په اساس د وینې فشار په ځانګړي توګه د جمجمې داخل فشار پورته ځي، د لاړو ( توکاڼو) ترشحات کمیږي چې ورسره خوله وچیږي. همدارنګه د لوړ غږ سره د مخامخ کیدو په صورت کې زړه بدوالی(Nausea)، ستومانتیا، روحي او رواني ستونزې او د پوستکي حساسیت رامنځته کیږي (۱۲، ص.۱۰۲).

- **بستریزې اغیزې**

د لوړو او ازاروونکو غږونو د نامطلوبو اغیزو څخه یو هم بستریزی اغیزې دی، چې له امله یي د هاضمې سیستم خرابیږي، د معدې او کولمو زخمونه پیدا کیږي، د سر درد او زړه کچوالی، خارښت او د پوستکي حساسیت، عصبي ناراحتي، د رګنو تنګوالی د وینې فشار، د زړه سکته او په خوب کې اختلال رامنځ ته کیږي. دوامداره غږونه د وینې د کور تیزول او ادرنالین هورمونونو د زیاتوالي سبب کیږي، اډرنالین د زړه ضربان زیاتوي او کورتیزول په انسان کې د پریشانی او خپګان باعث ګرځي؛ په شدیدو لوړو غږونو او شورماشور کې د بدن د وینې فشار په خاصه توګه د جمجمې په دننه کې لوړیږي، د خولې ترشحات کمیږي او خوله وچیږي اوهمدارنګه د کولمو په حرکتونو کې هم اختلال رامنځ ته کیږي .په لوړو غږونو (د موتور غږ) کې واقع کیدل لاندې حالتونه رامنځ ته کوي: د سرګیچوالی، زړه بدوالی، روحي نا ارامي او ستوماني، د پوستکي تحریک او د پوستکي لړزه (۱۴، ص.۳۰).

- **په خوب باندې اغیزې**

خوب ځانګړي دوراني بدلونونه لري، چې دغه بدلونونه خوب له پیل څخه وروسته د شپې په اوږدو کې ۴ تر ۵ ځله زیاتیږي او یا هم کمیږي. دې موضوع ته په پاملرنې سره خوب په پنځه

برخو ویشل کیږي چه له صفر څخه تر څلورو پورې دی. د صفر پړاو د ویښتوب پړاو دی او څلورم پړاو د خوب تر ټولو ژور پړاو دی، چې د dream یا د رویا په نامه یادیږي. لوړ غږ د خوب په مخنیوي کې اساسي رول لوبوي. هغه سیمې یا ځایونه چې د لوړ غږ سرچینې ورته نږدې وي؛ د دې ځایونو خلك د خوب د ستر نعمت څخه بې برخې دي. خوب الهي ستر نعمت دی، چې د شپې لخوا خوب د بدن ټولو غړو لپاره د ورځې د کارونو په سرته رسولو کې د ارامتیا یوه ښه برخه ګڼل شوې ده. د طب ډاکټران دا سپارښتنه کوي، چې یو کس باید په څلورویشت ساعتونو کې د (۸-۶) ساعتونو پورې خوب وکړي. د خوب د مخنیوي لاملونه ډېر دي، لیکن یو هم د لوړ غږ اوازونه دي، چې د یو شخص د خوب مخنیوی کوي (۱۳، ص.۱۹).

- **روحي او رواني اغیزې**

په انسان کې د پریشانۍ او خپګان د رامنځته کېدو یو لوی لامل نامطلوبه غږونه دی. د لوړو او ناغوښتو اوازونو په وړاندې دوامداره واقع کیدل، د عصبانیت د ایجادولو او غبرګون د تحریکولو باعث کیږي. اعتقاد پر دې دی، چې لوړ غږونه او شورماشور د روحي او رواني ناروغیو مستقیم لامل دي او ممکنه ده، چې د غږونو شدت دغه ناروغي زیاته کړي. هغه شواهد چې دغه موضوع څرګنده او جوته کړي، ډېر کم دي او دا موضوع اکثراً د کلینیکي او بستریزو اغیزو پر اساس سنجول کیږي. د ضعیفه شواهدو د شتون سره سره دغه شواهد پردې دلالت کوي، چې د چاپیریال غږونه د انسانانو په روحي سلامتیا منفي اغیزې لري (۱۲، ص.۳۵۹).

- **په جنین باندي د غږ د ککړتیا اغیزی**

کیدای شي چې شورماشور د جنین د سقط (زیان) سبب واوسي، شورماشور د میندو د پریشانۍ سبب کیږي .دغه پریشاني او خپګان د رحم رګونه چې جنین ته د خوړو او اکسیجن رسولو دنده په غاړه لري، منقبض کوي؛ ځکه خو نوي زیږیدلي ماشومان غالباً د لږ وزن سره نړۍ ته راځي. لوړ غږ د دې باعث کیږي، چې ماشومان بې وخته، کم وزنه او معیوب تولد شي او حتی ځینې وخت د جنین سقط یو د عواملو څخه بلل کیږي. جنین د دې قدرت لري چې مختلفو کچو اوازونه حس کړي. هغه ښځې، چې حاملې وي باید د ۶۰-۱۵ ورځې وروسته د حاملګۍ څخه باید د ډېر شور څخه ځان وژغوري؛ ځکه چې په دې وخت کې د جنین اصلي عضوې، اعصاب او نور سیستمونه د جوړیدو او تشکیل په حالت کې وي. همدارنګه لوړ اوازونه د حامله دارو میرمنو سترس(Stress)سبب کیږي. دغه سترس د رحم رګونه کوم چې جنین د غذایي موادو او اکسیجن د تر سره کولو دنده لري، منقبض او تنګیږي؛ نو ځکه نوی زیږیدلی ماشوم په لږ وزن دنیا ته راځي. د دې تر څنګ لوړ اواز په میرمنو کې د بعضې هورمونونو د کمښت سبب ګرځي، چې د جنین په رشد او انکشاف باندې اغیزه اچوي (۱۵، ص.۳۵۰).

- **په خبرو اترو کې اختلال**

لوړ اوازونه کولای شي، چې د خبرو په کولو کې بې انډولي رامنځته کړي او همدارنګه په مکالماتو او خبرو کې د غږ داخلیدل په پراخه کچه د انسان د ناتوانی او بې وسی سبب ګرځي، د بیلګې په توګه په خبرو کې د تمرکز کمښت، د چټکتیا کمښت، پخپل ځان د باور کمښت، د درک کولو د قدرت راټیټیدل، په نفس باندې د اعتماد کموالی، عصبانیت، د پوهې د کچې کموالی او په انساني اړیکو کې د ستونزو څخه یادونه کیږي.(۱۲)

- **په زړه او رګونو باندې اغیزې**

که چیرې د غږیزې ککړتیا وخت زیات شي د یوې خوا د اوریدلو حس کې کموالی راځي او د بلې خوا قلبي او عروقي خطرات زیاتیږي، د نمونې په توګه که چیرې یو کس د (۸) ساعتونو لپاره په مسلسله توګه د (۷۰) دېسیبل اواز سره مخامخ شي د وینې فشار یې (۵-۱۰mmHg) پورې لوړیږي. ځینې څیړنې ښايي چې د (۱۶۰) دیسیبل اواز د وینې فشار لوړوي، د بدن د تودوخې درجه ټیټوي او همدارنګه په مسلسله توګه اوازونه د رګونو د انقباض باعث ګرځي. څیړنې ښايي هغه کسان چې د اره‌کشی په ماشینونو باندې هره ورځ (۱۲۵Db) غږ سره سر او کار لري، کله چې دوی د شپې لخوا خپلو کورونو ته ځي ګوتې یې شنې او وروسته بیا سپینیږي، چې د وازواسپاستیک (Vasospastic)د ناروغی نښې پرې لیدل کیږي، چې په پایله کې رګونه انقباض کوي. دغه نارامي د ګوتو د رینال (Renal)یا د مړو ګوتو سره پیژندل شوي دي (۱۲، ص.۱۰۲)

- **دایمي کوڼیدل**

د۷۰ دیسیبل د کچې لرونکي غږ سره د ۸ ساعتونو لپاره د مخامخ کیدو په صورت کې د وینې فشار ۱۰–۵ میلي متر ستون سیماب ته لوړیږي. د اوریدلو د وړتیا له لاسه ورکول په ۹۰–۸۰ دیسیبل اوازکې شروع کیږي؛ ډیری الکترونیکي موټرونه تر (۸۰dB) لوړ اواز لري د اوریدلو وړتیا د لاسه ورکول په (۸۰–۹۰dB) کې پیل او په (۱۴۰dB) کې د دردناکه حالت او په (۱۸۰dB)کې کولای شي چې یو شخص ووژني (۲، ص.۶۶).

۱ . د غږ د زغم اندازه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) لخوا د ورځې له پلوه د اواز اندازه (۴۵dB) او د شپې لخوا (۳۵dB) ښودلي ده، هر هغه اواز، چې د (۸۰dB) څخه لوړ شي خطرناک بلل کیږي، چې په اولو مرحلو کې موقتي او بیا وروسته دایمي د اوریدلو ستونزې رامنځته کوي.

۲. د غږ د زغم نورماله اندازه (۸۰dB) ښودل کیږي؛ خو د اوږدې مودې لپاره د غوږ دایمي، موقتي زیان سبب ګرځي.

۳ .د اوریدلو د وړتیا د لاسه ورکول د (۷۰–۹۰dB) کې پیل کیږي.

۴. په (۱۴۰dB) کې غږ یو دردوونکی غږ دی.

۵. په (۱۳۰dB) کې د غږ اوریدل د غوږونود درد سبب گرځي، ځکه چې د غوږ پرده پداسې حال کې په شدت سره اهتزاز کوي.
۶. که چیرې د غږ اندازه (۱۵۰dB) ته ورسیږي د غوږ د پردې یا د غوږونو د هډوکو زیانمن کیدو سبب گرځي او کوڼوالی رامنځته کوي او د غوږ پردې څیریږي.
۷. که د غږ اندازه (۱۸۰dB) ته ورسیږي د یوه شخص د مړینې سبب کیږي.
۸. (۸۵-۹۰ dB) د غږ د شدت په اساس یواځې د اوریدونکي حس زیان گوري (۹، ص. ۵۶).

- **پر نباتاتو او ځارویو باندې د غږ اغیزې**

شورماشور او لوړ غږونه د نباتاتو وده په څرگنده توگه راکموي د گل بڼونو وده او تکامل د موسیقي د غږ تر اغیزې لاندې زیاتیږي؛ شورماشور او لوړ غږونه په حیواناتو کې د غوگونو خونریزي، د جنین سقط (زیان) بې اشتها یي په شیدو ورکوونکو حیواناتو کې د شیدو کموالی او د حیواناتو د عمر کمښت رامنځته کوي؛ او همدارنگه د الوتونکو د بې وخته مهاجرتونو سبب گرځي (۱۰، ص.۴۴).

## د غږیزې ککړتیا د کنترول او کمښت لارې چارې

د غږیزې ککړتیا په لیدو سره دا اړینه بلل کیږي، چې د مخنیوی په هکله یې جدي پاملرنه وشي معمولاً په ټوله کې هغه ځایونه، چې د هستوگنې، روغتونونو، مدرسو، مکتبونو، پوهنتونونو، ښاري پارکونو او ځینې نورې عامې ادارې، چې گڼه گوڼه په کې شتون ولري؛ نو پکار دي، چې د لوړو اوازونو سرچینې یې کنترول شي او باید په عمومي ډول د 55dB څخه غږ تیری ونه کړي. که چیرې د یوې مدرسې / مکتب په ازاده فضاء کې 55dB اواز موجود وي؛ نو د انجینري تخنیکونو په اساس کولای شو، چې په دې حالت کې د اواز لېول 40-45 dB ته راښکته کړو. د موټرو، الوتکو ، اورگاډو، کارخانو، ساختماني کارونو، د خلکو گڼه گوڼه او داسې نور غږ پیدا کوونکي مواد، چې د ځان سره مختلف ډوله ناخوښه اوازونه او شور لري، د خلکو د ناخوښی او ناراحتی سبب گرځي، چې دا د شورماشور یا غږیزې ککړتیا په نوم یادیږي. په ښارونو کې د کمزوري ترافیکي سیستم له امله موټر مختلف هارنونه کوي، چې د عام خلکو او په روغتونونو، مکتبونو او نورو ځایونو کې د خلکو د اذیت سبب گرځي. په دوکانونو، مارکیټونو، موټرونو او هوټلونو کې د لوړ غږ لرونکي موسیقي غږول، خلك د مشکلاتو سره مخامخ کوي او د اوریدو په حس باندې بدې اغیزې کوي او د نوموړي حس د کمزورتیا سبب گرځي .یو ناڅاپي خراب او بد اوازونه د عصبانیت، لوړ فشار، زړه ټکان، ستړیا او داسې نورو ستونزو سبب گرځي؛ خو د اوږدې مودې تماس له امله ناوړه تاثیرات یې د انسان په احساساتو، دماغو، د حافظې په کمزوری او داسې نورو شیانو باندې تاثیر لري(۱۱، ص. ۳۶۱).

ناڅاپي او پرلپسې اوازونه د دوامداره اوازونو په پرتله زیات مضر دي. که څه هم په پرمختللو هیوادونو کې د ژوند د چارو د ترسره کولو لپاره اصول او قوانین وضع شوي دي او خلك اړ دي،

چې د وضع شوو قوانینو درناوی وکړي؛ خو په هیواد کې د تیرو لسیزو جنګونو له امله هر څه له منځه تللي دي .په هیواد کې عام وګړي د یوې خوا د جنګونو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي او له بلې خوا د دغو جګړو د غیر مستقیمې اغیزې له امله هم کله د لویو او وړو وسلو استعمال اوازونه، د بمباریو اوازونه، د موټرو اوازونه، په فابریکو کې د ماشینونو اوازونه، د موسیقي اوازونه، د موبایل زنګونه او لوډسپیکرونو اوازونه او داسې نور هغه غږونه دي، چې د خلکو په ورځنیو چارو کې د خنډ سبب ګرځي، چې په انسانانو کې ډول ډول ناروغي رامنځته کوي(۱۴، ص.۴۶).

**پایله**

غږیزه ککړتیا یا په عامه اصطلاح شورماشور نه یوازې د انسانانو بلکې د حیواناتو او ان د نباتاتو روغتیا هم زیانمنوي. که څه هم په افغانستان کې د غږیزې ککړتیا له امله په رواني او نورو ناروغیو د اخته کېدونکو کسانو کره شمېر معلوم نه دی؛ خو داسې ګڼ رپوټونه شته، چې پام وړ شمېر خلکك د غږیزې ککړتیا له امله په بېلابېلو ناروغیو اخته شوي دي. د ترسره شوي یوې نړیوالې سروې له مخې، چې پایله یې د روان ۲۰۲۳ کال په فبرورۍ میاشت کې خپره شوه په ټوله نړۍ کې د ۴۳۲ میلیونه وګړو روغتیا، چې ۳۴میلیونه په کې ماشومان دي، د غږیزې ککړتیا څخه اغېزمن شویدي او هرکال لسګونه زرګونه کسان د غږیزې ککړتیا له امله د ورپېښو ناروغیو له امله له وخته مخکې مري.که له یوې خوا په مخامخ جګړو کې افغانان خپل ژوند له لاسه ورکړ؛ خو له بلې خوا د دغه جګړو د نامستقیمې اغېزې له امله هم کله د لویو او وړو وسلو استعمال اوازونه، د بمبارونو اوازونه، د موټرو اوازونه، ټول ترانسپورتي وسایل په فابریکو کې د ماشینونو استعمال، په ښار کې د میوزیك سنټرونو اوازونه، د موبایل زنګونو اوازونه، تجارتي لوډسپیکرو اوازونه او داسې نور هغه غږونه دي، چې د خلکو په ورځنیو کارونو کې د خنډ سبب ګرځي، او هم انسانانو کې ډول ډول ناروغۍ رامنځته کوي. د دې لپاره چې د غږیزې ککړتیا مخه ونیسو؛ نو په کار ده، چې د چاپېریال ساتنې مسولین د غږیزې ککړتیا د مخنیوي لپاره ځینې قوانین او اصول ایجاد کړي.

**وړاندیزونه**

۱. د تولید د سرچینې څخه د غږ کموالی او له منځه وړل

۲. د نقلیه وسایطو د لاسته راغلي غږ مخنیوی.

۳. د ترانسپورتي وسایلو لپاره داسې سرکونو جوړول، چې هارن کولو ته اړتیا پکې نه وي.

۴. د روغتونونو، مکتبونو،پوهنتونونو، دولتي ادارو په شاوخوا کې د غږیزې ککړتیا د مخنیوي لپاره د هارن کولو څخه ډډه وشي.

۵. په صنعتي ځایونو کې د غږ د ټیټوالي لپاره دستګاوې نصب شي.

۶. د نقلیه وسایطو ماشین او سلنسر باید وخت په وخت وکتل (معاینه) شي؛ تر څو چې لوړ اواز تولید نه کړي او که چیرې لوړ اواز تولیدوي باید ترمیم او یاد ګرځیدو مخه ونیسي.

۷. په ښاري جادو یا واټونو کې د موټر سرعت باید في ساعت کې۳۰کیلو متره ته ورسیږي.

۸. د نل جوړونې، ویلډنګ کاري، فلزکاري، نجاري او همدارنګه غږ تولیدونکې دستګاوې باید د ښار څخه لرې وویستل شي.

۹. د ټولنې د وګړو لپاره عامه پوهاوی، چې له امله يې د نقليه وسايطو د لوړ او بې ځايه هارنونو، په لوړ اواز سره د راديو او تلويزيون او نورو موسيقي مخنيوی.

۱۰. د سرکونو، فرعي کوڅو، لوړ پوړيزه ودانيو په شاوخوا کې بايد ونې وکرل شي او شنې ساحې را منځته شي، چې له امله يې د غږيزې ککړتيا په مخنيوي کې ستر رول لوبولی شي.

۱۱. په شورماشور لرونکو ځايونو کې دکار کولو په صورت کې د غوږونو ساتونکې وسايلو کارول.

۱۲. په ښار کې د تجارتي لوډسپيکرو اوازونو د کنټرول لپاره د ښاروالي له پوليسو څخه مرسته وغواړئ.

۱۳. د هوايي ميدانونو خوا او شا د کورونو جوړولو لپاره اجازه بايد ورنکړل شي.

**اخځلیکونه**

۱ ـ پرويزغلام علي. د چـــاپيريال ساتنې اساسات.کـابل: سعيد انتشارات؛ (۱۳۹۳)

۲ـ متواضع غلام حضرت. محيط زيست افغانستان: انجمـــن اسلامـــي انجينران و مهندسان؛ (۱۳۷۷)

3- Geradkiely. Environmental Engineering, Tata MCGraw Hill Publishing Company Limited. 2007

۴ـ کوچی خدايد. چاپيريال ساتنه. جـــــلال اباد: سلام خپرندويه ټولنه؛ (۱۳۹۴)

۵ـ د چاپيريال ساتنې ملي اداره. اسلام و حفاظت منابــع طبيعي: کـابل. خپرندوی. د چاپيريال ساتنې ملي ادارې د اطلاعاتو او عامـــه اړيکـــو رياست؛ (۱۳۹۳)

۶ـ مخدوم مجيد. زيستن درمحيط زيست. ايران تهران: انتشارات دانشگاه؛ (۱۳۷۷)

7- Sharma, R.C and Gurbir Sangha, Elements of Environmental Science, Kalyani Publishers, 2004

8- Williom P. Cumigham, Environmental Science, 2005

9- Khitoliya, F.I.E (R.K, Dr), Environmental Pollution, S. Chand and Company Ltd. 2000

۱۰ـ احمد يار وحــــــدت. افغانستان و محيط زيست. مشهد: انتشارات بدخشان؛ (۱۳۹۱)

۱۱ـ مندوزی عارف الله. چاپيريالي انجينري. جلال اباد: د مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه؛ (۱۳۹۳)

۱۲ـ هاشمـــــي محمدحنيف. د خـاورې تخريب او د چاپيريال ککړتيا.افغانستان کابل: سهرمطبعه ؛ (۱۳۹۵)

۱۳ـ اميري محمدظـــــــاهر. د افغانستان ايکـــالــــوژي: ننګرهار پوهنتون؛ (۱۳۸۵)

14- Rosemary Border Pollution, Oxford book worms fact files, oxford university press. 2009.

# د محمدظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال د افغانستان او پاکستان اړیکې

پوهنمل محمد شاهد د شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد
پوهنمل عرفان د شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد
بریښنالیک: Mohammadshahedshahed@gmail.com
بریښنالیک:Irfanwazir789@gmail.com

**لنډیز**
کوم وخت چې د برتانیې حکومت پرېکړه وکړه چې د هند لویې وچې څخه ووځي او دغه سیمه د هند او پاکستان په نوم هېوادونو باندې ووېشي. هغه وخت په افغانستان کې د پاچا محمد ظاهر شاه حکومت و. هغه د برتانوي حکومت په دې پلان نیوکه وکړه او ویې ویل چې سرحدي صوبه یعنې اوسنۍ خیبر پښتونخوا د افغانستان برخه ده. د پاکستان له جوړېدو څخه وړاندې په ۱۹۴۷م کال په جولای کې هم د افغانستان حکومت په رسمي لیک سره له برتانوي حکومت څخه وغوښتل چې د برتانیې حکومت باید د برتانوي هند پښتنو ته خپلواکي او یا افغانستان سره د یو ځای کېدو حق ورکړي. په دغه څېړنیزه مقاله کې د پاکستان سره د افغانستان اړیکې د پاچا محمد ظاهر شاه واکمنۍ پرمهال څېړل شوي. چې دغه اړیکې به په ځینو وختونو کې زیاتې خرابې او حتې د جنګ تر حده به ورسیدې؛ خو په ځینو وختونو کې به دغه اړیکې بیا دوستنه وې او په څنګ کې ورسره هم مهاله د افغانستان او پاکستان د اړیکو جوړولو لپاره د نړۍ سیاسي مشرانو سفرونه څېړل شوي دي.

**کلیدي کلیمې:** اړیکې، د پاکستان جوړېدل، سیاسي مشران، پښتونستان، ناپېیلی سیاست.

**سریزه**

الحمدالله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدنا ونبینا محمد وعلی اله واصحابه اجمعین امابعد:
کله چې په ۱۹۴۷م کال د جون په درېیمه د برتانیې حکومت پرېکړه وکړه چې د هند لویه وچه پرېږدي او د هند لویه وچه د هند او پاکستان په نوم هېوادنو باندې وېشي. هغه مهال په افغانستان کې د محمد ظاهر شاه حکومت و. نوموړي په دغه پلان نیوکه وکړه او ویې ویل چې سرحدي صوبه (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) د افغانستان برخه ده. د پاکستان له جوړېدو وړاندې د ۱۹۴۷م کال په جولای کې هم د افغانستان حکومت په یو رسمي لیک کې له برتانوي حکومت څخه وغوښتل چې د برتانیې حکومت باید د برتانوي هند پښتنو ته د خپلواکۍ او یا افغانستان سره د یو ځای کېدو حق ورکړي، د

برتانيي حکومت يې په ځواب کې وويل چې د پولې (ډيورنډ کرښې) شخړه وړاندې حل شوې ده. د جون د دريېمې په پلان د افغانستان د نيوکې سربېره پاکستان د ۱۹۴۷م کال د اګست په ۱۴ منځته راغی او په دا بله ورځ د (اګست ۱۵) هند هم خپلواک شو. هند د ملګرو ملتونو د سازمان غړی شو او پاکستان هم د دغه سازمان د غړيتوب غوښتنه وکړه. د ۱۹۴۷م کال په سپتمبر کې په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړيتوب له لپاره رايه اچونه کېده. افغانستان يوازېنی هېواد و چې ياد سازمان ته يې د پاکستان د نوتو مخالفت وکړ. په ملګرو ملتونو کې د افغانستان سفير عبدالحسين خان عزيز وويل، افغانستان شمال لوېديځه سرحدي صوبه (خيبر پښتون خوا) د پاکستان برخه نه شي ګڼلی، ځکه د دغې صوبې خلکو ته له هر ډول اغيز پرته دا موقع نه ده ورکړل شوې چې دوی پرېکړه وکړي چې د خپلواک اوسيدو هيله لري که د پاکستان د يوې برخې کېدو. د پاکستان له جوړېدو څخه تر اوسه پورې دغه شخړه را روانه ده او په مختلفو وختونوکې يې د افغانستان او پاکستان په اړيکو اغېزه کړې ده. نو ما هم په دغه مقاله کې د پا چا محمدظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال د افغانستان او پاکستان اړيکې څېړلې دي.

**د ليکنې موخې**

د دې ليکنې موخه دا ده چې د پاکستان د جوړيدو وروسته به د محمد ظاهر شاه واکمنۍ پر مهال د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکې په واضح ډول بيان شي. ترڅو د هغه وخت د واکمنو صدراعظمانوکړنې او پاليسې د پاکستان په وړاندې واضحې کړی شي او په څنګ کې به د پاکستان او افغانستان دولتونو ترمنځ د اړيکو د ښه کولو لپاره د نړۍ سياسي مشرانو سفرونه چې په مختلفو وختونوکې افغانستان ته تر سره شوي دي وڅېړل شي.

**د ليکنې اهميت**

د پاکستان جوړيدو پر مهال د افغانستان اړيکو موضوع يوه مهمه موضوع ده، نو لازمه ده چې د افغانستان او پاکستان په اړيکو باندې په کلُي ډول ليکنه تر سره شي، تر څو د دواړو هېوادونو په اړيکو باندې په مختلفو وختونوکې پوه شو، د دې ليکنې د اهميت يوه بل اړخ دا ښکاره کوي، چې د مسلک اړوند اشخاص به يې په لوستلو سره د پاکستان جوړيدو پر مهال د افغانستان او پاکستان اړيکو خربوالي په عواملو پوه تر لاسه کړي.

**د ليکنې کړنلاره**

د ليکنې کړنلاره کتابخانه‌يي ده په دغه ليکنه کې د مختلفو معتبرو کتابونو او مقالو څخه استفاده شوي ده. د ليکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوی دي.

**د پاکستان جوړېدل**

کله چې دا فیصله اعلان شوه چې انګریزان له هند لوېږي وچې څخه وځي او دا قاره به پر دوو برخو ویشل کېږي چې د هند او پاکستان په نامه به دولتونه په کې رامنځ ته کېږي، نو د ۱۹۴۷م کال د جون په ۱۳ د افغانستان حکومت انګریزانو ته خبر ورکړ چې د افغانستان له سرحداتو څخه تر اباسیند پورې دا ټول پښتنانه اقوام دي. د دوی څخه باید پوښتنه وشي چې ځانته خپلواکې غواړي اوکه په هند، پاکستان یا افغانستان پورې ځان نښلوي، خو انګریز د جولای په ۳ د ۱۹۴۷م کال کې ځواب ورکړ چې د بریتانیا او افغانستان ترمنځ په ۱۹۲۱م کال کې سرحدونه منل شوي دي، نو اوس چې دلته قدرت انتقالیږي افغانستان باید په شمال لویځه صوبه کې مداخله ونه کړي.

د همدغه یعنې د ۱۹۴۷ م کال په جولای کې سپه سالارشاه محمود خان لندن او واشنګټن ته سفر وکړ، نو هلته یې د انګریزي او امریکایي ډیپلوماتانو سره خبرې وکړې، خو هغو به دا خبره وړاندې کوله چې پاکستان رفرانډم وکړ او پښتنوځانونه په پاکستان پورې وتړل، خو دغه رفرانډم په جعلي ډول تر سره شوی و او څوک پرې خبر نه وو.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ فضا ډېره تیاره شوه. د ۱۹۴۷م کال د سپتمبر په ۲۰ مه چې کله د ملګرو ملتونو په سازمان کې د پاکستان په شمول مسله وړاندې شوه افغانستان د پاکستان پر خلاف منفي رایه ورکړه. څرنګه چې د پاکستان ملا د هندوستان څخه مسلمانانو مهاجرینو چې شمیرېې (۰۰۰، ۰۰ ۶۵ ). ته رسیدی ورکړه کړي وه، نو د افغانستان سره یې نرمه رویه کوله. افغانستان د همدغه شرایطو څخه په استفادې سره ډاکتر نجیب الله د پوهنې وزیرد ۱۹۴۷م کال په نومبرکې پاکستان ته ولیږی، هغه هلته د پاکستاني مشرانو سره مفصلې خبرې وکړې، حتی محمد علي جناح د مثبتې همکارئ وعده ورکړه، ولې د مسلې حل ته یې اوږه نه ورکوله اوضاع وار په وار خرابېده، خو د ۱۹۴۹م کال د جون په ۱۲ پاکستانی الوتکو مغلګی بمبارکړ، چې۲۲تنه افغانان پکې ووژل شول او بالمقابل د دغه کال د جولای په ۲۶ مه د افغانستان ملي شورا ډیورنډلین ردکړ او دې کار نوره هم وضعیت خراب کړ.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د یوکال را په دې خوا سخته تبلیغاتي جګړه پیل شوې وه او په کابل راډیو او اخبارو کې د ۱۹۴۸م کال د جون له ۱۶ څخه د پښتونستان د تحریک په نوم پراخ پروپاګنډ پیل شول.

دغه اوضاع د سپه سالارد حکومت تر پایه روانه وه اوکله کله به یې دومره پراخ بعدونه پیدا کړل چې حتې د سیمې امنیت به یې له تهدید سره مخامخ کړ. دغه اورته سردار

محمد داود خان چې د سپه سالار په کابینه کې دفاع وزیر و سخته لمن وهله او پخپله سپه سالار شاه محمود خان هیڅ خوښ نه و چې دا جنجال یې غاړې ته ولویږي(۵: ۲۵۱ـ ۲۵۲).

**د سردار محمد داود خان صدارت ته راتلل او د پاکستان سره یې اړیکې**

د سپه سالار سردار شاه محمود خان صدرات څخه وروسته د ۱۹۵۲م کال د سپتمبرڅخه چې سردار محمد داود خان په صدارت مامور شو بیا تر۱۹۶۳م کال پورې چې په استعفاء مجبور شو. پوره لس کاله د پاکستان سره په یوه ډیره ورانوونکې کشاله کې ګیر پاتې شو.

څرنګه چې افغانستان په پاکستان کې د ماورای سرحد سیمې شاملې نه بللې، نو شخړه د هماغه ۱۹۴۷م کال څخه پاشیدلې وه او هغه وخت هم دغه مسله سردار محمد داود خان توده ساتله.

هغه مهال چې امریکا پاکستان ته نظامي مرسته ورکړه، نود سردار محمد داود خان حکومت په سخت تشویش کې ولوید او د ۱۹۵۲م کال د سپتمبرپه ۲۰ یعنې څو ورځې د صدرات له ماموریت څخه وروسته په یوه وینا کې د امریکا دغه مرسته د سیمې د امنیت لپاره خطرناکه وبلله او په اکتوبرکې یې سردار محمد نعیم چې د صدارت مرستیال او وروسته خارجه وزیر و کراچي او سعودي عربستان ته واستاو.

په ۱۹۵۴م کال کې د اسیا د جنوب ختیځې خوا د (سیټو) تړون وشو چې پاکستان یې غړی شو او دا هم پر افغانستان یو تهدید شو، له دې سره پاکستان یو بل ګام مخ ته واخیست او د پښتنو سیمې یې د لویدیځ پاکستان په یوه یونټ کې د پنجاب، سند او بلوچستان سره وتړلې او د دغه عمل د غندلو په خاطر په کندهار او جلال اباد کې د پاکستان د قنسلګریو سره شدیدې مظاهرې وشوې او پاکستاني پولیسو په پېښورکې پر افغان قنسلګرۍ حمله وکړه او د دواړو له خوا قنسلګرۍ وتړل شوې او مسلې دومره زور واخیست چې افغانستان خپلې مسلحې قواوې تیارسۍ کړې.

د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې په ۱۹۵۵م کال اکتوبرکې قطع شوې، د همدغه کال په نومبرکې افغان حکومت لویه جرګه جوړه کړه. دغه لویې جرګې حکومت ته اجازه ورکړه چې وسله واخلي ځکه چې پاکستان د امریکا څخه وسله په لاس راوړې وه.

یوه میاشت وروسته په دسمبرکې د شوروي مشر بلګانین او دکمونیست ګوند منشي خروشچف کابل ته راغلل دوی په ویناؤ کې د پښتونستان ادعا تائید کړه او (۱۰۰) ملیونه ډالرکومک یې هم افغانستان ته ورکړ. پاکستان یو څه فشارونه راوړل او سردار محمد داود خان پاکستان ته سفر وکړ، خو نتیجه یې نه درلوده څرنګه چې۱۹۵۵م کال

کې د بغداد تړون د ترکیې، عراق، ایران او پاکستان په شمول جوړ شوی و انګلستان او امریکا هم د هغه ملاتړي وو. نو د پاکستان مشرانو د افغانستان مشرانو ته دعوت ورکړچې په دغه تړون کې شامل شي. د بغداد تړون هغه مهال چې په ۱۹۵۸م کال په عراق کې کودتا وشوه او ورپسې په ۱۹۵۹م کال کې د دغه تړون څخه ووت، نو دا تړون (سنټو) یا مرکزي تړون په نوم سره یاد شو او پاکستان بیا هم د افغانستان سره د شخړو د حل ښه لار همدغه بلله چې افغانستان په مرکزي تړون کې شامل شي، ولې سردارمعقول عذرونه درلودل او له همدغه ځایه یې د غیرمنسلک( ناپیلي) هېوادونو د نهضت په تأسیس کې برخه واخستله( ۲ : ۱۸ـ ۱۹ ).

په ۱۹۵۷م کال کې د پاکستان صدراعظم کابل ته راغی، تر ده پخوا د ۱۹۵۵م کال په اګست کې صدراعظم سکندرمیرزا هم راغلی و، خود خبرو نتیجې مطمینې نه وې. په ۱۹۵۸م کې باچا محمد ظاهرشاه پاکستان ته سفروکړخو بیا هم نتیجه نه لیدل کیده پاکستان ترانزیټي لارې بندې کړې او افغانستان د شوروي اتحاد سره د ترانزیټ یوه معاهده لاسلیک کړه چې پرلویدیځ ډیره بده تمامه شوه.

د پاکستان او د مرکزي تړون د غړو له خوا تبلیغ ډېرزیات و چې ترکیه، ایران، پاکستان او افغانستان د یوکانفدریشن جوړولو تصمیم لري، خو افغانستان دغه اوازې کاملاً دروغ وبللې. په ۱۹۵۸م کال کې صدراعظم سردار محمد داود خان امریکا ته سفر وکړاو هلته یې امریکا ته د سیمې مشکلات بیان کړل او ضمناً یې د وسلې غوښتنه وکړه، خو امریکایانو منفي ځواب ورکړاو هم یې دا وروفهموله چې که د ( سنټو) یا ( سیټو) په تړون کې شامل شي بیا کېدای شي چې امریکا یې په حمایت ودرېږي او ضمناً یې دا هم وریاده کړه چې په ۱۹۵۶م کال کې یې د چکوسلواکیا سره د وسلو قرارداد کړی دی. پرافغانستان د اقتصادي فشارډېری بدې ورځې رابرابرې شوې او ۱۹۵۹م کال یو ډېردسختی کال و.

د ۱۹۶۰م کال په جنوری کې بیا خارجه وزیرمحمدنعیم پاکستان ته سفروکړاو هلته یې د روغې د اعادې خبرې وکړې.که څه هم په افغانستان کې د پاکستان او په پاکستان کې د افغانستان سیاسي نمایندګۍ چې مادي او معنوي زیانونه یې لیدلي وو بېرته جبران شول، خود بن بست د ورکیدوکیلې هم هغسې ورکه پاته شوه.

د دواړو خواوو په نشراتو کې ډېر ترخه او د اخلاقي حریم څخه د باندې بیانونه نشریدل او دا پرعمومي وضع لکه: پر اور د تیلوتویولوکار ورکاوه. د ۱۹۶۰م کال په مارچ کې صدراعظم ایران ته سفروکړ او هلته یې د ایران شاه سره مسایل مطرح کړل، خو بیا هم بن بست مات نه شو. سردار محمد داود خان پیوسته تلاشونه کول خود ۱۹۶۱م کال د جون په ۲۶ یې په لندن کې د انګلستان خارجه وزیر او ټولواکمنې

الیزابتې سره وکتل خو دغه سفر هم نتیجه نه درلوده اوغیرمستقیم سردار محمد داود خان ته ورفهمول کېدل چې د شوروي څخه لېرې شي. د ایران منځګړیتوب بې نتیجې شواو د ۱۹۶۱م کال د سپتمبر په ۶ مه د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې مطلق قطع شوې.

د امریکا جمهوررئیس کینډي تلاش وکړچې وضع نورمال حالت ته راولي او د ایران باچا د ۱۹۶۲م کال په جولای کې کابل ته راغی خو دا ټول کوششونه بې نتیجې شول(۳ : ۷۵ ـ ۷۶ ).

**کابل ته د نړۍ د سیاسي مشرانو سفرونه**

پس له هغه چې انګریز د لوی هند څخه ووتاو د هند او پاکستان په نامه نوي دولتونه منځ ته راغلل، د سیمې د ډیپلوماسۍ قالبونه له څرګند ټاکل شوي نه وو، په همدغه حساس وخت کې افغانستان د نړۍ پاملرنه جلبوله. د سردار محمد داود خان په صدارت کې لومړی شخص د امریکا جمهوررئیس مرستیال نیکسن و چې کابل ته راغی او سردار محمد داود خان د وسلې مرسته وریاده کړه، خوهغه هیڅ ځواب ور نه کړاو دا وخت د ۱۹۵۳م کال نومبر و.

د ۱۹۵۵م کال د اپریل په ۲۹ د مصر جمهوررئیس جمال عبدالناصرد بانډونګ ترکنفرانس وروسته کابل ته راغی او دلته یې د سردار محمد داود خان سره د یوه مشترک سیاست مفاهمې وکړې. د ۱۹۵۵م کال په دسمبرکې د شوروي اتحاد مشران بلګانین او خروسچف کابل ته راغلل او د افغانستان سیاسي موقف یې څرګند اوتائید کړ. څرنګه چې تړونونو ته د افغانستان د کشولو هیلې کېدلې، نو ۱۹۵۶م کال په جولای کې د ترکیې صدر اعظم عدنان مندرس کابل ته راغی، دا چې افغانستان د وسلواخستلو لپاره بازار لټاوه، نو د چکوسلواکیا صدراعظم د ۱۹۵۸م کال په سپټمبرکې کابل ته راغی (۶: ۶۰).

د افغانستان اوپاکستان اختلاف خطرناک بعدونه پیدا کول چې د ۱۹۵۹م کال په مارچ کې د ملګروملتونو سرمنشي ډاګ همرشولډ کابل ته راغی، هندوستان چې د پاکستان سره په رقابت کې و د افغانستان موقف یې تائیدو، نو د ۱۹۵۹م کال د ډسمبر په ۹ د امریکا جمهوررئیس ایرن هاورچې پاکستان ته روان و له لارې راوګرځېد او ۶ ساعته یې په کابل کې تیرکړل، ده هم غیرمستقیم افغانستان تشویق کووچې په یوه تړون کې شامل شي خو د لویدیځ له مرستو ګټه پورته کړي. څرنګه چې شوروي اتحاد هم افغانستان ترنظرلاندې ساتو نو د ۱۹۶۰م کال په مارچ کې یوځل بیا خروسچف کابل ته راغی.

افغانستان د چین خلکو جمهوریت پاملرنه هم ځانته جلب کړي وه لکه: د ۱۹۶۰م کال په اګست کې د چین خارجه وزیر چین یې کابل ته راغی او په هغه پسې صدراعظم چوبي لای هم یوسفر افغانستان ته وکړ. په ۱۹۶۲م کال کې د ایران باچا محمد رضا شاه پهلوي کابل ته راغی چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ منځګړیتوب وکړي، خو ناکامه شو. همداسې د افغانستان اوپاکستان دولتي مشران وخت په وخت یو د بل هېوادونو ته ورغلي وو، د دغو سفرونو عمده هدفونه ټول په یوه ټاکلی برخه کې سیاسي وو(۵ : ۲۵۷).

**د ډاکټر یوسف صدارت پر مهال د پاکستان سره اړیکې**

د پاکستان سره د افغانستان ځنډول شوي اړیکې چې د سردار محمد داود خان د حکومت په اخرکې د خرابۍ اوج ته رسیدلي وې، نو د سردارمحمد داود خان د استعفا وروسته او د ډاکټریوسف دحکومت له پیل سره لومړني کوښښونه دې ته وقف شول چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي اړیکې بېرته قایمې شي. د سردار محمد داود خان حکومت په وخت کې د ایران باچا محمدرضاشاه پهلوي د افغانستان اوپاکستان ترمنځ منځګړیتوب پیل کړی و، خو نتیجه یې نه وه ورکړې.کله چې صدراعظم ډاکټریوسف ایران ته سفر وکړ. بیا یې د ایران باچا ته د منځګړیتوب بلنه ورکړه په دغه وخت کې د امریکا جمهوررئیس جان اف کنیډي خپل نماینده یونکستون مرچنټ مؤظف کړی و، چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د ښه والي تلاشونه وکړي، خو وروسته امریکا دا ښه وبلله چې دغه ماموریت د ایران باچا ته وروسپاري. له دې سره یو افغانی هیت تهران ته ورغی اوهلته یې د پاکستان هیئت سره ترخبر ووروسته د ۱۹۶۳م کال د مې په ۲۹ پریوه سند لاسلیك وکړچې د همدغه سند پر لاسلیك سره سیاسي راوبط بیا قایم شول او دغه کار د ډاکټریوسف د حکومت په دوهمه میاشت سرته ورسید. نور نو شدید تبلیغات هم بند شول او د تجارت په وړاندې مشکلات هم تر ډیره ځایه هوارشول. څرنګه چې افغانستان د عدم انسلاك (ناپیلي)سیاست په تعقیب ښه شهرت مونډلې و او د دغه کار ویاړ زیاتره سردار محمد داود خان ته ور په برخه و نو د دې لپاره چې د ډاکټریوسف پرحکومت له دې ناحیې کوم الزام وارد نه شي نو په هم هغه پخواني دریز یې د عدم انسلاك ملګرتیاتعقیب کړه( ۷ : ۵۵ ).

د ۱۹۶۴م کال په اکتوبرکې صدراعظم ډاکټریوسف د ناپیلو هېوادونو او حکومتونو د مشرانو جرګه چې په قاهره کې جوړه شوي وه ګډون وکړاو د افغانستان د پېښو یومفصل ګزارش یې ورکړ. همدارنګه یې د چین له ولسي جمهوریت سره روابط پراخ کړل او په ۱۹۶۴م کال کې د افغانستان اوچین ترمنځ سرحدي کرښه په نښه شوه.

د پاکستان سره سیاسي اړیکې دومره نږدې شوې، چې په ۱۹۶۴م کال کې د پاکستان جمهوررئیس فیلډ مارشال محمدایوب خان کابل ته سفروکړ او په ۱۹۶۵م کال کې د پاکستان صدراعظم ذوالفقارعلي بوټو د خبرو لپاره کابل ته راغی(۱ : ۳۵ ).

**د موسی شفیق صدارت پر مهال د پاکستان سره اړیکې**

د ۱۹۷۲م کال په دسمبر کې افغان پاچا محمد ظاهرشاه، موسی شفیق د افغانستان د نوي لومړي وزیر په توګه وګوماره، نوي حکومت د خیبر پښتونخوا د پښتنو د خپلواکۍ د حق ملاتړ وکړ. موسی شفیق د پښتونستان مسله ملي مسله وبلله او ویې ویل چې دا مسله د دواړو هېوادونو ترمنځ یوازینی خنډ دی. د پښتونستان په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې هغه وویل، د پښتونستاني وروڼو څخه د افغانستان ملاتړ د افغانستان ملي او تاریخي حق او د افغانستان اخلاقي دنده ده. دوی زیاته کړه چې دغه د افغان ولس له هیلې سره سم روان دي.

موسی شفیق د ۱۹۷۳م کال په لومړیو کې هڅه وکړه چې پاکستان سره اختلافات راکم کړي. هغه د پښتونستان په تړاو د افغانستان د پالیسۍ د نرمولو په اړه اشارې ورکړې. موسی شفیق کابل کې یو خبري کنفرانس ته وویل چې د افغانستان حکومت هیله لري چې له پاکستان سره د پښتونستان مسله په سوله ییز ډول حل کړي. د هغه موخه دا وه چې له پاکستان سره ښې اړیکې پیاوړې کړي. ډېر نږدې و چې پاکستان سره د پښتونستان په اړه یو حل ته ورسیږي، خو برتانیې اوشوروي اتحاد نه غوښتل چې دا مسله حل شي. دوی غوښتل چې(تفرقه واچوه او حکومت وکړه) د پالیسۍ پر بنسټ دغه مسله ژوندۍ وساتي. شوروي اتحاد د افغان پاچا محمد ظاهر شاه او د ده د لومړي وزیر موسی شفیق له پاکستان سره د اړیکو د ښه کولوله هڅو سره مخالفت کاوه.

د ۱۹۷۳م کال د جولای په ۱۷ هغه مهال چې افغان پاچا محمد ظاهر شاه ایټالیې ته دخپلې سترګې د درملنې لپاره تللی و، نو د ده د تره زوی او پخواني لومړي وزیر سردار محمد داود پرې کودتا وکړه او د پاچا واکمني یې د تل لپاره له منځه یوړه(۵ : ۲۶۱ ـ ۲۶۲).

**پایله**

په پایله کې ویلی شو چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو موضوع یوه پیچلې موضوع ده. په مختلفو وختونوکې یې بیلا بیل بعدونه پیدا کړي دي. د پاکستان له جوړیدو څخه وروسته هغه وخت چې افغانستان په پاکستان کې د ماورای سرحد سیمې شاملې نه بللې نو د دواړو هېوادونو ترمنځ په دغه موضوع باندې اړیکې خرابې شوې پاکستان په اول وخت کې نرمه رویه کوله او پاکستان د افغانستان دولت ته د مثبتې همکارۍ وعده ورکوله ولې د مسلې حل ته یې اوږه نه ورکوله او اوضاع وار په وار

خرابیده. د ۱۹۴۹ م کال د جولای په ۲۶ مه د افغانستان ملي شورا د ډیورنډ لین ردکړ دې نوره هم فضا خرابه کړه.

د شاه محمود خان صدارت څخه وروسته د ۱۹۵۲ م کال د سپتمبر څخه چې سردار محمد داود خان په صدارت مامور شو بیا تر ۱۹۶۳ م کال پورې چې په استغفا مجبور شو پوره لس کاله د پاکستان سره په یوه ډېره ورانونکې کشاله کې ګېر پاتې شو. هغه مهال چې امریکا پاکستان ته نظامي مرسته ورکړه نو د سردار محمد داود حکومت په سخت تشویش کې ولوید او د ۱۹۵۲ م کال د سپتمبر په ۲۰ یعنې څو ورځې د صدارت له ماموریت څخه وروسته په یوه وینا کې د امریکا دغه مرسته د سیمې د امنیت لپاره خطرناکه وبلله او په اکتوبر کې یې سردار محمد نعیم چې د صدرات مرستیال او وروسته خارجه وزیر و کراچۍاو سعودي عربستان ته واستاو. د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې په ۱۹۵۵ م کال اکتوبر کې قطع شول، همدارنګه د دغه کال په نومبرکې لویه جرګه جوړه شوه چې حکومت ته یې اجازه وکړه. چې وسله واخلې ځکه پاکستان د امریکا څخه وسله په لاس راوړي وه.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ اختلاف خطرناك اړخونه پیدا کول چې د ۱۹۵۹ م کال په مارچ کې د ملګرو ملتونو سر منشی داګ همر شولډ کابل ته راغی، ترڅو د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې ورغوي. خو د پاکستان او افغانستان اړیکې د پاکستان د را منځه ته کېدو څخه تراوسه پورې په هغه قسم چې لازمه ده نه دي جوړې شوي. وخت په وخت خطرناك بعدونه پیدا کوي.

**وړاندیزونه**

۱- پاکستان باید د نړېوالو اصولو په رڼا کې د پښتنو سیمو په اړه د افغانستان معقلو غوښتنو ته غاړه کیږدي. ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ دوستانه اړیکې جوړې او پراخې شي.

۲- نړېوال سازمانونه او دولتونه باید په پاکستان باندې فشار راوړي ترڅو د پښتنو سیمو خلکو ته خپل حقوق ورکړي.

**ماخذونه**

۱- ادمک لودویک.(۱۹۸۹م). تاریخ روابط سیاسي افغانستان.( چ،۱). پیښور:مومند خپرویه ټولنه.

۲- حلیلي، زاهد.( ۱۳۹۸ه ش). د افغانستان او پاکستان اړیکې.(چ،۱). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۳- نظرزی، اباسین.(۱۳۹۱ه ش). د افغانستان سیاسي اوضاع ته لنډه کتنه.( چ،۱). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۴- سفاري، سلطان.(۱۳۹۸ه ش). د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ .( چ،۳). کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه.

۵- عطایي، محمد ابراهیم.( ۱۳۸۳ه ش). د افغانستان په معاصر تاریخ یوه لنډکتنه.( چ،۱). پیښور: میوند خپرندویه ټولنه.

۶- عظیمی، محمد نبی.(۱۳۷۴ه ش). اردو و سیاست.( چ، ۳). پیښور: میوند خپرندویه، ټولنه.

۷- غبار، محمدغلام.( ۲۰۱۲م). افغانستان د تاریخ په اوږدوکې.( چ،۲). کابل، دانش کتابتون.

۸- فیضان، عبدالماک.(۱۳۹۴ه ش). د افغانستان معاصرسیاسي تاریخ، حکمیت. (چ، ۲). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۹- مبارز، عبدالحمید.( ۱۳۷۶ه ش). حقایق وتحلیل وقایع سیاسي افغانستان. (چ، ۲). پیښور:میوند خپرندویه ټولنه.

# د نباتاتو په وده او حاصل باندې د خالصو حیواني سرو کمپوسټ او د نباتي کمپوسټ سره د ګډو حیواني سرو آغېزې

پوهنمل محمد اسماعیل مقبل[۱]* ، پوهندوی شفیع ګل شفیقي [۱]او صفي الله همدرد [۱]شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی د اګرانومي څانګه، خوست
mismail350@gmail.com

**لنډیز**

حیواني سرې او کمپوسټ د حیواني او نباتي پاتې شونو څخه عبارت دی چې د تجزې په مختلفو پړاونو کې قرار لري. یادې سرې د نباتي محصولاتو او خاورې حاصلخیزي لپاره مهم عضوي مواد دي چې د نباتاتو پر حاصلاتو او د خاورې حاصلخیزي په ساتلو کې مهم رول لوبوي. همدارنګه کمپوسټ شوې خالص حیوانې سرې او د نورو نباتاتو پاتې شونو کمپوسټ سره ګډې حیواني سرې د نباتاتو پر وده مختلفې اغېزې لري. د دې لپاره چې د خالصو حیواني سرو او کمپوسټ سره ګډو حیوانی سرو تاثیرات د نباتاتو پر وده او حاصل معلوم شي، نو دغه څېړنه د شیخ زاید پوهنتون کرنې پوهنځي په تحقیقاتي فارم کې ترسره شوه. په دې څېړنه کې حیواني سرې په خالص ډول، د کمپوسټ سره۵۰٪ مخلوطې او د خاورې سره ۵۰٪ مخلوطې حیواني سرې؛ د دانیا/ګشنیز (*Coriandrum sativum*) په نباتاتو باندې استعمال شویدي. علاوه لدې څخه ټولې سرې د کنترول په شمول په څلورو اندازو یعنې صفرټن، ۵ ټنه په هکتار، ۱۰ ټنه په هکتار او ۱۵ ټنه په هکتار کارول شوې دي، ټول ترتمنتونه درې ځلې تکرار شوي دي. ټول ټال ۳۰ تجربوي واحدونه تشکیل شوي وو چې په درېو بلاکونو کې په تصادفي ډول ځای پر ځای شوي وو. سربیره پردې د اندازه ګیري لپاره د نباتاتو قد، د نباتاتو مجموعي حاصل، د نباتاتو تازه او وچ وزن اندازه ګیري وخت په وخت تر سره شوي دی. د دې څېړنې لاسته راوړنې ښيي چې په صورت عموم سره د کمپوسټ سره مخلوطې حیواني سرې او په مناسبه اندازه استعمال (۱۰ ټنه په هکتار) ښه نتیجه لري. د پایلې په ډول دا څېړنه بزګرانو ته سپارښتنه کوي چې تجزیه شوی کمپوسټ د حیواني سرو سره په مخلوط ډول او په مناسبه اندازه استعمال ښه نتیجه لري.

**کلیدي ټکي**:
حیواني سرې، د سرو مختلفې اندازې، کمپوسټ، ګشنیز نبات ، مخلوطې عضوي سرې

**سریزه**

د خاورې عضوي مواد د خاورې د کیفیت او د حاصل تولیدي ظرفیت یو له مهمه ځانګړنو څخه ده [۴ ]،چې د نباتاتو لپاره په طبعي او اداره شوي چاپیریال کې د غذایي موادو ډېره مهمه منبع

ده[۹] او په خپل ترکیب کې د پام وړ غذايي عناصر لري، همدارنگه خاورې ته يې علاوه کول ډېر زيات محيطي او اقتصادي اهميت لري [۳ ]. علاوه لدې څخه خاورې ته د عضوي موادو علاوه کول د خاورې د فزيکي او کيمياوي خواصو د سمون او اصلاح سبب گرځي[۱]. عضوي مواد خاورې ته په مختلفو طريقو او د مختلفو لارو څخه علاوه کيږي چې ځينې لارې يې ډيرې پيژندل شوي لارې دي چې د هغو له جملې څخه يوه يې حيواني سرې او بله يې کمپوسټ ډيرې مشهورې دي. يوټن تازه حيواني سره د تجارتي ۱۰-۵-۱۰ کيمياوي سرو شا او خوا د ۴۶ گيلو گرامو معادل نايتروجن، فاسفورس او پوتاشيم لري، علاوه لدې څخه تازه حيواني سرې د لوند وزن په اساس په يوه ټن کې د ۱،۵ څخه تر ۲،۵ کيلو گرام پورې کلسيم او د ۰،۷۵ څخه تر۱ کيلو گرام پورې مگنيزيم لري، د چرگانو سرې شايد د کلسيم مقدار د دې څخه دوه برابره زيات ولري، خو په حيواني سرو کې د غذايي موادو شتون زياتره د حيواناتو په جيرې (غذا) پورې هم اړه لري [۲].

د حيواني سرو کمپوسټ کولو سره بيوشيميکې ثابت عضوي مواد توليديږي چې په اسانۍ سره اداره کيږي او په خاورې کې په يوه ډول د اداره کيدو وړ وي [۶]. حيواني سرې په هغو ساحو کې چې زيات حيوانات روزل کيږي په زياته کچه پيدا کيږي او اکثره مالداران يې د ډيران په څير ذخيره کوي چې وروسته يې بيا خپلو ځمکو ته علاوه کوي. په زياتره حيواني فارمونو کې حيواني سرې په تازه ډول خرڅلاوه ته وړاندې کيږي او په پرمختللو هيوادونو کې يا هغه فارم لرونکي چې ښه مسلکي وي حيواني سرې د نورو موادو سره گډ کمپوسټ کوي چې بيا يې په بوريو کې بسته بندي کوي او خرڅلاو ته يې وړاندې کوي [۲]. د حيواني سرو کمپوسټ کول يو پرمختللی او پيژندل شوی عمل دی چې يوه مهمه گټه يې په کرنه او باغدارۍ کې د دې موادو بيا استعمال د آخريني توليد (کمپوسټ) په بڼه دی [۱۰].

د افغانستان تقريباً ټول بزگران د حيواني سرو د نوم او استعمال سره اشنأ دي، خو شايد د حيواني سرو د ښې ادارې او اړين استعمال په وړاندې به ستونزې ولري. له بله پلوه د کمپوسټ نوم، جوړښت او مېتود سره ډيری بزگران نا اشنادي او د کمپوسټ په اړه پوره معلومات نلري. نو دا ډيره اړينه ده چې د کمپوسټ د جوړښت په مختلفو ډولونو باندې څيړنې وشي او د هغوی نتايج د مسلک اړوند اشخاصو او بزگرانو سره شريک شي.

**موخې**

۱ـ د حيواني سرو او کمپوسټ په مخلوط ډول د تاثيراتو معلومول

۲ـ د لوړ حاصل توليد لپاره د حيواني سرو او کمپوسټ مناسبو اندازو معلومول

۳ـ د حيواني سرو د توليدي وړتيا او انکشاف اغيزمن ميتود ترلاسه کول

**مواد او میتود**

نوموړې څېړنه د شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځي په تحقیقاتي فارم (69,864876''E ۳۳,۳۴۹۹۴۹''N) کې په ۱۳۹۸ هـ ش کال ترسره شویده. د نوموړې ساحې د خاورې عمومي خواص د کرلو څخه د مخه په ۱- جدول کې ښودل شوي دي.

**د سرو اماده کول**

په ۰۴/۰۱/۲۰۱۹ م نیټه تازه حیواني سره د خوست ښار مال منډې څخه د فارم ساحې ته را انتقال شوه، د دې لپاره چې د تازه حیواني سرو استعمال د نباتاتو تخمونو او کوچنیو نیالګیو د خرابیدو سبب ګرځي، نو نوموړې حیواني سره تر یو وخت پورې د ډیران په څیر وساتل شوه. برسیره پر دې چې نوموړې حیواني سره د لا ښه انکشاف او غذایي ارزښت لوړوالي لپاره په دریو طریقو کمپوسټ شوه. ۱) د حیواني فارم څخه چې کوم تازه سره راوړل شوې وه، ۱۰۰٪ د همدې حیواني سرې یو ډیران ترې تشکیل شو(AM)، ۲) په دوهم ډیران کې ۵۰٪ حیوانې تازه سره او ۵۰٪ د نباتي پاتې شونو کمپوسټ چې نازکې برخې یې تجزیه شوې وې او ډنډغر سختې برخې یې لا نه وې تجزیه شوې(AM+C) او په ۳) ډیرانې کې بیا ۵۰٪ حیوانې تازه سره او ۵۰٪ د تحقیقاتي فارم د ځمکې خاوره مخلوط شوې (AM+S) وه. نوموړي ډیرانونه وخت په وخت اړول کیدل او د ضرورت مطابق به یې رطوبت د اوبو په علاوه کولو سره تنظمیده. وروسته د دریو میاشتو یا ۹۰ ورځو کمپوسټ پروسې څخه د یادې حیواني سرې درې واړه ډولونه د ارزښت ټاکلو لپاره په ګشنیز یا دانیا نبات (coriander) باندې و ازمایل شول.

په ګشنیز نباتاتو باندې د یادې سرې درې واړه ډولونه د کنترول (صفر مقدار) په شمول په څلورو مقدارونو کې ۵، ۱۰ او ۱۵ ټن په هکتار استعمال شوه(L0, L1, L2, L3) چې د کنترول په شمول ټول ټال ۱۰ ټرمنټونه او ۳ تکرار چې مجموعي ۳۰ تجربوي واحدونه تشکیلوي. د نوموړې تجربې لپاره تجربوي ډیزاین د خاورې فزیکي خواصو، جوړښت او تاریخچې ته په کتو د کامل تصادفي ((Complete Randomize Design (CRD) ډیزاین غوره شو. په ۱۵/۰۴/۲۰۱۹ نیټه باندې په تجربوي واحدونو (پلاټونو) کې سره واچول شوه او د خاورې سره مخلوط شوه. د سرې استعمال څخه وروسته درې ورځې بعد د ګشنیز تخم په قطار شکل په پلاټونو کې وکرل شو. د پلاټونو اندازه امکاناتو، نباتاتو او ساحې ته په کتو د څنګ پولو څخه علاوه ۵۰ سانتي متر ۵۰x سانتي متر (۲۵۰۰ سانتي متر مربع) ټا کل شوې وه.

د تخم کرلو څخه لس ورځې وروسته تخمونو ټوکیدنه شروع کړه او د پلان مطابق په هر ۱۵ ورځې بعد د نباتاتو قد (لوړوالی) اندازه اخیستل کیده. د تخم د کرلو څخه ۴۵ ورځې وروسته د مارکیټ په اندازه حاصل راټول او د محاسبې لپاره یې تازه وزن، وچ وزن، قد یا جګوالی او په نباتاتو کې د اوبو اندازه ګیري تر سره شوه.

ټوله محاسبه د احصايوي سافټ وير سټاټ ويو (Stat View, version 5.0.1) په اساس تر سره شوې ده.


۱- جدول

د کرنې پوهنځي د فارم ساحې د کرنيزې ځمکې د دوو ساحو د خاورې د غذايي عناصرو اندازه

| Location | Depth (Cm) | Texture Class | O.M | O.C | N | pH | EC | WHC | P | K | S | Fe | Mn | Zn | Cu |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | % | | | ds/m | ml/lit | | | | ppm | | | |
| A | 0-15 | Sandy Loam | 0.9 | 0.5 | 0.128 | 8.1 | 0.2 | 445 | 24.2 | 118.21 | 1.87 | 1.28 | 10.11 | 3.23 | 3.64 |
| B | 0-15 | Sandy Loam | 0.15 | 0.1 | 0.082 | 8.2 | 0.3 | 590 | 8.3 | 260.33 | 1.25 | 1.3 | 11.31 | 2.32 | 1.73 |


**د دنیا پر لوړ والي د مختلفو کمپوسټ شویو حیواني سرو اغېزې**

د تخم کرلو څخه ۱۵ ورځې وروسته د نباتاتو لوړوالی اندازه ګيري اخيستل شوې او تر حاصل اخيستلو پورې درې ځلې د لوړوالی اندازه ګيري تر سره شويده. لاسته راغلې نتيجه ښيي چې د نباتاتو په لوړوالي (قد) باندې ټولو درې واړه سرو مختلفو اندازو د پام وړ تاثير لرلی دی(۱- شکل). د نباتاتو قد یا لوړالی په کنترول ټرېټمنټونو کې یا په هغه پلاټونو کې چې په هغې کې حیواني سرې ندي کارول شوي د پام وړ ټیټ قد لري. د قدونو د درې واړو وختونو د ارقامو څخه څرګندیږي چې په هر ځلې لوړ قد په دوهم مقدار سرو یعنې ۱۰ ټنه په هکتار کې تر لاسه شوی او لاسته راغلي ارقامو ته په کتو حیواني سره + کمپوسټ (۵۰ ٪ حیواني سره + ۵۰٪ کمپوسټ) ښه تاثير درلودلی دی او اغظمي لوړ والی په یاد مقدار کې لاسته راغلی دی. برسيره پر دې د سرو د ټولو ډولونو زيات استعمال ۱۵ ټن په هکتار سره د نباتاتو لوړ والی کم شوی او تاثير يې په څر ګند ډول د دوهمې سطحې یعنې ۱۰ ټنه پر هکتار څخه کم شوی دی.




۱- شکل: پورته لاین ګراف کې د درې واړو سرو تاثیرات د ګشنیز نباتاتو په وده باندې ښودل شوی چې د نمونې ودې په جریان کې په درې بیلا بیلو وختنو کې یې اندازه ګیري صورت نیولې دی.

د داڼیا نباتاتو تازه حاصل ته که وکتل شي بیا هم څرګندیږي چې د نباتاتو په حاصلاتو باندې د حیواني سرې او کمپوسټ ګډ فکتور ښه تاثیر کړی(۲- شکل). د وریانس تحلیل په اساس په حاصل باندې ۱۰ ټن په هکتار سرې ښه اغیزه کړیده او د لسو ټنو څخه د سرې زیات استعمال په حاصل باندې منفي تاثیر کړی او په څرګنډ ډول حاصل کم شوی( ۲- جدول).
د داڼیا نباتاتو په وچ وزن باندې هم د سرې عین تاثیرات لیدل کیږي یعنې د حیواني سرې او کمپوسټ ګډ ټرټمنټ سره د نباتاتو وچ وزن هم زیات شوی او همدارنګه د سرو د مقدار په زیاتوالي سره حاصل زیات شوی(۳- شکل). خو دا زیاتوالی تر دوهمې سطحې (۱۰ ټن پر هکتار) پورې اعظمي حد ته رسیدلی او د دې اندازې څخه د حیواني سرو په زیاتوالي سره یې حاصل کم شوی. د نباتاتو په وچ وزن باندې د حیواني سرو تاثیر ګراف ته کتو معلومیږي چې د حیواني سرو او د خاورې ګډ ټرټمنټ(AM+S) په ټولو سطحو کې د نورو څخه د حاصلاتو اندازه کمه ده.




۲- شکل: پورته لاین ګراف کې د درې واړو سرو تاثیرات په مختلفو اندازو سره د ګشنیز نباتاتو په حاصل باندې د تازه یا لوند وزن په اساس ښودل شوی دی، L0, L1, L2 او L3 د سرو مختلفې اندازې دي.

شکل ۳ او ۴ ته په کتو د سرو مختلفې اندازې د نباتاتو په حاصلاتو باندې د پام وړ تاثیر لري، د سرو د مقدار زیاتولي سره د نباتاتو حاصل او قدونه زیاتیږي، خو دغه زیاتولی د یوه مناسب مقدار (۱۰ ټن په یوه هکتار کې) سره اعظمي حد ته رسیږي. کله چې د سرو مقدار د نوموړي حد څخه زیات شوی نو نباتاتو منفي عکس العمل ښودلی او حاصل یې کم شوی دی.





۳- شکل: پورته لاین ګراف کې د درې واړو سرو تاثیرات د ګشنیز نباتاتو په حاصل باندې د وچ وزن په اساس ښودل شوی دی.

## ۲- جدول

**د دانیا نباتاتو په حاصلاتو باندې د درې ډوله حیواني سرو او مختلفو اندازو تاثیر او د اوسطونو مقایسه**

| سرې او د هغوی سطحې | تازه حاصل Kg/ha | وچ حاصل Kg/ha | په نباتاتو کې د اوبو اندازه % |
|---|---|---|---|
| AM | | | |
| L0 | 1865.3 b | 364.0 c | 80.2 a |
| L1 | 3421.3 b | 945.3 b | 72.3 c |
| L2 | 7132.0 a | 1740.0 a | 75.3 b |
| L3 | 5510.7 a | 1256.0 b | 76.7 b |
| AM+C | | | |
| L0 | 1865.3 c | 364.0 c | 80.2 a |
| L1 | 4134.7 b | 909.3 b | 77.5 b |
| L2 | 9146.7 a | 1956.0 a | 77.8 ab |
| L3 | 4681.3 b | 926.7 b | 80.2 a |
| AM+S | | | |
| L0 | 1865.3 b | 364.0 b | 80.2 a |
| L1 | 3346.7 ab | 625.3 a | 82.0 a |
| L2 | 3950.7 a | 820.0 a | 79.5 ab |
| L3 | 3918.7 a | 742.7 a | 82.3 a |

د اوسطونو ترمنځ تفاوت د مختلفو تورو په اساس ښودل شوی او د متفاوتو تورو ترمنځ توپیر د احصایې په اساس څرګند ($p<0.05$) دی.




۴- شکل: پورته لاین ګراف کې د درې واړو سرو تاثیرات د ګشنیز نباتاتو د اوبو په مقدار باندې څرګندوي.

**مناقشه**

د حیواني سرو انکشاف او کمپوسټ درې واړو ډولونو استعمال څخه څرګندیږ چې د حیواني سرو کمپوسټ په پروسه کې د نور نباتي پاتې شونو علاوه کول ښه نتیجه لري.

لکه څرنګه چې په پورته نتایجو کې لیدل کیږي چې د زیاتو عضوي سرو استعمال د دانیا قد، لوندوزن او وچ وزن باندې منفي تاثیر کړی او حاصل یې کم کړی دی. له بله پلوه لوړ مقدار حاصل د حیواني سرو په درې واړو ډولونو کې د ۱۰ ټن په هکتار(L2) استعمال سره لاسته راغلی دی(۲-جدول). د ابراهیم پاك او ملګرو ( ۲۰۲۳) څیړنیزې مقالې نتایج ښیي چې د حیواني سرې او کمپوسټ زیات استعمال (۲۰ ټن په هکتار) د غنمو حاصلات د پام وړ کم کړي دي. همدارنګه د کادم(۲۰۲۱) د څیړنې نتایجو کې لیدل کیږي چې د وچوبې په مختلفو شرایطو کې د حیواني سرو استعمال ۱۰ ټن پر هکتار سره د دانیا نباتاتو ټولو برخو لکه: د پاڼو سطحې، د ریښو وچ وزن، لوند وزن او د پورته تنې لوند وزن د پام وړ وده او حاصل تولید کړی دی.

د عضوي سرو استعمال په خاورو کې د اوبو موثریت زیاتوي او د لاسته راغلو نتایجو په اساس د حیواني سرو کمپوسټ د خالص حیواني سرو په پرتله نباتاتو ته د زیاتو اوبو په برابرلو کې مرسته کوي[۸].

د حیواني سرو کمپوسټ کول د تازه استعمال په پرتله د څو لارو څخه ګټه لري لکه په تازه سرو کې د هر زه بوټو تخمونو انتقال زیات وي نسبت هغو ته چې کمپوسټ شوي وي. د تازه حیواني

سرې څخه د امونیم په شکل د نایتروجن فرار زیات وي او همدارنگه کچېرې تازه حیواني سرې فصلونو ته واچول شي نو د تجزې له امله د نباتاتو خرابیدو سبب هم گرځي [۲].

**اخري پایلې**

د پورته نتایجو څخه څرگندیږي چې د حیواني سرو انکشاف د نباتاتو په وده باندې مثبت تاثیر لري. دغې څېړنې او نورو څېړنو ثابته کړیده چې د حیواني سرو د لا ښه کیفیت لپاره د هغوی کمپوسټ کول اړین دی. همدارنگه د حیواني سرو کمپوسټ کولو سره د نباتي تجزیه شوو پاتې شونو گډول ډیره ښه پایله لري چې پدې اړه د مناقشې په برخه کې د نورو څېړنو نتایجو څخه هم یادونه شویده. علاوه لدې څخه د سرو مناسب استعمال سره د نباتاتو حاصلات لوړیږي، کچېرې سرې په کم مقدار سره استعمال شي حاصلات کمیږي او یا کچېرې په ډیر زیات مقدار سره استعمال شي نو بیا یې هم حاصل کمیږي. ځکه چې په کم مقدار سره یې استعمال د نباتاتو د اړتیا وړ غذایي مواد نشي برابرولی او په زیات مقدار سره یې استعمال امکان لري چې د نباتاتو لپاره زهري تمام شي. همدارنگه د سرو زیات استعمال د حاصل د کموالي سبب گرځي او هم د مصارفو زیاتیدو باعث گرځي. د پورته درې ډوله حیواني سرو له جملې څخه حیواني سرو او د کمپوسټ گډ ترټمنټ نورو دوو ته ښه نتیجه درلوده او همدارنگه لس ټنه پر هکتار د حیواني سرو استعمال په زړه پورې حاصل درلود. د دې لپاره چې د مختلفو حیواني سرو کمپوسټ کولو تاثیر په مختلفو نباتاتو، د خاورې په کیمیاوي او فزیکي خواصو باندې څرگند شي نوره وړاندې څېړنو ته هم اړتیا لیدل کیږي.

**سپارښتنې**

د دې څېړنې او نورو اړوند څېړنو پایلو ته په کتو سره، د کرنې اړوند سکتورونو او بزگرانو ته سپارښته کیږي چې د حیواني او نباتي پاتې شونو بیځایه غورځولو څخه ډډه وکړي، ځکه چې د چاپیریال ککړیدو سبب گرځي. کچېرې یاد پاتې شوني راغونډ او په منظم ډول د کمپوسټ پروسو څخه تیر شي، نو نه یوازې د چاپیریال د پاکوالي سبب گرځي، بلکې د خاورې حاصلخیزي او د نباتاتو د ښې ودې سبب هم گرځي. برسیره پردې، د حیواني سرو، کمپوسټ او نورو سرو استعمال باید د خاورې خواصو او د نباتاتو اړتیا مطابق تر سره شي. ځکه چې د سرو زیات استعمال د چاپیریا ککړتیا سبب گرځي او هم د حاصلاتو کمښت سبب گرځي. له بله خوا په کمه اندازه استعمال سره بیا اعظمي حاصلات لاسته نه راځي. نو تجربو او څېړنو ته په کتو د سرو متواسط استعمال زیات گټور دی.

**ماخذونه**


۱. Ban-Nai T, Muramatsu Y, Yanagisawa K. Transfer factors of some selected radionuclides (radioactive Cs, Sr, Mn, Co and Zn) from soil to leaf vegetables. Journal of radiation research. 1995 Jun 1;36(2):143-54.

٢. Barker AV. Science and technology of organic farming. CRC press; 2010 Apr 5:81-103

٣. Drebee HA, Abdul-Razak NA. The impact of corruption on agriculture sector in Iraq: econometrics approach. InIOP Conference Series: Earth and Environmental Science. IOP Publishing. 2020 Aug 1 (Vol. 553, No. 1, p. 012019).

٤. Ebrahimipak N, Omidvari S, Abdi S. Effect of organic fertilizer and nitrogen levels on plant growth characteristics in Wheat-Corn rotation. Water and Soil Management and Modeling. 2023;3(3):108-19.

٥. Kadhim AJ. Effect of biofertilizers and animal manure on morphophysiological characteristics and amount of coriander (Coriandrum sativum L.) essential oil under drought stress conditions. InIOP Conference Series: Earth and Environmental Science. IOP Publishing. 2021 Apr 1 (Vol. 735, No. 1, p. 012047)

٦. Larney FJ, Sullivan DM, Buckley KE, Eghball B. The role of composting in recycling manure nutrients. Canadian Journal of Soil Science. 2006 Aug 1;86(4):597-611.

٧. Moradi A. Inventory of Iran Greenhouse Gas Emissions in 2010. Science Cultivation. 2012 Dec 21;3(1):55-9.

٨. RAHİMİ A, GİTARİ H, LYONS G, HEYDARZADEH S, TUNÇTÜRK M, TUNÇTÜRK R. Effects of vermicompost, compost and animal manure on vegetative growth, physiological and antioxidant activity characteristics of Thymus vulgaris L. Under water stress. Yuzuncu Yıl University Journal of Agricultural Sciences. 2023 Mar 3;33(1):40-53.

٩. Ross SM. Organic matter in tropical soils: current conditions, concerns and prospects for conservation. Progress in physical geography. 1993 Sep;17(3):265-305.

١٠. Tiquia SM, Richard TL, Honeyman MS. Carbon, nutrient, and mass loss during composting. Nutrient cycling in Agroecosystems. 2002 Jan;62:15-24.

# د کاربونیل گروپ د تراکمي تعاملاتو د میکانېزم څېړل

پوهنمل دکتور غلام اقبال مرستیال او پوهنیار نورالله حسین خېل شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی د کیمیا څانگې استادان
ایمل ادرس: iqbalmarastial1982@gmail.com

**لنډیز**

هغه تعاملات چې، په دې مقاله کې ور باندې بحث کیږي یو له ډېرو مهمو طریقو او کړنلارو څخه دي، چې پکې د کاربن-کاربن ترمنځ نوې اړیکه تشکیلیږي، نن ورځ له دغو تعاملاتو څخه په عضوي سنتیز کې او همدارنگه په ورځني کیمیاوي صنعت کې په پراخه پیمانه استفاده کیږي دغه تعاملات عبارت دي له: الدولي تراکمي تعامل، د رابینسون د حلقې جوړونې تعامل، د کلایزن تراکمي تعامل، د دیکمن تراکمي تعامل، د مایکل جمعي تعامل، د دارزن تراکمي تعامل او داسې نورمهم تعاملات په دې مقاله کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. د دغو ټولو تعاملاتو د میکانیزم اساس د یو نیوکلوفیل کاربن تعامل له یو کاربونیل گروپ سره دی یعني تعامل د یو نیوکلوفیلي حملې په واسطه شروع کیږي دلته د جدا شوي محصول نوعه او اهمیت په نیوکلوفیل کاربن باندې په وصل شوی معویض (z) او همدارنگه د a او b په معویضو پورې، چې په کاربونیل گروپ باندې وصل دي اړه لري او په همدې ترتیب د تعامل په کړنلاره او طریقې پورې هم تړاو لري. څلور اساسي عملیې د دغو تعاملاتو په جریان کې منځ ته راتلای شي، چې په لاندې ډول سره یې مطالعه کوو. یعنې نیوکلوفیلي کاربن کیدلای شي، چې یو الدولي تعامل سرته ورسوي او بیتا هایدروکسي الکایل کیتون ورڅخه په لاس راشي لکه د A مسیر چې د B په مسیر کې د اسایلیشن عملیه سرته رسوي په هغه کې یو گروپ له کاربونیل گروپ لرونکي الکتروفیل څخه تفریق کیږي، همدارنگه د ویتیگ او هغه ته ورته تعاملاتوکې محصول مواد چې، اکسیجن لري د z له معویض سره تعامل کوي او یو حذفي محصول منځ ته راځي لکه د c په مسیرکې او همدارنگه د d مسیر ښیي که چیرې اینولیټ مرکبات د الفا په موقعیت کې یو تفریق کیدونکی وظیفوي گروپ ولري، نو دلته بیا حلقه جوړونه صورت نیسي.

**کلیدي کلمې:** اینولیشن، الدولیشن، تراکمي تعاملات، دارزن تعامل، دیکمن تعامل.

**سریزه**

الحمدالله رب العالمین والصلات والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وعلی اله و اصحابه اجمعین اما بعد:

عموماً تراکمي الدولي تعامل د الدیهاید- الدیهاید یا الدیهاید- کیتون او یا کیتون-کیتون تر منځ صورت نیسي د دغه ډول تعاملاتو کّلي میکانیزم په څلورو مرحلوکې صورت نیسي په لومړۍ

مرحله کې یوکاربونیل گروپ لرونکی مرکب کیتون یا الدیهاید په اینولیټ آیون باندې بدلیږي، په دوهمه مرحله کې دغه تولید شوی کاربو انیون د اینولیټ آیون له یو کاربونیل گروپ سره نیوکلوفیلي تعامل سرته رسوي، په دریمه مرحله کې د هایدروجن انتقال صورت نیسي په څلورمه مرحله کې محیط په کمه اندازه تیزابي کیږي او د دیهایدریشن عملیه صورت نیسي. په نتیجه کې نهایي محصول الفا-بیتا غیر مشبوع کیتونونه ورڅخه په لاس راځي، یعني په دغه عملیه کې دوه ډوله مهم محصولات په لاس راځي لومړی الفا هایدروکسي کیتون، چې د دریمې مرحلې محصول دی او الفا- بیتا غیر مشبوع کیتون چې د آخري مرحلې محصول دی په لاس راځي(۱،ص.۱).

یو بل مهم تعامل، چې په دې مقاله کې ور باندې بحث شوی ده هغه مزدوج یا کا نجوگیټ جمعي تعامل ده، چې یو نیوکلوفیل کاربن یې له بل الکتروفیل کاربن سره، چې په خپل جوړښت کې دوه گونې یا دریگونې اړیکه ولري سرته رسوي او شرط پکې داده، چې الکتروفیل جز د دغه تعامل چې الکین یا الکاین دی حتماً د یو الکترون کشوونکي معویض درلودونکی وي لکه د اینولیټ مرکباتو تعامل د الفا بیتا غیر مشبوع مرکباتو سره(۲،ص. ۵).

هغه تراکمي تعامل، چې په داخل د مالیکولونوکې د دوه ایستري گروپونو تر منځ صورت نیسي د دیکمن د تعامل په نوم سره یادیږي، او د حلقې د تشکیل سبب، کیږي چې په نتیجه کې بیتا کیتو ایسترونه په لاس راځي د دیکمن او کلایزن تراکمي تعامل ترمنځ فرق دا ده، چې د دیکمن په تراکمي تعامل کې یو ایتوکسي یا اریلوکسي گروپ تفریق کیږي وروسته حلقوي کاربونیل مرکبات په لاس راځي اما د کلایزن په تراکمي تعامل کې عیني دوه ایستري مالیکولونه سره متراکم کیږي او ځنځیري بیتا کیتو ایسترونه ورڅخه په لاس راځي د دیکمن تراکمي تعامل کلي میکانزم هم په دغې مقاله کې څیړل شوی دی. د کاربن-کاربن د نوې اړیکې تشکیل، چې په ورځني ژوند کې د مختلفو بیولوژیکي او صنعتي محصولاتو لپاره ډیره مهمهکړنلاره ده یو له هغو څخه د مایکل جمعي تعامل ده. په دغه تعامل کې لومړی نیوکلوفیلي کاربن تشکیلیږي بیا د دغه نیکلوفیلي کاربن جمعي تعامل له الفا- بیتا غیر مشبوع کاربونیل مرکباتو لکه ایسترونو، کیتونونو او الدهایدونو سره د مایکل د تعامل په نوم یادیږي، د دغه تعامل د سرعت زیاتوالی د الکتروفیل جز په ماهیت پورې اړه لري یعنې که چیرې دوه گونې کانجوگیټ اړیکې د ځینو الکترو نیگاتیف گروپو په واسطه فعاله شي یعنې الکتروفیل خاصیت یې زیات شي د نیکلوفیل تعامل سرعت ورسره زیاتیږي لکه د نایترو، سیانو، سلفونیل او داسې نورو گروپو شتون د دوه گونې اړیکې په څنگ کې د دغې اړیکې د الکتروفیلي خاصیت د زیاتیدو باعث کیږي(۳،ص. ۱۰).

**موخې**

- د کاربونیل گرږپ د تراکمي تعاملاتو د میکانیزم بیانول.
- د کلایزن او دیکمن تراکمي تعامل د توپیرونو پیژندل.
- د کاربن-کاربن تر منځ د نوې اړیکې د تشکیل د میتودونو توضیح کول.


– د کاربونیل گروپ په تراکمي تعاملاتو باندې د تیزابي او القلي کتلوستونو د تاثیراتو څېړل.

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه په ۱۴۰۲ کال کې تر سره شوې ده د څېړنې ډول یې کتابتوني ده چې تقریباً د ۱۰ هغو مقالو څخه ېکې استفاده شوې ده چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونوکې خپرې شوي دي او همدارنگه د معتبرو علمي معیاري کتابونو څخه هم ېکې گټه اخیستل شوې ده. پدې لیکنه کې چې له کومو څړنوڅخه استفاده شوې ټولې یې د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۲۳ میلادي کالونو منځ کې خپرې شوي دي او د نړۍ په زیاتو پر مختللو هیوادونوکې سرته رسیدلي دي پورته څېړنې په مختلفو انترنیټي سایټونولکه:Scopus, Web of Science, Scien Direct, Google Scholar او داسې نورو کې د کلیدي کلیمو Doi نمبر عنوانونو او نورو مشخصاتو پر اساس پلټل شوې دي او د کاربونیل گروپ د تراکمي تعاملاتو په اړه معلومات را ټول او تحلیل شوي دي، چې د مسلک مینوالوته به د یوې چاپ شوې مقالې په توگه وړاندې شي.

**د کاربونیل گروپ تراکمي تعاملات**

ټول هغه عضوي مرکبات چې په خپل ترکیب کې د کاربونیل گروپ ولري، نسبت نورو معمولي مرکباتو ته ښه کیمیاوي تعاملات سرته رسوي دا ځکه چې کاربونیل گروپ همیشه یو قوي الکترونیگاتیف عنصر په خپل مالیکولي جوړښت کې لري او همدارنگه د دغه گروپ الکترونیگاتیف خاصیت د$SP^2$ هایبریډ په درلودلو سره زیات ده چې په دې ډول دغه الکترونیگاتیف خاصیت د کاربونیل گروپ د همسایه اتومونو د فعالیت باعث هم کیدلای شي چې بلآخره مختلف نور عضوي مرکبات ورڅخه په لاس راځي، د کاربونیل گروپ د تراکمي تعاملاتو عمومي شکل په لاندې ډول ده(۴،ص. ۱۴).






$Z = X\overset{O}{\overset{\|}{C}}- ,\ N\equiv C\ ,\ O_2N- ,\ RO_2S- ,\ Ph_3\overset{\oplus}{P}- ,\ (RO_2)\overset{O}{\overset{\|}{P}}- ,\ (CH_3)_2\overset{\oplus}{S}-$

(۱– شکل): د کاربونیل گروپ د تراکمي تعاملاتو مختلف محصولات ښودل شوي دي.

## د الدول جمعي تراکمي تعامل

عموماً تراکمي الدولي تعامل د الديهايد- الديهايد يا الديهايد کيتون او يا کيتون کيتون تر منځ صورت نيسي د دغه ډول تعاملاتو کلي ميکانيزم په څلورو مرحلوکې صورت نيسي په لومړۍ مرحله کې يوکاربونيل گروپ لرونکی مرکب کيتون يا الديهايد په اينوليټ آيون باندې بدليږي، په دوهمه مرحله کې دغه توليد شوی کاربو انيون د اينوليټ آيون له يو کاربونيل گروپ سره نيوکلوفيلي تعامل سرته رسوي، په دريمه مرحله کې د هايدروجن انتقال صورت نيسي او لآخره په څلورمه مرحله کې محيط په کمه اندازه تيزابي کيږي او د ديهايدريشن عمليه صورت نيسي په نتيجه کې نهايي محصول الفا-بيتا غير مشبوع کيتونونه ورڅخه په لاس راځي، يعني په دغه عمليه کې دوه ډوله مهم محصولات په لاس راځي لومړی الفا هايدروکسي کيتون چې د دريمې مرحلې محصول ده او الفا- بيتا غير مشبوع کيتون چې د آخري مرحلې محصول ده په لاس راځي د دغه ډول تعاملاتو لپاره لاندې ميکانيزم وړانديز شوی ده(۵،ص. ۸).





(۱- شيما). د يو کاربونيل گروپ د تراکمي تعامل ميکانيزم ښيي

## په الدولي تعامل کې له کاربونیل ګروپ سره د نیوکلوفیل تعامل کنترول


وروسته له دې چې یوکاربونیل ګروپ په نیوکلوفیل کاربن باندې تبدیل شي او له بل کاربونیل ګروپ سره تعامل وکړي، نو یوه نوې د (-C-C-) اړیکه منځ ته راځي.

دلته یو شمیر قوانین او اصول شتون لري، چې نیوکلوفیل کاربن د کاربونیل ګروپ په کوم کاربن باندې وصل شي دې ته د الدولي تعامل کنترول ویل کیږي، دغه قوانین او اصول عبارت دي له:


۱- د معادل هایدروجن پیداکول: یعني کله چې په یوکاربونیل ګروپ کې یو ډول هایدروجنونه وجود ولري فرق نکوې چې نیوکلوفیل کاربن په هرکاربن باندې وصل شي لکه:




۲- د تیزابي هایدروجن پیداکول: د تیزابي هایدروجن پیداکول په دې معنی چې په یوکاربونیل ګروپ کې د القلي په واسطه هغه هایدروجن جذبیږي چې تر ټولو زیات تیزابي خاصیت ولري او بیا په مربوطه کاربن باندې الکتروفیل جز وصل کیږي لکه:




۳- د فعاله کاربونیل ګروپ انتخاب: که چیرې د تعامل په محیط کې کیتون او الدیهاید دواړه شتون ولري په القلي محیط کې هایدروجن له کیتون څخه جلا کیږي لکه:






۴- کنيتيکي او ترمو ديناميکي کنترول: په کنيتيکي کنترول کې د هايدروجن جلا کيدنه د کاربونيل ګروپ له هغه کاربن څخه صورت نيسي چې هلته فضائي دافعه کمه وي(۶،ص. ۳).




## داخلي ماليکولي الدولي تعاملات او د رابينسون حلقه جوړونه

هغه دوه کاربونيل لرونکي مرکبات چې د کاربونيل ګروپونه په مناسبو موقعيتونوکې ولري نو دلته داخلي الدولي ترا کمي تعامل سرته رسيږي او حلقه جوړونه منځ ته راځي د غه تعامل په کتابونوکې د رابينسون حلقه جوړونې په نامه سره هم ياديږي لکه(۷،ص. ۳).




۴،۱- ډای کيتون مرکبات کيدلای شي دوه ډوله حلقه جوړيدنه منځ ته راوړي، اول دا چې که چيرې د القلي په واسطه د يوکاربونيل ګروپ د ميتايل معويضې څخه يو هايدروجن جداشي نو دغه نيوکلوفيل په بل کاربونيل ګروپ حمله کوي او يو پنځه ضعلي غير مشبوع مرکب ورڅخه په لاس راځي لکه د A مسير او که چيرې د دوه کاربونيل ګروپو تر منځ هايدروجن جلا شي توليد شوی نيوکلوفيل د مرکب په يو کاربونيل ګروپ حمله کوي او يو درې ضلعي غير مشبوع حلقه منځ ته راځي دغه حالت ډير غيرثابت حالت ده لکه د B مسير(۸،ص. ۱۴).





(۲– شکل): د رابینسون حلقه جوړونې دوه ډوله مختلف محصولات

## د کلایزن او دیکمن تراکمي تعامل

د اسایلیشن یو لوی گروپ تعاملات د استرونو اسایلیشن ده چې په هغوکې یو تفریق کیدونکی گروپ الکوکساید یا اریلوکساید ده د استرونو خپل منځي تراکم د کلایزن د تعامل په نوم یادیږي د مثال په ډول ایتایل استیتو استیات د کلایزن د تعامل په واسطه په ایتایل استیات باندې بدلیږي، د دغو تعاملاتو هره مرحله یو رجعي تعامل ده کلي میکانیزم د کلایزن تعامل په لاندې ډول ده.





د کلایزن تراکمي تعامل د مختلفو استرونو تر منځ هم صورت نیسي چې د Mixed Claisen په نوم هم یادیږي لکه( ۹،ص. ۴).





## دیکمن تراکمي تعامل

هغه تراکمي تعامل چې په داخل د مالیکولونوکې د دوه ایستري گروپونو تر منځ صورت نیسي د دیکمن د تعامل په نوم سره یادیږي او باعث د تشکیل د حلقې کیږي چې په نتیجه کې بیتا کیتو ایسترونه په لاس راځي د دیکمن او کلایزن تراکمي تعامل ترمنځ فرق دا ده چې د دیکمن په تراکمي تعامل کې یو ایتوکسي یا اریلوکسي گروپ تفریق کیږي وروسته حلقوي کاربونیل مرکبات په لاس راځي اما د کلایزن په تراکمي تعامل کې مشابه دوه ایستري مالیکولونه سره متراکم کیږي او ځنځیري بیتا کیتو ایسترونه ورځخه په لاس راځي د دیکمن تراکمي تعامل کلي میکانزم په لاندې ډول ده(۱۰،ص. ۷).





د دیکمن تعامل ځینې نور مهم مثالونه په ترتیب سره په لاندې ډول ښودل شوي دي.





## د مايکل جمعي تعامل


د کاربن-کاربن نوې اړيکې تشکيل چې په ورځني ژوند کې د مختلفو بيولوژيکي او صنعتي محصولاتو لپاره ډير مهم روش ده يو له هغو څخه د مايکل جمعي تعامل ده. په دغه تعامل کې لومړی نيوکلوفيلي کاربن تشکيليږي بيا د دغه نيکلوفيلي کاربن جمعي تعامل له الفا- بيتا غير مشبوع کاربونيل مرکباتو لکه ايسترونو، کيتونونو او الدهايدونو سره د مايکل د تعامل په نوم ياديږي، د دغه تعامل د سرعت زياتوالی د الکتروفيل جز په ماهيت پورې اړه لري يعنې که چيرې دوه گونې کانجوگيټ اړيکې د ځينو الکترو نيگاتيف گروپو په واسطه فعاله شي يعنې الکتروفيل خاصيت يې زيات شي د نيکلوفيل تعامل سرعت ورسره زياتيږي لکه د نايترو، سيانو، سلفونيل او داسې نورو گروپو شتون د دوه گونې اړيکې په څنگ کې د دغې اړيکې د الکتروفيلي خاصيت د زياتيدو باعث کيږي، د مايکل تعامل کلي ميکانزم په لاندې ډول ده(۱۱،ص. ۴).





پورته شیما د مایکل جمعي تعامل میکانیزم ښیي

د مایکل جمعي تعامل درې ډوله مختلف مثالونه په لاندې ډول دي.







1, 



2, 


3, 


یعني د مایکل په تعامل کې دوه اساسي تعامل کوونکي مواد یعني الکترون منونکي او الکترون ورکوونکي شتون لري په لاندې جدول کې د دغو موادو ځنې نمونې ښودل شوي دي.


(۱) جدول: د مایکل تعامل لپاره منوونکي او الکترون ورکوونکي گروپونه

| Micael acceptor | | Miceal donors | |
|---|---|---|---|
|  | Propenal |  | β-ketone |
|  | 3-Butene -2- One |  | β- keto ester |
|  | Ethyl propenoate |  | Diethyl malonate |





## د کاربونيل گروپ تراکمي تعامل د اين آمين له ايون سره ( ستورك تعامل)

د اينوليټ مرکباتو يو بل ډول نيوکلوفيلي تعامل هغه د اين آمين اينوليټ تراکمي تعامل ده له کاربونيل گروپ سره د دغه تعامل ميکانيزم په دې ډول ده چې لومړى يو کيتون مرکب د دوهمي امين سره متراکم کيږي او اين امين جوړوي بيا دغه اين آمين مرکب د کاربونيل گروپ يا د الفا– بيتا غير مشبوع مرکباتو سره تراکمي تعامل سرته رسوي او بلآخره ډاى کيتون مرکبات ورڅخه په لاس راځي لکه(۱۲،ص. ۱۱).






Cyclohexanone Pyrrolidine

يعني پورته تعامل ته په کتو سره يوکاربونيل او بل آمين گروپ دواړه کولاى شي چې په يو نيوکلوفيل باندې تبديل شي، او له بل کاربونيل گروپ سره نيوکلوفيلي جمعي تعامل سرته ورسوي لکه(۱۳،ص. ۱۱).



یعني په پورته نیوکلوفیلیک کاربن کې د هغه کاربن نیوکلوفیلي خاصیت زیات ده چې له کاربونیل
گروپ څخه منځ ته راځي او هغه نیوکلوفیل کاربن چې د این آمین څخه منځ ته راځي د نایتروجن
په اتوم د مثبت چارج له کبله ضعیف نیوکلوفیلي خواص لري( ۱۴،ص. ۲۱).






## د الفا هلو ایسترونو جمعي نیوکلوفیلي تعامل له کاربونیل گروپ سره(دارزن تعامل)


د غه تعامل چې د ایپوکسایدونو د تولید لپاره یوه قدیمي طریقه ده کولای شو چې مختلف ډوله
ایپوکسایدونه ورڅخه په لاس راوړو میکانزم د تعامل یې په دې ډول ده چې لومړی هلو ایسترونه
په اینولیټ مرکباتو باندې بدلیږي او په کاربونیل گروپ باندې نیوکلوفیل حمله کوي څرنگه چې
دغه اینولیټ په خپل ترکیب کې د الفا په موقعیت کې یو تفریق کیدونکی د هلوجن اتوم لري نو
د اینولیټ منفي چارج لرونکی اکسجن په دغه کاربن باندې حمله کوي او حلقه جوړونه صورت
نیسي( ۱۵،ص. ۶۷).

همدارنګه د پورته میکانیزم په څیر د دارزن د تعامل ځینې نور مثالونه په ترتیب سره په لاندې ډول لیکل شوي دي[۷].



## د مانیخ تعامل (Mannich Reaction)


د داسې یوکاربونیل ګروپ تراکمي تعامل د ایمینیوم له ایون سره چې د اینولیشن قابلیت ولري د مانیخ د تعامل په نوم سره یادیږي، دغه تعامل زیات وخت د فارملدیهاید په واسطه صورت نیسي چې د الفا په موقعیت کې د کاربونیل ګروپ سره یو ډای الکایل امینو میتایل معویض اضافه کیږي لکه.




دلته الکتروفیل جز په احتمالي ډول د آمین او فارملدیهاید له تعامل څخه په محیط د تعامل کې تولیدیږي لکه:

$$CH_2 = O + NH(CH_3)_2 \rightleftharpoons HOCH_2 - N(CH_3)_2 \overset{\oplus}{\underset{H}{\rightleftharpoons}} CH_2 = \overset{\oplus}{N}(CH_3)_2$$

دغه شکل معمولاً له دوهمي آمین سره محدود کیږي ځکه له اولي آمین سره کیدلای شي د ډای الکایلیشن تعامل اجرا کړي د ډای الکایلیشن له تعامل څخه کولای شو د حلقې تړلو لپاره استفاده وکړو.



د مانیخ او هغه ته ورته نورو مشابه تعاملات د زیاتو بیولوژیکي او طبیعي نایتروجن لرونکو موادو د سنتیز اساس جوړوي لکه د تروپین الکالوئید سنتیز د دغه تعامل په واسطه په لاندې ډول صورت نیسي( ۱۶،ص. ۷۶).



**پایله**

د دغې مقالې په نتیجه کې ویلای شو ټول هغه صنعتي مواد، چې ترکیب یې عضوي وي سخت او کلک شکل ولري دغه مواد د تراکمي تعاملاتو په نتیجه کې منځ ته راغلي دي،یعني دلته د کاربن-کاربن تر منځ نوې اړیکه د خورا زیات فشار حرارت او کتلستونو په شتون کې منځ ته راغلې ده. د دغو ټولو تعاملاتو د میکانیزم اساس د یو نیوکلوفیل کاربن تعامل له یو کاربونیل ګروپ سره ده یعني تعامل د یو نیوکلوفیلي حملې په واسطه شروع کیږي، عموماً تراکمي الدولي تعامل د الدیهاید- الدیهاید یا الدیهاید کیتون او یا کیتون کیتون تر منځ صورت نیسي د دغه ډول تعاملاتو کلي میکانیزم په څلورو مرحلو کې صورت نیسي په لومړۍ مرحله کې یو کاربونیل ګروپ لرونکی مرکب کیتون یا الدیهاید په اینولیټ آیون باندې بدلیږي، په دوهمه مرحله کې دغه تولید شوی کاربو انیون د اینولیټ آیون له یو کاربونیل ګروپ سره نیوکلوفیلي تعامل سرته رسوي، په دریمه مرحله کې د هایدروجن انتقال صورت نیسي او لآخره په څلورمه مرحله کې محیط په کمه اندازه تیزابي کیږي او د دیهایدریشن عملیه صورت نیسي په نتیجه کې نهایي محصول الفا-بیتا غیر مشبوع کیتونونه ورڅخه په لاس راځي، یعني په دغه عملیه کې دوه ډوله مهم محصولات په لاس راځي لومړی الفا هایدروکسي کیتون چې د دریمې مرحلې محصول ده او الفا- بیتا غیر مشبوع کیتون چې د آخري مرحلې محصول ده په لاس راځي.

هغه تراکمي تعامل چې په داخل د مالیکولونو کې د دوه ایستري ګروپونو تر منځ صورت نیسي د دیکمن د تعامل په نوم سره یادیږي، او باعث د تشکیل د حلقې کیږي چې په نتیجه کې بیتا کیتو ایسترونه په لاس راځي د دیکمن او کلایزن تراکمي تعامل ترمنځ فرق دا ده چې د دیکمن په تراکمي تعامل کې یو ایتوکسي یا اریلوکسي ګروپ تفریق کیږي وروسته حلقوي کاربونیل مرکبات په لاس راځي اما د کلایزن په تراکمي تعامل کې عیني دوه ایستري مالیکولونه سره

متراکم کیږي او څنځیري بیتا کیتو ایسترونه ورځخه په لاس راځي په نتیجه کې ویلای شو د کاربونیل گروپ تراکمي تعاملات د القلي او تیزابي کتلست دواړو په موجودیت کې صورت نیولای شي خو مناسب محصول یې هغه محصول ده چې د القلي کتلست په نتیجه کې منځ ته راغلی وي.

**وړاندیزونه**

۱- د پوهنتون رهبري ته مو وړاندیز دا ده چې د ښوونې او روزنې پوهنځی د کیمیا، بیولوژي او فزیک څانگو لابراتوارونه دې غني شي.

۲- د پوهنتون عمومي کتابتون ته دې معیاري او نوي کتابونه واخستل شي، تر څو استادان او محصلین د خپلو تحقیقاتو په برخه کې ور څخه استفاده وکړي.

۳- د شیخ زاید پوهنتون د علمي تحقیقاتو او مجلې محترم معاونیت ته مو وړاندیز دا دی، چې د نړیوال ژورنال د جواز اخیستلو په برخه کې دې خپلې هڅې گړندۍ کړي.

**ماخذونه**

[۱] D. Wang and D. Astruc, (2014) Chem. Rev., 114:6949–6985.

۲- کیومرث، بهرامي.(۱۳۹۰). تکنیک نوشتن مکانیسم واکنش ها در شیمي آلی، کرمان شاه: انتشارات دانشکاه رازی

۳- آصفي، امرالله.(۱۳۹۹). عضوي کیمیا الیفاتیک برخه، خوست: قریشي مطبعه.

[4] Z. Ma, B. Moulton, Recent advances of discrete coordination complexes and coordination polymers in drug delivery, Coord. Chem. Rev., 255 (2011) 1623-1641.

[5] Y. Fu, Y. Chen, R. Huang, Z. Ding, X. Fu, et al., An Amine-Functionalized Titanium Metal–Organic Framework Photocatalyst with Visible- Light-Induced Activity for CO2 Reduction, Angew Chem Int Ed, 51 (2012) 3364-7.

[6] M. Dabiri, P. Salehi, S. Otokesh, M. Baghbanzadeh, G. Kozehgary, and A.A. Mohammadi, (2005) Tetrahedron Lett., 46:6123–6126.

[7] M.G. Dekamin, S. Ilkhanizadeh, Z. Latifidoost, H. Daemi, Z. Karimi, and M. Barikani, (2014) RSC Adv., 4:56658–56664.

[8] S.i. Noro, S. Kitagawa, T. Nakamura, Coordination polymers constructed from transition metal ions and organic N-containing heterocyclic ligands: Crystal structures and microporous properties, Prog Polym Sci, 34 (2009).

[9] N.A. Khan, S.H. Jhung, Adsorptive removal of hazardous materials using metal-organic frameworks (MOFs): A review, J Hazard Mater, 244–245
(2013) 444-56.

[10] S.R. Batten, S.M. Neville, D.R. Turner, Coordination Polymers: Design, Analysis and Application: The Royal Society of Chemistry; 2009.

۱۱- هروی، مجید.(۱۳۹۹). واکنش ها وسنتز، تهران: انتشارات ترجمان خرد.

# په نړیوالو سیاستونوکې تعارض

پوهنمل محمد شاهد د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد
پوهنمل عرفان د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد
بریښنالیک: mohammadshahed792@gmail.com
بریښنالیک: Irfanwazir789@gmail.com

**لنډیز**

د دې څېړنیزې مقالې څانګړی او خاص تمرکز په نړیوالو سیاستونوکې د دولتونو ترمنځ په تعارض باندې دی. په دې څېړنه کې هڅه شوې ده، چې د تعارض تعریف، د تعارض معنا او مفهوم، د تعارض جوړښتونه، د تعارض اړخونه، د تعارض موقعیت او په نړیوال نظام کې د تعارض علتونه وڅېړل شي. همدارنګه هغه اجتماعي، سیاسي او نړیوال بدلونونه چې په نړیواله سطحه رامنځ ته شوي او د تعارض سبب ګرځېدلي دي څېړل شوي دي. ترڅنګ یې د دې حوزې د ځینو پوهانو لید لوري او نظرونه چې د تعارضاتود عواملو په اړه وړاندې کړې ذکرشوی او د هغه وضعیت یادونه هم شوې ده، چې په هغه باندې د دولتونو ترمنځ تعارضات رامنځ ته کیږي او په نړیواله سطحه د هغوتعارضاتو یادونه شوې ده، چې دولتونه یې د خپلو اهدافو لپاره کاروي. لکه: ډیپلوماتیک تهدیدات، تبلیغات، نظامي تهدیدات، مجازات او داسې نور. د دولتونو ترمنځ د اختلافاتو لپاره عوامل او بدلونونه چې هر وخت، اوضاع او نړیوالو غوښتنو ته په توجو بعضې وخت د عواملو او موجوده انګیزو ترکیب او په دې مواردوکې دا معیارونه د نورو څخه زیات د سیاسي واحدونو ترمنځ د شخړو اوجنګونو په منځ ته راتلوکې مؤثرګنل کیږي. په ساده الفاظو باید ولیکو چې په نړیواله سطحه تعارضات هغه وخت رامنځ ته کیږي چې افراد،ګروپونه اویا دولتونه د یوطرف په مقابل کې د نا مناسبو اقداماتو او غیرګونونو غوښتونکي شي.

**کلیدي کلیمې:** اقتصادي رقابتونه، انساني بدلونونه، د تعارض جوړښتونه، د تعارض معنی، د ملي ګټو په سر تعارض

**سریزه**

الحمدالله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدنا ونبینا محمد وعلی اله واصحابه اجمعین امابعد:

دولتونه په عام ډول دکورنیو او بهرنیو شخړو او د سیمه ییزو غبرګونونو سره مخ وي. د نظام بېلابېل، فکري، فرهنګي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مسایل د حاکم نظام او هېوادونو لپاره د توجه وړمسایل دي، چې د نورو لویو او وړو سیاسي واحدونو سره تعامل او همپالنې ته هم د

بېلوالي او مخالفت انګیزه د ملي حاکمیت د نظام په لویه او واړه سطحه یا د همغه نړیوال نظام د شعاع لاندې نیسي.
د ملي لیډلوري څخه ور هغه خوا هغه حلقې چې پر دولتونو باندې حاکمې دي او هغه څه چې د منلو وړدي دا دي، چې دولتونه د خپل ژوند په اوږدوکې په داخلي نظام او همدارنګه په نړیوال نظام کې د سیاسي واحدونو سره په هم غږۍ یا مخالفت کې د خپلو حداکثرغوښتنو د ترلاسه کولو او د حداقل ګټو له لاسه ورکولو غوښتونکي وي. هغه څه چې د دولتونو د حد اکثرغوښتنو ترلاسه کولو لپاره لار هواروي، د دیپلوماسي په عمومي حوزه پورې اړه لري. چې خپلوغوښتنو ته د رسیدو لپاره یوه سوله‌ییزه لاره غوره کیږي. د دې حوزې بله لار قهرجنه او نظامي لار ده، چې دولتونه یې د خپلوغوښتنو د ترلاسه کولو لپاره د ارزیابۍ لاندې نیسي. ولې هغه څه چې زمونږ له نظره مهم دي؛ د ډیپلماتیکې حوزې نه پرېکول او د قهرجنو اقداماتو نه ارزول دي. د دې تعارضاتو عوامل او د هغوعناصرو ارزونه اوهغه ناحیې چې ممکن دولتونه د هغې پرسر جنجالونه رامنځ ته کړي او د بحران سبب وګرځي د بحث لاندې نیسو او پدې برخه کې د دې حوزې د ځینو پوهانو لیدلوري چې نظرونه یې د سیاسي او ایډلوژیکي نظام په رامنځ ته کېدوکې مؤثردي، واضح کړو.

**د لیکنې موخې**

د دې څېړنې موخه دا ده چې په نړېواله سطحه په نړېوالو سیاستونو کې تعارض وپېژندلی شي، له بله اړخه به په ضمني ډول د دغه څېړنې په ترسره کېدو سره دا هم ښکاره شي، چې په نړیواله سطحه په کومو برخوکې تعارض د دولتونو ترمنځ رامنځ ته کیږي او د دې ترڅنګ به په نړیواله سطحه د تعارض علتونه هم واضح شي.

**د لیکنې اهمیت**

په نړېوالو سیاستونوکې تعارض د نړۍ د سیاسي مسایلو د جملې څخه یوه مهمه موضوع ده، نو لازمه ده، ترڅو د دولتونو ترمنځ په هغه مسایلو باندې په کلُي ډول لیکنه ترسره شي، چې د دولتونو ترمنځ د تعارضاتو سبب ګرځي. د دې لیکنې د اهمیت یوه بل اړخ دا ښکاره کوي، چې د مسلک اړوند اشخاص به یې په لوستلو سره د دولتونو د تعارضاتو د عواملو په اړه پوهه ترلاسه کړي.

**د لیکنې کړنلاره**

د دې مقالې په لیکلو او ترتیبولوکې د څېړنې ټول اصول او اساسات مراعات شوي دي. په نړیوالو سیاستونوکې تعارض یوه داسې موضوع ده، چې کتابخانه‌یي څېړنې ته اړتیا لري. لدې امله مې په دغه مقاله کې د معتبرو او مؤثقو علمي کتابونو او مقالو څخه استفاده کړې ده.

**د تعارض معنی او مفهوم**

اصولاً د تعارض اصطلاح یوه د ابهام څخه ډکه اصطلاح ده. په ورځني ژوندکې د دې اصطلاح په کارولو سره د دوویا څو طرفونو ترمنځ جنجال چې د تاوتریخوالي او همدارنګه د خپلې دفاع او کامیابۍ لپاره د وسایلوڅخه کار اخلي او تاوتریخوالی هم معمولاً د فزیکي زیانونو په چوکاټ

کې مطرح کیږي. البته نن ورځ د دښمن سره هم د روان زیان او تاوتریخوالي په اړه هم خبرې کیږي. اما کم څرګندیږي چې ښکېلې خواوې پرته له دې چې د تاوتریخوالي د رویې څخه په څرګند ډول کار واخلي،کاملاً د ټکر سره اړیکه لري. پدې اساس د دې اصطلاح تعریف او تعین د اساسي ضرورتونو څخه شمېرل کیږي. د تعارض څخه ډکه رویه احتمالاً هغه وخت منځ ته راځي، چې د الف لوبغاړی د ب لوبغاړي د هیلو، اهدافو او منافعو په مقابل کې نا مناسب موقعیت اختیارکړي. یعنې هغه وخت چې ولیدل شي، چې په یوه ناحیه کې یو د طرفینو حرکت د بل طرف یا د نورود طرفونو موقعیت په خطرکې اچوي.

د تعارض نورعکس العملونه ډیپلوماتیکو تهدیداتو، تبلیغاتو، نظامي تهدیداتواو مجازاتوته شاملیږي، چې مربوطه طرفونه یې د بل طرف په مقابل کې ترسره کوي. پس په ساده الفاظو باید ولیکو چې تعارضات هغه وخت منځه ته راځي چې افراد، ګروپونه اویا دولتونه د نورو ګروپونو او دولتونو په مقابلکې د نا مناسبو اقداماتو او عکس العملونوغوښتونکي وي(۱: ۸۵).

**د تعارض جوړښتونه**

د تعارض د جوړښتونو څخه د پورته کړل شوي غبرګون د تعارضاتو د دوه سرچینو او علتونو ترمنځ تعامل او په تعارضي وضعیت کې د تصمیم نیوونکو د نظرد څرنګوالي څخه عبارت دی. د تعارض د دې جوړښتونو پر اساس د اړخونو د موقعیتونو اوغبرګونونو څخه تعارض تشکیلیږي چې هېڅ یو ددغه جوړښتونو څخه په جلا ډول نه شو ښودلی، بلکې د دوی د هریو شتون کولای شي چې نورو عناصرو ته شدت ورکړي او یا یې شدت راکم کړي. په دې اساس په حقیقت کې د دوی ترمنځ یو قسم متقابلې اړیکې موجودې دي(۸ : ۴۶ ).

**الف: د تعارض طرفونه**

د هالستي په نظرد تجربوموندنې د دې واقعیت څرګندونه کوي چې نړیوال ټکرونه د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته زیات شوي دي. هغه وخت چې په ټکرونو کې ښکېل اړخونه موضوع ته توجه وکړي دا پوښتنه مطرح کیږي، چې ایاکوچني قدرت لرونکي دولتونه په تعارضاتوکې زیات ښکېل دیبا لوی قدرتونه. په عمومي ډول تجربوي واقعیتونه د دې څرګندونه کوي چې د عمده قدرتونو ترمنځ په تعارض کې شخړه کمه شوي ده او په سلو کې د ۲،۶ څخه د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه په مخکینیوکالونو کې تر۲،۱۶په سلوکې د ۱۹۴۵م کال څخه تر۱۹۷۶م کال پورې رسیدلي دي. دا په داسې حال کې چې تعارضات او شخړې د واړو قدرتونو ترمنځ زیاتې شوي دي او د ۱۹۰۰م څخه تر۱۹۱۴م کالونوکې د ۲،۴۷ په سلوکې هرکال ۱۰،۱۰ په سلوکې د دوهمې نړیوالې جګړې په وروستیوکالونوکې رسیدلي دي. زیاتره دغه ټکرونه مخ پروده هېوادونو کې رامنځ ته شوي دي. زیات یې د ځمکې او ایډیولوژیکي نه برابریو پورې اړه لري. په عین حال کې (سینګر) او(اسمال) پردې عقیده دي چې لوی دولتونه د وړو دولتونو په مقایسه، په جګړه اوتعارض کې د ښکېلتیا لپاره زیات تیاری لري. پرته لدې، چې لوی یا وړه

دولتونه په تعارض کې ښکېل دي. باید ووایو چې د تعارض په نظري مفهوم کې دولتونه د اصلي مطرحو اجزاؤ څخه شمېرل کیږي (۲: ۱۵۶– ۱۵۷).

**ب: د تعارض موقعیت**

اول کولای شو د تعارض د موقعیت وضعیت تعریف کړو، چې په هغې کې دوه یا څو متقابل لوبغاړي د موجوده غیر مساوي موخو له امله په خپل منځ کې را وړاندې شي. اصولا د ګټو تعین او لومړنی موخې هغه سطحه ده چې موضوع او د ټکرونو حل د هغې څخه مشتق(رابهر) کیږي. پدې برخه کې (ارنولدولفر) اهداف په دوه ګروپونو هېوادني او محیطي اهدافو باندې تقسیم کړي دي. د هېوادني اهدافو څرنګوالی د دې هدف د اساسي ځانګړتیاؤ له جملې څخه ګڼل کیږي. هغه ځانګړتیا چې د لوبې د تیورۍ په چوکاټ کې وې،کولای شوهغه د جمعې د حاصل د جبري صفر په عنوان وپیژنو. له بل لوري د محیطي اهدافو اساسي ځانګړتیا دا ده، چې یواځې د مقابل لوري د ضرر په نتیجه کې لاس ته نه راځي. یا په بل عبارت د جمعې د حاصل د جبري صفرمدل غیر صفر دی. په دې ځای کې پوښتنې مطرح کیږي، چې د تعارض د ناحیو قسمونه او د تعارضي ناحیو وضعیت په لاندې ډول دی:

۱ ـ د ځمکې پرسرتعارض

۲ ـ د حکومت جوړښت

۳ ـ ملي ارزښتونه

۴ ـ ځینوسیموته د نفوذ خپرولو په سر تعارضات

۵ ـ په استقلال او ازادۍ غوښتنې پورې تړلي تعارضات

۶ ـ ملي یووالی

**ج: په تعارضونوکې موجود حالت**

د تعارضوتو د جوړښتونو دریم تشکیلوونکی عنصرمربوطه وضعیتونه دي. یعنې د روان پېژندنې وضعیتونه چې تصمیم نیوونکي په هغه کې د خپلو طرفونو په مقابل کې تصمیم نیسي. د دغه وضعیتونو د ښه پېژندلو لپاره کولای شو چې هغه په لاندې ډول طبقه بندي کړو:

**۱– بدګماني:** هغه بدګماني چې د سیال په نسبت انګیزه، اهداف او د هغې عکس العمل په یوه تعارضي وضعیت کې وجود ولري په متقابلو روابطوکې د ناڅاپي بدلون او په هماغه اندازه عدم اطمنان او د طرفونو د نه اټکلیدونکي رفتار سبب کیږي.

**۲– د موضوع شدت:** پدې وضعیت کې سیاستوال هغه ګټو ته چې د ستراتیژیک اهمیت له نظره کم اهمیت ولري زیات ارزښت ورکوي او په دې ترتیب د دې موضوعاتو په اړه سازش او عکس العمل له ډېر مشکل سره مخامخ کوي.

**۳ـ د ژر او فوري والي احساس:** پدې موقعیت کې تصمیم نیوونکي احساس کوي چې د تصمیم نیولو لپاره ډیرکم وخت په اختیارکې لري، هغه موضوع چې ممکن فاجعه راوړونکي وي.

**۴- تصمیم نیوونکي:** د فوري والي او عدم اطمنان په سبب کم متبادل انتخابونه په مخ کې ویني. په تعارضي وضعیت کې دولتونه ممکن دې نتیجې ته ورسیږي، چې د نظامي وسایلو د استعمال څخه پرته بله لاره نه لري. ځکه چې ټولې لارې یې په خپل مخ تړلي او خپل مقابل طرف په هرمتبادل او بدیل انتخاب باندې قادر بولي.
**۵ـ تصمیم نیوونکي:** پدې باور وي چې د تعارض وضعیت له خپل طرفه د جنګي وسایلو په اساس حل کولای شي.
**۶-بحران او تعارض:** په دغه وضعیت کې د مقابل طرف د تهدیداتو درک د هغې طرف د واقعي توان څخه زیات وي. په نتیجه کې هغه وخت چې حکومتونه احساس کړي چې اساسي ارزښتونه یې د تهدید لاندې نیول شوي دي د هغې د مقاومت احساس هم زیاتیږي(۳: ۹۰ ـ ۹۱).
**ج: په نړیوالو روابطوکې مخالفت**
مختلف عوامل په نړیوال نظام کې د مخالفت او تعارض په رامنځ ته کیدوکې مؤثر دي چې هر یو یې جنګ او بحران جوړولو ته زمینه برابروي. د تحلیل له لحاظه د تعارض لپاره کولای شو مختلف بدلونونه په نظرکې ونیسو. چې نوموړي بدلونونه له انساني، رواني، اجتماعي او په نړیوال نظام کې سیاسي واحدونه د نړیوالو اجتماعي بدلونونو څخه عبارت دي.
**۱- انساني بدلون:** ډېرسیاسي روان پیژندونکي د تعارض او مخالفت اصلي علت په انساني طبعیت کې لټوي. پدې اساس انسان د خپل محیط سره په عمل کې ژوند پرمخ وړي او پدې برخه کې د یوڅه قدرت او ګټې لاسته راوړلو په خاطر انسان مخالفت او د نورو په مقابل کې جنګ ته سوق کوي. منتقدین په دې اندېښنه عقیده لري چې نشوکولای افراد مقصر وپیژنو، بلکې اصلي عامل د مخالفت، د انساني بدلون سره تړلی دی. یعنې هغه وضعیت چې د انسانانو ترمنځ یې د تعارض لپاره لازم امکانات منځ ته راوړل. د نمونې په ډول سویس تقریباً ۱۵۰ کاله په سوله او ارامي کې ژوند وکړو، اوس هم کوم شواهد وجود نه لري چې څرګنده کړي، چې د سویس خلک د خپلو پخوانیو جنګیالیو یا د (ګاستاوس ادولفس) د طرفداروکسانو سره تفاوت ولري. په همدې دلیل نشوکولای ادعا وکړو چې د سویس خلک د انګلستان د خلکوڅخه زیات چې دوه واره یې د دې پیړۍ په لویوجنګونو کې برخه اخیستي ده، ارامتیا وغواړي. په عمومي ډول نشوکولای چې خصوصیات په انساني طبیعت کې ولټوو چې د تل لپاره په ټولو دوروکې د سولې، استقرار او ټینګښت مانع ګرځي.
**۲- جدا سیاسي واحدونه او جدا حاکمیت:** یو تعداد په دې نظردي چې د دولت په نوم د تشکېل موجودیت، خلک، ځمکه اوخاص حکومت چې حاکمیت یې د نورو څخه جدا وي په برکې نیسي، په خپله د تعارضاتو او مخالفت راوړونکي عامل حسابیږي. ځکه د ملي یوالي تقویه د ملي سرحداتو په چوکاټ کې د ګټو طرح کول او خاص اهداف په باالقوه ډول د نورو سره د مناقشې او اختلاف زمینه، چې دوی هم همدغه وضعیت ولري منځ ته راوړي. په همدې اساس

انټرناسیونلیسټان او ایډیولیسټان د حقوقي او سیاسي سرحدي خطونو په کم رنګ کېدو ټاکید کوي او په نړیوالو اړیکوکې د دولتونو ترمنځ د روابطو د بدلون غوښتونکي دي. څرنګه چې هریو د واحدونو څخه په جدا ډول کوښښ کوي، چې د خپل ارضي تمامیت او حاکمیت څخه دفاع وکړي او هریو د واحدونو څخه په نړېوال سیاست کې خاصې ګټې او اهداف لري. چې دا خبره د نورو د مبارزې سبب کېږي او په پایله کې د تعارض او مخالفت لپاره زمینه برابریږي.

**۳- سیاسي مشران:** بله ډله د محققنو د انسان نوعې او د انساني طبیعت بدبینی ته نه ګوري، بلکې په دې عقیده دي چې رهبران د فردي خصوصیاتو په اساس د مخالفت اوجنګ غوښتلو روحیه لري او د خپل قدرت د ساتلو لپاره په نړېواله برخه کې د بحرانونو پراخیدو او اختلافاتو ته لمن وهي.

په همدې اساس بعضې رهبران لکه ناپلیون بناپارت، دویم ویلیم او هیټلرچې د لویوجنګونو سبب شوي وو د مخالفت او ملامتئ وړګرځیدلي دي. بعضې د نظرخاوندان پدې طرز او تفکر باورنه لري او عقېده لري چې د نړېوالو جنګونو او دښمنیو په شدت کې د بعضو رهبرانو د رول څخه انکار نه شوکولای. اساساً باید هغه شرایطو او تقاضاؤ ته چې د دغه ډول مخالفتونو د رامنځ ته کیدو سبب ګرځي توجه وشي. د مثال په ډول د اول او دویم نړیوال جنګ څخه مخکې د المان خارجي سیاست بدون لدې څخه چې چندان تړاو د افرادو لکه دویم ویلیم او هیټلرسره ولري په واضح ډول دغه ډول جنګونه ښکاره کوي اوپه مشکله کولای شو چې د اتلسمې نیمې پیړۍ جنګونو نسبت دغه رهبرانو ته وکړو.

**۴-اجتماعي بدلونونه:** بعضې خلک د مختلفو اجتماعي ګروپونو موجودیت په نړیوالو شخړو کې د اصلي عامل په صفت تعبیراو تفسیرکوي. څرنګه چې د زیات غوښتونکي سیستم په داخل کې اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او نظامي ګروپ بندۍ او سمت بندۍ مختلفې منابع اوغوښتنې طلب کوي. دا ګروپ سیاستمداران د فشارلاندې نیولو له لارې تشویق کوي. ترڅو خپل خارجي سیاستونه په یوه جهت او طرف تنظیم او د اجرا مرحلې ته ورسوي او د دوی د اهدافو په ترلاسه کولوکې مرسته وکړي. په داسې حالاتوکې سیاسي مشران عمدتاً دګروپونو په نمایندګی تصمیم نیسي او د نړیوال سیاست په مختلفو برخوکې د مناقشې اوتعارض لپاره زمینه برابر وي. د مثال په ډول په امریکا متحدایالاتوکې هغه ګروپونه چې د صهیونېسټ یا اسرائیلو ترنفوذ لاندې دي، همدارنګه نظامي ټولنې او د صنایعو مالکان په منځني ختیځ او د نړۍ په نورو برخوکې د مختلفو دولتونو ترمنځ د مخالفت او جنګ سبب شوي دي.

**۵ – نړیوال اجتماعي بدلونونه:** یوتعداد د مختلفو اقتصادي او سیاسي ګروپونو رول د خاصو ملي واحدونو په چوکاټ کې نه څېړي. بلکې پدې عقیده دي چې د نړیوالو اجتماعي عواملو منافع د نړیوالو روابطو په صحنه کې د جنګونو او بحرانونو د ایجاد عمده سبب دی. پدې برخه کې کولای شو کانتونونو، ټراسټونو او څو ملیتي شرکتونو ته اشاره وکړو، چې مخصوصاً د دویم نړیوال جنګ

وروسته د سیمه ییزو جنگونوعامل او همدارنگه دکودتاه ګانو له لارې د داخلي محلي مناقشاتو د ایجاد سبب شوي دي.

**۶- د نړیوال نظام بدلون:** بعضې پوهان د نړیوال نظام د جوړښت او عملکر د لپاره د نړیوالو روابطو اهمیت ته ډېرقایل دي او عقیده لري چې د نړېوال نظام د ډول اوکیفیت (د دوه قطبي، څوقطبي، سلسله مراتبو...) او مناقشاتو ترمنځ مستقیمه رابطه وجود لري. دا ګروپونه پدې عقیده دي چې مثلا که چیرې یو نړیوال نظام د زیات انعطاف څخه برخمن وي. نود هربلوک د اعضاؤ ځای په ځای کول دکمو تعارضاتو او مناقشاتو سبب کیږي. هغه وخت چې حاکم نظام انعطاف ونه لري د دولتونو ترمنځ د دا ډول روابطوکیفیت د همپالنې او مخالفت له لحاظه د ساړه جنګ د وران او فشارونو سره کاملاً متفاوت دي.

د شرق اوغرب وروستي بدلونونه په واضح ډول دا موضوع ثابتوي چې څه قسم د لویو قدرتونو ترمنځ همپالنه او د جهت تغیرد ساړه جنګ د وضعیت څخه ترفشارونو او همدارنګه بدلونونه په دوه قطبي نظام کې د نړیوالو تعارضاتو او مناقشاتو دکمبود سبب شوي دي. حاکمو بدلونونو ته په توجه سره په نړېوال نظام کې د تعارض او مخالفت د ارزیابۍ له لخاظه کولای شو پنځه سطحې یعنې فرد، اجتماعي ګروپونه، سیاسي واحدونه (دولتونه)، نړیوال اجتماعي ګروپونه او نړیوال نظام په نظرکې ونیسو(۴ : ۱۰۵ ـ ۱۰۷).

**په نړیوال نظام کې د تعارض علتونه**

په نړیوال سیاست کې د اختلافاتو او تعارضاتو د ایجاد لپاره مختلف دلایل او انګیزې وجود لري. په داسې ډول نشوکولای چې یو عامل یعنې په یوه فرد پورې منحصرکیدو باندې تاکید وکړو. بعضې وخت د عواملو ترکیب او مختلف بدلونونه داسې وضعیت رامنځ ته کوي. چې د علت تشخیصول د معلول څخه اسان نه وي. هغه عوامل چې په مختلفو سطحو باندې د تعارضاتو د رامنځ ته کیدو سبب ګرځي په لاندې ډول دي(۶: ۸۰ ـ۸۱).

**الف: د ملي ګټو پرسرتعارض**

په اکثرو مواردوکې دولتونه د نورو سیاسي واحدونو سره د تعارضاتو اصلي علت د ملي ګټو په خطرکې لویدل توجیه کوي. ملي ګټې څو طرفه مفهوم لري چې په مختلفوشرایطو او تقاضاؤکې د دولتونود امکاناتو او لازمي توانایی د برخمن کیدو ته په توجه د نورو په رفتارباندې د تاثیراچونې لپاره د محتوا او خوضې د اطلاق له نظره مختلف ډولونه ځان ته اختیار وي، خصوصاً د ملي ګټو په سرشخړې کولای شو په لاندې ډول ارزیابي کړو.

**۱ – ضعیفو او د قدرت خلا لرونکو سیمو ته د نفوذ پراخوالی:** په هغه حالاتوکې چې د مختلفو داخلي یا نړیوالو عواملو په اساس په یوه سیمه کې خلا رامنځ ته کیږي مسلسل تعارضات اوکړکیچونه رامنځ ته کیږي ترڅو دا خلا د یو نوي قدرت په واسطه ډکه شي. زیاتره د نړیوال سیاست د نظرخاوندان هغو تعارضاتوته چې د دریمې نړۍ په هېوادونوکې د دویم نړیوال جنګ

څخه وروسته په وجود راغلي دي. په همدې سترګه ګوري. ځکه د استعماري امپراطوریو سقوط او د نویو دولتو ظهور، لوی قدرتونه (امریکا او شوروي) وهڅول ترڅو هغه خلا چې د استعماري دولتونو د پرېښودو څخه رامنځ ته شوي ده. په نوي ازادي اخیسونکو دولتونوکې ډکه کړي او دا وضعیت د لویو قدرتونو لخوا د حاکمو ځمکو په داخل کې د مختلفو ډلو یا طرفونو د تقویت سبب شوي چې د بحرانونو او د محلي او سیمه ییزو جنګونو سره یوځای وو.

**۲- د تجدید نظرغوښتنه:** د دولتونو د تجدید نظرغوښتلو سیاست کولای شي چې د یو تعداد نړیوالو او سیمه ییزو شخړو او تعارضاتو د رامنځ ته کیدو سبب شي. ځکه د دې ستراتیژۍ تعقیبول د دولتونو لخوا د مبارزې غوښتلو په قسم دي چې د موجوده وضعې د ساتلو د سیاست څخه دفاع کوي. د مثال په ډول د نازي المان او محوري قوتونو لخوا د موجوده وضعیت د تغیرسیاست دوهم نړیوال جنګ ته زمینه برابره کړه.

د تجدید نظرغوښتلو ستراتیژۍ د تعقیب انګیزه ممکن اقتصادي، سیاسي، ژوپولیتیکي او یا ایډیولوژیکي وي. په هر وخت او صورت کې تجدید نظرغوښتونکی دولت د نویوتعریفونو په اساس چې هدفونه، ګټې او په کلُي ډول خپل خارجي سیاستونه په کاراچوي او د نورو سیاسي واحدونو سره چې په سیمه او نړۍکې د قدرت د توازون ساتلو په حدکې وي خپل ځان په تقابل کې واقع کوي.

**۳- د لوړوالي او پراخوالي لپاره شخړې:** اګرچې دولتونه معمولاًتعارض د ملي ګټو، فرهنګي او ایډیولوژیکو مسایلو یا نورو ملي موضوعاتو په سر توجیه کوي، امکان لري اصلي انګېزه یې په منطقه او نړۍ کې برتري او فوقیت وي. د مثال په ډول کولای شو په فرانسه کې د ناپلیون بناپارت حکومت ته اشاره وکړو، چې د ده سیاستونو په اروپا کې د برترۍ او پراخوالي څخه سرچینه اخیسته. وروسته د دوهم نړېوال جنګ څخه د لویوقدرتونو رقابتونه او مخالفتونه د خارجي سیاست په برخه کې په همدې چوکاټ کې تجزیه او تحلیل کیږي. ځکه چې هردولت په بل دولت باندې د نفوذ د پراخوالي په لټه کې وو.

**ب: ایډیولوژیک تعارضات:** څرنګه چې هره ایډیولوژي په نړیوالو روابطو باندې نسبت نړۍ اوحاکمو نمونوته متفاوت لیدلوري لري او د ژوند مختلف طرز، لاره او متفاوت رسمونه تعقیبوي د نوي نړۍ د لیدنې طرحه، مخالفتونه او تعارضات د موافقو او مخالفو سیاسي واحدونو د روابطو ترمنځ یو ذکرشوی لیدلوری لري. علاوه د دې څخه موجوده ایډیولوژي هم د خپلو بدلونونو او تشکیل کوونکوعناصرو د نا برابرۍ په دلیل کولای شي د مختلفو رفتاري نمونو د رامنځ ته کیدو سبب شي. څرنګه چې ایډیالوژیک مخالفت د هغه د توان په اندازه د خپلو محیطي اطرافو سره تړاؤ لري، څرنګه چې ایډیالوژي د نړۍ نظر وړاندې کوي. نو په همدې اساس باید داسې طرحه وړاندې کړي چې فرد باید په هغه عمل وکړي. هغه ایډیالوژي به قوي وي چې وکولای شي جوړښتونو، سمبلونو او د فرد او ټولنې طرفونوته په مختلفو بعدونوکې شکل ورکړي. په مجموع

کې ویلی شو چې د یوې ایډیالوژۍ قوت په دوو شیانو پورې تړلی دی: یعنې سخت ګیري اوجذابیت(۵: ۷۷ ـ ۷۸ ).

پدې ترتیب کولای شو د ۱۷۵۲ څخه تر۱۸۱۵م کال پورې جنګونه د سنتي رژیمونو او ایډیولوژیک انقلاب ترمنځ تعارضات او دویم نړیوال جنګ د لیبرالیزم، نازیزم اوکمونیزم ترمنځ متعارضې ایډیولوژۍ حساب کړو. د بلې خوا د دویم نړیوال جنګ څخه وروسته د شرق او غرب ترمنځ موجود تعارضات کولای شو د ساړه جنګ په چوکاټ کې د دوو بلاکونو ترمنځ د ایډیولوژیکو اختلافاتو په اساس د تحلیل او تجزیې لاندې ونیسو. سره لدې چې د نړیوال سیاست زیاتره پوهان د نړیوالو شخړو ریښه د سیاسي واحدونو ترمنځ په ایډیالوژیکو تعارضاتوکې لټوي. باید هیرنه شي چې په ډېرو مواردوکې په داسې حال کې چې ایډیولوژیکي عامل د تعارض د رامنځ ته کیدو لپاره مهم شرط ګڼل کیږي. ولې کافي شرایط نه شمیرل کیږي. مثلاً په شپاړسمه پیړۍ کې (فرانسیس اول) د ترک مسلمانانو د امپراطورۍ سره د خپلو هم مسلکه مسیحیانو په مقابل کې متحد شول همدارنګه د اوولسمې پیړۍ په اولو ۳۰ کلنو جنګونوکې د فرانسې رومي کاتولیکان د پروتستانو سره د کاتولیکانو په مقابل کې متحد شول. پورتینو مثالونو ته په توجه سره کولای شو داسې نتیجه واخلو چې په اکثرو مواردوکې ملي ګټې، اقتصادي، امنیتي او تکنالوژیکو ضرورتونو تامین ایډیالوژیک ملاحظات ترشعاع لاندې نیسي.

**ج: اقتصادي رقابتونه:** بعضې ګروپونه د دولتونو ترمنځ د تعارضاتو اصلي عامل په اقتصادي رقابتونوکې لټوي. دا عقیده لري چې سرمایه لرونکي ټولنې د خپلو محصولاتو د خرڅلاؤ لپاره د نوي بازارونو د موندلو په هڅه کې وي او غواړي چې انساني قوه او ارزان خام مواد د نړۍ د لیرې پرتو سیمو څخه په لاس راوړي. ورو ورو دا خبره سرمایه لرونکي ګروپونه رقابت ته تشویقوي او د سرمایه دارو دولتونو ترمنځ اختلافاتو او تعارضاتوته زمینه برابروي. په نتیجه کې د نړیوال سیاست په برخه کې بحرانونه او جنګونه واقع کیږي. پوهانو په ۱۹ پیړۍ کې د فرانسې او المان (په افریقا او مراکش کې)، د روسیې او برتانیې(په ایران کې)، د فرانسې او برتانیې (په سوډان او د رودنیل منطقه کې)، د جاپان او روسیې (په منچوري کې)، د المان او برتیانیې (په ترکیه کې)، د روسیې، اتریش او مجارستان (په بالکان کې) د مستعمرو اقتصادي او تجارتي راقابتونو ته اشاره کړې ده. دغه کړکیچونه او اختلافات د اول نړیوال جنګ لپاره زمینه جوړونکي بلل کیږي.

په هرصورت د دولتونو ترمنځ د اختلافاتو لپاره عواملو او بدلونونو ته په توجو سره باید ذکرشي. چې په هر وخت، اوضاع او نړیوالوغوښتنو ته په توجه ځینې وخت د عواملو او موجودو انګیزو ترکیب او په ځینې مواردوکې دا معیارونه د نوروڅخه زیات د سیاسي واحدونو ترمنځ د شخړو او جنګونو په منځ ته راتلوکې مؤثر واقع کیږي او د نړیوالو روابطو محقق ته لازمه ده، چې ټولو موجوده بدلونونو ته د توجه سره سره د هرعامل تاثیر په مستقل ډول او د ذکر شوي عواملو متقابل تاثیرات یو له بله سره مطالعه کړي. په مجموع کې ضروري ده ټول پارامترونه (اړخونه) چې د

مخالفت د زمينې او شاخصونو په عنوان په نړيوالو روابطوکې شامل دي د ارزونې لاندې ونيسي، ځکه د قدرت نا انډول يا د اقتصادي، سياسي، فرهنگي، امنيتي يوالي نشتوالی کولای شي چې د سياسي واحدونو ترمنځ د اختلافاتو د شدت سبب شي او په نړيوال سياست کې مخالفت او تعارض ته زمينه برابره کړي(۲ : ۱۴۵ ـ ۱۴۸).

**پايله**

دولتونه په نړيوال محيط کې د خپلوګټو پر سر په پرلپسې ډول په کړکيچونو او تعارضاتو کې ژوند کوي. دا تعارضات بعضې وخت د يوه هېواد د حياتي ګټو پرسر منځ ته راځي، چې کولای شي شديد عکس العمل او حتی د يوه سياسي مستقل واحد جنگ د بل سياسي واحد په مقابل کې راپورته کړي. هرڅومره چې دا تعارض د يوه سياسي واحد د حياتي ګټو په وړاندې راپورته شي نو عکس العمل به هم په هماغه اندازه شديد وي.

په کلُي ډول په نړيوال محيط کې تعارضات د ملي ګټو، اقتصادي منافعو او ايډيولوژيکي مسايلو پرسر ظهورکوي. د تعريفونو په اساس هر يو د دې واحدونو څخه يې چې نسبت د دې پارامترونو ( اړخونو) لپاره لري، کولای شي هريو ددغه ګټو څخه په جدا ځانګوتفکيك او تقسيم کړي.

د ښکېلوخواؤ د ګټو دقيق تشخيص کولای شي په نړيوال نظام کې د فشارسطحې دکمولو يا زياتولو او نورو واحدونو ته سرايت او يا ځينې واحدونو ته د سرايت څخه د مخنيوي په برخه کې ګټور واقع شي. يا حداقل د تحليل کوونکو لپاره د قابليت تحليل پدې ناحيه کې رامنځ ته کړي. لکه څه ډول چې په يوه تعارض کې بېلابېل خارجي عوامل دخېل وي دا تعارض کولای شي زيات بعدونه ځان ته واخلي اوکله چې تعارض د يوه سياسي واحد د حياتي ګټو پر سر وي کېدای شي دا خشونت او د بحران لمن په ملي، سيمه ييزه او حتې په نړېواله سطحه زياتوالی پيدا کړي.

**وړانديزونه**

۱ –دولتونه بايد د تصميم نيونې په صورت د ملي ګټوتر لاسه کولو لپاره داسې پاليسی جوړې او د اجراء لاندې ونيسي، ترڅو په خارجي سياستونوکې د دولتونو ترمنځ نه حليدونکي تعارضات را منځ ته نه شي.

۲ –دولتونه بايد هغه مسايل چې په خارجي سياستونوکې د تعارضاتو سبب کيږي، د هغوی طرفونه او موقعيت په ښه ډول سره وپيژني او د مذاکراتو او ډيپلوماسی له لارې مسايل حل او فصل کړي.

**ماخذونه**

۱- حشمت، امیری.(۱۳۸۹ه ش ). کلیات روابط بین الملل.(چ،۱).تهران:هاد.
۲ - قوام، عبدالعلی.(۱۳۹۱ه ش).اصول سیاست خارجی وسیاست بین المللی.( چ، ۲).تهران:سمت.
۳ - مرتضی، نعمتی رزگران، عیسی ابادی.(۱۳۸۷ه ش ). جزوه سازمانهای بین المللی. (چ، ۱۸).تهران:سمت
۴ -فرهاد، قاسمی.(۱۳۸۹ه ش). اصول روابط بین المللی.(چ،۱). تهران. نشر میزان.
۵ - فراتی، عبدالوهاب.( ۱۳۷۸ه ش). رهیافتی برعلم وسیاست وجنبش های سیاسی معاصر.(چ،۱). قم: مرکزجهانی علوم اسلامی.
۶ -کې، جی، هالستي.( ۱۳۹۰ ه ش). مبانی تحلیل سیاست بین المللی: ترجمه بهرام، مستقمي. ( چ،۱). ایران: وزارت خارجه.
۷ - عسکرخانی، ابومحمد. ( ۱۳۹۵ ه ش).رژیم های بین المللی.(چ،۱). تهران: انتشارات خرسندی.

## د افغانستان د یو شمېر سیاحتي ځایونو ټولنیز او اقتصادي ارزښت

پوهنمل قدرت الله صدیقي، شیخ زاید پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د ټولنپوهنې او فلسفې څانګې استاد
بریښنالیک: qudratullahsadiqi@gmail.com

**لنډیز**

افغانستان د طبیعي زېرمو، شتمنیو او د ښکلاګانو درلودونکی یو غرنی هېواد دی، چې د نړۍ په کچه د سیاحت په برخه کې ترې ډېره ښه استفاده کیدای شي او همدا سیاحت یې د اقتصادي ډګر د پیاوړتیا لپاره خورا مهم فکتور ګڼلی شو. د توریزم صنعت په هېواد کې د کانونو د استخراج او صادرولو وروسته په نړیواله سطحه یو ډېر زیات عاید ترلاسه کوونکی صنعت دی. دا صنعت په نړۍ کې د هېوادونو د دوامداره پرمختګ یو بنسټیز لامل دی او اهمیت یې له یوې ورځې تر بلې لا پیاوړی کیږي. افغانستان د د یاد صنعت لپاره په پراخه کچه طبیعي زېرمې او تاریخي ځایونو په درلودلو سره د نوموړي صنعت لپاره یوې ښې مناسبې جغرافیې درلودونکی دی. د ځینو ستونزو له امله یاد صنعت ته تر اوسه پورې پاملرنه نه ده شوې. دا چې افغانستان د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۴ میلادي کال د څېړنو مطابق ٪۴۲وګړي د فقر ښخه ځوریږي، یاد صنعت په دې برخه کې مهم رول ادا کولای شي؛ ځکه دا صنعت د ټولنې مختلفو قشرونو لپاره لکه: لوستو ځوانانو لپاره د کار زمینه او د هنرمندانو لپاره د مختلفو هنرونو د غوړېدا او پرمختګ زمینه برابروي او د دې ترڅنګ هېوادوال کولای شي له دې لارې د نړۍ د مختلفو ژبو، کلتورونو او ټولنیز حالت سره بلدتیا پیدا کولای شي، چې دا تر ټولو مهم شیان دي. دا چې افغانستان کې امنیت تأمین دی؛ نو یادې برخې ته د امارت توجه راجلبول غواړي او په دې برخه کې مهم ګامونه ترسره کول پکار دي. ددې صنعت د انکشاف لپاره د تاریخي ځایونو (آبداتو) معیاري بیاجوړولو د هېواد په سطحه د طبیعي شتمنیو د جذابو ځایونو د ګرځندوی صنعت یا سیاحت لپاره د اړینو خدماتو رامنځ ته کول مهم دي. دا اړین خدمات د سیاحت په صنعت کې بنسټیز رول لري، د اوسنی معاصری ټکنالوژۍ پرمټ د هېواد په سطحه د طبیعي زرغونو سیمو او تاریخي سیمو د بیا جوړونې، د سهولتونو برابرول لکه: انټرنیټ، د اوسېدو ځایونه، لارې، اړین خدمات او په دې اړه په ویډیویي بڼه مختلفو ژبو ته ژباړل شوي مستند فلمونه کولای شي د رسنیو په وساطت د داخلي او بهرنیو چینلونو له لارې د داخلي او د بهرنیو سیلانیانو د جذب په خاطر خپاره کړي، چې دا پورته کړنې په یاد صنعت کې پرمختګ لامل کیږي او د ټولنې مختلف قشرونو د اقتصادي پانګونې او پرمختګ لامل کیږي.

**کلیدي ټکي:** افغانستان، اقتصادي ارزښت، ټولنیز ارزښت، سیاحت، سیاحتي امکانات، کلیوالي پرمختګ، نورو کلتورونو او ژبو سره اشنایي

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی أشرف المرسلین سیدنا محمد وعلی آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلی یوم الدین.

«قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ» (الرّوم، ٤٢) ژباړه: ووایه: (پر ځمکه وګرځئ او وګورئ، چې د تېرو قومونو پایله څنګه وه، چې ډېر یې مشرکان ول (او د خپل شرک له لامله هلاک شول)سورة الروم ۴۲ آیت.

افغانستان د خپلو تاریخي سیمو او طبیعي منظرو په لرلو سره د سیاحت او پانګونې لپاره ښه ځای دی او اسلامي امارت ژمن دی، چې د خپلو هېوادوالو او همدارنګه کورنیو او بهرنیو سیاحت کوونکو او پانګوالو ته په هېواد کې امنیت برابر کړي.

افغانستان د کانونو، لرغونو سیمو، جهیلونو او طبیعي منظرو له پلوه بډایه دی او له دغو امکاناتو څخه د هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره کار اخېستل کیږي.

دا چې اوس په ټول هېواد کې امنیت ټینګ شوی او د بهرنیو سیلانیانو په ګډون هر څوک کولای شي، چې د هېواد هرې برخې ته په ارامۍ سره لاړ شي او له تاریخي ځایونو او طبیعي منظرو څخه لیدنه وکړي؛ نو د سیاحتي فعالیتونو او د دې سکتور د ودې لپاره ښه شرایط برابر شوي دي.

د اسلامي اصولو له نظره هم سیاحت په اسلامي نظام کې ځانګړی ځای لري او سیاحت ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده.

په اسلام کې د سیاحت او ځمکه کې د ګرځېدو په اړه ډېر دلایل شتون لري، سیاحت په اسلام کې عبادت دی، د اسلام مقدس دین سیاحت ته ډېره پاملرنه کړې او خلکو ته د نورو ځایونو د لیدلو توصیه کوي؛ ترڅو ددې اصل په ترسره کولو سره انسان خپل ځان، نورو قومونو او نړۍ کې شته د یو شمېر زړه راښکوونکو او عجیبو ځایونو په کتلو خپله فکري وړتیا نوره هم پیاوړې کړي؛ ځکه د دې اصل په تطبیق سره انسان د نور همنوعو انسانانو د بېلابېلو کلتورونو، دودونو، رواجونو سره اشنا کیږي او د الله جل جلاله په عظمت او وحدانیت باندې یقین او باور لا زیاتیږي. چې د یادو مواردو بشپړ درک او شناخت د سیاحت ځانګړې پایله ده (۳: ص. ۱۵).

الله تعالی په قرآن کریم په څلور سورتونو کې د سیل او سیاحت تکراراً یادونه کړې ده او خلاصه یې دا ده، چې مځکه کې سیاحت وکړئ او وګرځئ، چې د تېرو خلکو د کړنو څخه خبر او عبرت واخلئ.

«قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ» (الرّوم، ٤٢) ژباړه: ووایه: (پر ځمکه وګرځئ او وګورئ، چې د تېرو قومونو پایله څنګه وه، چې ډېر یې مشرکان ول (او د خپل شرک له لامله هلاک شول)سورة الروم ۴۲ آیت.

«قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ» (الأنعام، ۱۱) ژباړه: پیغمبره! ورته:( په ځمکه کې وګرځئ، بیا وګورئ (چې الهي آيتونو) د درواغ ګڼونکيو د کار پای څنګه وه؟ سورت انعام ۱۱ آیت.
«قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ» (النّمل، ۶۹) ژباړه: ووایه : ((په ځمکه کې وګرځئ؛ نو وګورئ، چې د ګناهګارانو (د کار) پای څنګه وه!) سورت النمل ۶۹ آیت.
«قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» ( العنکبوت، ۲۰) ژباړه: اې محمد صلی الله علیه وسلم، دوی ته ووایه په ځمکه وګرځئ او بیا وګورئ، چې د دروغجنو له حق څخه د منکرانو انجام څنګه و. بېشکه الله پر هرشي باندې (چې اراده وکړي) ښه قادر دی.

د نړۍ ډېر هېوادونه د خپلو عوایدو ډېره برخه د سیاحت له سکتور څخه ترلاسه کوي، له دې امله اړتیا ده، چې زموږ په هېواد کې هم ورته ځانګړې پاملرنه وشي؛ ځکه افغانستان د خپل ښه موقعیت، تاریخي ځایونو او لرغونو سیمو په لرلو سره د سیاحت د صنعت د ودې لپاره ښې اسانتیاوې لري، که چیرې له دې څخه ګټه واخېستل شي پر اقتصاد به د پام وړ اغېز ولري.

د تفریح، کاروبار یا نورو هدفونو لپاره د خپل هېواد څخه وتل په داسې حال کې، چې دغه سفر د یو کال څخه کمه موده ونیسي، سیاحت بلل کیږي.

سیلانیان چې کله د نورو هېوادونو او تفریحي سیمو ته ځي، نو لازماً ځان سره پیسې وړي او هلته یې د ترانسپورت، هوټلونو، تفریحي ځایونو او نورو چارو کې په مصرف رسوي، چې دې سره د کوربه هېواد په اقتصاد ښه والی راځي او سیلانیانو ډېروالی د یو هیواد په ناخالص تولید کې د زیاتوالي لامل کیږي. په دې برخه کې ډیرۍ هېوادونه تر ډېره خپلې مالي منابع په مصرف رسوي، چې وکولای شي؛ څنګه د ګرځندویانو توجه راواړوي.

ښکلي طبیعي او تفریحي ځایونه، غوره تاریخي آثار، د تکنالوژۍ په مرسته غوره آسانتیاوې او امنیت هغه څه دي، چې ځینې هېوادونو یې په لرلو سره د ګرځندویانو پام ځان ته اړولی دی، چې په کلني ډول ترې میلیونونه ډالر اخلي او د دوی په اقتصاد کې پوره ونډه لري.

امنیتي وضیعت د نورو عواملو تر څنګ په سیاحت هم مستقیمه اغېزه لري. زموږ د هېواد لپاره شته غوره امنیتي وضیعت یو لوی فرصت دی، چې باید ترې پوره استفاده وشي، که څه هم وینو ځېنو خلکو، چې کله ولیدل په افغانستان کې امنیتي وضعیت ښه شوی دی؛ راغلي او د افغانستان د غوره طبیعي ښکلا او غوره تاریخي قدامت لرونکو ځایونو له لیدلو خوند اخلي؛ خو ددغه سیلانیانو کچه ډېره کمه ده.

په دې اړه د دولت د څو مهمو مسؤلیتونو څخه یو دا هم دی، چې د سیلانیانو لپاره غوره سهولتونه برابر کړي، نړۍ ته د غوره ځایونو او د هېواد د طبیعي ښکلاوو پېژندنه وکړي او بهرنیو خلکو ته تر ډېره دا قناعت ورکړي، چې په هېواد کې مو شته امنیتي وضعیت اوږد مهاله دی.

که چېرته له نړۍ سره ښه تعامل، غوره سیاست او اقتصاد محوره دولت، امنیتي او سیاسي ثبات، رسمیت پېژندنه او داسې نورو اسانتیاو څخه برخمن شو؛ نو د نورو فکتورونو تر څنګ به په سیاحت سره هم په هېواد کې واړه کاروبارونه وده وکړي، چې تر ډېره د هېواد په اقتصاد کې د ځانګړي اهمیت درلودونکي دي. خلک به زموږ له ټولنیز ژوند او فرهنګ سره آشنا او زموږ او ددوی ترمنځ فکري شته واټن به کم شي. د دولت په عوایدو کې به زیاتوالی راشي او په بیکارۍ کې به تر ډېره کموالی راشي. همدارنګه د ژوند سطحه به ورسره لوړه شي او باالاخره به په هېواد کې د بهرنیانو دلچسپي لا زیاته شي او ددوی لخوا به مو په هېواد کې کتلوي او ثقیلو پانګونو ته زمینه مساعده شي او د یوې غوره اقتصادي ودې خاوندان به شو.

**د څېړنې موخې**

د سیاحت له ګټو سره اشنا کیدل

د سیاحت ټولنیزو ګټو پېژندل

د سیاحت اقتصادي ګټو پېژندل

د سیاحت سیاسي او کلتوري ګټو پېژندل

د اسلام له نظره د سیاحت اهمیت سره اشنا کېدل

د سیاحت تقویه کولو لارو چارو پېژندل

د سیاحت په تقویه کې د تعلیمي نظام ترڅنګ د دولت رول پېژندل

**د څېړنې کړنلاره**

ددې تحقیقي مقالې کړنلاره کتابتوني ده او ددې ترڅنګ یو شمېر بهرنیو هېوادونو کې لیکل شوي معتبرې مقالې د مختلفو ژبو څخه را ژباړل شوي او د هغوی د تجربو، معلوماتو او ګټور مطالبو څخه په دې مقاله کې ګټه اخېستل شوې ده.

ترڅو په یاده برخه کې د مختلفو هېوادونو لاسته راوړنې او سیاحتي برخه کې د هغوی بریاوو لاملونه څرګند شي او په سیاحتي چارو کې هغه برخه بډایه او ځواکمنه شي، چې په نور هېوادونو کې د سیاحت د ودې سبب ګرځیدلې ده.

پدې رابطه تر ټولو مهمه او خورا د پام وړ ټکي دا دي، چې باید د اسلامي شعایرو، ملي ګټو او افغاني کلتور اړوند ټول فکتورونه په تمامه مانا سره په پام کې ونیول شي.

**د موضوع ارزښت او اړتیا**

اوسنۍ نړۍ کې د زیات شمېر هېوادونو د ملي عایداتو پوره او بډایه برخه د ګرځندوی صنعت او په دې پورې تړلو چارو له امله ترلاسه کیږي. د هغو خپرو شوو شمېرو څخه چې د بېلابېلو ادارو له لوري وړاندې شوي دي، په ۲۰۰۴ میلادي کال کې د نړۍ د سیلانیانو شمیر ۷۶۳ ملیونه تنو ته رسیدلې دي، چې د ۲۰۰۳ م کال په نسبت ۱۰،۷ په سلو کې زیاتوالي ښیي. نوموړې شمېره د ۱۹۷۰ م کال راوروسته تر ټولو زیاته ګټه ګڼل شوې ده. د نړیوالې ګرځندویه ادارې په

وړاندوینه، ښيي له ۲۰۱۰ م کال څخه د ۲۰۲۰ م کال پورې د نړۍ د سېلانیانو شمېر په هر کال کې یو ملیارد او شپږ میلونه تنو ته ورسیږي (۳: ص ۳). د نویو څېړنو په اساس چې د ملګرو ملتونو نړیوال سیاحتي سازمان UNWTO څخه خپاره شوي نړیوالو سیلانیانو شمېر به ۲۰۳۰م پورې ۱،۸ ملیارد ته ورسیږي.

https://www.unwto.org/archive/global/press-release/2011-10-11/international-tourists-hit-18-billion-2030

سیاحت د افغانستان په اقتصادي پراختیا کې یو له عمده عواملو څخه ګڼل کېدای شي او ځانګړی اهمیت لري؛ ځکه د کلیوالي ګرځندوی سیمو په پراختیا کې لوی رول لوبوي. افغانستان د خپلو طبیعي ځانګړتیاوو له امله د کلیوالي ګرځندوی یو له مهمو مرکزونو څخه دی او شاوخوا ډېری منظرې او تاریخي ابدات لري. که څه هم چې ددې هېواد سیاحتي ځایونه او تاریخي ابدات د مسلکي مدیرانو لخوا په سمه توګه نه دي پلان شوی او ګټه ترې نه ده اخېستل شوې، له همدې امله، سیاحان د اسانتیاوو او خدماتو او سوکالۍ د نشتوالي له امله د خلکو د تفریح اودسیاحتیتفریح لپاره د مناسب ځای په توګه د ستونزو سره مخ دي. له بلې خوا د سم پلان سره د داسې سیاحتي ځایونو نوملړ، بیاجوړونه او هلته د اړینوسهولتونو برابرول به پرته له شکه د افغانستان د اقتصاد په وده کې د پام وړ اغېز ولري.

ددې څېړنې اړتیا دا ده، چې پدې برخه کې ډېری کمې علمي څېړنې ترسره شوې او اړتیا ده، چې دا برخه بډایه او غني شي.

له همدې امله، د دې مسئلې په څېړلو سره، دا ممکنه ده، چې د افغانستان لرې پرتې سیمې او په ځانګړې توګه کلیوالي سیاحت د ظرفیتونو او امکاناتو په پېژندلو او سپړلو سره یو اغېزمن ګام پورته شي.

افغانستان د کلیوالي سیاحت او تاریخي ابداتو د اقتصادي پراختیا لپاره د مناسبو امکاناتو په چمتو کولو سره، کولای شو د امارتي مسؤلینو پام ځانته راجلب کړو؛ ترڅو ګرځنده سیاحت ته وده ورکړي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

د نړۍ ډېری هېوادونو د سیاحت پراختیا او سیلانیانو د منلو اړوند ګډې هڅې شروع کړي؛ ترڅو یاده برخه لاپیاوړي او ددې لپاره اړین اقدامات وکړي. د سیلانانو د ښه تشویق په پار ډېری هیوادونو د ویزو او پاسپورټ، ترانسپورټ، هوټلونو او نورو اړوند سهولتونه او اسانتیاوې برابرې کړي دي. ددې هېوادونو د سیلانیانو منلو او د هغوی د پام راړولو لپاره د ټولنیزو شبکو، تلویزونونو، براوشورونو او نورو لارو خپرونې لري؛ ترڅو د نړۍ د مختلفو هېوادونو څخه د سیلانیانو پاملرنه خپل هېواد ته راجلب کړي ( ۳: ص ۳).

د سیلاني صنعت پراختیا اړوند ډېرې څېړونکو څېړنې ترسره کړي دي. په اوسني وخت کې د بېلابېلې څېړنې د دې موضوع اړوند پوهانو مخ پر ډېرېدو دي. سیاحت یوه لرغونې پدیده ده، چې په انساني ټولنو کې د اوږدې مودې لپاره شتون لري او په تدریجي ډول خپل اوسني تخنیکي، اقتصادي، ټولنیز او ایکولوژیکي ته رسېدل ( ۱۷:۱۹).

سیاحت د نړۍ په مختلفو برخو کې یو له مهمو اقتصادي فعالیتونو څخه دی، چې د لیدونکو لپاره یو ښه او مناسب فرصت رامنځته کوي. د سیاحت لپاره منظم پلان او عملي کړنې د سیلانیانو لپاره د توجو راجلبولو لپاره خورا مهم گامونه دي. دا شرایط کولی شي د ځایي ټولنو او لیرې طبیعي ساحو لپاره ښه عاید رامنځته کړي. سیاحت په اصولو کې د اړونده ساحو د ساتنې لپاره ښو وسیلو رامنځته کول هم شامل دي.

سیاحت د لاندې مواردو په پراختیا کې مرسته کوي لکه: د ایکو سیستم اهمیت او اقتصادي ارزښت زیاتوي، د ځایي سیمو لپاره مستقیم او غیر مستقیم عاید رامنځته کوي او د چاپېریال ساتنې برخه کې ددوی هڅه زیاتوي،په سیمه ایزه توگه د ټولنو خوندیتوباو همغیږي رامنځته کول.

په دوامداره ډول د طبیعي سرچینو استعمال ته انکشاف ورکول او د ټولنیزو گواښونو کمول ( ۹:۸۹۳،۸۹۴).

مهدي کاظمي په ۲۰۰۷ م کال کې په خپل کتاب (د سیاحت مدیریت) کې خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوي: د سیاحت د لومړنیو څېړنو موخه د دې صنعت د اقتصادي گټو اټکل او محاسبه کولو لپاره د معلوماتو راټولول وو؛ ځکه چې سیاحت د خدماتو صنعت په توگه، په ځانگړې توگه د هغو هېوادونو لپاره، چې نورې سرچینې نلري، د اقتصادي پراختیا لپاره وسیله گڼل کېږي. (۷۶:۱۷).

(حاجي نژاد احمدي) په علمي مقاله کې چې «په کلیوالي سیمو کې د گرځندوی اقتصادي اغېزې» تر سرلیک لاندې راغلي: نن سبا د یوه مخکښ صنعت او په ژوند کې د یوې نوې پدیدې په توگه گرځندوی صنعت ته د جدي پاملرنې اړتیا ده. یوویشتمه پیړۍ کې د سیاحت په برخه کې ډېره اړتیا محسوسیږي او په نړۍ کې یې اهمیت ورځ په ورځ زیاتیږي (۱۳:۱۵).

غدیری په ۱۹۷۱ م کال په خپل کتاب کې چې عنوان یې د (د کلیوالي گرځندویۍ پراختیا) دی لیکي: هره هغه تفریح او تفریحي فعالیت په کلیوالي گرځندویۍ کې شاملیږي، چې له مخې یې د اوسېدونکو لپاره د خوړو، استوگنې، محلي محصلولات او خدمات ترلاسه شي او د کلي د اقتصادي او کلتوري ماهیت له مخې یې د هېواد ټول اړوند قوانین او مقررات په پام کې ونیول شي (۱۳: ۱۷،۱۴).

عبدالرضا فرجي راد په (۲۰۱۰م) کې په خپله علمي مقاله کې چې ″د کلیوالي گرځندوی د دوامدار پرمختگ تحلیلي تگلارې″ تر سرلیک لاندې لیکي: ″د پایداره کلیوالي گرځندوی صنعت په تړاو پلان جوړونه هم درې درجې لري (بازار، کلیوالي وده او سیمه ییزې ټولنې).

د دغو کچو هر یو، د پام وړ ظرفیت په پام کې نیولو سره، د سیاحت پایښت په چوکاټ کې باید په داسې ډول پلان شي، چې د کلیوالي ګرځندوی عرضه او تقاضا د سیستم لپاره غوره فعالیت چمتو کړي (۶۵:۱۱).

**د سیاحت یا سیلانیتوب لنډه پېژندنه**

لغوي تعریف: (سیاحة) د عربي ژبې کلمه ده، چې د ساح یسیح سیحا و سیحانا څخه اخېستل شوې ده، چې د ځمکې پر مخ باندې ګرځېدلو ته وایي یا په بله وینا سیاحت هغه ګرځېدل دي، چې د خپل استوګنځي څخه نورو ځایونو ته د ساعت‌تیرۍ له پاره ځي او یا هغه ښکاره اوبو ته ویل کیږي چې د ځمکې پرمخ باندې بهیږي (۲۰ : ۲).

سیاحت یوه ټولنیزه، کلتوري او اقتصادي پدیده ده، چې د شخصي یا سوداګریزو/ مسلکي موخو لپاره نورو هېوادونو یا ځایونو ته ددوی د عادي چاپېریال څخه بهر وتلو ته وایي. سیاحت د تفریح، ارامۍ او خوښۍ په لټه کې د کور څخه وتلو او د وخت مصرف کولو عمل او پروسه ده، پدې کار کې د خپل اقتصادي امکاناتو څخه کار اخلي. په دې توګه سیاحت د عصري ټولنیزو کړو وړو محصول دی، چې په ۱۷ مه پیړۍ کې په اروپا کې پیل شو، که څه هم دا پروسه په کلاسیکو لرغونو اثارو کې هم شتون لري.https://www.britannica.com/topic/tourism .

د ارتور بورمن له نظره سیلانتوب د هغه سفرونو مجموعه ده، چې یو شخص د یو شمېر انګېزه تولیدوونکو لاملونو په اساس د موقت وخت لپاره د استراحت، تفریح، تجارت او یا نورو چارو لپاره خپل دایمي ټاټوبی پرېږدي او بل ځای ته په سفر لاړ شي، دې ته سیلانتوب ویلی شي.

د ټولنپوهنې له نظره سیلانتوب د ژوند هغه ټولنیزه برخه ده، چې یو شخص نوی ټاټوبی په موقت ډول جوړوي، مطلب یو شخص خپل اصل ټاټوبی د څه وخت لپاره ذهني د ارامتیا ترلاسه کولو په موخه پرېږدي او وروسته بیا خپل اصل ټاټوبی ته راستنیږي.( ۲: ص:۱۵)

الف: په اوسني وخت کې سیاحت یوه خاصه زده‌کړه لري، ځانګړي شرائط، ارکان، متخصصین، تعلیمي ادارې او هوټلونه وغیره لري او همدا راز هر هېواد او دولت دا کوشش کوي، چې د هغه سیاحت کوونکي دې له نورو ټولو هېوادنو څخه زیات وي او په یوویشتمه پېړۍ کې د درې مهمو خدمتونو وړاندې کولو کې هېوادونو کوښښ شروع کړی و:

۱: نښلوونکي شبکې، ۲: معلوماتي تکنالوژي، ۳: ګرځندویي صنعت او خدمات وړاندې کول.

سیاحت دومره ارزښت پیدا کړ، چې په ځینې پوهنتونونو کې یې زده کړې شروع شوي دي او همدا وجه وه، چې په نړۍ باندې یې نېغ په نېغه اثر واچوه، چې هغه د نړۍ د اقتصادي ودې یو مهم لامل و.

ب: سیاحت چې اول ځل له پاره ورته فرانسوي ژبه کې د (Tour) کلمه وکارول شوه او د انګریزې په اکسفورډ قاموس کې داسې تعریفیږي: (Tour)له هغه سفر څخه عبارت دی، چې مسافر د خوند اخېستلو لپاره د خپل کور څخه شروع کوي؛ تر څو هغه بېرته خپل کور ته راستون

شي، که دا په فردي صورت سره وي او که یو ټولګي سره وي او سائح هغه مسافر ته ویلی شي، چې د خوند اخېستلو لپاره يې سفر کړي وي. د سیاحت نړېواله اکاډیمۍ يې داسې تعریفوي: سیاحت لفظ د هغو سفرونو څخه عبارت دی، چې د خوند اخېستلو لپاره ترسره کېږي ( ۲۰ : ۴).

**په افغانستان کې د سیاحت یو شمېر ځایونه**

د افغانستان په یو شمېر ولایتونو کې، چې مهم سیاحتي ځایونه لري؛ خو بیا برعکس د یو لړ ستونزو( مناسبو سهولتونو نه درلودل او یو شمېر کلتوري او ټولنیز محدودیتونه) له امله سیلانیان هغو سیمو ته خپل سفرونه نشي کولای؛ همدارنګه په دې هېواد کې د تېرو څو لسیزو جګړو هم د ګرځندوی پر مهم صنعت سخت اغېز کړی؛ خو اوس چې الحمد الله د پخوا په څېر ناامني نشته او نسبتاً سوکالي او ارامي راغلې ده. د افغانستان بېلابېلې سیمې د سیلانیانو د راجلبولو ظرفیت لري او که د ګرځندوی مدیریت ورته ځانګړې پاملرنه وکړي؛ نو په اوس‌مهال کې دغه صنعت د عاید تر ټولو مهمه سرچینه ګرځېدلی شي. که په افغانستان کې تګ راتګ یعنې د لارې، سهولتونو ستونزې هوارې شي او دې برخې ته جدي پاملرنه وشي؛ نو هېواد به یو ځل بیا د ګرځندویانو د شتون او د ګرځندوی د صنعت د بیا احیا کېدو شاهد وي. ګرځندوی صنعت یوه بې زیانه ګټه ده، که د دې ګټې لپاره اړینه زمینه برابره شي او د هېواد راتلونکي لپاره د کارموندلو او کارکولو د یو مهم سکتور په سترګه ورته وکتل شي. دا کړنه به د هیواد د ملي اقتصاد پر پیاوړي کیدلو زیات اغیزمن وي او هم به د سیاحتي چارو په پروسه کې د مشغولو اشخاصو پر عایداتو مثبت اغېز پیاوړی شي. د دې ترڅنګ سیاحت د نړۍ سره هم د اړیکو پاللو یوه مهمه لاره ده. د دې صنعت د ودې لپاره هغه دولتي ادارې، چې د توریستي چارو سره اړیکه لري ځانګړی مسؤلیت لري، چې د پرمختګ او انکشاف زمینه ورته برابره کړي، ددې ترڅنګ د شخصي پانګوالو ملي وجیبه ده، چې په دې صنعت کې پانګونه وکړي او د ودې لپاره اړینې کړنې ترسره کړي. توریستي صنعت د هیواد د بېکارۍ ستونزې لپاره یو منطقي حل دی او ورته د زیاتې پانګونې اړتیا هم نه لیدل کېږي؛ بلکې دې چارې ته ټولو مهم عنصر د مسؤلو چارواکو په دولتي او خصوصي برخه کې د کلک عزم او ارادې اړتیا ده. د ملي عاید د زیاتوالي لپاره ګرځندوی صنعت یوه ښه لاره ده او د دې ترڅنګ د لاسي صنایعو او سیمه ییزو محصولاتو پېر او پلور ته هم یوه ښه زمینه مساعده کیږي او د سیمې د اوسېدونکو پر ورځني ژوند مثبت اغېز ښندي په لنډ ډول دا د سیمې کلتوري میراثونو د ساتلو او د دې څخه د عاید ترلاسه کولو یواځنې لاره ګڼلی شو لکه: د کابل سیاحتي ځایونه: عبدالرحمن جومات، د بابر بڼ، باغ بالا، بالا حصار، چهلستون ماڼۍ، د دارالامان ماڼۍ، د عیدګاه جومات، د کابل ژوبڼ، د کابل ملي موزیم، پغمان: د سخي زیارت، د شاه او عروس بند، د تاج بېګ ماڼۍ، مزار شریف (نیلي جومات)جلال اباد (د پاچا امان الله خان مقبره) بلک (شنه جومات)هرات (د جمعې جومات) سمنګان (تخت رستم) بامیان فیض آباد (واخان دهلیز) د بند امیر ملي پارک کابل کندز د خیبر پاس پنجشیر بګرام تالقان، بند امیر او د اریوب ځاځي، د غزني د تاریخي بالاحصار

کلا(قلعه غزنین)، د جام څلي، د بامیانو د بودا یوه مجسمه، غزني کې د سیکانو یوازېنی معبد، غزني په ۲۰۱۳ کال د یونیسکو له خوا د اسیایي سیمو د اسلامي کلتوري پلازمېنې په توګه اعلان شوی و.https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-50900515

د هرات د سیاحتي ځایونه: د ګوهر شاد بېګم مقبره، د هرات لوی جامع جومات، د هرات قلا، اسلام قلا (د افغانستان او ایران ترمنځ پولې ته څېرمه سرحدي ښار)، د جهاد موزیم، مصلي مجتمع، سلما بند (د افغانستان – هند د دوستۍ بند)، د خواجه عبدالله انصاري مقبره، تخت سفر.

د ننګرهار سیاحتي ځایونه: د امیر حبیب الله خان پارک (چې د سراج العمارت پارک ته مخامخ موقعیت لري)، د درونټې بند،هډه، د غازي امان الله خان ښارګوټی (د غازي امان الله خان پارک او د غازي امان الله خان د کرکټ نړیوال سټوډیوم)، د امان الله خان مقبره (سراج العمارت پارک)، د خان عبدالغفار خان مقبره، د محمد ګل خان مومند مقبره، تورخم (د پاکستان او افغانستان ترمنځ سرحدي دروازه)

د نیمروز ولایت یو شمېر د پام وړ سیل ځایونه په لاندې ډول دي: د کمال خان بند (ملي پارک)، زرنج ښار (د افغانستان او ایران ترمنځ پولې ته څېرمه سرحدي ښار).

کندهار په لویدیځه څنډه کې موقعیت لري. د دغه ولایت یو شمېر پام وړ سیل ځایونه په لاندې ډول دي:

د چهل زینې پارک (په سر پوزه سیمه کې تاریخي مرکز)، د ډالې بند (د کندهار ښار شمالي لوري ته په شاولي کوټ ولسوالۍ کې موقعیت لري او له ښاره د موټر په تګ نږدې ۳۰ دقیقې فاصله لري)، میوند (هغه ځای چې په ۱۸۸۰ زکال کې د افغان او بریتانوي ځواکونو ترمنځ په کې د میوند مشهوره جګړه وشوه)، د میرویس هوتکي مقبره (د کندهار لویدیځ ته په میرویس مېنه کې موقعیت لري)، منډیګک (د برونزو دورې ته اړوند د سند د درې لرغونی تاریخي مرکز دی)، نارنج قلا (په زاړه کندهار کې موقعیت لري)، د رېګ ولسوالۍ (د میلو ځای دی او خلک په کې د موټر زغلونې سیالۍ کوي)، د خرقې مبارکې زیارت، د بابا ولي زیارت (د غره په لمنه کې موقعیت لري چې د ارغنداب د سیند او د هغو د باغونو ښکلې منظره وړاندې کوي)، د شیرسرخ زیارت (هغه ځای چې احمدشاه دراني په کې واکمن وټاکل شو).

د غزني ولایت سیاحتي ځانونه: غزني د لرغوني ښار دننه او د هغو په چاپېر کې د غزنوي ستراکۍ د واکمنانو یو شمېر مقبرې شتون لري. د غزني ولایت یو شمېر پام وړ د سیل ځایونه په لاندې ډول دي: منارونه(څلي)، سلطان مسعود څلی، بند سلطان، د البیروني مقبره، د سلطان محمود غزنوي مقبره، د غزني قلا، د غزني منارې، جاغوري، د سردې بند.

بامیانو ولایت یو شمېر پام وړ د سیل ځایونه په لاندې ډول دي: د بند امیر ملي پارک، په بامیانو کې د بودا مجسمې، د غلغلې ښار، د ضحاک ښار. پروان ولایت: جبل سراج ماڼۍ، کچري شلمتره لوړه مناره، سالنګ، صیاد پل او ګل غونډې. کاپیسا ولایت: ریګ روان سیمه لوګر ولایت: مس

عینك، جمشید تخت، زرغون ښار، د خواجه صدراولیا زیارت، سلطان صیب غر. میدان وردگ ولایت: بودايي سټوپه، د سطان بند.

پکتیا ولایت: گردیز بالاحصار، سید کرم، د میرزکي مسکوکا، د کفتر خانې تاریخي سیمه، د تیرې د کوتل مغاره. پکتیکا ولایت: پطنه غونډی، ویس کرني بابا، باباجي صاحب، حیات بابا او داسې نور زیارتونه، سید جلال بخاری (رح). خوست ولایت: د شاه اسماعیل زیارت او تفریحي سیمه.

کندوز ولایت: د امام صاحب زیارت، بالاحصار. بدخشان ولایت: شیوا جهیل. سمنگان ولایت: تخت رستم. بغلان ولایت: چشمه شفا، پارک. نورستان ولایت: پارون لغمان ولایت: مهترلام بابا، د سراج کلا. کنړ ولایت: د جغان غونډۍ او ځنگلي غرونه. بلخ ولایت: د حضرت علی رضی روضه. جوز جان ولایت: د طلا تپه فاریات ولایت: سر پل ولایت: ابو مسلم خراساني، امام یحی، ابو عبیده جوزجاني سید میر حسني زیارتونه. دایکندي: طبیعي منظری. غور ولایت: د جام منار . بادغیس ولایت: نریمان کلا. هلمند ولایت: د بست کلا، کجکي د اوبو بند. زابل ولایت: د قلات بالا حصار ( ۳:۱۷۵،۲۳۵،۲۶۴،۲۸۶،۳۰۸،۳۳۰،۳۴۸ ).

**د سیاحت(سیلانتوب) ټولنیز ارزښت**

گرځندوی د یوې ټولنیزې پدیدې په توگهکېدای شي د دوو ټولنو ترمنځ د مستقیم او غیر مستقیم تماس د یوې ځانگړې بڼې په توگه تعریف شي، چې کېدای شي سیاحت د گرځندوی او کوربه لپاره یوې ځانگړې ټولنیزې او کلتوري پدیدې په توگه واوسي؛ خو یو شمېر نور پوهان بیا سیاحت یوه ټولنیزه پروسه بولي، چې له مخې یې د نړۍ له گوټ گوټ څخه مختلف خلك د ټولنیز متقابل عمل په بڼه سره راټولوي. که څه هم دا اکثرا د اقتصادي ودې او پرمختگ خورا مهمه وسیله گڼل کیږي؛ لیکن ددې ترڅنگ دا د ټولنیزو او کلتوري بدلونونو استازی او د نړیوالې سولې لپاره د تفاهم د یو ښه وسیله هم ده. په طبیعي توگه، سیاحت د ټولنیز او کلتوري بدلون یوازینی استازی دی. هیڅ ټولنه او کلتور د پرمختگ لپاره خوندي نه دی، چې په دې پروسه کې د نفوسو چټکه وده، د څو ملي شرکتونو زیاتېدل، ښاري کول او صنعتي کول د ټولنې ټولنیز، اقتصادي پرمختگ هم شامل دي.

سیاحت د ټولنیزو ښیگڼو دا هم دي، چې د دې په وجه د مختلفو کلتورونو خلك د یو بل سره اشنایي پیدا کوي او د دوی ترمنځ متقابلې اړیکې رامنځته کیږي. ځایي خلك او سیلانیان د یو بل د ټولنیز او کلتوري حالت څخه خبریږي او ددوي ترمنځ، چې وړاندې کوم فکري تشنج شتون درلود، هغه له منځه ځي. سیاحت په وجه د سیلانیانو او ځایي خلکو ترمنځ د متقابل احترام، زغم او د مختلفو کلتورونو د وگړو ترمنځ د ښه تعامل او د یو بل د ښه پېژندلو زمینه برابریږي، چې دا کړنې یوازې ټولنیزې گټې نه؛ بلکې د یوې ټولنې په کچه سیاسي، اقتصادي او کلتوري گټې هم لري. دوی په حقیقي مانا د یوې ټولنې اصلي انځور یا هغې ټولنې اصلي ټولنیز اړخ سره اشنایي

پیدا کوي او د دوي ترمنځ یا یوې ټولنې پر وړاندې، چې کومې بدبینې او شک او شبهات شتون درلود، هغه له منځه ځي (۱۰: ۱. ۸).

سیاحت مختلفې ټولنیزې ګټې لري، چې په لاندې ډول ترې یادونه کېږي:

۱- په ټولنه یې مثبتې ټولنیزې او اقتصادي اغېزې رامنځته کېږي.

۲- محلي دود او دستور پرې غني کیږي او نړیوالو ته یو مثبت پیغام لیږدول کېږي.

۳- محلي ټولنې ورسره په ټولنیز، کلتوري او اقتصادي توګه بډایه کېږي.

۴- د یوې ټولنې ټولنیز او اقتصادي خدمات تهیه کول ورسره اضافه کېږي، چې په دې سره ټولنه انکشاف کوي.

۵- نوي هنرونه او کلتور ورسره وده کوي.

۶- د یوې سیمې پخواني ابدات او تاریخي ځایونه ورسره مشهور او بډایه کېږي. ( .(https://tourismteacher.com/social-impacts-of-tourism/

**د سیاحت(سیلانتوب) اقتصادي ارزښت**

زیات شمېر سیلانیان د خپل اقتصادي توان ته په کتو د سیاحت پلانونه او برنامې ترتیبوي؛ ځکه چې سیلانیان د اقتصادی توانمندي له مخې په بیلابېلو کټګوریو کې وېشل کېږي. هر سیلاني خپلو اقتصادي امکاناتو ته په کتو سیاحتي سیمي ځانته غوره کوي او هم د خپلې لېوالتیا او غوښتنو برخه په پام کې نیسي. د افغانستان اقتصاد پوهانو او د اقتصادي پالیسیو جوړونکو، ټولنپوهانو او د ټولنیزو چارو سمبالونکو ته په کار ده، چې د یوې پراخي او هر اړخیزې اقتصادي او ټولنیزې ستراتیژۍ په جوړولو او پلي کولو کې هغو امکاناتو ته پام وکړي، چې افغانستان یې د سیاحت او ګرځندوی په برخه کې لري. د ګرځندوي صنعت فی الحال د نړیوال اقتصاد یوه درنه برخه جوړوي. د نړۍ زیات شمېر هیوادونه د خپل ملي عاید پوره او ډیره برخه د ګرځندوی صنعت او په هغې پورې تړلو چارو له امله ترلاسه کوي.د ګرځندوی صنعت له دوو اړخونو خورا ارزښتمن دی، له یوې خوا هیوادونو ته مالي ګټې راوړي اوله بل پلوه د نړۍ د انسانانو تر منځ د دوستۍ او ملګرتوب اړیکې غښتلي کوي. دا دوه فکتورونه، د سوکاله نړۍ بنسټیزې اړتیاوې دي، چې د نړۍ ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه زموږ هېواد د بیارغولو او ډاډمن امنیت لپاره ټاکونکې او اغېزمنه ونډه لرلای شي. د ګرځندوی صنعت یو داسې سوداګري ده، چې نه یوازې د دولت مالي توان زیاتوي؛ بلکې په هېوادونو کې مېشتو اولسونو ته هم د عاید او ګټې وسیله ده، زیات شمېر اقتصاد پوهان په دې باور دي، چې تر ټولو ښه او ارزانه ګټه د اوسنۍ نړۍ په توریستي او ګرځندوي صنعت کې پرته ده. توریستي سیمو ته د سېلانیانو تلل راتلل په حقیقت کې د رښتنې او بې سوده اسعارو د وړلو راوړلولار ده. د سېلانیانو سره یو ځای سیمه ییز مارکېټونه، محلي پېداوار، لاسي صنایع او نورې اقتصادي اډانې پر له پسې وده‌کوي او تر څنګ یې د توریستي سیمو اوسېدونکو ته د ګټورکار زمینه برابرېږي.

سیاحت د معاصر تمدن په شرایطو کې د خپلې محتوا او رول له لارې، د فعالیت یوه ځانګړې ساحه ده او د نړۍ د ډېرو هېوادونو په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې اړین اهمیت لري او د یوې ټولنې د اقتصادي برخې استازیتوب کوي. د سیاحتي اقتصاد هدف په اقتصادي ډګر کې د ګرځندوی د څو اړخیزو اړیکو او اغېزو تحلیل دی او همدارنګه د هغه فکتورونو تحلیل دی، چې سیاحت د اقتصادي برخه کې څومره مرسته کوي. څېړنو دا څرګنده کړې، چې سیاحت څنګه د خپلو فعالیتونو او پراختیا له لارې، مادي او انساني برخې دواړو باندې اغېزه کوي، د داسې عنصر په توګه عمل کوي، چې خلک انکشاف او اقتصادي پرمختګ ته هڅوي. دا سیاحت اساسي عناصر په ګوته کوي او څرګندوي، چې څنګه سیاحتي کړنې د سیمه‌ییزو او ملي اقتصادي جوړښتونو سره اړیکه لري؟ (۶ :۱).

د ګرځندوی سوداګرۍ، تصدۍ او خلک (په مستقیم یا غیر مستقیم ډول) د ګرځندوی سوداګرۍ فعالیتونو څخه عاید تولیدوي. سربېره پر دې، سیاحت د اقتصادي فعالیت په توګه په اقتصاد کې مختلف مستقیم، غیر مستقیم او هڅول شوي اغېزې رامنځته کوي.

دا د بهرنیو اسعارو د کاري فرصتونه رامنځه کولو زمینه برابروي، چې عاید د ډېروالي لامل کیږي. سیاحت د ټولنې وګړي د نورو اقتصادي فعالیتونو لپاره هڅوي؛ ترڅو د عاید ډېرو سرچېنود رامنځته کولو لامل وګرځي. دا د اقتصاد په نورو سکتورونو کې د عاید او کارموندنې لپاره هم هڅوې. ګرځندوی په سیاحتي ځایونو کې بیلابیل اقتصادي، ټولنیز، کلتوري او چاپېریال اغېزې لري او دا اغېز یې مثبت او منفي دواړه کېدای شي. ډېرو څېړنېزو مطالعاتو هڅه کړې، چې د ګرځندوی اقتصادي اغېزې اندازه کړي او د اقتصاد لپاره یې د اهمیت په اړه پایلې ترلاسه کړي. نن ورځ د ډېرو هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې د ګرځندوی اهمیت په ښه توګه مستند شوی. (۱۴ : ۱)

په اقتصاد کې د ګرځندوی رول اکثرا د میلمه‌پالنې صنعت (کافې، هوټلونه او ریسټورانټونه) او بهر او دننه سفر کونکو ادارو او ترانسپورټ پورې محدود ګڼل کیږي، چې په ډیری هېوادونو کې د خدماتو مخکښ سکتور تشکیلوي. په هرصورت، د ګرځندوی صنعت اقتصادي اغېز خورا ډېر دی؛ ځکه چې د سیاحت او تفریحي خدماتو د تولید لپاره ډېرو وسایلو لپاره اړتیا لېدل کیږي، چې پدې پروسه کې زراعتي فارمونه، خوراکي توکي، صنعتي تولید، ساختماني او عامه کارونه شامل دي(۲۱ : ۳).

د ګرځندوی اقتصادي ګټې د صنعت لپاره مختلف دلایل او تعریفونه وړاندې کیږي. دا ډیری وختونه په پریکړو یا په عامه پالیسیو کې کارول کیږي، چې د سیاحت لپاره مناسبه ده. د ګرځندوی اقتصادي صنعت ته د سوداګرۍ ټولنې، دولتي چارواکو او په عموم کې د خلکو ترمنځ ډېر درناوی او اهمیت ورکوي.

د سیاحت لپاره د ټولنې ملاتړ مهم دی؛ ځکه چې دا یو فعالیت دی، چې په ټوله ټولنه اغېزه کوي. د ګرځندوی سوداګرۍ په پراخه کچه په یو بل او همدارنګه په نورو سوداګرۍ، حکومت او د ځايي ټولنې اوسېدونکو پورې اړه لري.
د سیاحت اقتصادي ګټې او لګښتونه په حقیقت کې په سیمه کې هرچا ته په یو ډول یا بل ډول رسېږي. د اقتصادي اغېزو تحلیلونه د دې اقتصادي متقابلو انحصارونو دقیق اټکلونه او د سیمې په اقتصاد کې د ګرځندوی رول او اهمیت ښه پوهاوی وړاندې کوي( ۲۱ : ۳).
د ګرځندوئ صنعت  په هېوادونو  کې  مېشتو ولسونو ته د ملي هویت د ساتنې او تاریخي برم د پېژندنېتر ټولو ښه او ګټوره لار  ده. هغه تاریخي او ملي وياړونه چې د اولس باور یې خپل کړئ وي، د همدې صنعت په مرسته لا زیاته وده کوي،  د ملي کچې څخه یې تر نړیوالې کچې پورې د لوړتیا پړاونو ته لاره پرانېستل کیږي. ښايي نورو هېوادونو او ولسونو ته د یوه هېواد د ملي هويت او پخواني برم پېژندنه د دیپلوماتیکو اړیکو د لارې  تر سره شي؛ خو دا کار د مصارفو پرته د ګرځندوي صنعت له لارېپه لا پراخه پیمانه او رښتني توګه تر سره کېدای شي. تاریخي ودانی، مذهبي سیمي او کلتوري ټاټوبي،  چې د یوه هېواد هویت څرګندوي، د همدې صنعت په مرسته په خورا ښه توګه څرګندوالی شي او یا دوه کولای شي (۴ : ۵).
په افغانستان کې  د دې دوو یادو شوو بېلګو په څېر د تاریخي اثارو او لرغونو توکو ډولونه ډېر زیات دي. د دې هېواد هره لویشت د یوه تاریخي اثر ټاټوبی دی.  په کابل کې د شیر دروازې او اسمايې غره لرغوني دیوالونه، د مرنجان لرغونې غونډۍ، د شاه تپې په سیمه کې نوی سپړل شوی بودايي معبد او په لسګونو نورځایونه شته، چې دغیر منقول موزیمونو په څیر ودان او د سېلانیانو د لېدلو جوګه دي.
د یو شمېر هېوادونو په خپلو کې د ګرځندوی صنعت او د زیاتو سېلانیانو د منلو لپاره ګڼې هڅې پیل کړي او په هېوادونو کې ددې صنعت د ودې او پراختیا لپاره کوټلي ګامونه پورته کوي. د بېلګې په توګه د یو شمېر هېوادونو ترمنځ د سیلانیانو لپاره د ویزو او پاسپورټ، د تلو راتلو او ترانسپورټ، هوټلونو او مېشت ځایونو ځانګړې اسانتیاوې برابرې کړي دي. یو شمېر هېوادونو د سیلانیانو د منلو او د هغوی د پام اړولو لپاره تبلغاتي شبکې تلویزونونه او ټولنیزې شبکې فعاله کړي؛ ترڅو د هیواد مختلفو سیمو د سیلانیانو توجو راجلب کړي (۲ :۱۳).
په افغانستان کې د یو شمېر سیاحتي ځایونه او په هغوي پانګونه
د افغانستان په مختلفو سیمو کې که چیرې داسې ابدات او تاریخي ځایونه شتون ولري؟ باید یو فهرست یې ترتیب او اړونده برخه کې، چې کومه ستونزه لري، باید پر وخت ورته راسیده‌ګي وشي، په سیاحتي ځایونو باندې پانګونه وشي؛ ترڅو د بهرنې سیلانیانو لپاره د توجو وړ وګرځي او د اقتصادي پرمختګ لامل شي.

**د سیاحت لپاره د امکاناتو برابرول**

د دې موخې ترلاسه کول لپاره باید اسلامي امارت دقیق پلان په کار واچوي؛ ترڅو مختلف سیلانیانو ته د ویزو سهولتونه، امنیت، د سړکونه، ترانسپورټ، هوټلونه، انټرنېټ او داسې نور سهولتونه برابر شي.

**تاریخي او سیاحتي ځایونو ته سیلانیانو د توجو جلبولو لارې چارې**

سیلانیان د نړۍ مختلفو سیمو د توامندیو، شتونتیاو، تاریخي ابداتو، سیاحتي ځایونو او طبیعي منظرو څخه خبر نه وي؛ بلکې د دې لپاره، چې یوې سیمې او علاقې کې دې سیاحت وده وکړي؛ نو ددې لپاره د ټولنیزو رسنیو له لارې د اړینو معلوماتو نشرولو ته اړتیا ده. څرګنده ده، چې د نړۍ ولسونو کړه وړه، ځانګړتیاوې او ټولنیز احساس د یو بل سره توپیر لري؛ نو پدې اساس د ټولنیزو رسنیو او د مختلفو نندارتونو له لارې د مختلفو هیوادونو خلك هغه ته رابلل د دې لپاره خورا ارزښتمنه لاره کیدای شي. د نړی زیات شمېر هېوادونه د خپلو امکاناتو د څرګندولو او ښودلو لپاره په پر له پسې توګه نندارتونونه جوړوي او د منظمو پروګرامونو او مهال ویشونو سره یوځای یې د لیرې او نږدې سیمواو هیوادونو اړونده ولسونو ته رسوي.

**سیلانیانو لپاره د هڅونې انګیزې**

د سیاحت په برخه کې کار کوونکی او متخصصین همیشه په دې ته هڅه کې دي، چې څرنګه هغه لاملونه پیدا او وڅېړې کوم، چې سیلانیان د یوې سیمې لیدلو ته اړ کوي، چې لېدنه ترې وکړي. د نړۍ زیاتره هېوادونه د مختلفو لارو سیلانیان دې هڅوي؛ تر څو د دوی د نویو سیمو، کلتورونه او تاریخي ځایونو لېدنه وکړي ، بېلابېلو څېړنکو پدې اړه خپلې تجربې او څېړنې شریکې کړي، چې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ترې یادونه کېږي. ( ۱۲: ۳)

د کرامپتون له نظره د سیلانیانو لپاره هڅونکي انګیزې

د ساعت تېری لپاره د یو ښه چاپېریال پیدا کول.

د ستړیا لرې کولو لپاره د نوې ځایونو لیدل.

د طبیعت سره نږدې پاتې کیدل؛ ترڅو طبیعت څخه خوند واخلي.

د نوو خلکو سره اړیکې ټینګول او هغوي ټولنیز او کلتوري ژوند سره اشنایي پیدا کول .

د داسې چاپېریال رامنځته کول، چې د امنیت او سهولتونو له لحاظه بشپړ وي. ( ۷ : ۳)

د سیاحت په اړه مو په هېواد کې شته فعلي ستونزې

هغه مهمو ستونزو سره، چې هېواد مو د سیاحت په برخه کې ورسره مخ دی، په لاندې ډول دي:

- د نړۍ د هېوادونو لخوا زموږ هېواد په رسمیت نه پېژندل
- د تجارت د بیلانس کسر (هېواد ته د بهرنیو سوداګرو نه راتګ)
- د اسلامي لارښوونه مطابق دواړه قشرونه د تفریحي پارکونو جوړول

- د هېواد د اوږدمهاله امنیتي وضعیت په اړه د بهرنیانو ته قناعت ورکول
- د پانګونې په برخه کې د ځینو فرصتونو نشتون او داسې نور...

**پایله**

افغانستان د خپل بډایه تاریخ او کلتور، طبیعت او د بېلابېل اقلیمي شرایطو سره سم په یو مناسبه جغرافیه کې موقعیت ولري، د نړۍ ترټولو په زړه پورې سیاحتي ځایونه درلودونکی هېوادونو څخه شمېرل کیږي. د افغانستان بېلابېلې سیمې د سیلانیانو د راجلبولو ظرفیت لري او که د ګرځندوی مدیریت ورته پاملرنه وکړي، دغه صنعت د عاید تر ټولو مهمه سرچینه ګرځېدلی شي. توریسي صنعت د هېواد بې کارۍ ستونزې لپاره یو منطقي حل دی او دې د زیاتې پانګونې اړتیا هم نه لېدل کیږي.د ملي عاید د زیاتوالي لپاره ګرځندوی صنعت یوه ښه لاره ده.د لاسي صنایعو او سیمه ایزو محصولاتو د پیر او پلور ترټولو لنډه لاره ده، او د سیمي په اوسېدونکو پر ورځني ژوند مثبت اغېز ښندي.دا د سیمي کلتوري میراثونه د ساتلو او ددي څخه د عاید ترلاسه کولو یواځني لاره ده. د نړېوال او خپل هېواد ټولنیز، تاریخي، کلتوري، جغرافیوي او د نور مهم اړخونه ددې ګرځندوی صنعت له لارې په ښه توګه د نورو هیوادونو تقدیمیدای شي. څومره چې دا صنعت په یو هېواد کې وده کوي په همغه همره د نړۍ هېوادونه ددې هېواد څخه روښانه او څرګنده تصویر درلودلای شي. په دې برخه کې د سیاحت مختصصین، اقتصاد پوهانو او د اقتصادي پالیسیو جوړونکو، ټولنپوهانو او د ټولنیزو چارو سمبالونکو ته په کار ده، چې د یوې پراخي او هر اړخیزې اقتصادي او ټولنیزې ستراتیژۍ په جوړولو او پلي کولو کې د هغو امکاناتو ته پام وکړي، چې د افغانستان یې د سیاحت او ګرځندوی په برخه کې لري. د ګرځندوي صنعت فی الحال د نړېوال اقتصاد یوه درنه برخه جوړوي. د نړۍ زیات شمېر هېوادونه د خپل ملي عاید پوره او ډېره برخه د ګرځندوی صنعت او په هغې پورې تړلو چارو له برکته ترلاسه کوي.

**وړاندیزونه**

په افغانستان کې د سیلانیتوب(سیاحت) چارو د ښه سمون او ددې هېواد ټولنیز، کلتوري او اقتصادي ودې او پراختیا لپاره لاندې ځانګړې وړاندېزونه وړاندې کیږي:

د سیاحت په اړه د امارت اسلامي توجو راجلول، چې د یو ځانګړې متخصص ټیم په واسطه د سیاحت د پلان چارې په منظم شکل پر مخ یوسي.

په افغانستان کې د تاریخي ابداتو او لرغونو سیاحتي سیمو یو بشپړ نوملړ ترتیبول او د هېواد دننه او بهر د مختلفو چاپي او ټولنیزو رسنیو له لارې د خلکو د توجو راجلولو لپاره خپرول.

د سیاحتي سیمو لپاره د ترانسپورټ، امنیت، هوټلونه، انټرنیټ، مختلفو مارکیټونه، تګ راتګ لپاره لارې برابرول او ځانګړې مسلکي ترجمانان چې سیلانیان ښه راهنمای کړي د ځانګړې اهمیت لري.

د پوهنتون په سطحه د ځانګړې مضمون او څانګې ایجادول.

د سیاحت اړوند د افغانستان لرې پرتې او کلیوالي ټولنه سیمو خلکو د کار او ددی سیلانیانو حقوق او د اقتصادي اهمیت اړوند پوهاوی کول؛ تر څو د اقتصاد او نورو ټولنیزو عواملو د انکشاف سبب کیږي.

**ماخذونه**


۱. القران کريم:(الرّوم، ٤٢)، (الأنعام، ١١)، (النّمل، ٦٩)، ( العنکبوت، ٢٠)

۲. باوري، محمد رسول .( ۱۳۹۷ ل). نړیوال کلتوري میراثونه. کابل: علومو اکادمي

۳. باوري، محمد رسول .(۱۳۹۶ ل). د توریزم بنسټونه او افغانستان کې د تیوریستي امکانات. کابل: د ازادی(دولتي) مطبعه

٤. باوري ، محمد رسول .( ۱۳۷۵). موزیم شناسی وسیر موزیمها در افغانستان ( انجمن سپک : پیښور )

٥. Butler, R.W (1994), *Ecotourism, has it Achieved Maturity or Has the Bubble Burst?* Burst, Pacific Rimtourism 2000 New Zealand, P, 256.

٦. Bunghez, C. L. (2016). The importance of tourism to a destination's economy. *Journal of Eastern Europe Research in Business & Economics*, *2016*, 1-9.

٧. Correia, A., Oom do Valle, P., &Moço, C. (2007). Why people travel to exotic places. *International Journal of Culture, Tourism and Hospitality Research*, *1*(1), 45-61.

٨. Dovabochesbam, B. (2005), *Naturalization and Sustainable Development in Costa Rica*, Translated by SolmazYegana, ads.coo.ir/category.

٩. Drum, .A & Allen .M (2009), Introduction to Ecotourism Planning and Management, translated by MohsenZanjbar, Publishing House, Tehran.

١٠. DUJMOVIĆ, M., & VITASOVIĆ, A. (2022). IMPORTANCE OF SOCIAL INTERACTION AND INTERCULTURAL COMMUNICATION IN TOURISM. Sustainable Tourism X, 256, 77.

١١. Faraji Rad, Abdolreza)٢٠١٠. (. Analytical approaches in thesustainable development of rural tourism. ScientificArticle, Geographical Quarterly of the Land. Iran:Journal of the Geographical Quarterly of the Land.

١٢. Funk, D. C., &Bruun, T. J. (2007). The role of socio-psychological and culture-education motives in marketing international sport tourism: A cross-cultural perspective. *Tourism management*, *28*(3), 806-819.

۱۳. Ghaderi, Z., & Henderson, J. C. (2012). Sustainable rural tourism in Iran: A perspective from Hawraman Village. *Tourism Management Perspectives*, *2*, 47-54.

۱٤. Gautam, B. P. (2011). Tourism and economic growth in Nepal. *NRB Economic Review*, *23*(2), 18-30.

۱٥. HAJINEZHAD, A., POURTAHERI, M., & AHMADI, A. (2010). The effects of commercial tourism on physical-spatial development of urban areas case study: Baneh city.

۱٦. Kakar, K., Xuan, T. D., Haqani, M. I., Rayee, R., Wafa, I.K., Abdiani, S., &amp(2019).; Tran, H. D. (2019). Current situation andsustainable development of rice cultivation andproductionin Afghanistan. Agriculture, 9(3), 49.

۱۷. Kazemi, Mehdi. Tourism management. Tehran: Samat Publications 2007;1.

۱۸. Nazari, .f (2009) *Ecotourism and Its Role in Sustainable Development*, Green Road, No. 54, p.2. Kazemi, Mehdi. Tourism management. Tehran: Samat Publications 2007;1.

۱۹. Rezvani, Ali Asghar. .(2000). Geography and tourism industry. Iran: Payame Noor University Press.

۲۰. Shinwari, Khirullah. ().Tourism from the Islamic point of view. https://rctmis.mohe.gov.af. Retrived.12/09/2023.

۲۱. Stynes, D. J. (1997). Economic impacts of tourism.

۲۲. Vellas, F. (2011, October). The indirect impact of tourism: an economic analysis. In *Third Meeting of T20 Tourism Ministers. Paris, France*.

۲۳. World Tourrism Organization ( UNWTO ).url .( 2006 ) 1-

# د $H^1$ N.M.R سپکتروسکوپي میتود په واسطه په عضوي مرکباتو کې د هر ډول هایدروجن تشخیص

پوهنمل دکتور غلام اقبال مرستیال او پوهنیار نورالله حسین خېل، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی د کیمیا څانگې استادان
ایمل ادرس: iqbalmarastial1982@gmail.com

**لنډیز**

د هستې د مقناطیسي ریزونانس په واسطه کولای شو چې د عضوي موادو پیژندنه نسبت د IR سپکتروسکو پي ته په ښه ډول سره وکړو دغه سپکتروسکوپي په دوه ډوله ده $C^{13}$NMR او $H^1$NMRچې په دغې مقاله کې یواځې د $H^1$NMR یا پروتونNMR سپکتروسکوپي مطالعه شوې ده. څرنگه چې ټولې وړانگې په یو کیمیاوي مالیکول باندې بیلابېلې اغېزې لري مثلآ: کله چې یومالیکو ل د X وړانگو په مقابل کې واقع شي؟ نو څرنگه چې د دغو وړانگو د موج طول ډېر کم ده او انرژي یې زیاته ده، نوکولای شي د مالیکو ل د تخریب باعث شي.
کله چې یو مالکول د IR وړانگو په مقابل کې واقع کیږي چې د دې وړانگو د موج اوږدوالی نسبت د X وړانگو ته زیات دی او انژي یې کمه ده صرف په مالیکو ل کې د کیمیاوي اړیکو د اهتزاز سبب گرځي او کله چې یو مالیکول د رادیویي امواجو یا NMR وړانگو په مقابل کې واقع کیږي د دغو وړانگو د موج اوږدوالی هم ډېر زیات ده او انرژي یې کمه ده ،نو یواځې د هستې د ریزونانس د تغیر سبب کیږي یعني د هستې ریزونانس ته له ۱/۲+ څخه ۱/۲- یا برعکس تغیر ورکوي په دغې مقاله کې په ځانگړي ډول د پروتون سپیکتروسکوپي میتود په واسطه په یو عضوي مرکب کې د هر ډول پروتون تشخیص مطالعه شوی دی.

**کلیدي کلمې:** ان ایزو تروپي، د هستې سپین، کیمیاوي بدلیدنه، مقناطیسي ریزونانس،معادل هایدروجنونه.

**سریزه**

الحمدالله رب العالمین والصلات والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وعلی اله و اصحابه اجمعین اما بعد:

د $H^1$NMR تخنیک د عضوي موادو په پیژندنه کې یوله مهموتخنیکونوڅخه دی د دغې سپکتروسکوپي په واسطه کولای شو په یوعضوي مرکب کې د هرنوعه هایدروجنونود موجودیت په اړه معلومات ترلاسه کړواوله دې څخه علاوه کولای شو، چې د دغه میتود په واسطه د هرنوعه هایدروجن د شاوخوا محیط په اړه هم معلومات ترلاسه کړویعنې په دې معنی چې کوم هایدروجن

په کوم ډول کیمیاوي محیط کې موقعیت لري اوله کوم ډول اتومونوسره وصل ده او د هغوی تاثیرپه دغه هایدوجن باندې څه دی د دغه میتود ځینې مهمې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي(۱،ص. ۱۲۴)

۱: هغه هستې په دغه میتود کې برخه اخلې چې د هستې د سپین فعالیت ولري یعني د سپین له مخې فعاله وي.

۲: اصول او اساس د ټولو سپکتروسکوپي میتودونو یو ډول دي.

۳: د ټولو هایدروجنونو هستې باید په یوه مشخصه ناحیه د (۱–١٤ppm) کې ښکاره شي.

د اتومونوپه هستوکې یوډولچارج لرونکې ذرې شتون لري، دغه ذرې په ځینو اتومونوکې دحرکت په حال کې دي دغوهستوته د سپین فعاله هستې وایې او هغه هستې چې د سپین له مخې فعاله نه وي د $H^1NMR$ وړانګې نه جذبوي یعني یواځې هغه هستې چې د سپین فعالیت ولري د جذب له مخې هم فعاله دي مثلاً: په لاندې جدول کې هغه هستې ښودل شوي چې دسپین له مخې فعاله او غیر فعاله دي(۲،ص.۱۳۴).

نو په همدې ترتیب د الکترومقناطیسي امواجو څخه د انرژي انتقال د هغو هستو په واسطه امکان لري چې د سپین له مخې فعاله وي، یعني د هستې د سپین کوانتمي عدد یې صفر نه وي، که چیرې د هستې سپین د ساعت د عقربې همجهته وه دغه همجهته چرخش د اعمال شوي مقناطیسي میدان سره هم په همجهت ډول واقع کیږي نو په دې صورت کې د سپاین حالت کمه انرژي لري او که چیرې د سپاین چرخش یا دوران د ساعت د عقربې خلاف و نو دغه حالات د سپاین بیا د خارجي اعمال شوي میدان په مقابل کې هم مخالف الجهته واقع کیږي او په دې حالات کې بیا دغه سپاین زیاته انرژي لري او په لوړ انرژیکي لیول کې ځای نیسي(۳،ص. ۳۴).

د HNMR سپکتروسکوپي لپاره باید یوه د مبدا نقطه یا شاهد وجود ولري چې د مختلفو پروتونونو موقعیت نسبت هغه شاهد ته باید په نظرکې ونیول شي نو د HNMR سپکتروسکوپي لپاره همیشه ترامیتایل زیلان (TMS) په نظرکې نیول کیږي چې تر ټولو په قوي ترین میدان یعنی (۰ppm) کې یې پیک ښکاره کیږي، دغه مرکب په دې خاطر د شاهد په توګه په نظرکې نیول کیږي چې دلته پروتونونه په تر ټولوقوي ترینه پوښښ د الکترونونو کې ځای لري یعني سلیکان نسبت کاربن ته الکتروفازیتیف ده او د الکترونونو جریان د کاربن په طرف صورت نیسي(۱،ص. ۶۵).

## مواد او کړنلاره

دغه څېړنه په ۱۴۰۲ کال کې تر سره شوې ده د څېړنې ډول یې کتابتوني ده چې تقریباً د ۱۲ هغو مقالو څخه پکې استفاده شوې ده چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونوکې خپرې شوي دي. پدې لیکنه کې چې له کومو څړنوڅخه استفاده شوې ټولې یې د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۲۳ میلادي کالونو منځ کې خپرې شوي دي او د نړۍ په زیاتو پر مختللو هیوادونوکې سرته رسیدلې دي پورته څېړنې په مختلفو انترنیټي سایټونولکه: Scopus, Web of Science, Scien Direct, Google

Scholar او داسې نورو کې د کليدي کليمو Doi نمبر عنوانونو او نورو مشخصاتو پر اساس پلټل شوې دي او همدارنګه د مختلفو معياري کتابونو څخه په کې استفاده شوې ده.

## د (H[1] NMR)سپکتروسکوپي په واسطه د عضوي موادو پيژندنه

د H[1]NMR تخنيک د عضوي موادو په پيژندنه کې يوله مهموتخنيکونوڅخه دی د دغې سپکتروسکوپي په واسطه کولای شو يوعضوي مرکب کې د هرنوعه هايدروجنونود شتون په اړه معلومات ترلاسه کړواوله دې څخه علاوه کولای شو چې د دغه ميتود په واسطه د هرنوعه هايدروجن د شاوخوا محيط په اړه هم معلومات ترلاسه کړويعني په دې معنی چې کوم هايدروجن په کوم ډول کيمياوي محيط کې موقعيت لري اوله کوم ډول اتومونوسره وصل ده او د هغوی تاثيرپه دغه هايدوجن باندې څه ده د دغه ميتود ځينې مهمې ځانګړتياوې په لاندې ډول دي(۵،ص. ۱۲۳).


۱: هغه هستې په دغه ميتود کې برخه اخلې چې د هستې د سپين فعاليت ولري يعني د سپين له مخې فعاله وي.

۲: اصول او اساس د ټولو سپکتروسکوپي ميتودونو يو ډول دي.

۳: د ټولو هايدروجنونو هستې بايد په يوه مشخصه ناحيه د (۱-۱٤ppm)کې ښکاره شي.

## د هستې په واسطه د انرژي جذب او د هستوي مقناطيسي ريزونانس د واقع کيدو ميکانيزم

د هستوي مقناطيسي ريزونانس پديده هغه وخت منځ ته راځي چې د داسې يوې هستې په واسطه چې د خارجي مقناطيسي ميدان سره هم جهته وي انرژي جذب کړي او د سپاين جهت ته د اعمال شوي ميدان په مقابل کې تغير ورکړي، دغه عمليه باعث د انرژي د جذب کيږي او دغه د انرژي جذب په کوانتمي شکل سره صورت نيسي او د جذب شوې انرژي مقدار د دواړو حالاتونو ترمنځ فرق څخه عبارت دی(۶،ص.ص.۲۳-۲۵)




(۱- شکل): د هستې په واسطه د انرژي جذب او د هستوي مقناطيسي ريزونانس واقع کېدل

په کلي ډول سره دغه د انرژي اختلاف د خارجي مقناطيسي اعمال شوي ميدان تابع ده يعني هر څومره چې د خارجي ميدان انرژي زياته وي د دوه حالاتونو ترمنځ فاصيله هم زياته ده او هر څومره چې ضعيف وي د دوه حالاتونو تر منځ فاصله هم کمه ده (۷،ص. ۲۳).


$$\Delta E = F(H_0)$$

$$\Delta E = \delta (h/2\Pi) B_0 = h\nu$$

$$\nu = \delta/2\Pi \times B_0$$

که چيرې پورته رابطه په نظرکې ونيسو $B_0$ ثابت عدد، $\delta$ او ۲ هم ثابت قيمتونه لري نو د NMR لپاره څه ضرورت ده ؟ $\delta$ د ژيرو مقناطيس په نوم سره ياديږي او د هستې په چارج او کتلې پورې اړه لري څرنګه چې پوهيږو د انرژي اختلاف په منځ د ۱/۲- ،۱/۲+کې د ټولو هايدروجنونو لپاره ثابت او يو ډول ده پس څرنګه يا ولې بيا دغه هايدوجنونه د HNMR په سپکتروسکوپي کې په مختلفو فريکونسيو سره د جذب پيکونه لاس ته راوړي؟

جواب: څکه پروتونونه د الکترونونو په واسطه پوښل شوي دي، نو د هر پروتون د شاوخوا الکتروني محيط په جزئي ډول سره بايد د بل هر پروتون سره تفاوت ولري، يا په بل عبارت پروتونونه د الکترونونو په واسطه پوښل شوي دي او محافظت شوي دغه عمليه د Sheilding په نوم سره ياديږي نو د يوخارجي مقناطيسي ميدان په اعمالولو سره ولانسي الکترونونه او پروتونونه په دوران باندې شروع کوی دغه دوران چې د ديا مقناطيسي جريان په نوم سره ياديږي د يو متضاد مقناطيسي ميدان د توليد باعث کيږي، چې له اعمال شوي مقناطيسی ميدان سره په مقابل کې واقع کيږي، دغه اثر د ديامقناطيسي اثر د مانع يا د ان ايزوتروپي مقناطيسي اثر په نوم سره ياديږي نو دغه د مانع اثر په يو ماليکو ل کې د هر پروتون لپاره د هغه د الکترونيکي کثافت د محيط پورې اړه لري نو څکه هر پروتون په يوه خاصه فريکونسی کې د HNMR يو جلا پيک ورکوي(۸،ص. ۱۲۳).




(۲- شکل): د يوې هستې په واسطه د انرژي جذب او د سپاين تغير

د HNMR سپکتروسکوپي لپاره بايد يوه د مبدا نقطه يا شاهد شتون ولري چې د مختلفو پروتونونو موقعيت نسبت هغه شاهد ته بايد په نظرکې ونيول شي نو د HNMR سپکتروسکوپي لپاره هميشه ترامتيايل زيلان (TMS) په نظرکې نيول کيږي چې تر ټولو په قوي ترين ميدان يعنی (۰ppm)

کې یې پیک ښکاره کیږي، دغه مرکب په دې خاطر د شاهد په توگه په نظرکې نیول کیږي چې دلته پروتونونه په تر ټولوقوي ترینه پوښښ د الکترونونو کې قرارلري یعني سلیکان نسبت کاربن ته الکتروفازیتیف ده او د الکترونونو جریان د کاربن په طرف صورت نیسي(۶،ص. ۱۲۳).

## د پروتونونو د ځای یا موقعیت کیمیاوي بدلیدنه (Chemical displacement)

د یو پروتون په واسطه د انرژي تر جذب وروسته د هغه د مکان یا ځای بدلیدل په HNMR سپکتروسکوپي کې نسبت د پروتون اصلي منبع ته د کیمیاوي بدلیدنې په نوم سره یادیږي مثلاً: کله چې د یو پروتون د ځای تغیر نسبت TMS ته چې د یو خارجي اعمال شوي مقناطیسي میدان پورې اړه لري صورت نیسي دغې عملیې ته کیمیاوي بدلیدنه وایي(۲،ص.۳).

| | | | |
|---|---|---|---|
| $CH_3$-Br, 60MHz | 162MHz | $CH_3$-Br, 100MHz | 270MHz |

د HNMRدستگاوې مختلف ډولونه لري مثلاً: ۶۰MHz ، ۱۰۰MHz او داسې نورې نو باید څه کار وکړو چې په هر نوعه دستگاه باندې له یوې نمونې څخه ازمایښت واخیستل شي په یو ثابت عددي قیمت سره د هغه پیک په لاس راوړو نو دلته یوه اندازه محاسبې ته اړتیا شته هغه داسې چې د یو پروتون په واسطه د جذب شوې فریکونسۍ مقدار چې واحد یې Hzده د دستگاه د فریکونسۍ په ظرفیت چې واحد یې MHz ده تقسیم کوو دلته بیا دغه فرقونه له منځه ځي او په یو ثابت عدد سره هر پیک په لاس راځي (۹،ص. ۱۲۳).

$$\delta = \frac{162Hz}{60MHz} = \frac{2,7}{10^6} = 2,7\ ppm$$


$$\delta = \frac{270Hz}{100MHz} = \frac{2,7}{10^6} = 2,7\ ppm$$

$$\delta = \frac{Hz}{MHz} = ppm$$

هرڅومره چې د یو پروتون په اطراف کې الکتروني کثافت زیاتیږي نو ځای بدلیدنه د قوي میدان طرف ته انتقالیږي پس هر هغه عامل چې د یو پروتون په اطراف کې د الکتروني کثافت د کمیدو باعث کیږي کیمیاوي ځای بدلیدنه د یو پروتون ضعیف میدان طرف ته ځي.


## د HNMR سپکتروسکوپي ازمايښت لپاره د نمونې برابرول

لومړی بايد نمونه په محلول شکل سره اماده شي او په داسې محلولونو کې بايد حل شي چې هغه محلل په HNMR سپکتروسکوپي کې غير فعاله وي مثلاً: د محلل پروتونونه بايد په ديوتروم باندې تعويض شي ($D_2^1$)په مقناطيسي هستوي ريزونانس کې غيرفعاله ده لکه: $CDCl_3$ ، DMSO = $CD_6O$ وروسته له دې څخه په مخلوط باندې يوه قطره TMS ريجينټ علاوه کيږي اود HNMRدستګاه په واسطه طيف اخلو د مثلاً: د ميتايل بنزايل اسيتون له نمونې څخه د HNMR پيک اخيستل شوی ده (۵،ص.ص. ۱۱،۱۵).




د ميتايل بنزايل اسيتون د HNMR پيک


همدارنګه په لاندې شکل کې د ايتانولو له مرکب څخه هم د HNMR ازمايښت اخيستل شوی دی پيک يې په لاندې ډول سره دی





د ايتانولو د HNMR سپکتروسکوپي طيف

## معادل کيمياوي هايدروجنونه


ټول هغه پروتونونه يا هايدروجنونه چې په يو ډول کيمياوي محيط کې قرار لري د معادلو هايدروجنونو په نامه سره يادېږي او د غه هايدروجنونه د HNMR په سپکتروسکوپي کې يواځې د يو پيک په شکل ښکاره کيږي، لکه په لاندې مثالونوکې ځينې معادل هايدورجنونه او غيرمعادل هايدروجنونه ښودل شوي دي( ۵،ص. ۳۴).




معادل یو ډول پروتونونه



غیر معادل دوه ډوله پروتونونه




درې نوعه مختلف هایدروجنونه

په همدې ډول د HNMR سپکتروسکوپي په واسطه کولای شو چې په یو کیمیاوي مرکب کې د هر نوعه هایدروجنونو له شتون او تعداد څخه پوره معلومات تر لاسه کړو.

## کیمیاوي محیط او کیمیاوي ځای پرځای کیدنه

هر ډول پروتون یوازې په یوه خاصه محدوده د $\delta$ کې ریزونانس کوي او د جذب پیک یې ښکاره کیږي په دې ترتیب عددي مقدار د ppm یا هماغه د کیمیاوي محیط تغیر د یو پروتون په اړه مونږ ته د هغه پروتون د محیط او دا چې له کومو اتومونو سره وصل ده معلومات راکوي، او همدارنگه په یو کیمیاوي محیط باندې تاثیرکوونکي عوامل په لاندې ډول دي( ۱۰،ص. ۱۵۶).


- ✓ الکترنیگاتیویتي
- ✓ هایبریدایزیشن
- ✓ هایدروجني اړیکې
- ✓ مقناطیسي ان ایزوتروپي خاصیت

۱- الکترونیګاتیویتي: د هر پروتون شاوخوا الکترونونه د حرکت په حال کې دي چې یو دوهمي مقناطیسي میدان تولیدوي چې د اعمال شوي میدان خلاف عمل کوي په نتیجه کې پروتون د کم مقناطیسي میدان احساس کوي پس باید په لوړه فریکونسۍ او قوی میدان کې ظاهرشي اما دلته د الکترونیګاتیویتي ګروپونو موجودیت د پروتون په اطراف کې الکترونونه د خپل ځان په طرف کشوي په اصطلاح پروتون یوه اندازه له الکتروني کثافت څخه کم احساس کوي او د دې باعث کیږي چې په ضعیف میدان کې پیک ښکاره شي مثلاً: د ځینو اتومونو الکترونیګاتیف خاصیت او د هغوی پیکونه د ppm په اندازه په لاندې ډول دي( ۱۱،ص. ۱۲).

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| $(CH_3)_4Si$ | $CH_4$ | $CH_3I$ | $CH_3Br$ | $CH_3Cl$ | CH3F |
| 1,8 | 2,1 | 2,5 | 2,68 | 3,05 | 4 |
| ppm 0 | 0,23 | 2,6 | 3,5 | 4,3 | 4,26 |

## د سپاینونو جوړه کیدل یا د سپاین-سپاین کوپلنګ


د سپاینونو جوړه کیدل د (n+1) قاعدې څخه پیروي کوي دلته n د همسایه اتوم د کاربن د هایدروجنو شمیر ده یعني د پروتونونو هغه جذبي پیکونه چې په یو خاص موقعیت کې لیدل کیږي که چیرې د همسایه اتوم په کاربن باندې د هایدروجن اتومونه یا پروتونونه شتون ولري نو دلته بیا دغه پیکونه د یو شاخ په بڼه نه ښکا ره کیږي، دغه قاعده د سپاینونو د جوړه کیدو یا کوپلنګ په نوم سره یادیږي مثلاً: ۱،۱،۲- ترای کلورو ایتان د سپاینونو جوړه کیدل یا کوپلنګ د درې شاخه او دوه شاخه پیکونو په شکل سره ښکاره کیږي چې میکانیزم یې په لاندې ډول ده( ۵،ص. ۱۵).




(۳- شکل): د سپاینونو د جوړه کیدو میکانیزم


## د سپاینونو د کوپلنګ منشا یا عامل

د سپاینونو د کوپلنګ یا جوړه کیدو منشه د همسایه اتومونو د پروتونونو موجودیت ده چې یو د بل په واسطه حساسیت لري
(۲،ص. ۱۷).





(۴- شکل): د سپاینونو د کوپلنګ میکانیزم

یعني کله چې د همسایه پروتون د مقناطیسي میدان جهت یو د بل سره هم جهت وی یعني ۱/۲+ وي نو په دې وخت کې د خارجي مقناطیسي میدان امواج په زیاته اندازه جذبیږي او پیک د ضعیف میدان په طرف میلان پیداکوي او کله چې د همسایه پروتون مقناطیسي میدان یو د بل سره په مخالف جهت کې وي نو دلته د خارجي اعمال شوي میدان امواج په کمه اندازه جذبیږي او پیک د قوی میدان په طرف میلان پیداکوي لکه: پورته شکل کې یعني د مجاورو پروتونونو سپاینونه یو بل احساسوي او یو د بل په مقابل جهت عمل کوي چې دغه عملیه باعث د څو پیک لرونکو پیکونو کیږي اما کله چې مجاور پروتونونه مشابه او معادل یو د بل وي دلته د سپاینونو جوړه کیدل صورت نه نیسي او د یوپیک په شکل سره واقع کیږي لکه:





## د پیکونو شدت

که چیرې د یو مرکب پیکونو ته فکر وکړو نو په څو شاخه لرونکو پیکونو کې یو پیک ډیر قوي او ارتفاع یی ډیره زیاته وي او بل پیک ډیر ضعیف او ارتفاع یی هم کمه وي ولې؟ داځکه چې دلته د سپاین مختلف حالاتونه په نظرکې نیول کیږي او هغه حالت د سپاین چې د واقع کیدو امکان یې ډیر زیات وي هغه قوي پیک ورکوي او نور بیا په ضعیف شکل سره وي مثلاً: د ایتایل ګروپ پیکونه په نظرکې نیسو دلته د متلین ګروپ په یو څلورشاخه شکل سره واقع کیږي او د میتایل ګروپ په درې شاخه شکل سره واقع کیږي او په دغو شاخونوکې ځینې یی ډیر قوي او ځینې یې ضعیف ښکاري چې علت د مختلفو سپاینونو موجودیت ده مثلاً: په لاندې شکل کې د دغې مسئلې میکانزم ښودل شوی ده(۱۲،ص. ۳).





د متلين گروپ لپاره د سپاينونو ترتيب




د ميتايل گروپ لپاره د سپاينونو ترتيب


$CH_2$-$CH_3$-




(۵- شکل): د پيکونو د شدت ميکانيزم

## ان ايزوتروپي


ځينې وخت فينايلي يا وينايلي پروتونونه په ناحيه د ۸ppm -۷ پورې ښکاره کيږي چې هيڅ کوم دليل د الکترونيگاتيف يا هايبريدايزيشن له مخې نه لري چې ولې په دومره لوړه ناحيه کې واقع کيږي، اما دلته يو بل مهم خاصيت وجود لري چې د ان ايزوتروپي په نوم سره ياديږي د ان ايزوتروپي معنی د يو غير مشابه يا مخالف ميدان په معنی ده چې د اعمال شوي ميدان په مخالف جهت عمل کوي او دغه خاصيت په وينايلي، فينايلي، استليني او کاربونيلي پروتونونوکې ليدل کيږي لکه د بنزين په مرکب کې د C–H اړيکې هايدروجنونه په ناحيه د ۷–۸ppm پورې ښکاره کيږي(۱۳،ص. ۱).




(۶- شکل): په اروماتیک مرکباتو کې د ان ایزو تروپي تاثیرات


یعني په پورته شکل کې د ثانویه مقناطیسي میدان تولید چې د پای الکترونونو له دوران څخه تولیدیږي او د اعمال شوي میدان په خلاف عمل کوي اروماتیک هایدروجنونه ضعیف میدان ته انتقالوي ځکه د اروماتیک حلقو هایدروجنونه په لوړ ppm او ضعیف میدان کې پیکونه ورکوي چې دغه خاصیت ته د ان ایزوتروپي یا دیامقناطیسي اثر وایي چې په ټولو هغو مرکبانوکې لیدل کیږي چې هلته د پای الکترونونه شتون ولري.

همدارنګه په استلین مرکب کې هم د ان ایزوتروپي عملیه صورت نیسي او بیا دغه هایدروجنونه په ضعیف میدان کې پیکونه ورکوي لکه(۵،ص.۷).




(۷- شکل): د استلین په مالیکول کې د ان ایزوتروپي خاصیت


همدارنګه په ځینې نورو هغو مرکباتو کې چې د پای اړیکې درلودونکي دي د ان ایزوتروپي خاصت تولیدیدل یې په لاندې ډول سره دي.




(۸- شکل): په غیر مشبوع مرکباتو کې د ان ایزوتروپي تاثیرات

## د HNMR سپکتروسکوپي د طیفونو تفسیر او تحلیل

د دې لپاره چې په یو راکړل شوي مرکب کې د هغه مرکب وظیفوي ګروپ او نور مشخصات پیداکړو نو دا په یاد ولرئ چې د یو مرکب په دقیق تشخیص کې موږ یواځې د یو سپکتروسکوپي میتود په واسطه نشو کولای د هغه مرکب ټولې ځانګړتیاوې پیداکړو بلکې د څو سپکتروسکوپي میتودونو څخه باید استفاده وشي ترڅو دقیق ساختمان د یو مرکب پیداکړو اما د HNMR په سپکتروسکوپي کې باید اول د مرکب مالیکولي دقیق فارمول راکړل شوی وي وروسته له دې په لومړي قدم کې په دغه مرکب کې د هایدروجن د غیرمشبوعیت ضریب محاسبه کیږي له هغې وروسته د مرکب جوړښتیزې اجزاوې په قطعه قطعه شکل سره د پیک له مخې پیداکیږي وروسته دا اجزاوې د پیک د قوانینو له مخې یو له بل سره وصل کیږي (۳،ص.۱۲)




(۹- شکل): د ۴- کلورو فینایل ترازول مرکب د $H^1NMR$ طیف

په نتیجه کې ویلای شو چې، الیفاتیک هایدروجنونه په ناحیه د (۲ppm-۰)پورې پیکونه ورکوي په وینایلي هایدروجنونو کې ځرنگه چې هلته د $SP^2$ هایبریدایزیشن شتون لري نو دغه هایدروجنونه په ناحیه د (۷ppm-۴،۵) پورې پیکونه ورکوي او همدارنگه استلیني هایدروجنونه د (۳ppm-۲) پورې ښکاره کیږي، په تیزابوکې تیزابي پروتونونه چې کمترین د مانع اثر له ځانه ښیي په ډیر ضعیف میدان کې یعني په ناحه د ۱۲ppm-۱۰ کې ښکاره کیږي ځکه دلته د هایدروجني اړیکې او د اکسیجن الکترونیگاتیف خاصیت په دغو هایدروجنوباندې ډیر زیات ده (۵،ص.۱۳).

**پایله**

د هستوي مقناطیسي ریزونانس پدیده هغه وخت منځ ته راځي چې د داسې یوې هستې په واسطه چې د خارجي مقناطیسي میدان سره هم جهته وي انرژي جذب کړي او د سپاین جهت ته د اعمال شوي میدان په مقابل کې تغیر ورکړي، دغه عملیه باعث د انرژي د جذب کیږي او دغه د انرژي جذب په کوانتمي شکل سره صورت نیسي او د جذب شوې انرژي مقدار د دواړو حالاتونو ترمنځ فرق څخه عبارت دی.

د HNMR سپکتروسکوپي لپاره باید یوه د مبدا نقطه یا شاهد وجود ولري چې د مختلفو پروتونونو موقعیت نسبت هغه شاهد ته باید په نظرکې ونیول شي نو د HNMR سپکتروسکوپي لپاره همیشه تترامیتایل زیلان (TMS) په نظرکې نیول کیږي چې تر ټولو په پیاوړیمیدان یعنی (۰ppm) کې یې پیک ښکاره کیږي، دغه مرکب په دې خاطر د شاهد په توگه په نظرکې نیول کیږي چې دلته پروتونونه په تر ټولو قوي ترینه پوښښ د الکترونونو کې قرار لري یعني سلیکان نسبت کاربن ته الکتروفازیتیف ده او د الکترونونو جریان د کاربن په طرف صورت نیسي.

د HNMR دستگاوې مختلف ډولونه لري مثلاً: ۱۰۰MHz , ٦۰MHz او داسې نورې نو باید څه کار وکړو چې په هر نوعه دستگاه باندې له یوې نمونې څخه ازمایښت واخیستل شي په یو ثابت عددي قیمت سره د هغه پیک په لاس راوړو نو دلته یوه اندازه محاسبې ته اړتیا شته هغه داسې چې د یو پروتون په واسطه د جذب شوې فریکونسی مقدار چې واحد یې Hz ده د دستگاه د فریکونسی په ظرفیت چې واحد یې MHz ده تقسیم کوو دلته بیا دغه فرقونه له منځه ځي او په یو ثابت عدد سره هر پیک په لاس راځي

ټول هغه پروتونونه یا هایدروجنونه چې په یو ډول کیمیاوي محیط کې قرار لري د معادلو هایدروجنونو په نامه سره یادیږي او د غه هایدروجنونه د HNMR په سپکتروسکوپي کې یواځې د یو پیک په شکل ښکاره کیږي.

هر ډول پروتون صرف په یوه خاصه محدوده د $\delta$ کې ریزونانس کوي او د جذب پیک یې ښکاره کیږي په دې ترتیب عددي مقدار د ppm یا هماغه د کیمیاوي محیط تغیر د یو پروتون په اړه مونږ ته د هغه پروتون د محیط او دا چې له کومو اتومونو سره وصل ده معلومات راکوي، او

همدارنگه  هغه عوامل چې په يو کيمياوي محيط باندې مستقيم تاثير کوي له هايبريدايزيشن، هايدروجني اړيکې او مقناطيسي ان ايزوتروپي خاصيت څخه عبارت دي.

**وړانديزونه**

۱- د شيخ زايد پوهنتون د علمي تحقيقاتو او مجلې محترم معاونيت ته مو وړانديز دا ده چې، د کيميا څانگې د تحقيقاتي لابراتوار د غني کولو لپاره هڅې گړندۍ کړي.

۲- د لوړو زده کړو له وزارت څخه مو غوښتنه دا ده چې زموږ داړتيا وړ موادو کوم ليستونه چې څو ځله په رسمي ډول ورته ليږل شوي دي، د عملي اجراء په برخه کې اقدام وکړي.

۳- هغو استادانو ته چې عضوي کيميا تدريس کوي وړانديز دا دی چې محصلينو ته د هر ډو ل عضوي موادو د څو نمونو د پروتون سپکتروسکوپي پيکونه وښودل شي، تر څو محصلين له دې برخې سره اشنايي پيدا کړي.

۴- د عضوي کيميا مينوالو ته مې وړانديز دا ده چې که چيرې غواړي د هر عضوي مرکب د پروتون سپکتروسکوپي پيک په اسانی سره په لاسر راوړي نو د SDBS جاپاني سايټ ته دې داخل شي او هر ډول پيکونه دي هلته وگوري.

**ماخذونه**


۱- حسين خېل، نورالله.(۱۴۰۲). د درملو عضوي کيميا. کابل: نوی مستقبل خپرندويه ټولنه.

[2] M. Dabiri, P. Salehi, S. Otokesh, M. Baghbanzadeh, G. Kozehgary, and A.A. Mohammadi, (2005) Tetrahedron Lett.، 46:6123–6126.

۳- کريمی، محمد علی.(۱۳۹۵). نانو شيمی. تهران: انتشارات د انشگاه پيام نور.

۵- صادقی، بهاره.(۱۳۹۷). اصول بنيادی شيمی هتروسيکل. تهران: انتشارات مدرسان شريف.

[6] L. Levy, Y. Sahoo, K.-S. Kim, E.J. Bergey, and P.N. Prasad, (2002) Chem. Mater. 14:3715–3721.

[7] N.A. Khan, S.H. Jhung, Adsorptive removal of hazardous materials.

[8] A. Dömling, (2006) Chem. Rev., 106:17–89.

[9] V.P. Ananikov, D.G. Musaev, and K. Morokuma, (2005) Organometallics, 24:715–723.

[10] M.G. Dekamin, S. Ilkhanizadeh, Z. Latifidoost, H. Daemi, Z. Karimi, and M. Barikani, (2014) RSC Adv., 4:56658–56664.

[11] Z. Ma, B. Moulton, Recent advances of discrete coordination complexes and coordination polymers in drug delivery, Coord. Chem. Rev.، 255 (2011) 1623–1641.

۱۲- زلفی گل، محمد علی.(۱۳۹۷).مباحث نوين در شيمی آلی. تهران: مدرسان شريف.

[13] D. Wang and D. Astruc, (2014) Chem. Rev., 114:6949–6985

# د عامه اړیکو اخلاق

پوهنمل فاروق جان منګل، ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه
پوهنیار هلال ارشاد، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، د ژورنالیزم څانګه
برېښنالیک: f.jmangal@gmail.com ، hilal.arshad8@gmail.com

**لنډیز**

په ټولیز ډول د هر مسلک کسان پر یو شمېر لیکل شویو او شفاهي ټولمنلیو اصولو باندې د عمل کولو ترڅنګ د اخلاص، صداقت او ژمنتیا ښکارندویي کوي،چې د یادو اصولو په پلي کېدو سره په نهایت کې یو اخلاقي حس القا کېږي. موږ تاسې وینو، چې په مسلکي نړۍ لکه طب، انجینري، حقوق او نورو مسلکي ډګرونو کې د دې مسلکونو لارویان سوګند یادوي او کلکه ژمنه کوي، چې دوئ به د دندې پرمهال د اړوند مسلک له اخلاقي پولو نه اوړي. عامه اړیکې هم همداسې یوه ساحه، یو مسلک او حرفه ده،چې یو لړ اخلاقي اصولو او مقرراتو ته اړتیا لري او د همدې مسلک کارکوونکي مکلف دي، چې دغه اخلاقي کوډونه او اصول ومني او د دندې پرمهال یې پلي کړي. د ټولنې سره د اړیکو په تړاو د ډېرو ادارو او سازمانونو لپاره عامه اړیکې خورا مهمې اغېزې لري او په همدې خاطر د هغو ادارو، چې پر خدماتو یې تمرکز وي یا خدمات عرضه کوي، په دغو ادارو کې عامه اړیکې د یوې حرفې او مسلک په توګه پېژندل کېږي. د عامه اړیکو څانګه د یوې ادارې ضمیر، اخلاقي زړه او مرکزیت دی؛ ځکه له همدې ادرسه جوتېږي، چې دغه اداره څه ترسره کوي او کومو اخلاقي کوډونو ته ژمنه او متعهده ده. په همدې اساس د عامه اړیکو د اخلاقو یو شمېر کوډونه رامنځته شوي، ترڅو د دې مسلک کسان یو لړ اخلاقي مسؤولیتونه ترسره کړي او هم د یادو اخلاقي کوډونو په اډانه او چوکاټ کې خپل ستراتیژیک اهداف، چې د غوره خدمت وړاندې کول دي، په ښه توګه ترلاسه کړي.

**کلیدي ټکي:** اخلاقي کوډونه، اخلاق، د عامه اړیکو اخلاق، عامه اړیکې

**سریزه**

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم و علی اله و اصحابه اجمعین

د اسلام مبارک دین په ډېرو مواردو کې د ښو اخلاقو سپارښتنه کړې ده او په اړه یې ډېر آیتونه او احادیث راغلي دي. د نمونې په ډول دلته د قران مجید د القلم سورت د یوه ایت شریف ذکر کېږي،چې پروردګار فرمایلي دي: وانک لعلی خلق عظیم. (القلم : ٤) اې نبیﷺ یقیناً ته د اخلاقو پر لوړه درجه (فائز) یې . په دې آیت شریف کې متعال رب د خپل نبیﷺ یو لوی صفت بیان کړی دی، چې پیغمبرﷺ د لویو اخلاقو څښتن و. په عین حال کې د اخلاقو په تړاو عائشه رضی

الله عنها فرمايي :كان خلقه القرآن (رواه مسلم) د رسول الله صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن وو. يعني د كومو كارو او اخلاقو په هكله،چې قرآن څه فرمايلي دي د هغو عملي بڼه په رسول الله صلى الله عليه وسلم کې موجوده وه.په يوه حديث کې راغلي دي: انما بعثت لاتمم مكارم الاخلاق زه ددې لپاره رالېږل شوی یم ،چې ښه اخلاق د بشپړتيا تر پولې ورسوم.

د دې ترڅنګ د اخلاقو رعايتول، د عامه اړیکو په ګډون په ټولو برخو او مسلکونو کې يوه اړينه او مهمه موضوع ده. په عامه اړیکو کې د ټاکل شويو نورمونو او اخلاقي کوډونو مراعتول په نهايت کې د ستراتيژيکو اهدافو په ترلاسه کولو کې اغېزمن ثابتيږي. په داسې حال کې،چې اخلاقي کړه وړه د فرد يا افرادو د احساساتو او باورونو تر اغيز لاندې راځي، دا د ارزښتونو، نورمونو او قوانينو يوه ټولګه ده ، چې په ټولنه باندې حاکم وي. د امانتداري، صداقت ، انصاف او د وګړو خصوصي حريم ته پاملرنه او وفاداري د عامه اړيکو د مسلك د اخلاقو په سر کې راځي. او برعكس تبعيض،بې عدالتي، د نورو له حقونو څخه سرغړونه او د چاپيريال ساتنې او بشري حقونو په څېر نورو مواردو ته نه پاملرنه د عامه اړيکو د اخلاقو په چوکاټ کې ځای نه لري.

په ټوليز ډول د عامه اړيکو د اخلاقو په تړاو ډېر کم مواد،چې په پښتو ژبه ليکل شوي وي، په كتابونو او انټرنيټي منابعو کې موندل کيږي. داچې دغه تشه ډکه شوې وي او د عامه اړيکو د كاركونكو او متخصصينو لپاره د اړوند مسلك په تړاو د ټولمنلو اخلاقو يو سند ترتيب شوی وي، دغه څېړنيزه علمي مقاله ترتيب شوې ده.

**موخه**

د دې څېړنې څخه اصلي موخه داده،چې له يوې خوا د عامه اړيکو په برخه کې په افغاني ټولنه کې د عامه اړیکو مسلکي کسانو ته په خپله مورنۍ ژبه مواد پيدا او ترڅنګ يې دوئ ته هغه اخلاقي نورمونه او کوډونه هم ور وښايي،چې زده کړه او پلي کول يې نه يوازې ددوئ،بلکې د اړوند ادارې او سازمان لپاره اړين وي او ترڅنګ يې د ټولنې په کچه د يو لړ ستونزو مخنيوی كوي.

**دكارمواد او ميتود**

دا څېړنه كتابتوني بڼه لري. د دې څېړنې په تكميل او بشپړاوي کې تر ډېره بريده له هغه موادرو ګټه پورته شوې ده،چې په بهرنيو ژورنالونو، مجلو او ويب سايټونو کې خپاره شوي وو او په تړاو يې څېړنيزې مقالې ليكل شوې دي. په ټوله معنی هڅه شوې،چې په دې څېړنه کې هغه موارد، اقتباسونه او بيلګې راوړل شي،چې د موضوع مطابق زموږ د ټولنې او د عامه اړيکو د مسلكي كسانو لپاره اړين او په دغه ليكنه کې يې شتون لازمي وي.

**پېژندنه**

اخلاق عربي کلمه ده او د انســـان په خوی او طبیعت باندې يې اطلاق کيږي، يعنی هغه څه،چې دده له کړنو، ســـلوك او رويې څخه څرګنديږي. اخلاق د راســـخ نفس هغه كيفيت دی،چې له

هغه څخه افعال پرته له دې،چې فکر کولو ته حاجت پیدا شي،له وګړو په اسانۍ صادرېږي. دلته د دې کړنو له کیفیت څرګندیږي، چې که چیرې دا افعال نیک وي، کیفیت ته یې ښه اخلاق ویل کیږي او که صادر شوي اخلاق بد وه، دې کیفیت ته بیا بد اخلاق ویل کیږي. اصلاً د اخلاقو مفرد خلق او یا خلق دی. په داسې توګه چې خلق ( د خاء په زیر او دلام په سکون ) د انسان د ظاهري بڼې په سموالي دلالت کوي، همدارنګه خلق ( د خاء په پیش) د انسان باطني حالت څرګندوي. [۱]

په لنډ ډول د اخلاقو یو تعریف دا سې وړاندې کیږي: اخلاق د انسان د روحي او باطني صفتونو یوه ټولګه ده. په عین حال کې اسلام اخلاق دانساني سلوک د هغو قواعدو او مبادیو ټولګه بولي، چې مصدر او اساس یې الهي وحي وي، دا قواعد د وګړو ژوند تنظیموي او په داسې ډول له نورو سره دده د تعامل تګلارې او حدود ټاکي ،چې په نړۍ د انسان د وجود او خلقت اصلي هدف متحقق کړي. [۲]

**د عامه اړیکو اخلاق**

د وګړو لپاره دا اسانه نه ده ، چې خپل کلتوري توپیرونه یوې خوا ته کړي او یو لړ اصولو او مقرراتو ته په ژمنتیا سره په یوه واحده او مشترکه نقطه او ادرس باندې سره راټول شي. په هرصورت، هر فرد د چلند خپل اخلاقي اصول لري،چې دا کړه وړه د دې ښکارندویي کوي،چې څه سم او مناسب دي او په نهایت کې همدا کړنې پر مقرراتو باندې بدلیږي. له همدې څخه په الهام اخیستنې، دا حالت د اخلاقو یو ډسپلین راټوکوي،چې دا ډسپلین بیا د عامه اړیکو له ډسپلین سره خورا تړلی دی. د عامه اړیکو په چوکاټ کې اخلاقي مسایلو ته پام خورا مهم دی او ډیر پام ورته کیږي.

په نړیواله کچه عامه اړیکې داسې یو مسلک دی،چې د کارکولو پر ځای پر خبرو ولاړ دی او په همدې اساس د عامه اړیکو په فعالیتونو کې اخلاق د بحث وړ موضوع ده. په عامه اړیکو کې د اخلاقي مطالعاتو دوام او د اخلاقو د منلو ټینګار او همدارنګه دنویو سازمانونو رامنځته کېدل دا موضوع نوره هم مهمه کړې ده. له شک پرته د معلوماتي تکنالوژي پرمختګ، نړیوالتوب او نورو تمایلاتو په تړاو حقایقو ته په پام سره، دا مسایل هم په دې برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. [۶]

که څه هم د عامه اړیکو متخصصین او عالمان په دې لټه کې دي،چې د دې مسلک د اخلاقو یوه نسبتاً ټولمنلې ټولګه باندې سره متفق شي، خو یو شمېر مسایلو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی. دلته د هغو څلورو مواردو یادونه کیږي، چې پراساس یې اخلاقو د عامه اړیکو د مسلک توجه راجلب کړې ده: [۳]

د عامه اړیکو متخصصین او کارکونکي پوهیږي،چې ناوړه چلند او نادرست رفتار د عامه اړیکو د مسلک شهرت له خطر سره مخامخ کوي.

عامه اړیکې د یوې ادارې د اخلاقي معیارونو سرچینه ده او د اخلاقي او ټولنیزو پالیسیو ذخیره ده.
د عامه اړیکو متخصصینو او کارکونکو هم تل زیار ایستلی او سختی یې گاللې دي ترڅو د اخلاقو خپل معیارونه جوړ او رامنځته کړي.
د عامه اړیکو متخصصـــین او کارکونکي د محتســب په توگه د هغو هدفي مخاطبینو د اخلاقي بیاکتنې لپاره، چې دوئ ورته خدمات عرضه کوي، باید په هغو فعالیتونو کې ښکیل وي، چې د ادارې په نفع وي او گټه ورته رسوي. [۳]
عامه اړیکې ،چې په عمومي ډول له وگړو ســره د اړیکې او رابطې د جوړونې لپاره ډیرې تاثیر گزاره او مهمې دي، د یوه داسې مسلک په توگه تعریف شوې دي ،چې د دریم ډول صنعت (خدماتي) ترچتر لاندې فعالیت کوي. د عامه اړیکو کارکونکي ، چې د یوې ادارې، ســازمان او کمپنی د گټو ا ستازیتوب کوي، په یوه داسې دوه لاري کې د شتون په معنی دی چیرته ،چې د اداري او سازماني اندیښنې او د وگړو مسولیت اخیستنه او بیا حساب ورکونه سره یوځای کیږي.
په همدې ا ساس، د عامه اړیکو یو کارکونکی او متخصص باید د اعتدال څخه کار واخلي ترڅو د تصــمیم نیونې د پروســې پرمهال د یادو دوو موضــوعاتو په تړاو تعادل په پام کې ونیســي. په همــدې تړاو، د عــامــه اړیکو نړیوال ســــازمــان ( International Public Relations Association (IPRA)) ،چې په ۱۹۵۵ کال کې په لندن کې تا سیس شوی دی، یاد سازمان یوه څېړنه ترسره کړې ده ترڅو یو اخلاقي منشـور تدوین کړي او له مخې یې د همدې مسـلک معیارونو ته وده ورکړي او په عملي ډگر کې د عامه اړیکو دخدماتو کیفیت لوړ او د پرمختگ وړ شي. دا څېړنه ،چې داخلاقي کوډونو په جوړولو پای ته ورسیده، په ۱۹۶۱ کال کې تائید او د ډیرو ادارو او سازمانونو له لوري رامنځته شوي کوډونه ومنل شول. [۳]
د Walle د معلوماتو له مخې، پنځو ادارو (د امریکا د عامه اړیکو ټولنې (PRSA)، د کاناډا د عامه اړیکو ټولنې (CPRS) د ا سټرلیا د عامه اړیکو انسټیټوټ (PRIA)، د سویلي افریقا د عامه اړیکو انسټیټوټ (PRISA) او د نیوزلینډ د عامه اړیکو انسټیټوټ (PRINZ) په نړۍ کې د عامه اړیکو اخلاقي قواعد او اصــــول رامنځته کړي دي. دغه قواعد او اخلاق په ډیری لیکل شـــویو مقرراتو باندې مشـتمل دي او دا روښـانه کوي، چې د عامه اړیکو کارکونکي او متخصـصـین په عملي ډگر کې څه ډول اخلاقي نورمونه ، اصـــول او مقررات پلي کړي؟ او یا هم څه ډول د فعالیتونو پرمهال اخلاقي چلند وکړي؟ [۱۲]
دا واړه کوډونه د اتن له کوډنو څخه اخیســـتل شـــوي دي او د عامه اړیکو د نړیوالې ادارې (IPRA) له لوري ور ته په ۱۹۶۵ کال کې پراختیا ورکړل شـــوې ده. د اتن اعلامیه ،چې د IPRAله لوري وړاندې شوې، د عامه اړیکو لومړنی قانون دی. دا کوډونه اوس هم خورا مهم او په نني عصر کې هم ترې استفاده کیږي.

دا اخلاقي کوډونه په ۲۰۱۱ کال کې اپډېټ شــوي او په عین حال کې یې دا څاره شــونې کړه ، چې د ویانا، اتن او بروکســل مقررات ټول د یوه واحد منشــور په توګه ترېوه چتر لاندې راولي. دلته د عامه اخلاقو د یو شـــمېر هغو ټولمنلو کوډونو یادونه کیږي ،چې لا هم د عامه اړیکو متخصص او کارکونکي یې په عملي ډګر کې کاروي. [۷]

**الف– مشـاهده**: دلته له مشـاهدې موخه د د ملګرو ملتونو د منشـور او د بشـري حقونو د نړیوالې اعلامیې د اصولو رعایت دی ، چې په اړانه او محتوا کې یې یو شمېر ارزښتونو ته اشاره شوې ده.

**ب– صداقت:** د هغو کسانو د باور او اعتماد ساتل او ترلاسه کول ،چې له دوئ سره په اړیکه کې دي او تل د ســم او صـادقانه چلند ښـښـتن وي. په دې معنی ، چې ریښـتینوالی او صـداقت باید د نورو معیارونو ترڅنګ د اړیکو معیار اووسي او دغه ارزښت باید زیانمن نه شي.

**ج– ډیالوګ:** د ډیالوګ لپاره د اړتیا وړ کلتوري، فکري او اخلاقي شرایطو د رامینځته کولو هڅه کول او ټولو اړوندو اړخونو ته ددې حق ورکول ،چې خپل ځان اســـتازیتوب وکړي او خپل شخصي نظر اظهارکړي او په ډاګه هغه څه ووایي،چې د یوې مسئلې په تړاو دده معقول نظر وي.

**د– روڼوالی:** د اړوند نومونو، بنســټونو او ګټو د بیانولو پر مهال د روښــانه او څرګند دریځ خپلول ،چې تاســې یې اســتازیتوب کوی. د عامه اړیکو د کارکونکو په کړونو او خبرو کې شـفافیت او روڼوالی د اړیکو ابهام له منځه وړي او په نهایت کې په اړیکو کې ښکیل اړخونه په ا سانی سره خپل اهداف ترلاسه کوي.

**ه– شخړه:** د مسلکي ګټو د ممکنه او احتمالي شخړو مخنیوی او هغه اړخ ته خبر ورکول ،چې په دا سې یوه پېښه کې د شخړې له امله یې اغېزمن کیدل شوني وي. ترڅنګ یې د بحراني حالاتو او شخړو څخه مخنیوی.

**و– محرمیت:** افرادو ته د محرمو معلوماتو د وړاندې کولو پر مهال د معلوماتو د محرمیت درناوی

**ز– دقت:** د چمتو شویو ټولو معلوماتو د کره والي او ریښتینوالی په تړاو د ټولو مسؤلیت لرونکو ګامونه اخیستل او په اړه یې پوره دقت کول.

**ح– درواغ:** د هرې ممکنه هڅې کول ترڅو په قصـــدي توګه د غلطو یا ګمراه کوونکو معلوماتو د خپریدو څخه مخنیوی وشـي او په غیرشـعوري ډول هغه خپاره نه شـي او د داسـې یوه عمل د کېدو په صورت کې، هر څومره ،چې شونې وي باید اصلاح شي.

**ط– فریب:** د فریب یا غیرصادقانه لارو څخه د معلوماتو نه ترلاسه کول.

**ي– افشاء کول:** عامو وګړو ته په ښکاره بڼه د هغو ادارو معرفي او افشاء کول، چې د عامه اړیکو کارکونکی ورته لابي کوي، بازارموندنه ورته کوي او دخدمت په پار ورته ګمارل شـوی وي. د داسې یوې ادارې نه ایجادول او رامنځته کول یا هم کار نه ورته کول ، چې د نامعلومو ګټو لپاره کار کوي او یا هم نااعلان شوې ګټې وړاندې کوي.

**ک– ګټه:** انسان حریص دی او ډیری وخت د ډیرې ګټې د ترلا سه کولو په پار یو شمېر قانوني تیروتنې ترســره کوي، په همدې اســاس د ګټې په پار په دریمه ډله او یا هم دریم لوري د دولتي چارواکو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو او اسنادو نه پلور

**ل– معاش:** د مســلکي خدماتو په بدل کې، له اړوند ادارو پرته د بل چا څخه د همدې خدمت په بدل کې د معاش او امتیاز نه ترلاســـه کول. له دې جوتیږي، چې د عامه اړیکو کارکونکی باید یوازې د همغه ادارې ارز ښتونو ته ژمن اوو سي، چې نوموړې ور سره کاري قرارداد امضاء کړی دی.

**م– هڅونه:** له هڅونې څخه موخه داده ، چې ســتاســو کړنې ، فعالیتونه او وړاندیزونه باید د یو چا د تشویق او هڅونې باعث نه شي. یعنی په مستقیم او غیر مستقیم ډول د وګړو استازو ، رسنیو یا هم نورو شریکانو ته د هڅونې او تشویق په پار د مالي او نورو امتیازاتو نه وړاندې کول

**ن– نفوذ:** د هېڅ یوه دا سې یوه وړاندیز او عمل نه کول، چې د وګړو پرا ستازو ، ر سنیو او یا هم نورو ښکیلو اړخونو باندې د نفوذ د ترلاسه کولو په پار ترسره کیږي.

**س– سیالي کوونکي:** داچې اوسنۍ مارکیټ په ټوله معنی د سیالۍ او رقابت ډګر ګرځیدلی دی، په همدې اساس په قصدي توګه د عامه اړیکو د بل متخصص یا مسلکي کارکونکي شهرت ته زیان نه رسول.

**ع– د مشتري ښکار کول:** داچې په نهایت کې خدماتي ادارې او سوداګریز مراکز غواړي، چې خپلو ستراتیژیکو اهدافو، چې ډیره ګټه کول او د ډیرو پیریدونکو راجلبول دي، په همدې اساس د فریب ورکونکو و سیلو په و ساطت د عامه اړیکو دبل متخصص او کارکونکي او همدارنګه د پیریدونکو د راجلبولو د هڅو نه کول.

**ف– استخدام:** کله ،چې د عامه ادارو او سیالو ادارو څخه څوک ګماری، باید داړوند سازمانونو او ادارو مقرراتو او محرمیت اړتیاوو ته پاملرنه وکړی. په دې معنی، چې باید ســتاســو ګمارنه په نورو ادارو کې د منازعو، ګډوډیو او ادارو د تضعیف باعث نه شي. [۷]

**دمقالې موندنې**

ددې کتابتوني څېړنې موندنې ښيي، چې د نورو ډسپلینونو او مسلکونو په څېر عامه اړیکې هم ځانګړي کوډونه او اخلاق لري، چې د همدې مسلک کارکونکي، متخصصین او مسلکیان یې په منلو مکلف دي. دا مسلکي اخلاق او کوډونه ټولمنلي او د عامه اړیکو د اړوند فعالیتونو د اجرا پرمهال یې پلي کول اړین دي.

**پایله**

اخلاق، چې د سم او ناسم چلند اصل دی، د واړه چلندونو او کړنو د پوهې د بنسټ په توګه ګڼل کیږي. مسلکي اخلاق د داسې اصولو یوه ټولګه ده، چې ښيي، د یوه مسلک په تړاو څه سم او څه هم ناسم دي، د یوه مسلک په تړاو د چلند د مقرراتو یوه ټولګه رامنځته کوي او د عامه اړیکو پر

متخصصینو او کارکونکو ددې اصولو او مقرراتو منل او رعایت اجباري کوي. ترڅنګ یې هغه شمېر کسان مجازات کوي، چې دغو اصولو او مقرراتو ته غاړه نه ږدي.
په همدې اساس ښکاره ده ، چې هر مسلک باید یو لړ اخلاقي اصول او کوډونه ولري. مسلکي اخلاق د هغه اصولو او معیارونو لړلیز دی، چې په نهایت کې په هره مسلکي ساحه کې کړنو ته شکل ورکوي. د عامه اړیکو متخصصین او هغوئ ،چې په دې ساحه کې په کار او دنده بوخت وي، د اخلاقي معضلو په ګډون د عامه وګړو کلیدي ارزښتونه پیژني او یو اخلاقي تحلیل ترسره کوي، ترڅو د اړوند سازمان او ادارې پالیسۍ پلي کړي. دا باید د عامه اړیکو د کارکونکو او متخصصینو هدف واوسي. د عامه اړیکو متخصص او کارکونکي باید پر اساسي ارزښتونو ولاړ او بنا اخلاقي اصول  په نظر کې ونیسي، ترڅو له دوئ سره مرسته وشي، چې د یوې پریکړې او تصمیم د سموالي او کره والي په تړاو قضاوت وکړي.
د پایلې په توګه ویلای شو، چې د عامه اړیکو کارکونکي او متخصصین د مسلکي اخلاقو له نظره د اخلاقي اصولو په رعایت سره، ددې اصولو له پلي کېدو باید ډاډ ترلاسه کړي او همدارنګه د وخت د تقاضا مطابق باید ددې مواردو د تغیر او اپډېټ کولو  څخه هم اطمینان ترلاسه کړي.

**مناقشه**

که څه هم په نړیواله کچه د عامه اړیکو اخلاق له لسیزو راپدې خوا د مسلک اړوند فعالیتونو د اجرا پرمهال تطبیق او پلي کیږي خو په افغانستان کې څه ډول، چې د عامه اړیکو سره بلدتیا د وروستیو لسیزو او کلونو سوژه ده، په همدې اساس یې اخلاق هم ددې مسلک د کارکونکو لپاره نوي موضوعات دي. د اړوند موضوع په تړاو په انټرنیټي نړۍ او لیکل شویو کتابونو کې ډېر کم موضوعات موندل کیږي، خو داچې دا موضوعات نوي دي، د تېرو ترسره شویو علمي څېړنو په پرتله به د عامه اړیکو د کارکونکو لپاره خورا ډېر موثر او اغیزمن وي. که څه هم ، اصلاً، د عامه اړیکو د اخلاقو په تړاو ډېر کم مواد د لاس رسي وړ دي او دا سند به نسبتاً د عامه اړیکو د کارکونکو لپاره په اوسنیو شرایطو کې یو ښه علمي ادرس واوسي. په دغه کتابتوني څېړنه کې د عامه اړیکو معاصرو اخلاقي کوډونو اواخلاقو ته اشاره شوې ،چې دغه څېړنه یې لا غښتلې کړې ده.

**نتیجه ګیري**

په نهایت کې ددې کتابتوني څېړنې وروسته دا نتیجه لاسته راځي، چې د نورو مسلکونو په څېر د عامه اړیکو د مسلک ، ډسپلین او حرفې لپاره هم د یو لړ اخلاقو شتون او په عملي ساحه کې پر هغوئ عمل کول اړین او ضروري دي. ترڅنګ یې د عامه اړیکو د استادانو، محصلینو، په عملي ساحه کې د عامه اړیکو د کارکونکو او په ټوله کې په دې مسلک کې د ښکیلو لورو لپاره په خپله مورنۍ ژبه د یوه سند شتون هم ثابت شو او ترټولو مهمه داچې ددې اخلاقي مسایلو تعقیب به د یوې ادارې ، سازمان او شرکت ستراتیژیکې ګټې او اهداف یقیني کړي.

**وړاندیزونه**

- داچې عامه اړیکې د یوه نوي مسلک او ډسپلین په توګه په دې وروستیو لسیزو کې په افغانستان کې راټوکیدلې دي، په تړاو یې باید لا ډیرې څېړنې وشي.
- د همدې مسلک په تړاو د شویو نړیوالو علمي څېړنو څخه دې استفاده وشي.
- اکاډمیک او څېړنیز مراکز دې ددې مسلک د متخصصینو او کارکونکو لپاره په تخنیکي لحاظ د څېړنې مواقع مساعدې کړي.
- وړاندیز کیږي، چې ددې مسلک اخلاق دې د اسلامي شریعت، ټولنیزو او کلتوري نزاکتونو او ملي ارزښتونو په اړانه کې غني او بډایه کړل شي.
- د عامه اړیکو د اساساتو ترڅنګ دې ددې مسلک پر هغو موضوعاتو تمرکز او په تړاو یې تحقیقات زیات شي، چې په ورځنیو فعالیتونو کې استفاده کیږي.

**ماخذونه**

١. التربية الأخلاقية الإسلامية)) لمقداد يالجين (ص ٧٥) كما في ((نضرة النعيم)) لمجموعة باحثين (ص ٢٢).
٢. الأصفهاني، ا) .٢٠٠٩ .(*مفردات ألفاظ القرآن* .أصبهان: الأعلام للزركلي.

٣. Caroline block “ The PR practioner’s : A Handbook vivabooks Pvt Ltd,2003
٤. De George, R. T. (2009). *Business Ethics* (7th ed.). Prentice Hall. Boston.
٥. Darly, G. F. (1994). *Applied Professional Ethics*. Routledge. London.
٦. Hutton, J.G. (1999). “The Definition, Dimensions, and Domain of Public Relations”. *Public RelationsReview 25 (2)*. pp.199-214.
٧. İspir, N., Yurdigul, Y. & Kucukalkan, Y. (2015). “Halkla İlişkiler Etiği”, *Tarih Okulu Dergisi*. Yıl 8, Sayı XXIV, pp. 353-375.
٨. Seib, P.M. & Fitzpatrick, K. (1995). *Public Relations Ethics*. Fort Worth, TX & London: Harcourt Brace College Publishers.
٩. Seema Sharma, “public- relation” An mol publications PVT LTD. 2005
١٠. Sriramesh, K. & Vercic, D. (Eds.) (2003). *The Global Public Relations Handbook: Theory, Research, and Practice*. Routledge.
١١. Theaker, A. (2004). *The Public Relations Handbook*. Routledge.
١٢. Walle, M. (2003). “Commentary: What Happened to Public Responsibility? The Lack of Society in Public Relations Code of Ethic”. http://www.prismjournal.org/fileadmin/Praxis/Files/Journal_Files/issue1/commentary_paper1.pdf, 13.03.2019

Wilcox, D.L., Cameron, G.T., Ault, P.H. & Agee, W.K. (2003). *Public Relations, Strategies and Tactics*. ٧th Edition. Allyn & Bacon

# د پېچلو شکل لرونکو جسمونو د حجمونو پیدا کول

پوهنمل احسان الله همتي، پوهنمل محمد زبیر تنویر، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، رياضي څانګه
Ehsanullah.hemati@gmail.com& Tanweer.zubair@gmail.com

**لنډیز**
دا چې د یو جسم حجم د فزیکي علومو په مختلفو مسائلو کې مهم رول لوبوي، نو څرنګه چېډ هندسې علم د هغه ساده جسمونو د حجم پیدا کولو او محاسبه کولو لپاره، چې منظم هندسي شکلونه لري بېلا بېل  فورمولونه رامنځته کړي دي؛ خو د پېچلو شکل لرونکو جسمونو لپاره یې کوم ځانګړي فورمولونه نه دي رامنځته کړي؛ نو همدې موخې ته د رسیدو لپاره مو هغه فورمولونه، چې د انتیګرالونو په ذریعه ترلاسه کیږي او د پیچلي شکل درلودونکو جسمونو حجمونه پرې محاسبه کیږي تشریح او توضیح کړي، په هر فورمول باندې د لا ښې پوهې د ترلاسه کولو په پار مو شکلونه کارولي او د فورمول د تطبیق په منظور مو مثالونه وړاندې کړي او حل کړي دي، ددې تر څنګ مو د هغه مفهومونه څخه هم په مختصر ډول یادونه کړي، چې د یادو فورمولونو لپاره ضروري دي.
**کلیدي ټکي:** انتیګرالي مجموعه،حجم، دوراني جسمونه،معین انتیګرال

**سریزه**
بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله واصحابه اجمعین.
څرنګه چې تفاضلي حساب او انتیګرال د آنالیز ریاضي له عمده مفهومونو څخه شمېرل کیږي او د تطبیقي ریاضیاتو یوه څانګه ده، چې په اختیاري ډول د درجو په انتخاب سره د مشتقاتو او انتګرال سره سروکار لري. په تیرو لسیزو کې تفاضلي حساب او انتیګرال د علومو په مختلفو برخو کې پرله پسې تطبیقات پیدا کړل، چې له انتیګرال څخه د ریاضیاتو، انجنیري، اقتصاد او د بېلا بېلو فزیکي مسائلو په حل کې د مثال په ډول د خطونو په واسطه د محاط شوي منحني ګانو د قوس د اوږدوالي په محاسبو، حجم، کار، سرعت، فاصله د عطالت مومنټ اوداسې نورو د پیدا کولو په برخه کې په پراخه توګه ګټه اخیستل کیږي.
د هندسې علم د هغه ساده جسمونو د حجم پیدا کولو او محاسبه کولو لپاره چې منظم هندسي شکلونه لري بېلا بېل  فورمولونه رامنځته کړي دي د مثال په توګه د مکعب حجم، د کرې حجم، د استوانې حجم او د هرم حجم لپاره؛ یا خو د هغه جسمونو د حجم د محاسبه کولو لپاره، چې پیچلي شکلونه لري ځانګړي ساده فورمولونه او رابطې وجود نه لري، چې پرمټ یې وکولای شي

ددوی حجمونه محاسبه کړي، پس اړ یو چې ددا ډول جسمونو د حجمونو د محاسبه کولو لپاره له بدیلو لارو یعنې بېلا بېلو انتیګرالي کړنلارو څخه ګټه پورته کړو؛ تر څو د دا ډول جسمونو د حجمونو په پیدا کولو کې ګټه ترې پورته کړو.

دا چې د یو جسم حجم د فزیکي علومو په مختلفو مسائلو کې مهم رول لوبوي او ددې مقالې اصلي موضوع هم د حجمونو په پیدا کولو باندې راڅرخي. حجم (Volume) یو درې بعدي فضأيي کمیت دی چې په یو مشخص سرحد سره محدود شوی وي او هغه ځای، چې یو جسم یې په فضأ کې نیسي د نوموړي جسم حجم بلل کیږي.

د معین انتیګرال څخه په ریاضیاتو، فزیک، میخانیک او اکثره طبیعي علومو کې د تحقیقاتو اساسي وسیله شمېرل کیږي او له معین انتیګرال څخه په کې په پراخه کچه ګټهاخیستل کیږي. ما هم د بېلا بېلو منابعو په پام کې نیولو سره د معین انتیګرال څخه په ګټه اخیستنه د پیچلي شکل درلودونکو جسمونو د حجمونو محاسبه کول څېړلي دي.

**موخې**

د دغې نیول شوې څېړه نیزې مقالې لنډې موخې په لاندې ډول دي

۱ ــ د پیچلو شکل لرونکو جسمونو د حجم پیدا کولو لپاره د فورمولونو معرفي کول.

۲ ــ د معلومو موازي مقطعو درلودونکو جسمونو د حجمونو پیدا کول.

۳ ــ د معرفي شوو فورمولونو تطبیق کول.

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري په ۱۴۰۲ کال کې ترسره شوي ده تقریباً له هغو منابعو څخه په کې استفاده شوي ده چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې خپره شوي دي. په دې لیکنه کې چې له مختلفو انترنیټي سایټونو څخه استفاده شوي دي.

**انتیګرالي مجموعه**

تعریف: که د $f(x)$ تابع د $[a,b]$ انتروال پرمخ تعریف شوې او $a = x_0 < x_1 < x_2 < \ldots < x_n < b$ وي او د راکړل شوي انتروال یو انقسام وي نو په دې صورت کې د

$$S_n = f(\zeta_0)\Delta x_0 + f(\zeta_1)\Delta x_1 + \ldots + f(\zeta_{n-1})\Delta x_{n-1} \ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

مجموعه په داسې حال کې چې

$$\Delta x_0 = x_1 - x_0 \,,\, \Delta x_1 = x_2 - x_1 \,,\ldots,\, \Delta x_{n-1} = x_n - x_{n-1}$$

$$x_0 < \zeta_0 < x_1 \,,\, x_1 < \zeta_1 < x_2 \,,\, x_2 < \zeta_2 < x_3 \,,\ldots,\, x_{n-1} < \zeta_{n-1} < x_n$$

ده د $[a,b]$ په انتروال کې د $f(x)$ تابع انتیګرالي مجموعې په نوم یادیږي (طباطبایي، ۱۳۹۱).

**معین انتیگرال**

تعریف : د $\sum_{i=1}^{n} f(x_i)\Delta x_i$ مجموعي لېمیټ په هغه صورت کې چې $\lambda \to 0$ وجود ولري د $[a,b]$ په قطعه خط کې د $f(x)$ تابع معین انتیگرال بلل کیږي (۴، ص. ۲۷۱).

$$S = \lim_{\lambda \to 0} \sum_{i=1}^{n} f(x_i)\Delta x_i = \int_a^b f(x)dx$$

$a$ ته لاندیني حد او $b$ ته پورتنی حد ویل کیږي .


او یا د انتیگرالي مجموعي $S_n$ لیمېټ په هغه صورت کې چې $n$ بې نهایت ته تقرب وکړي د $a$ څخه تر $b$ پورې د $f(x)$ تابع د معین انتیگرال په نوم یادیږي . یعنی

$$\int_a^b f(x)dx = \lim_{n \to \infty}\left[f(x_0)\Delta x_0 + f(x_1)\Delta x_1 + ... + f(x_{n-1})\Delta x_{n-1}\right]$$

څرنگه چې $n \to \infty$ په صورت کې د هر فرعي انتروال اعظمي اوږدوالی صفر ته تقرب کوي یعنی $\max \Delta x_i \to 0$، $(i = 0,1,2,...,n-1)$نوکولای شو ولیکو :

$$\int_a^b f(x)dx = \lim_{\max \Delta x_i \to 0}\left[f(x_0)\Delta x_0 + f(x_1)\Delta x_1 + ... + f(x_{n-1})\Delta x_{n-1}\right]$$

$$= \lim_{\max \Delta x_i \to 0} \sum_{i=0}^{n-1} f(x_i)\Delta x_i \,.............................(2)$$





(۱- شکل) :- د f(x)تابع منحنیانقسام د [a, b] انتروال پرمخ راښیي.

**قضیه:** که د $f(x)$ تابع د $[a,b]$ په انتروال کې متمادي وي پس یو $c \in (a,b)$ وجود لري په دې ډول چې :

$$\int_a^b f(x)dx = (b-a)\,f(c)$$


د پورتنی قضیې هندسي مفهوم دادی چې د منحنې لاندې مساحت د هغه مستطیل د مساحت سره مساوي دی چې ابعاد یې $(b-a)$ او $f(c)$ دي(۳، ص-ص ۲۸۳- ۲۸۴).




(۲- شکل):- د f(x) تابع منحني د [a, b] انتروال پر مخ رابښيي.

**د دوراني جسمونو د حجمونو محاسبه کول**

تعریف: که چیرې هغه سطحه، چې د یوې متمادي تابع $y = f(x)$ او $x$ محور په واسطه د $[a, b]$ په انتروال کې محاط شوي وي په فضا کې د $x$یا $y$محور پر شاوخوا مکمل دوران وکړي نو یو جسم لاس ته راځي چې دوراني جسم ورته وايي (۳- شکل وګورئ).




(۳- شکل):- د x محور او y محور په شاوخوا د f(x)تابع کامل دوران رابښيي.

لکه څرنګه چې په (۳- شکل) کې لیدل کیږي دوراني جسم یا خپل دوران د $x$ محور پر شاوخوا ترسره کوي او یا هم خپل دوران د $y$ محور پر شاوخوا تر سره کوي، چې په دې سره مونږ دوه حالته لرو، چې په حقیقت کې دواړه حالتونه سره ورته دي او د نوموړي دوراني جسمونو حجم د لاندې فورمولونو څخه په لاس راځي (۸، ص-ص. ۲۵۰- ۲۵۱):

$$V = \pi \int_a^b \left[ f(x) \right]^2 dx \qquad (1)$$

$$V = \pi \int_c^d \left[ g(y) \right]^2 dy \qquad (2)$$

د لومړي حالت فورمول د لاسته راوړلو لپاره د (٤- شکل) مطابق عمل کوو په دې ډول، چې که چیرې د $[a, b]$ انتروال د $\Delta x_1, \Delta x_2, \ldots\ldots, \Delta x_n$ د $n$ په کوچنیو فاصلو وویشو او د $\Delta x_k$ په

فاصله کې د $x_k$ یوه نقطه انتخاب کړو؛ نو دهغې سطحې مساحت، چې د $y = f(x)$ منحني ، $x$ محور او د $\Delta x$ په اوږدوالي محدودیږي تقریباً دیوې استواني له مساحت څخه عبارت دی، چې د قاعدې شعاع یې $f\left(x_k\right)$ او ارتفاع یې $\Delta x_k$ ده بنا پردې


$$\Delta V_k = \pi f^2\left(x_k\right)\Delta x_k$$

پس د دوراني جسم تقریبي حجم مساوي دی له:

$$V_n = \sum_{i=1}^{n}\Delta V_k = \sum_{i=1}^{n}\pi f^2\left(x_k\right)\Delta x_k$$


اوس که چیرې $n$ بې نهایت ته تقرب وکړي یعنی $\max\Delta x_k \to 0$ وکړي؛ نو دجسم حجم عبارت دی له:

$$V = \lim_{n\to\infty} V_n = \lim_{n\to\infty}\sum \pi f^2\left(x_k\right)\Delta x_k = \pi\lim_{n\to\infty}\sum_{i=1}^{n} f^2\left(x_k\right)\Delta x_k = \pi\int_a^b\left[f^2\left(x\right)\right]dx$$




(٤- شکل):- په[a, b] انتروال کې د x په محورد n په کوچنیو فاصله د دوراني جسم ویش راښیي.

د دویم حالت فورمول د لاسته راوړلو لپاره د (٥- شکل) مطابق عمل کوو په دې ډول چې که چیرې د $[c, d]$ انتروالپه $n$ فاصلو وویشو اود $\Delta y_k$ په فاصله کې د $y_k$ یوه نقطه انتخاب کړو؛ نو دهغې سطحې مساحت چې د $x = g(y)$ منحني، د $y$ محور او د $\Delta y$ په اوږدوالي محدودیږي نږدې دیوې استواني له مساحت څخه عبارت دی چې د قاعدې شعاع یې $g\left(y_k\right)$ او ارتفاع یې $\Delta y_k$ ده؛ نو د لومړي حالت مطابق عمل کوو تر څو د دویم حالت فورمول لاسته راشي، یعنې $V = \pi\int_c^d\left[g\left(y\right)\right]^2 dy$ (٨، ص. ٢٥٣).



(۵- شکل):- په[c, d] انتروال کې د y په محورپه کوچنی فاصله د دوراني جسم ویش راښیي.

**مثال:** دېته په کتو، چې د $a$ په شعاع یوه کره د نیمې دایرې له دوران څخه د همدغې نیمې دایرې په قطر لاسته راځي د کرې حجم یې دانتیگرال نیوونې په واسطه پیدا کړئ (۲، ص. ۳۶۱).

حل: د (٦- شکل) مطابق د لومړي حالت د فورمولڅخه په گټه اخیستنه که چیرې د $a$ په شعاع نیمه دایره او د مبدأ په مرکز د $x$ محور شاوخوا کامل دوران وکړي، د دایرې له $x^2+y^2=a^2$ معادلې څخه $y$ په لاس راوړو لرو چې :

$$y=\sqrt{a^2-x^2}$$


$$V=\pi\int_{-a}^{a}y^2\,dx=\pi\int_{-a}^{a}\left(a^2-x^2\right)dx=\pi\left(a^2x-\frac{x^3}{3}\right)\Bigg|_{-a}^{a}$$


$$=\pi\left[a^3-\frac{a^3}{3}-\left(-a^3+\frac{a^3}{3}\right)\right]$$

$$=\pi\left(a^3-\frac{a^3}{3}+a^3-\frac{a^3}{3}\right)$$

$$=\pi\left(2a^3-\frac{2a^3}{3}\right)=\pi\left(\frac{6a^3-2a^3}{3}\right)=\frac{4}{3}\pi a^3$$

$$\Rightarrow \boxed{V=\frac{4}{3}\pi a^3}$$






(٦- شکل):- د a په شعاع د x محور په شاوخوا د نیمې دایرې کامل دوران راښیي.

**مثال:** که یوه منحني د $y=\sqrt{x}$ د $x$ محور او $x=5$ په واسطه محدوده شوي وي او د $x$پر شا وخوا مکمل دوران وکړي حجم یې پیدا کړئ(۵، ص.۹۷۱).

حل: د لومړي حالت د فورمول څخه په ګټه اخیستنه، چې د دوران ناحیه او حاصل شوي حجم په (۷- شکل) کې مشخص شوي دي. په دې ځای کې $f(x)=\sqrt{x}$ او د $[a,b]$ انتروال له $[۰,۵]$ سره مساوي دی؛ نو لاسته راغلی حجم مساوي دی له:

$$V=\pi\int_0^5[f(x)]^2\,dx=\pi\int_0^5\left(\sqrt{x}\right)^2dx=\pi\int_0^5 x\,dx$$


$$=\pi\left(\frac{x^2}{2}\right)\Bigg|_0^5=\frac{25\pi}{2}$$





(۷- شکل):- د غوښتل شوي جسم د دوران ناحیه او حاصل شوي حجم راښیي.

**مثال:** که یوه منحني د $x=y^{5}$ تابع د $y$ محور او $[۰,۲]$ انتروال په واسطه محدوده شوي وي او د $y$ پر شا وخوا مکمل دوران وکړي حجم یې پیدا کړئ (۵، ص. ۹۸۰).

حل: د دویم حالت د فورمول څخه په ګټه اخیستنه چې د دوران ناحیه او حاصل شوي حجم په (۸- شکل) کې مشخص شوي دي. په دې ځای کې $x=y^3$ او د $[c,d]$ انتروال له $[۰,۲]$ سره مساوي دی. پس لاسته راغلی حجم مساوي دی له:




(۸- شکل):- د غوښتل شوي جسم د دوران ناحیه او حاصل شوي حجم راښیي.





$$V=\pi\int_0^2[g(y)]^2\,dy=\pi\int_0^2\left(y^3\right)^2dy=\pi\int_0^2 y^6\,dy$$

$$=\pi\left(\frac{y^7}{7}\right)\Big|_0^5=\frac{128\pi}{7}$$

اوس د (۹- شکل) مطابق د جسم حجم لپاره هغه حالت په پام کې نیسو چې د $y=f(x)$ او $y=g(x)$دوو منحنیو په واسطه (چې د $[a,b]$ په انتروال کې د دواړو قیمتونه مثبت وي) محدود شوی او د $x$ محور شاوخوا دوران وکړي. په دې صورت کې د حاصل شوي جسم حجم د لاندې فورمول په واسطه تر لاسه کیږي.


$$V=\pi\int_a^b([f(x)]^2-[g(x)]^2)dx=\pi\int_a^b[f(x)]^2dx-\pi\int_a^b[g(x)]^2dx \qquad (3)$$




(۹- شکل):- د دوو منحنیو په واسطه د محدود شوي جسم دوران د x محور په شاوخوا باندې راښیي.

د (۱۰- شکل) مطابق د جسم حجم لپاره هغه حالت په پام کې نیسو چې د $x=F(y)$ او $x=G(y)$دوو منحنیو او $[c,d]$ انتروال په واسطه محدود شوی او د $y$ محور شاوخوا دوران وکړي. په دې صورت کې د حاصل شوي جسم حجم د لاندې فورمول په واسطه تر لاسه کیږي.

$$V=\pi\int_c^d([F(y)]^2-[G(y)]^2)dy=\pi\int_c^d[F(y)]^2dy-\pi\int_c^d[G(y)]^2dy \qquad (4)$$





(۱۰– شکل):– د دوو منحنیو په واسطه د محدود شوي جسم دوران د y محور په شاوخوا باندې راښیي.

**مثال.** په [۰، ۲]انتروال کې د $y = x^2 + 1/2$ منحنی او $y = x$خط په واسطه محاط شوي سطحې څخه حاصل شوی حجم چې د x محور شاوخوا دوران کوي محاسبه کړئ (۳، ص. ۲۵۴).

حل. غوښتل شوي ناحیه او د سطحې یو عنصر په (۱۱– a شکل) کې رسم شوي دي. که چیرې ذکر شوي ناحیه د x محور شاوخوا دوران وکړي د (۱۱– b شکل په ډول یې حجم لاسته راځي چې نوموړی حجم د (۳) فورمول څخه په ګټه اخیستنه په لاندې ډول لاسته راځي.

$$V = \pi\int_0^2((x^2+\frac{1}{2})^2 - x^2)dx = \pi\int_0^2(x^4+\frac{1}{4})dx$$

$$= \pi[(\frac{x^5}{5}+\frac{1}{4}x)]_0^2 = \frac{69\pi}{10}$$





(۱۱– شکل):– په a کې غوښتل شوي ناحیه او د سطحې یو عنصر ترسیم شوي دي، b د غوښتل شوي جسم دوران د x محور په شاوخواراښیي.

**مثال.** د $y = x^2$ او $y = 2x$ منحني ګانو په واسطه محاط شوي سطحې ته د y پر محور باندې دوران ورکوو حاصل شوی حجم محاسبه کړئ (۶، ص. ۲۸۱ ).

حل. د دوراني جسم غوښتل شوي ناحیه په (۱۲ – a شکل) کې مشخصه شوي ده. لیدل کیږي چې په دې ځای کې د کوچني ډیسک خارجي شعاع $R(y) = \sqrt{y}$ او داخلي شعاع یې له $r(y) = y/۲$ سره مساوي دی. د(۱۲ – b شکل) له مخې غوښتل شوی حجم عبارت دی له:

$$V = \pi\int_0^4 [(R(y))^2 - (r(y))^2]dy = \pi\int_0^4 \left(\left(\sqrt{y}\right)^2 + \left(\frac{y}{2}\right)^2\right)dy$$

$$= \pi\left[\left(\frac{1}{2}y^2 - \frac{1}{12}y^3\right)\right]_0^4 = \frac{8\pi}{3}$$





(۱۲– شکل):– a د دوراني جسم غوښتل شوي ناحیه راښیي،b د غوښتل شوي جسم حجم راښیي.

**د معلومو موازي مقطعو درلودونکو جسمونو حجم**

که چیرې د P په ډول یوه مستوي پر یوه ثابت محور عمود او د S په ډول یو جسم قطع کړي د جسم او مستوی تر منځ مشترکه ناحیه عرضي مقطع بلل کیږي. په دې برخه کې غواړو د هغه جسمونو حجم محاسبه کړو چې د هغې د هرې مسطحې مقطعی مساحت چې پر ثابت محور باندې عمود دی له یوې ثابتې نقطې څخه د هغه مسطحې مقطع د عمودي فاصلې تابع وي. په حقیقت کې که چیرې په یوه ثابت محور مثلا د x پر محور باندې عمودي مستوي جسم قطع کړی په دې وخت کې د جسم د مشترک فصل او مستوي مساحت لهA(x) سره مساوي دی چې A(x) د xمتمادي تابع ده او x د محور له مبدأ ( یعني د O نقطه) څخه د مستوی فاصله ده. دېته مو پام وي، چې جسم همیشه د دوو مستویو په منځ کې، چې په دوو نقطو مثلا a او b کې د x پر محورونو باندې عمودي دي موقعیت لري (۸، ص. ۲۵۵ ).

د (۱۳– شکل) مطابق په ځانګړي حالت کې، چې A(x) د[a،b]انتروال پر مخ یو ډول (ثابته) تابع وي جسم استوانه بلل کیږي. پام وکړئ، چې مکعب مستطیل خپله د استوانې ځانګړی حالت دی په هغه صورت کې، چې A(x) د مستطیل د هر x لپاره یو ډول منځته راځي.


د $x$ پر محورونو د مستویو عمودي مقطعی او جسم د $a$ او $b$ په نقطو کې د استوانې قاعدې دي. د حجم د تعریف له مخې دا ډول استوانې د قاعدې د مساحت د ضرب حاصل په ارتفاع کې وي او د (۱۱– شکل) مطابق د جسم حجم مساوي دی له $A(a)(b-a)$.




(۱۳– شکل):–د دوراني جسم غوښتل شوي مقطع راښیي.

د دوراني جسمونو حجم چې په تیره برخه کې وڅیړل شو، د هغه جسمونو ځانګړی حالت دی، چې په دې برخه کې محاسبه کیږي. ( هغه ځای کې د هر جسم مقطع یو ډیسک وو.)

اوس د (۱۳) او (۱٤) شکلونو په څیر جسمونو حجمونه، چې استوانی نه وي محاسبه کوو. فرض کړی، چې $P$ د $[a، b]$لپاره ویشنه وي. د $x$ پر محور باندې عمودي مستوی د $x_k$ نقطې ناحیه په کوچنیو قطعو باندې ویشي(۸ ص–ص. ۲۵۷–۲۵۸).




(۱٤– شکل):–

که چیرې $x_k^*$ د $[x_{k-1}, x_k]$ په انټروال کې $k$–ام عدد وي د (۱٤– شکل) مطابق لیدل کیږي، چې د ټول حجم څخه $k$–ام قطعه تقریبا له $A(x_k^*)\Delta x_k$ مساوي کیږي او بنا پردې د جسم حجم $V$ تقریبا د کوچنی استوانې له حجم سره مساوي دی او هر څومره چې $n$ لوییږي په هماغه اندازه د جسم حجم په زیات دقت سره محاسبه کیږي. بنا پردې

$$V \approx \sum_{k=1}^{n} A(x_k^*)\Delta x_k$$


اوس که چیرې $n$ بې نهایت ته تقرب وکړي وروستی تقریب په مساوات بدلیږي او کولای شو د جسم حجم په لاندې ډول لاسته راوړو.

$$V = \lim_{n\to+\infty}\sum_{k=1}^{n} A(x_k^*)\Delta x_k = \int_a^b A(x)dx$$

په نتیجه کې ویلای شو، چې که چیرې یو جسم د هغه مستویو په منځ کې، چې د X پر محور باندې په x=a او x=b کې عمودې وي موقعیت ولري او د د X پر محور باندې د عمود هرې مستوي د مقطعې سطحې د مساحت اندازه له جسم څخه د X نقطې په اوړدوالي له A(X)سره مساوي وي، چې A د [a،b]انتروال پرمخ متمادي تابع ده په دې صورت کې د جسم حجم مساوي دی له:

$$V = \lim_{n\to+\infty}\sum_{k=1}^{n} A(x_k^*)\Delta x_k = \int_a^b A(x)dx \qquad (5)$$

٤. مثال: د یوې قایمې دایروي استوانې د ۳ واحده په شعاع د دوو مستویو په واسطه د (۱۵– شکل) مطابق پانه پریکړه. یوه له مستویو څخه د استوانې پر محور باندې عمود ده او بله یې له هغې سره ٤٥ درجې زاویه جوړه وي او هغه د استوانې په مرکز کې قطع کوي، د پانې حجم پیدا کړئ (طباطبایي، ۱۳۹۰).



(۱۵– شکل):-

حل. د b (۱۳–شکل) مطابق د X محورونه په هغه قطر باندې چې د دوو مستویو تر منځ مشترک دی عمود په پام کې نیسو. په دې صورت کې د هرې مستوی مقطع د جسم د X پر محوررونو باندې عمود ده، چې په مستطیلي ډول د X او $۲\sqrt{۹-x^۲}$ بعدونو لرونکی وي، چې په دې ځای کې د OBH مثلث متساوی الساقین د مستطیل د X بعد دی. بنا پردې د نمونې د مقطع سطح مساوي ده له:

A(X)= (ارتفاع) (عرض) = $(x)(۲\sqrt{۹-x^۲})$ = $۲x\sqrt{۹-x^۲}$

خرنگه چې مستطیل له x = 0څخه تر x = 3پورې تغییر کوي، په نتیجه کې لرو چې

$$V = \int_0^3 A(x)dx = \int_0^3 2x\sqrt{9-x^2}dx$$

د $x^2 - 9 = u$ او $du = -2x\,dx$ په تعویض کولو سره لرو چې:

$$V = \int_9^0 -\sqrt{u}\, du = \int_0^9 u^{1/2}\, du = \left[\frac{2}{3}u^{3/2}\right]_0^9 = 18$$

دویمه طریقه. د (۱۵– C شکل) مطابق کولای شو مقطعې د y پر محورونو باندې عمود په پام کې ونیسو، په دې صورت کې هره مقطع متساوی الساقین قایم الزاویه مثلث دی، چې د هغې مساحت $A(x) = \frac{1}{2} x^2$ کیږي (۸، ص– ۲۶۱).

څرنګه چې مثلث له $y = -3$ څخه تر $y = 3$ پورې تغییر کوي، بناپردې لرو چې:

$$V = \int_{-3}^{3} \frac{1}{2} x^2 dy = \frac{1}{2}\int_{-3}^{3}(9 - y^2)\,dy = \frac{1}{2}\left[9y - \frac{y^3}{3}\right]_{-3}^{3} = 18$$

**پایله**

د دې مقالې په جریان کې مونږ د پایلې ته ورسیدو چې د یوه دوراني جسم د حجم د لاسته راوړل د نوموړي جسم لپاره د خورا زیات اهمیت لرونکی دي،ځکه په دې باندې پوهیدل چې څنګه د دوراني جسم د عطالت مومنټ پیدا کیږي. د عطالت مومنټ خاصیت دا دی، چې د جسم د حرکت د بدلولو توانایي ښایسته کوي. کله چې جسم په دورانی حرکت کې وي، نو هغه په یو محور ساتل شوی وي او د جسم ټول ذرات په یوه سرعت سره په یوه دایروي مسیر کې دوران کوي. د عطالت مومنټ د جسم د حجم، شکل، او تودوخې په ترتیب هم تاثیر لري. په عامه توګه، هغه جسم چې لوړ حجم لري؛ نو لوړ د عطالت مومنټ هم لري.

همدارنګه د هغه جسمونو د حجم لاسته راوړل چې مشخص هندسي فورمول ونلري خورا ستونزمن کار دي؛ نو بنا پردې د هغه جسمونو د حجم د لاسته راوړلو لپاره، چې پیچلي شکلونه ولري مونږ په دې مقاله کې وتوانیدو، چې د هغوی لپاره پنځه بېلا بېل فورمولونه، چې د معین انتیګرال په ذریعه ترلاسه کیږي بیان کړو او دا فورمولونه خورا مهم دي او خپل اهمیت د بېلا بېلو جسمونو د حجم په پیدا کولو کې راپه ګوته کوي، دا په دې معنی چې ددغه فورمولونو پر مټ کولای شوو د بېلا بېلوجسمونو حجمونه ترلاسه کړو او هغه مسایل، چې د فزیکي علومو په برخه کې په ځانګړي ډول د جامد فزیک په برخه کې، چې د فزیک علم یوه اهمه څانګه شمېرل کیږي او ټول جامد اجسام په بر کې نیسي ټول هغه مسایل، چې د حجمونو اړوند دي د توضیح شوو فورمولونو څخه په ګټه اخیستنه او په سمه توګه د دوی په تطبیق کولو سره حل کولای شو.

**مأخذونه**

۱. ام ایچ پراتروسي، بی موری. ترجمه: نوروزایزاد، دوستدار(۱۳۷۱). نخستین درس در آنالیز حقیقي. تهران: انتشارات دانشګاه تهران.

۲. پور کاظمي، محمدحسین (۱۳۹۰). ریاضیات عمومي و کاربردهای ان ( جلد اول). تهران: انتشارات نشرانی.

۳. پور کاظمي، محمدحسین (۱۳۹۱). ریاضیات عمومي و کاربردهای ان ( جلد دوم). تهران: انتشارات نشرانی.

4. Terence, Tao (2015). Analysis I (Third Edition).New Delhi: Hindustan Book Agency.

5. Thomas, George B (2011). Thomas Calculus 12th Ed.United States: Pearson Education, Inc.

٦. رابرت، ا، آدامز. ترجمه: طباطبایي، امیرعلی، قلندرزاده، شعبان(۱۳۹۰). حساب دیفرانسیل و انتیگرال(جلد اول). تهران: انتشارات آذرباد.

۷. رابرت، ا، آدامز. ترجمه: طباطبایي، امیرعلی، قلندرزاده، شعبان (۱۳۹۱). حساب دیفرانسیل و انتیگرال(جلد دوم). تهران: انتشارات آذرباد؛.

۸. صـفا کیش، غلام مرضـا (۱۳۹۷). ریاضـي عمومي دانشـگاهي (جلد اول). تهران: انتشـارات ریاضي.

# د اسلامي تاريخ په اوږدو کې د فقهې او فتوا په ډګر کې د ښځو ونډه

پوهنمل فضل کريم شرف، کابل پوهنتون، شرعياتو پوهنځي، د اسلامي ثقافت څانګه
fkareem1990@gmail.com

**لنډيز**

د علم په ډګر او په ځانګړي ډول د فقهې او فتوا برخه کې د ښځينه مفتيانو د ځانګړو موسسو او مرکزونو د لرلو په سر په اسلامي نړۍ کې وخت ناوخت خبرې توديږي، چې ملاتړي او مخالفين دواړه لري، دغه خبرې د بېلا بېلو لاملونو له مخې زور اخلي، چې يو په کې د عادت او رواج سلطه ده؛ داسې چې د اسلامي تاريخ په اوږدو کې اکثريت علماء، مفتيان او فقهاء نارينه وو، بل لامل د خلکو په ذهنونو کې د فتوا ورکولو او قضا کولو د دندو تر منځ د توپير ورکه ده؛ د پخوانيو تر منځ په دې کې اختلاف موجود و، چې ايا ښځه د قضا دنده ترسره کولی شي که نه؟ خو د ښځو له لوري د فتوا ورکولو مسئله بيا داسې نه وه. د څېړنې اهميت په دې کې دی، چې له فتوا، فقهې او په ټوله کې له شرعي علومو سره يې د ښځينهو اړيکه څېړلې او په نظري او عملي توګه يې د دغې اړيکې نښې نښانې څرګندې کړې دي. د څېړنې تګلاره تاريخي او تحليلي ده، داسې چې له ديني علم، فقهې او فتوا سره د ښځينهو اړيکې ته د اسلامي تاريخ په اوږدو کې کتنه او شننه شوې او په دې اړه د اسلامي امت ليد لوری څرګند شوی دی.

**کليدي کلمات:** اسلام، تاريخ، ښځه، علم، فتوا، فقه.

**سريزه**

بسم الله الرحمن الرحيم. الحمد لله رب العالمين. والصلاة والسلام على أشرف المرسلين، سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

د اسلامي نړۍ په لر او بر کې وخت ناوخت له شرعي علومو سره د ښځينهو د اړيکې اړوند بحثونه توديږي، چې څېړونکو کې يې ملاتړي او مخالفين دواړه شته. اسلام علم د مسلمان لپاره د يوې فريضې په توګه ياد کړی دی او د اسلام له راتګ سره سم مسلمانانو د علم د ترلاسه کولو او راتلونکو نسلونو ته د ليږدولو برخه کې بشپړه پاملرنه کړې ده. د علم په دغو ترلاسه کوونکو او ليږدوونکو کې که څه هم د نارينهو ونډه لويه ده؛ خو د اسلامي تاريخ هيڅ مرحله له داسې مسلمانو بيبيانو تشه نه ده پاتې شوې، چې د خپل دين دغه امر ته يې لبيک نه وي ويلی، هغوی خپل ځان هم د پوهې په ګاڼه سينګار کړی او نورو ته يې هم رسولی دی. په دوی کې د أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها غوندې بيبيانې هم شته، چې ډېرو اصحاب کرامو به د ځينو مسألو اړوند پوښتنه ترې کوله او د دې نظر او فتوا به يې اورېدله. په وروسته وختونو کې ګورو چې اسلامي امت سترې

سترې عالمانې، فقيهانې او مفتيانې درلودلې دي او دغه عالمانې، فقيهانې او مفتيانې د لويو لويو مجتهدينو استاذانې پاتې شوي دي.

دا مقاله په همدې غبرګې چې ښځينهو د تاريخ په اوږدو کې په ديني فقه، فتوا او نورو علومو کې تر کومه بريده ونډه لرلې ده؟ څه ډول يې علم ترلاسه کړی؟ څه ډول يې نورو ته لېږدولی؟ او څه ډول يې فتواوې ورکړې دي.

**د څېړنې موخې**

۱- د څېړنې اصلي موخې

- په نظري او تطبيقي توګه له شرعي علومو او په ځانګړي ډول له فقهې او فتوا سره د مسلمانو بيبيانو د اړيکې نښې نښانې موندل.

۲- د څېړنې فرعي موخې

- دا موندل چې مسلمانې ښځې له علم کولو وروسته ښوونکې پاتې شوې دي او د امت لوی لوی علماء يې روزلي دي.

- دا په اثبات رسول چې ښځينه علماوو د تاريخ په اوږدو کې د فقهې او فتوا په برخه کې ستره ونډه درلودلې ده او د امت ستونزې يې اوارې کړې دي.

**د څېړنې مخينه**

له دې امله چې نه خپله ښځينه عالمانو او فقيهانو دومره تاليفات کړي او نه د نورو له لوري ورته ډېره پاملرنه شوې ده، نو ما د دې موضوع اړوند په ځانګړي ډول په پښتو ژبه کې وړاندې ليکل شوي کتابونه يا څېړنې پيدا نه کړی شوې، سره له دې چې په عربي تراث کې علماوو د اسلام د لومړيو مېرمنو په فتواو او استدراکاتو ځانګړي کتابونه ليکلي او د حنفي او حنبلي مذهبونو د تراجمو په ځينو کتابونو کې ځينې تراجم د همدې مېرمنو اړوند راوړل شوي دي، خو په دې تراجمو کې هم بې پروايي په ښکاره توګه څرګندېږي. نو دا موضوع په دې بڼه بېخي نوې ده.

**د څېړنې اهميت**

د څېړنې اهميت په دې کې دی چې له فتوا، فقهې او په ټوله کې له شرعي علومو سره د ښځينهو اړيکه څېړي، څو په نظري او عملي توګه د دغې اړيکې نښې نښانې څرګندې شي. څېړنه د ټولنې له ټولو هغو لوستونکو سره مرسته کوي چې د علم او تعليم په برخه کې د ښځو له ونډې ناخبره دي او دې ته يې متوجې کوي چې اړينې او په ځانګړي ډول ديني زده کړې د هغوی يوه لويه اړتيا ده.

**د څېړنې پوښتنه**

د څېړنې پوښتنه دا ده چې ايا د اسلامي امت ښځې د علم زده کوونکې، عالمانې، فقيهانې او مفتيانې پاتې شوې دي که نه؟

**د څېړنې منهج (تگلاره)**

د څېړنې ډول کتابتوني او مېتود يې تاريخي او تحليلي دی، داسې چې له ديني علم، فقهې او فتوا سره د ښځينهو اړيکې ته د اسلامي تاريخ په اوږدو کې کتنه او شننه شوې او په دې اړه د اسلامي امت ليد لوری څرگند شوی دی.

**د فقهې او فتوا په ډگر کې د مېرمنو ونډه**

د ښځينه مفتيانو د ځانگړو موسسو او مرکزونو د لرلو په سر په اسلامي نړۍ کې وخت ناوخت خبرې توديږي، چې ملاتړي او مخالفين دواړه لري، دغه خبرې د بېلا بېلو لاملونو له مخې زور اخلي، چې يو په کې د عادت او رواج سلطه ده؛ هغه داسې چې د اسلامي تاريخ په اوږدو کې اکثريت مفتيان او فقهاء نارينه وو، بل لامل د خلکو په ذهنونو کې د فتوا ورکولو او قضا کولو د دندو تر منځ د توپير ورکه ده؛ د پخوانيو تر منځ په دې کې اختلاف موجود و، چې ايا ښځه د قضا دنده ترسره کولی شي که نه؟ خو د ښځو له لوري د فتوا ورکولو مسأله بيا داسې نه وه. همدا دې ته اړتيا پيښوي، چې له فتوا، فقهې او په ټوله کې له شرعي علومو سره د ښځينهو اړيکه وڅېړل شي، څو په نظري او عملي توگه د دغې اړيکې نښې نښانې کشف شي؛ همدا هغه څه دي، چې موږ يې په دې مقاله کې هڅه کوو.

**د اسلام په پيل کې د ښځينهو فتوا**

فتوا ځينو علماوو «د الله له لوري لاسليک» بللې، امام ابن القيم الجوزي رحمه الله (۷۵۱هـ مړ) د «التوقيع عن الله» اصطلاح –چې معنا يې د الله له لوري يا د الله په ځای لاسليک ده– د فتوا ورکولو يا جوړولو په معنا کارولې ده او په دې اړه يې په خپل مشهور کتاب «إعلام الموقعين عن رب العالمين» کې پراخ بحثونه کړي دي. فتوا او فتوا ورکول خپل شروط لري، چې امام نووي رحمه الله (۶۷۶هـ مړ) په لنډه توگه داسې ښودلي دي: «د مفتي شروط دا دي، چې مکلف، مسلمان، ثقه او مامون به وي، د فسق له اسبابو او د سړيتوب (شهامت) ضد کارونو به پاک وي، هوښيار نفس، سليم ذهن او بيدار فکر به لري، تصرفات به يې سم وي، د مسايلو د استنباط طريقه به ورځي او ويښ به وي، اصيل، غلام او ښځه په کې ټول برابر دي»[1] دې نه معلوميږي چې اسلام کې د فتوا مدار يوازې د علميت په ملکه، په اخلاقي ښېگڼه، د نظر او رايې په سموالي او په استنباط بنا دی.

د اسلامي تاريخ په اوږدو کې له فتوا سره ټکر يا ورسره مخامخ کېدو کوم ځانگړي سياسي قرار ته اړتيا نه لرله، خو قضا د دې برعکس وه، ځکه فتوا يوازې «د شرعي حکم بيانول وو، چې د پلي کېدو التزام ورسره نه و»[2] نو د شرعي حکم يوازې بيانول، يا ترې خلک خبرول دې ته اړ نه و

[1] - النووي، ابو زکريا محيي الدين يحيى بن شرف (٦٧٦هـ مړ)، آداب الفتوى والمفتي والمستفتي ١/ ١٩، ط: دار الفكر – دمشق.

[2] - الموسوعة الفقهية الكويتية ٣٢/ ٢٥.

چې مفتي له خپل هغه استاذ پرته له بل چا اجازه ولري، چې دا استاذ خپل شاګرد یا شاګردې ته د دغې علمي درجې د ورتیا شاهدي وايي، چې د دوی په اصطلاح کې ورته «مفتي» یا «عالم» یا «فقیه» ویل کېده. په پخوانیو کې د لقبونو ورکول هم اسانه چاره نه وه، په ځانګړي ډول داسې لقبونه چې د فتوا په څېر ستر مسؤولیتونه پرې بنا وو، او درلودونکي یې «د الله له لوري د لاسلیک» مسؤولیت په غاړه درلود.

له همدې امله وینو چې امام قاضي عیاض الیحصبي (۵۴۴هـ مړ) وايي: «زموږ په أند طالب العلم ته تر هغه فقیه نه شي ویل کېدی؛ تر څو یې چې عمر پوخ نه شي، نظر یې ژور نه شي، د رأیو او اقوالو په حفظ، د حدیث په روایت او هغې کې په ژور نظر کې پوخ نه شي، د حدیثو د رجالو طبقاتو توپیر و نه کړی شي، د وثائقو غوتې خلاصې نه کړی شي، د هغې اسباب و نه پېژني، د علماو اختلاف مطالعه نه کړي، د هغوی مذهبونه و نه پېژني او د قران کریم له معانیو او تفسیره خبر نه شي، که دا هر څه یې وکړی شول، بیا یې فقیه نوملی شو، که نه نو د «الطالب» نوم ور ته ډېر مناسب دی».[۳]

له دې څرګندېږي چې د تراجمو کتابونو کې چې کومې ښځې فقیهاتې نومول شوې دي، هغوی د فتوا ورکولو وړتیا لرله، لکه همدې کتابونو چې هم دې ته اشاره کړې، چې ډېرو دغو مېرمنو فتواوې صادرولې.

علامه ابن القیم رحمه الله ذکر کړي، چې «د الله د رسول ﷺ په ملګرو کې چې کومو خلکو فتوا ورکوله، څه له پاسه (۱۳۰) کسان وو، چې سړي او ښځې دواړه په کې وو».[٤] هغه له دې ډلې د دوو ویشتو ښځینه مفتیانو نومونه ذکر کړي دي، چې د فتوا ډېروالي او کموالی ته په کتو یې نومونه په ترتیب سره دغه دي: أم المؤمنین عائشة، أم المؤمنین سلمة، أم عطیة، أم المؤمنین صفیة، أم المؤمنین حفصة، أم المؤمنین أم حبیبة، لیلی بنت قانف الثقفیة، اسماء بنت ابي بکر، أم شریک، حولاء بنت تویت، أم الدرداء الکبری، عاتکة بنت زید بن عمرو، سهلة بنت سهیل، أم المؤمنین جویریة، أم المؤمنین میمونة، د الله د محبوب لور فاطمة، فاطمة بنت قیس، زینب بنت أم سلمة، أم أیمن الحبشیة، د پېغمبر ﷺ خادمه أم یوسف او غامدیة.

د اسلامي عصرونو په اوږدو کې د فتوا د تاریخ په اړه څېړونکي په دې پوهېږي چې «د الله له لوري د لاسلیك کوونکو مېرمنو» د لوړې سلنې لرونکی دغه شمېر په نبوي عصر کې په فقه او افتاء کې د ښځې د رول او ونډې اندازه څرګندوي.

---

[۳] - الیحصبي، ابو الفضل القاضي عیاض بن موسی (۵۴۴هـ مړ)، ترتیب المدارک وتقریب المسالک ٦/ ۱۵۱، ط: مطبعة فضالة – المحمدیة، المغرب.

[٤] - ابن القیم الجوزیة، ابو عبد الله محمد بن ابي بکر بن أیوب (۷۵۱هـ مړ)، إعلام الموقعین عن رب العالمین ۲/ ۱۸، ط: دار ابن الجوزی للنشر والتوزیع، المملکة العربیة السعودیة، لومړی چاپ ۱۴۲۳هـ.

**بي بي عائشة او فتوا**

د لومړۍ پېړۍ د مفتیانو تر منځ د ښځینهو شتون د أم المؤمنین عائشې رضي الله عنها په فقه او دیني پوهه کې ښه ځرګندیږي، د فتوا تاریخپوهانو عائشة د هغو اوو صحابهو له ډلې شمېرلې، چې له نورو ډېر یې «د الله له لوري لاسلیك» کړی یا فتوا ورکړې ده، لکه ځرکنده، چې حافظ ذهبي او امام ابن القیم وایي: «د امت تر ټولو پوهه مېرمن وه»[٥] او لکه د الطبقات الکبری مولف ابن سعد بصري (۲۳۰ هـ مړ) چې لیکلي: «د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم په خلافت کې یې په مستقل ډول فتوا ورکوله او تر مرګه یې همداسې فتوا صادرول جاري ساتلي وو» او «د پېغمبر ﷺ نږدې ملګرو او مشرانو صحابهو لکه عمر او عثمان رضي الله عنهما به بي بي عائشې ته خلك ورلېږل او د پېغمبر د سنتو په اړه به یې پوښتنه ځینې کوله»[٦]

د حدیثو او فتوا برخه کې د بي بي عائشې د روایتونو ډېروالی له دې امله و چې هغه د الله رسول ﷺ ته له هر چا نږدې وه، هغې دومره ډېر فقهي احکام رانقل کړي دي، چې د حدیثو امام حاکم نیشاپوري (۴۰۵هـ مړ) په دې اند و، چې «د شریعت څلورمه برخه له بي بي عائشې رانقل شوې ده». په صحیح البخاري او صحیح مسلم کې له بي بي عائشې څه د پاسه (۲۷۰) حدیثونه رانقل شوي دي، چې ډېری یې د شرعي احکامو په اړه دي، شیخ سعید فایز الدخیل د بي بي عائشې فتواګانې او فقه په یوه ستر کتاب کې راټول کړي، چې نوم یې ورته «موسوعة فقه عائشة أم المؤمنین» ایښی دی.

بي بي عائشه رضي الله عنها په مستقلو فتواوو او ځانګړو فقهي آراءو مشهوره ده، لکه له محرم پرته د ښځې د سفر په اړه چې د هغې وینا مشهوره ده چې که کومې ښځې ته ځان له فتنو خوندي وښکارېد؛ نو تنها سفر کولی شي، له امام زهري نه په دې اړه نقل شوي، چې «د بي بي عائشې په وړاندې وویل شو، چې ښځه به له محرم پرته سفر نه کوي، نو عائشې وویل: هره ښځه محرم نه لري»[٧]

شیخ سعید الدخیل د بي بي عائشې په اړه په خپل یاد کتاب کې دې ته اشاره کړې، چې ډېری فتواوې یې له دې مخې دي، چې هغه یوه ځانګړې فقیهه مېرمن وه، ځکه د الله له رسول ﷺ سره تر یوه بام لاندې اوسېدلې وه او له هغه صلی الله علیه وسلم څخه یې داسې څه زده کړي وو، چې

---

٥ - مخکینی مصدر ۲/ ۳۹.

٦ - ابن سعد، ابو عبد الله محمد بن سعد بن منیع الهاشمی بالولاء، البصري البغدادي (۲۳۰هـ مړ) الطبقات الکبری ۲/ ۲۸۶، ط: دار الکتب العلمیة – بیروت، لومړی چاپ ۱۴۱۰هـ.

٧ - أبو بکر بن أبي شیبة، عبد الله بن محمد بن إبراهیم بن عثمان بن خواستي العبسي (۲۳۵هـ مړ): مصنف ۳/ ۳۸٦. ط: مکتبة الرشد – الریاض، لومړی چاپ ۱۴۰۹ هـ.

له دې پرته نورو خلکو نه وو زده کړي. بل پلو د هغې او د الله د رسول تر منځ ژوند کې ډېر داسې څه وو، چې له نورو سره نه وو او وروسته د همدې په واسطه اسلامي امت ته رسېدلي دي.
د بي بي عائشې فقهي ونډه یوازې په فتوا او د سنتو په بیانولو پورې محدوده نه وه؛ بلکې له صحابه‌و سره یې په مسایلو بحث کاوه، او د خپل پلار ابو بکر صدیق او عمر رضي الله عنهما په څېر د لویو صحابه‌و په فتواګانو یې استدراک کاوه، علامه بدر الدین زرکشي (۷۹۴هـ مړ) په صحابه کرامو د هغې استدراکات په یوه خوندور کتاب کې راجمع کړي دي، چې نوم یې: «الإجابة لإيراد ما استدرکته عائشة على الصحابة» ورته ایښی دی. عائشې رضي الله عنها دغه راز ډېرې مفتیانې روزلې دي، چې له هغې وروسته یې فتواوې ورکولې، له ام المومنین عایشې نه ډېرو زیاتو خلکو فقه او نور دیني علوم زده کړل، چې ځینې یې د خپل کور ښځې وې، لکه د هغې خور ام کلثوم او خوریی یې عبد الرحمن.
عمره بنت عبد الرحمن الأنصاریه... د عایشې شاګرده او د هغې په غېږ کې رالویه شوې، چې ستره عالمه، فقیهه او حجة وه، او فقیهه او عالمه صفیه بنت شيبة أم منصور القرشیه، او فقیهه، عالمه، عامله او زاهده ام الدرداء الصغرى چې ټول علماء د هغې په فقه، عقلمندۍ، پوهه او لویوالي متفق دي. [8]
دمشق کې ترې ډېرو شاګردانو درسونه لوستل او د وخت خلیفه عبد الملك بن مروان یې د درسونو حلقو کې کېنېناسته، دا ټول هغه څوک وې چې د بي بي عایشې په لاس وروزل شوې او د هغې له مړینې وروسته یې د فتوا ورکولو دنده پر مخ وړله.

**عالمانې چې مشهورو علماوو ته یې درس ورکاوه**

د تابعینو په وخت کې په نبوي ښار کې اووه ستر علماء، چې د (د مدینې اووه فقهاء) په لقب مشهور شول، د تراجمو کتابونه څرګندوي چې دغو ټولو اوو مشهورو عالمانو له ښځینه فقیهانو علم ترلاسه کړی و، لومړنی یې سعید بن المسیب (۹۴هـ مړ) دی، چې له عایشې او ام سلمې نه یې زده کړه کړې وه. بل عروة بن الزبیر (۹۳هـ مړ) دی، له خپلې مور اسماء بنت ابي بکر الصدیق او له خپلې خاله ام المومنین عایشې نه یې علم زده کړی، چې له دې سره ملازم هم پاتې شوی او فقه یې ترې زده کړې ده. بل قاسم بن محمد بن أبي بکر الصدیق (۱۰۷هـ مړ) دی، چې د خپلې عمې ام المومنین عائشې په غېږ کې رالوی شو، دیني پوهه یې ترې واخیسته او ډېر زیات روایات یې ترې وکړ، نور هم همداسې... او اووم تن یې فقیه او شاعر عبید الله بن عبد الله الهذلي (۹۸هـ مړ) دی، چې له بي بي عایشې او ام سلمې رضي الله عنهما نه یې علم ترلاسه کړی و.
د مذهبونو په امامانو کې د کوم یوه په اړه ډېر داسې څه نه دي نقل شوي، چې له ښځو یې زده‌کړه کړې وي، خو د مدینې امام مالك بن انس (۱۷۹هـ مړ) له یوې ښځینه عالمې علم حاصل کړی

---

[8] - أبو الفداء، اسماعیل بن کثیر القرشی البصری (۷۷۴هـ مړ)، البدایة والنهایة ۱۲/ ۳۳۶، ط: دار هجر للطباعة والنشر والتوزیع والاعلان، لومړی چاپ. او تاریخ الاسلام د حافظ ذهبي ۶/ ۲۳۳.

دی، چې هغه عائشة بنت سعد بن أبي وقاص ده او په (کوچنۍ عائشه) مشهوره ده. دغه راز د امام مالك لور فاطمې له خپل پلار نه علم اخیستی و، دا هغه ښځه ده چې حافظ ناصر الدین دمشقي (۸۴۲هـ مړ) د امام مالك د مشهور کتاب موطأ په روایت کوونکو کې ذکر کړې ده، هغه وایي: «د مالك یوه لور وه چې د هغه علم یې حفظ کاوه...، او د دروازې شا ته به ولاړه وه، کله به چې د امام کوم شاګرد د حدیثو په لوست کې غلط شو، دې به دروازه په ګوتو ووهله، نو د پلار به یې پام شو او د شاګرد غلطي به یې ورسمه کړه»[9]

فقهې او فتوا ته د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د ورګرځېدو یو لامل هم د یوې ښځې یوه پوښتنه بلل شوی دی.

په ورپسې وختونو کې وینو، چې نامتو فقهي شخصیت امام ابو محمد بن حزم (۴۵۶هـ مړ) چې په خپل ظاهري مذهب او په هر علم کې په پوهه پېژندل شوی دی، د زده‌کړې د پیل او ښځو سره د خپلې علمي اړیکې په اړه وایي: «ما ښځې ولیدې او د هغو له داسې رازونو خبر یم چې تقریبا له ما پرته نور څوک ترې نه دي خبر، ځکه زه د هغوی په غېږو کې تربیه او د هغوی په لاسونو رالوی شوم، تر دې چې له دوی پرته مې نور څوک نه پېژندل...؛ همدوی قران کریم را زده کړ، ډېر شعرونه یې راوښودل او په لیك او خط یې پوه کړم»:[10]

همدا ښځو سره د دې لوی عالم لومړنۍ ملګرتیا د دې لامل شوه، چې هغه په پخواني تاریخ کې د بشري روان یو ستر شنونکی شو، په ځانګړې توګه په هغو چارو کې چې د ښځو اړوند دي.

او که شرق ته مخ واړوو نو په همدې پنځمه هجري پېړۍ کې وینو چې د خطیب بغدادي په څېر سړی چې په «حافظ المشرق» مشهور دی، له فقیهې او محدثې طاهرة بنت أحمد التنوخیة (۴۳۶هـ مړه) نه یې احادیث اورېدلي او زده کړي دي، خطیب بغدادي له هغې نه روایت کړی او بیا یې د نومړې له خولې د هغې استاذان ښودل، خو طاهره په دې افسوس ښیي چې خپل کتابونه یې ضایع شوي دي.[11]

دغه راز امام ابن عساکر (۵۷۱هـ مړ) په «معجم النسوان» نومي کتاب کې د خپلو ۸۰ تنو ښځینه استاذانو تراجم (د ژوند لنډ معلومات) ذکر کړي دي، او د حافظ السلفي (۵۷۶هـ مړ) یوه شاګرد د هغه د ښځینه استاذانو جلا معجم[12] جوړ کړی دی، او حافظ ذهبي له ډېرو ښځو روایت کړی، چې د خپلو شیوخو په کتاب کې یې ذکر کړي دي.

---

۹ - ترتیب المدارک وتقریب المسالک د قاضي عیاض ۱/۱۱۶.

۱۰- الظاهري، أبو محمد علي بن أحمد بن سعید بن حزم الأندلسي القرطبي (۴۵۶هـ مړ)، رسائل ابن حزم الأندلسي ۱/ ۱۶۶، ط: المؤسسة العربیة للدراسات والنشر.

۱۱- أبوبکر أحمد بن علی بن ثابت بن أحمد بن مهدی الخطیب البغدادي (۴۶۳ هـ مړ)، تاریخ بغداد ۱۴/ ۴۴۵، ط: دار الکتب العلمیة – بیروت، لومړی چاپ ۱۴۱۷ هـ.

۱۲ - هغه کتاب چې په الفبایي ترتیب مرتب وي.

دغه راز امام نجم الدین بن فهد المکي (۸۸۵هـ مړ) څرګنده کړې ده، چې زما ۱۳۰ تنه ښځینه استاذانې وې، او حافظ ابن حجر عسقلاني په خپل کتاب «الدرر الکامنة في اعیان المائة الثامنة» کتاب کې د ۱۷۰ تنو ښځینه محدثینو تراجم ذکر کړي، چې ۵۴ یې د ده خپلې استاذانې دي. هغه په خپل مشهور کتاب «تقریب التهذیب» کې د ۸۲۴ تنه ښځو تراجم راخیستي، چې د احادیثو په روایت مشهورې وې، د پام وړ ده چې د دې کتاب راویان یوازې هغه خلك دي چې په صحیحینو او سنن اربعه‌و کې یې په کوم کتاب یا ټولو کې روایات شته دی. د حافظ ابن حجر د شاګرد حافظ سخاوي (۹۰۲هـ مړ) ۸۵ ښځینه استاذانې وې، چې په «الضوء اللامع» کتاب کې یې ذکر کړې دي، او د همده د همعصر عالم حافظ جلال الدین سیوطي (۹۱۱هـ مړ) ښځینه استاذانې ۴۴ ته رسېدلې وې.

سره له دې چې د امام ابن شهاب الزهري رحمه الله (۱۲۴هـ مړ) دا وینا مشهوره ده چې «حدیث نارینه دی، نران یې خوښوي او ښځې نه»؛[13] خو حافظ ذهبي د خلکو په ذهنونو خپله دا وینا ورننویسته، چې «ما په ښځو کې هیڅ داسې ښځه نه ده لیدلې چې یا احادیثو کې پر وضع[14] مشهوره وي او یا علماو له هغې د احادیثو روایت ترک کړی وي»؛[15] دا دوه ویناوې د هر عالم د وخت د مسلط وضعیت څرګندونه کوي، داسې چې د امام زهري په وخت کې د حدیثو طلب او روایت داسې څه وو، چې د سړو مسلك او تخصص بللی شو، خو د حافظ ذهبي په وخت کې په اسلامي نړۍ کې ډېرې ښځینه محدثینې وې، په ځانګړي ډول په علمي کورنیو کې، ځکه د علم او حدیثو په طلب پسې د وتلو او سفر فرصت مېرمنو ته برابر نه و.

شمېرې ښيي، چې په اوومه او اتمه هجري پېړیو کې یوازې په مصر او شام کې د ښځینه محدثینو شمېر ۳۳۴ تنه وې، چې د وخت مشهورو محدثینو ترې احادیث اخیستل او بېلګې یې موږ وړاندې ذکر کړې، لکه حافظ ابن حجر او نور؛ په عمومي توګه په یادو زمانو کې د حدیثو په علم هیڅ مشغول عالم داسې نه و چې لږ تر لږه له یوې محدثې ښځې یې زده‌کړه نه وي کړې.

**<u>مفتیانې؛ وخت او ځای ته په کتو</u>**

که د فقهې او په محدود ډول د فتوا ورکولو مجال ته وګورو، و به مومو، چې د اسلامي نړۍ هیڅ لوری په هیڅ وخت کې له فتوا ورکوونکو ښځو خالي نه و، په درېیمه هجري پېړۍ کې په قیروان کې « د تونس دوه فقیهانې» -د تونسي ثقافت د تاریخپوه حسن حسني عبدالوهاب په تعبیر- ګورو، چې لومړۍ اسماء بنت أسد بن الفرات (۲۵۰هـ شاوخوا) ده، چې له خپل پلاره یې زده‌کړه

---

١٣ - أبو بکر أحمد بن مروان الدینوري المالکي (۳۳۳هـ مړ)، المجالسة وجواهر العلم ۳/ ۴۲۵، ط: دار ابن حزم بیروت – لبنان. ابن عساکر په تاریخ دمشق او ابن عدي په الکامل فی ضعفاء الرجال کې هم رااخیستی دی.

١ - د درواغو احادیث جوړول.

١ - الذهبي، شمس الدین أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قایماز الحافظ (۷۴۸هـ مړ)، میزان الاعتدال ۴/ ۶۰۴، ط: دار المعرفة للطباعة والنشر، بیروت –لبنان، لومړی چاپ.

وکړه او د مناظرو او پوښتنو ځوابولو په مجالسو کې یې ګډون کاوه، هغه سره له دې چې پلار یې د مالکي مذهب مشهور فقیه و، خو خپله د حنفي مذهب فقیهه وه. د تونس دوهمه فقیهه خدیجه بنت الامام سحنون ده، چې په ۲۷۰هـ کې وفات شوې ده، پلار یې د مالکي مذهب دویم موسس او په اسلامي غرب کې د دې مذهب خپروونکی و، د مالکي فقهې د رجالو مترجم قاضي عیاض د هغې په اړه وایي: «هغه له بهترینو خلکو څخه وه».[16]

او تونس ته نږدې په ورته وخت کې، په مصر کې د اسماعیل بن یحیی المزني –چې د شافعي مذهب ګټونکی بلل کېده- خور لویه فقیه وه، چې له خپل دغه ورور سره به یې بحث او مقابله کوله، د دې مقابلې عجیبه اثر دا شو، چې د هغې یاد د غفلت ښکار شو، او یوازې د «د المزني خور» په نوم پېژندل کېده. حافظ سیوطي (۹۱۱هـ مړ) په «حسن المحاضره» کې څرګنده کړې ده، چې «نوموړې د امام شافعي درسي مجالسو ته حاضرېده»؛[17] ځکه فقیه رافعي په دې خبره چې «المزني په المختصر کې له داسې چا روایت کړی چې باور پرې لري او هغې له شافعي څخه روایت کړی» په تبصره کې ویلي، چې: «ځینې شارحانو ویلي چې دا ورته خپلې خور له شافعي نه روایت کړی دی... خو د ده خوښه نه وه چې نوم یې څرګند کړي».[18]

او لکه څنګه چې د هغې ورور المزني د هغې نوم له پامه غورځولی، دغسې د تراجمو کتابونو د هغې په اړه معلومات او د وفات نېټه له پامه غورځولې ده، پرته له دې چې حافظ سیوطي ویلي، چې «ابن السبکي او إسنوي نوموړې په الطبقات کې ذکر کړې ده». او داسې برېښي چې دا د امام ابو جعفر الطحاوي الأزدي (۳۲۱هـ مړ) مور ده؛ ځکه مزني د ده ماما و او له دې پرته د هغه د بلې خور یاده بېخي شوې نه ده.

په اندلس کې د هغه ځای تاریخپوه ابن عمیرة الضبي (۵۹۹هـ مړ) فاطمة بنت یحیی بن یوسف المغامي (۳۱۹هـ مړه) ذکر کړې ده او د هغې په توصیف کې یې ویلي: «هغه عالمه، فقیهه او پرهېزګاره وه، قرطبه کې واوسېده او هملته مړه شوه...، د هیڅ ښځې جنازه کې دومره خلک نه وو لیدل شوي لکه د دې جنازه کې چې وو».[19] عراق کې أم عیسی بنت ابراهیم الحربي (۳۲۸هـ مړه) وه، «عالمه او فاضله ښځه وه او په فقهي مسایلو کې یې فتوا ورکوله»؛[20] دغه راز د قاضي

---

[1] - ترتیب المدارک وتقریب المسالک ۴/ ۵۷.

[1] - السیوطي، عبد الرحمن بن أبي بکر، جلال الدین (۹۱۱هـ مړ)، حسن المحاضرة في تاریخ مصر والقاهرة ۱/ ۳۹۹، ط: دار احیاء الکتب العربیة – مصر، لومړی چاپ.

[1] - عبد الکریم بن محمد الرافعی القزوینی (۶۲۳ هـ مړ)، فتح العزیز بشرح الوجیز = الشرح الکبیر للرافعي ۹۲/۶، ط: دار الفکر.

[1] - الضبي، أبو جعفر أحمد بن یحیی بن أحمد بن عمیرة (۵۹۹هـ مړ)، بغیة الملتمس في تاریخ رجال أهل الأندلس ۱/ ۵۴۷، ط: دار الکتاب العربي – القاهرة.

[2] - البغدادي، أبوبکر أحمد بن علی بن ثابت بن أحمد بن مهدی الخطیب (۴۶۳هـ مړ)، تاریخ بغداد ۱۶/ ۶۳۱، ط: دار الغرب الاسلامي – بیروت.

الحسين المحاملي لور أمة الواحد وه، چې د شافعي مذهب فقيه وه، چې د شافعيانو له شيخ ابو علي بن أبي هريرة (۳۴۵هـ مړ) سره يې په ګډه فتوا ورکوله، خطيب بغدادي په خپل تاريخ کې د هغې په اړه وايي، چې «نوموړې د قاضي ابو الحسين محمد بن أحمد بن القاسم بن اسماعيل المحاملي مور وه، فاضله او عالمه ښځه وه او د شافعي مذهب فقه يې له هر چا ښه ياده وه، د قران حافظه هم وه او د فرايضو، نحوې او نورو علومو عالمه هم وه، او احاديث يې هم روايت کول».[21]

په لرې ختيځ کې په خراسان کې د تراجمو کتابونو د ام الفضل عائشة بنت أحمد الكمساني المروزية (۵۲۹هـ مړه) په اړه خبر راکړی او هغه يې «عالمه او فقيهه ښځه بللې...، چې له خپلي انا عيني بنت زكريا المكي الهلالي» نه يې زده کړه کړې وه.[22] په همدې پېړۍ کې د پرهېزګارې عالمې.. شهدة بنت أحمد الإبري (۵۷۴هـ مړه) په اړه لولو، چې «لويه عالمه وه...، ټولې دنيا پېژنده او په ګڼو علومو، په ځانګړې ډول فقه کې يې ستره ونډه درلوده، هغه د پردې شا ته کېناسته او شاګردانو ته يې درسونه ويل، چې ستر شمېر شاګردان يې لرل».[23]

په ښځينه فقيهانو کې يوه مشهوره ښځه چې فتوا يې ورکوله او په حنفي مذهب کې يې اثرات پرېښې: مفتيه فاطمة بنت علاء الدين السمرقندي ده، چې پلار يې د «تحفة الفقهاء» کتاب مؤلف و او د ۵۴۰هـ کلونو شاوخوا کې وفات شوی و، همدا د «بدائع الصنائع» د ليکوال امام علاء الدين الكاساني ښځه وه، چې مېړه يې په ۵۸۷هـ کال وفات شوی او دا له هغه مخکې وفات شوې وه. فقه يې له خپل پلاره زده کړه او د هغه کتاب «التحفة» يې حفظ کړ.. مذهب يې په ښه توګه نقل کاوه، کله به داسې کېدل چې مېړه يې الكاساني به په کومه فتوا کې له وهم سره مخ شو، نو دې به سمه فيصله وروښوده او غلطي به يې هم ور په ګوته کړه، بيا به يې مېړه د دې خبرې ته راوګرځېد.. هغې فتوا ورکوله.. لومړی به په صادرېدونکو فتواګانو د هغې او د هغې د پلار سمرقندي لاسليک کېده او وروسته يې چې له کاساني سره واده وکړ، نو په صادرېدونکو فتواګانو به د درېواړو لاسليک کېده.[24]

په اوومه پېړۍ کې د امام السيد أحمد الرفاعي الكبير (۶۰۷هـ مړ) لور فاطمه وينو، چې «د الله د دين فقيهه» وه، دغه راز زينب بنت ابي القاسم وه چې په أم المؤيد مشهوره وه.. هغې ستر ستر عالمان ليدلي وو، مخامخ او په «اجازه» يې علم ځينې اخيستی و، لکه د مشهور تفسير «الكشاف»

[21] - البغدادي، أبوبكر أحمد بن على بن ثابت بن أحمد بن مهدى الخطيب (۴۶۳هـ مړ)، تاريخ بغداد ۱۶/ ۶۳۲، ط: دار الغرب الاسلامي – بيروت.

[22] - عبد الكريم بن محمد بن منصور التميمي السمعاني المروزي، أبو سعد (۵۶۲ هـ مړ)، المنتخب من معجم شيوخ السمعاني ۱/ ۱۹۰۲، ط: دار عالم الكتب – الرياض، لومړی چاپ ۱۴۱۷هـ.

[23] - البغدادي الخطيب (۴۶۳هـ مړ)، تاريخ بغداد ۱۵/ ۳۹۴، ط: دار الغرب الاسلامي – بيروت. إكمال الإكمال د ابن نقطة، ترجمه شمېره (۳۵۴۵).

[24] - الحنفي، عبد القادر بن حمد بن نصر الله القرشي، أبو محمد، محيي الدين (۷۷۵هـ مړ)، الجواهر المضية في طبقات الحنفية ۲/ ۲۷۸، ط: مير محمد كتب خانه – كراچى.

لیکوال زمخشري چې «اجازه» ورکړې وه، دغه راز علامه، مؤرخ، قاضي القضاة ابن خلکان (۶۸۱هـ مړ) له نومورې ښځه «اجازه» درلوده.[۲۵]

اتمه هجري پیړۍ د محدثینو او موسوعي فقهاو په ډېروالي مشهوره ده، وړاندې مو «الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة» ته اشاره وکړه چې حافظ ابن حجر په کې د دې پیړۍ ډېرې فقیهانې، عالمانې او د حدیثو پوهانې ذکر کړې دي. په دغه وخت کې ښځینه عالمانو ته بېلا بېل لقبونه ورکړل شول، چې خوندورې معناوې یې درلودې، لکه د علماوو میره، د فقهاوو میره یا مشره، د قاضیانو سیدة او... چې په عربي ژبه «ست العلماء، ست الفقهاء، ست القضاة» ویل کېږي.

ځینې هغه عالمانې چې دا لقبونه ورکړل شوي وو، دا دي: ست العلماء بنت شیخة رباط درب المهراني (۷۱۲هـ مړه)، ست الفقهاء أمة الرحمن ابنة ابراهيم الصالحية الحنبلية (۷۲۶هـ مړه)، ست الفقهاء بنت الخطيب شرف الدين العباسى (۷۶۵هـ مړه)، دې او د دې ورور علاء الدين له حافظ ابو الحجاج المزي سره ګډ د «أمالي الجوهري» روایت کاوه، بله یې خور ست القضاة بنت الخطيب وه. دغه راز حافظ ذهبي دوه مېرمنې یادې کړي، چې یوه ست الوزراء بنت عمر بن المنجى (۷۱۶هـ مړه) ده او د وخت نابغه یې بللې ده، او بله ست الملوک فاطمة بنت علي بن أبي البدر ده چې په ۷۱۰ هجري کې وفات شوې ده.

په نهمه پیړۍ کې ځینو څېړونکو د هغو ښځینه فقیهانو شمېر ښودلی، چې له مکې مکرمې سره یې یو ډول تړاو درلود، یا هلته اوسېدې، یا یې ګاونډ کې او یا یې تګ راتګ درلود، چې ټولې شاوخوا ۲۷۰ تنه وې، دغه راز هغه ښځې چې امام سخاوي په خپل کتاب «الضوء اللامع لأهل القرن التاسع» کې د هغوی تراجم ذکر کړي دي، شمېر یې ۱۰۸۰ ته رسېږي[۲۶] چې ډېرې یې د فقهې او حدیثو عالمانې دي، دا په دې دلالت کوي، چې د فقهې او فتوا برخه کې د ښځو خدمت او هلې ځلې باید له سره تدوین او و ارزول شي.

په لسمه هجري پیړۍ کې «استاذه عالمه او عامله» أم عبد الوهاب بنت الباعوني الدمشقيه (۹۲۲ هـ مړه) وینو، چې «د زمانې نومیالۍ بلل کېږي.. هغه قاهرې ته بوتلل شوه او لوی علم یې ترلاسه کړ، چې د وخت د علماو له لوري د فتوا او تدریس اجازه ورکړل شوه».[۲۷] په یوولسمه پیړۍ کې د مکې محدثه «قریش بنت عبد القادر الطبري (۱۱۰۷هـ مړه) د یادونې وړ ده، «هغه د یوې سترې علمي کورنۍ فقیهه مېرمن وه او په خپل کور کې پرې شاګردانو د احادیثو کتابونه لوستل. د

---

[۲] - ابن المستوفي، المبارک بن أحمد بن المبارک بن موهوب اللخمى الاربلي (۶۳۷هـ مړ) تاريخ إربل ۲/ ۲۵۶، ط: وزارة الثقافة والاعلام، دار الرشيد للنشر – العراق.

[۲] - د همدې کتاب دولسم جزء معجم النساء ته ځانګړی دی او ټول دغه تراجم په کې شته دي.

[۲] - خير الدين بن محمود بن محمد بن على بن فارس، الزركلي الدمشقي (۱۳۹۶هـ مړ)، الأعلام ۳/ ۲۴۱، ط: دار العلم للملايين، پنځلسم چاپ.

«فهرس الفهارس» لیکوال نوموړې «د حجاز له اووو تنو لویو علماو څخه بللې ده، چې په یوولسمه او ورپسې پېړیو کې پرې د حدیثو علم مضبوط شو».[28]

**د منبرونو واعظانې**

د اتمې هجري پېړۍ تاریخپوهانو د أم زینب فاطمة بنت عباس البغدادية (۷۱۴ هـ مړه) ژوند ته ډېر پام کړی، نوموړې په ۶۸۴ هجري کال په قاهره کې د «رباط البغدادية» په نوم یو مرکز تاسیس کړ، حافظ ذهبي د هغې په اړه وايي: «شيخه، مفتيه، فقيهه، عالمه حنبليه ده» [29]

تاریخپوه صلاح الدين الصفدي (۷۶۴ هـ مړ) لیکي، چې هغه منبر ته پورته کېده او ښځو ته یې وعظونه کول، چې له امله یې د دمشق ښځې اصلاح شوې، له (۷۰۰) کلونو وروسته مصر ته ولاړه، هلته ترې مېرمنې مستفیدې شوې او نوموړې خورا مشهوره شوه، د هغې په نوم چې کوم مرکز جوړ و، دنده یې دا وه چې بې کوره شوې مېرمنې به په کې خوندي وې، تر هغه چې خپلو کورونو کې به ځای پر ځای شوې، او په دې مرکز کې د اوسېدو موده کې په خورا پابندۍ، پاملرنه او په عبادت بوختې اوسېدې. فقهې سره د دغې بغدادي حنبلي مفتي صاحبې د اړیکې په اړه صفدي وايي: «له شيخ شمس الدين او نورو علماو نه یې فقه زده کړه... په فقه پوه وه او له پېچلو مسألو او ژورو نکاتو سره یې اشنا وه».[30]

علم او ديني پوهه یې دومره وه، چې د حافظ ابن تيميه غوندې سړي یې په اړه تعجب کاوه او د هغې ځیرکتیا یې ستایله، یوازې ابن تيميه نه، د هغه شاګرد حافظ ذهبي یې هم ستاینه کړې، هغه وايي: «نوموړې د خلکو تر منځ خورا منلې وه او په زړونو کې یې ځای درلود، زه یې یو ځل لیدو ته ورغلی وم، د هغې د روند خوی او عاجزي مې خوښه شوه، او ښځو د نوموړې په څېر ډېرې لږې لوښې زیږولې دي».[31]

له دې بغدادۍ محترمې وړاندې یوه بله د دمشق عالمه وینو، چې منبر ته د پورته کېدو له امله «عالمه» ورته ویل کېده، هغه د شافعي فقيه شهاب الدين الأنصاري (قاضي خليل) مشهور په «ابن العالمة» مور وه، دا چې هغې ته ولې «عالمه» وویل شوه، قطب الدين اليونيني (۷۲۶هـ مړ) یې په اړه وايي: «کله چې د وخت لوی عادل پاچا په کال ۶۱۵ هجري کې مړ شو، نو خلک د یوې ښځې په لټون کې وو، چې د پاچا په تعزیه یا غم رازي کې وینا وکړي، نو دا نېکه ښځه یې یاده

[2] - الكتاني، محمد عبد الحي بن عبد الكبير بن حمد الحسني الادريسي (۱۳۸۲هـ مړ)، فهرس الفهارس والأثبات ومعجم المعاجم والمشيخات والمسلسلات ۱/ ۲۵۲، ط: دار الغرب الاسلامی – بیروت. دويم چاپ

[2] - شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (۷۴۸ هـ مړ)، العبر في خبر من غبر ۴/ ۴۰، ط: دار الكتب العلمية – بيروت. البداية والنهاية د ابن كثير ۱۴/ ۷۲.

[3] - صلاح الدين خليل بن أيبك الصفدي (۷۶۴ هـ مړ) أعيان العصر وأعوان النصر ۴/ ۲۸، ط: دار الفكر المعاصر، بيروت – لبنان، لومړی چاپ.

[3] - الصفدي، صلاح الدين خليل بن أيبک (۷۶۴هـ مړ)، أعيان العصر وأعوان النصر ۴/ ۲۸، ط: دار الفكر المعاصر، بيروت – لبنان، دار الفكر، دمشق – سوريا، لومړی چاپ.

کړه او بیا خلك ورپسې ورغلل، خو دې له وینا او وعظ کولو انکار وکړ، ځکه د هغې په خبره؛ ما له داسې حالت سره مناسبې خبرې نه شوې کولی، خو خلکو پرېنښوده او مجبوره یې کړه چې وینا وکړي. دې عالمې د «ابن نباتة، ۳۷۴ هـ مړ» ډېرې خطبې يادې کړې وې، خپله وايي، چې د وینا ځای ته په لاره مې له الله جل جلاله نه سوال کاوه چې په دې محفل کې پاتې را نه شم او له ډېره هیبته لړزې نیولې وم. هغه وايي: کله چې ورسېدم او منبر ته پورته شوم، ډار مې له زړه ووت او مطمئنه شوم، لږ تلاوت مې وکړ او «د مرګ خطبه» مې وويله... چې خورا قوي خطبه وه، نو د مجلس خلکو دومره وژړل چې نور کله یې داسې نه وو ژړلي»[۳]له دې وروسته هغه «عالمه» ونومول شوه.

د «ابن العالمه» په لقب یو بل لوی عالم هم مشهور دی، چې هغه «ابو الفضل بن العالمه» دی، چې په «الإسکاف» مشهور دی او په ۵۳۰ هجري کې وفات شوی دی. دغه راز ابو العباس أحمد بن أسعد هم په «ابن العالمه» مشهور دی، چې مور یې «دهن اللوز» نومېده او د دمشق ستره عالمه وه.

**تالیفات نه کول د هېرېدو لامل**

څرګنده ده چې له ځان وروسته علمي اثار پرېښودل انسان ژوندی ساتي، خو ډېر لږ داسې کیږي چې یو عالم تألیف و نه کړي او د هغه علم او یاد تر ډېره پاتې شي، همدا کمی د اسلامي نړۍ له ښځینه پوهانو هم شوی دی او سره له دې چې په بېلا بېلاو زمانو کې ښځو پراخ علمي حضور درلود، خو نه کتابونو د هغوی فقهي اقوال راخیستي او نه یې د هغوی مذهبونه ذکر کړي دي، غیر له هغو چې له أمهات المؤمنین او په ځانګړي ډول له بي بي عایشې رضي الله عنها نه یې را نقل کړي دي، زما په آند د دې کار څلور لاملونه کېدی شي:

لومړی دا چې فقهاو د اقوالو په رانقلولو کې د قایل شهرت او نوم ته ډېره توجه کوله، همدا لامل دی چې د هر ځای د لویو علماو اقوال یې راخیستي دي.

دویم دا چې ډېری ښځینه فقیهانې او مفتیانې یا د خپل عالم پلار، یا ورور او یا خاوند په څنګ او پالنه کې وې او د دوی په نوم ډېر اقوال نه دي صادر شوي.

درېیم دا چې ښځینه عالمانو د کتابونو تالیف ته هیڅ پاملرنه نه ده کړې، حال دا چې یوازې کتابونه کولی شي، چې اقوال ژوندي وساتي او تلپاتې یې کړي.

څلورم دا چې د دغو ښځینه پوهانو کورنیو نه دي غوښتي چې د هغوی نومونه ووځي، لکه وړاندې مو چې د المزني په اړه وویل، چې د خپلې خور نوم یې څرګند نه یاداوه، ځینې څېړونکي ان په دې اند دي چې دا له دې امله چې عربو د ښځې او ټولنې په اړه خپلو پخوانیو عادتونو ته مخ اړولی و، خو دا خبره ډېره پخه ځکه نه ده، چې دغه ښځینه فقیهانې او عالمانې یوازې په عربي ټولنه کې نه وې، بلکې وینو چې ستر شمېر په غیر عربو کې هم وې.

---

۳ - الیونیني، قطب الدین أبوالفتح موسی بن محمد (۷۲۶هـ مړ)، ذیل مرآة الزمان ۳/ ۷۵، ط: دار الکتاب الاسلامی – القاهرة، دویم چاپ.

نورو څېړونکو له ډېرو خواریو وروسته موندلې ده، چې له دویمې هجري پېړۍ را په دې خوا تر دولسمې پېړۍ پورې یوازې ۳۶ تنو ښځینه لیکوالو تالیفات کړي، چې ډېری دغه تالیفات اوس ورک دي او د تراجمو په کتابونو کې یې یوازې عنوانونه یا نومونه موندل کېږي. دغه خورا کم شمېر څرګندوي چې د اسلامي نړۍ ښځینه عالمانو تالیف ته څومره لږه توجه کړې، څو خپل علم په کې خوندي کړي، همدا بې‌پامي د دې لامل شوې، چې د تراجمو کتابونو په ځانګړي ډول هغه کتابونه چې د فقهاو تراجم په کې خوندي دي، ښځینه عالمانې له پامه وغورځوي.
د محمد خیر رمضان[۳۳] په نوم یوه څېړونکي د تراجمو کتابونه پلټلي او له دې ډېر تعجب کوي، چې د فقهي مذهبونو د تراجمو کتابونو ښځینه عالمانې ولې دومره له پامه غورځولي او په اړه یې هیڅ نه دي ویلي، د هغه په وینا د حنفي مذهب د علماوو د تراجمو په کتاب «الجواهر المضیة في تراجم الحنفیة» کې یوازې د پنځو ښځینه فقیهانو نومونه ذکر شوي، حال دا چې په کتاب کې ټول ځای شوي تراجم ۲۱۱۵ تنو ته رسېږي. د مالکي تراجمو په کتابونو کې د هیڅ ښځینه عالمې ترجمه نه ده ذکر شوې، د شافعي مذهب اړوند په «طبقات الشافعیة الکبری» کې چې د سبکي (۷۷۱هـ مړ) کتاب دی، د هیڅ فقیهې ذکر نه شته، حال دا چې دغه کتاب په لسو جلدونو کې دی، یوازې إسنوي د المزني د خور یادونه یې کړې ده، چې د هغې هم نوم نه دی معلوم. د ابن أبي یعلی (۵۲۶هـ مړ) په «طبقات الحنابله» کې د هیڅ حنبلي فقیهې یاده نه ده شوې، یوازې دومره ده چې د دې په ځای د «ذکر النساء المذکورات بالسؤال لإمامنا أحمد» تر عنوان لاندې هغه ښځینه یادې شوې دي، چې له امام احمد نه به یې پوښتنې کولې.
په اندلس کې د ښځو د علمي تاریخ دغه له پامه غورځېدل هم په څو قضیو کې څرګندېږي؛ لومړۍ: د ابو الولید الباجي (۴۷۴هـ مړ) د مور اړوند، هغه یوه فقیهه وه خو لکه ابن عساکر الدمشقي چې وایي، د تراجمو کتابونو د هغې په اړه یوازې د هغې له زوی سره اړیکه ذکر کړې ده چې د نوموړې د ولادت تاریخ یې تصحیح کړی، نور یې د هغې په اړه هیڅ څه نه دي راخیستي.[۳٤] دویمه قضیه: د هغو تراجمو ده چې د «نفح الطیب» لیکوال پرې د اندلس شاوخوا شل تنه مشهورې ښځې ځانګړې کړې دي، خو د دوی تراجم یې داسې ذکر کړي دي، چې د دوی په اړه بې پروایي په کې په څرګنده توګه ښکاري، غیر له ځینو تراجمو څخه، ډېری ښځینه عالمانې چې نوموړې ذکر کړې، یوازې د هغوی مفرد نوم یې اخیستی چې لقب غوندې ښکاري، او د اندلس یوه ښار ته یې د هغوی نسبت کړی دی، له دې پرته یې د هغوی اړوند ټول معلومات پرېښې دي، نه یې بشپړ نوم شته، نه د زیږېدو نېټه، نه یې استاذان معلوم دي او نه یې د مړینې وخت. په دغه اهمال کې تر ټولو عجیب شی هغه کیسه ده چې لیکوال د اندلس د دغو مشهورو ښځینه عالمانو د نومونو په پای کې لیکلې ده، هغه وایي: «ویل کېږي چې د «لوشه» د کوم قاضي داسې

[۳۳] - محمد خیر رمضان بن اسماعیل یوسف، سوریایي لیکوال او تاریخپوه دی، چې ګڼ شمېر کتابونه یې لیکلي دي.
[۳٤] - ابن عساکر، تاریخ دمشق ۲۲/۲۲٦.

یوه برخه وه چې پر فقهي احکامو او د شخړو اوارولو په اړه له ټولو علماو ښه پوهېده...، او چې د دغه قاضي مجلس ته به شخړې او لانجې راوړل شوې، دی به خپلې عالمې مېرمن ته ورغی او سلا به يې ترې واخيسته، هغې به پرېکړه وروښوده»[35]دريېمه قضيه؛ په هغه ځانګړتیا کې څرګندېږي چې اسلامي المغرب پرې مشهور شو، داسې چې د دې ځای خلکو د خپلو مختلفو علماوو فتواګانې په يوه کتاب کې راټولې کړې، لکه «المعيار المعرب والجامع المغرب، عن فتاوى أهل أفريقية والأندلس والمغرب»، چې د ابو العباس الونشريسي (۹۱۴هـ مړ) کتاب دی، خو په ټولو دولسو جلدونو کې يې د هيڅ فقيهې کومه فتوا نه ده ذکر کړې، همداسې چې له ده وروسته کوم ورته کتابونه ليکل شوي، په ده پسې يې اقتدا کړې ده.

**د مقالې موندنې**

**أ: پايلې او وړانديزونه**

د دې څېړنې په پای کې لاندې پايلې په لاس راغلې:

۱- د اسلام په پيل کې په لويه کچه احاديث صحابياتو امت ته رانقل کړي دي.

۲- ځينو پخوانيو علماو خپل کتابونه يوازې د ښځو فتواو او استدراکاتو ته ځانګړي کړي دي.

۳- د مفتي د شرطونو په پوره کولو ښځه هم د نارينه په څېر فتوا ورکولی شي.

۴- د اسلامي تاريخ په اوږدو کې ښځې ښوونکې، فقيهانې، مفتيانې او واعظانې تېرې شوې دي.

۵- تاليفاتو ته د نه پاملرنې له امله ښځينه عالمانې له ياده ويستل شوې دي.

**ب: مناقشه**

۱- د اسلام په لومړيو کې ګڼ شمېر صحابياتو د رسول الله صلى الله عليه وسلم سلګونه احاديث امت ته رانقل کړي دي، له دې احاديثو يې استنباطات کړي دي او خلکو ته يې فتواوې ورکړې دي، ان کله هغوی د نورو علماو او چارواکو په ځينو مسايلو نقد هم کړی دی. د علماو له اقوالو څرګندېږي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ملګرو کې له (۱۳۰) ډېرو کسانو فتوا ورکوله، چې له شلو ډېرې په کې ښځې وې.

۲- د اسلامي تراث لويو علماوو خپل ځينې کتابونه يوازې د ښځينه عالمانو فتواو او استدراکاتو ته ځانګړي کړي دي، لکه علامه بدر الدين زرکشي چې د «الإجابة لإيراد ما استدركته عائشة على الصحابة» په نوم کتاب کې يې په اصحاب کرامو د بي بي عائشې استدراکات راټول کړي دي.

۳- د علماوو له لوري بيان شويو د مفتي شرطونو ته په کتو معلومېږي چې اسلام کې د فتوا مدار يوازې د علميت په ملکه، په اخلاقي بډاينه، د نظر او رايې په سموالي او په استنباط بنا دی، چې اصيل او غلام، نر او ښځه په کې برابر دي.

[35] - شهاب الدين أحمد بن محمد المقري التلمساني (۱۰۴۱ هـ مړ)، نفح الطيب من غصن الأندلس الرطيب، وذكر وزيرها لسان الدين بن الخطيب ۴/ ۲۹۴، ط: دار صادر -بيروت- لبنان.

۴- د اسلامي تاريخ په اوږدو کې په بېلا بېلو وختونو او ځايونو کې داسې عالمانې ښځې موجودې وې، چې تدريس يې کاوه، فتواوې يې ورکولې او ښځينهو ته يې وعظونه کړي دي.

۵- له دې امله چې ښځينه عالمانو او فقيهانو د تاليف برخې ته ځانګړې پاملرنه نه ده کړې، هغوی له ياده ويستل شوي يا له پامه غورځول شوې دي او کتابونو يې تر ډېره ذکر نه دی کړی.

**ج: نتيجه ګيري**

د څېړنې نتيجه ګيري دا ده چې د اسلامي امت ښځې د تاريخ په اوږدو کې د علم زده کوونکې، عالمانې، فقيهانې او مفتيانې پاتې شوې دي.

**وړانديزونه**

۱- څېړونکو ته ښايي چې دغه موضوع چې تر ډېره د اهمال ښکار ده، په راتلونکې کې کار پرې وکړي او نړۍ ته وښيي چې د اسلامي تراث په ساتنه او نقل کې ښځينهو ستره ونډه درلودلې ده.

۲- د اسلام د لومړيو وختونو دغه ډول مېرمنې چې صحابياتې دي، د هغوی د سيرت په رابرسېره کولو څېړونکي کولی شي، د ننيو مسلمانو مېرمنو لپاره غوره بېلګه شخصيتونه معرفي کړي، څو دوی يې پر پل قدم کېږدي او دنيوي او اخروي بريا ترلاسه کړي.

**مصادر او مراجع**

**قران کريم**


۱. ابن القيم الجوزية، ابو عبد الله محمد بن ابي بكر بن أيوب (۷۵۱هـ مړ)، إعلام الموقعين عن رب العالمين، ط: دار ابن الجوزى للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، لومړی چاپ ۱۴۲۳هـ.

۲. ابن المستوفي، المبارک بن أحمد بن المبارک بن موهوب اللخمى الاربلي (۶۳۷هـ مړ) تاريخ إربل، ط: وزارة الثقافة والاعلام، دار الرشيد للنشر — العراق.

۳. ابن سعد، ابو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمى بالولاء، البصري البغدادي (۲۳۰هـ مړ) الطبقات الكبرى، ط: دار الكتب العلمية — بيروت، لومړی چاپ ۱۴۱۰هـ.

٤. ابن عساكر، أبو القاسم على بن الحسن بن هبة الله (۵۷۱هـ مړ)، تاريخ دمشق، ط: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.

٥. ابن نقطة، محمد بن عبد الغني بن أبي بكر بن شجاع، أبو بكر، معين الدين، الحنبلي، البغدادي (المتوفى: ۶۲۹هـ مړ) إكمال الإكمال، ط: جامعة أم القرى — مكة المكرمة.

٦. أبو الفداء، اسماعيل بن كثير القرشى البصرى (۷۷۴هـ مړ)، البداية والنهاية، ط: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والاعلان، لومړی چاپ.

۷. البغدادي، أبوبكر أحمد بن على بن ثابت بن أحمد بن مهدى الخطيب (۴۶۳ هـ مړ)، تاريخ بغداد، ط: دار الكتب العلمية — بيروت، لومړی چاپ ۱۴۱۷ هـ.

٨. التلمساني، شهاب الدين أحمد بن محمد المقري (١٠٤١ هـ مړ)، نفح الطيب من غصن الأندلس الرطيب، وذكر وزيرها لسان الدين بن الخطيب، ط: دار صادر –بيروت– لبنان.

٩. الحنفي، عبد القادر بن حمد بن نصر الله القرشي، أبو محمد، محيي الدين (٧٧٥هـ مړ)، الجواهر المضية في طبقات الحنفية، ط: مير محمد كتب خانه –كراچی.

١٠. الدينوري، أبو بكر أحمد بن مروان المالكي (٣٣٣هـ مړ)، المجالسة وجواهر العلم، ط: دار ابن حزم بيروت – لبنان.

١١. الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز (٧٤٨ هـ مړ)، العبر في خبر من غبر، ط: دار الكتب العلمية – بيروت.

١٢. الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الحافظ (٧٤٨هـ مړ)، ميزان الاعتدال، ط: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان، لومړی چاپ.

١٣. الزركلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن على بن فارس، الدمشقي (١٣٩٦هـ مړ)، الأعلام ٣/ ٢٤١، ط: دار العلم للملايين، پنځلسم چاپ.

١٤. السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين (٩١١هـ مړ)، حسن المحاضرة في تاريخ مصر والقاهرة، ط: دار احياء الكتب العربية – مصر، لومړی چاپ.

١٥. الصفدي، صلاح الدين خليل بن أيبک (٧٦٤هـ مړ)، أعيان العصر وأعوان النصر، ط: دار الفكر المعاصر، بيروت – لبنان، لومړی چاپ.

١٦. الضبي، أبو جعفر أحمد بن يحيى بن أحمد بن عميرة (٥٩٩هـ مړ)، بغية الملتمس في تاريخ رجال أهل الأندلس، ط: دار الكتاب العربي – القاهرة.

١٧. الظاهري، أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي (٤٥٦هـ مړ)، رسائل ابن حزم الأندلسي، ط: المؤسسة العربية للدراسات والنشر.

١٨. العبسي، أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي (٢٣٥هـ مړ): المصنف. ط: مكتبة الرشد – الرياض، **لومړی** چاپ ١٤٠٩ هـ.

١٩. القزويني، عبد الكريم بن محمد الرافعي (٦٢٣ هـ مړ)، فتح العزيز بشرح الوجيز = الشرح الكبير للرافعي، ط: دار الفكر.

٢٠. الكتاني، محمد عبد الحي بن عبد الكبير بن حمد الحسني الادريسي (١٣٨٢هـ مړ)، فهرس الفهارس والأثبات ومعجم المعاجم والمشيخات والمسلسلات، ط: دار الغرب الاسلامى – بيروت. دويم چاپ

٢١. المروزي، عبد الكريم بن محمد بن منصور التميمي السمعاني، أبو سعد (٥٦٢ هـ مړ)، المنتخب من معجم شيوخ السمعاني، ط: دار عالم الكتب – الرياض، لومړی چاپ ١٤١٧هـ.

٢٢. الموسوعة الفقهية الكويتية.

۲۳. النووي، ابو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف (۶۷۶هـ مړ)، آداب الفتوی والمفتي والمستفتي، ط: دار الفکر – دمشق.

٢٤. الیحصبي، ابو الفضل القاضي عیاض بن موسی (۵۴۴هـ مړ)، ترتیب المدارک وتقریب المسالک، ط: مطبعة فضالة – المحمدیة، المغرب.

**۲۵.** الیونیني، قطب الدین أبوالفتح موسی بن محمد (۷۲۶هـ مړ)، ذیل مرآة الزمان، ط: دار الکتاب الاسلامی – القاهرة، دویم چاپ.

# جایگاه اشعار تعلیمی شاعران اخلاق‌گرا در تأدیب اخلاق جوانان

نویسنده: پوهنمل عبدالبصیرحکیمی، پوهنتون شیخ زاید، پوهنځی زبان و ادبیات، دیپارتمنت دری
آدرس ایمیل: abdulbasirh68@gmail.com

**چکیده**

تحقیق حاضر که در مورد «جایگاه اشعار تعلیمی شاعران اخلاق‌گرا در تأدیب اخلاق جوانان» به بحث و بررسی گرفته شده، که به سیر تحول این نوع ادبی و تعلیمات دینی و مذهبی، آموزش‌های اخلاقی، عرفانی در اشعار شاعران زبان فارسی دری می‌پردازد.

روش‌ها و میتودهای این تحقیق از منظر نحوه‌ی گِردآوری داده‌ها و اطلاعات، توصیفی و تحلیلی بوده و از منظر ماهیت داده‌ها و اطلاعات، از نوع کیفی می‌باشد. همچنان از یافته‌های این تحقیق دریافتیم که ادبیات می‌تواند موجب رشد تفکر، هوش زبانی، تخیل، هوش عاطفی و بسیاری از ابعاد دیگر گردد که: در نتیجه با توجه به بحث‌ها و بررسی‌های تحقیق حاضر می‌توان گفت که ادبیات تعلیمی، ادبیاتی‌ست که نیک‌بختی را در بهبود منش اخلاقی او می‌داند و خود را متوجه پرورش قوای روحی و تعلیم اخلاقی انسان می‌کند.

مهم‌ترین موضوعات ادبیات تعلیمی – خداشناسی، تعلیمات دینی و مذهبی، آموزش‌های اخلاقی، عرفانی و تعلیمات سیاسی-اجتماعی می‌باشد که از این لحاظ یکی از مهم‌ترین انواع ادبی‌ست که در فرهنگ و ادبیات هر کشوری یافت می‌شود و سعی در آثاری که به شیوه‌های گوناگون به تعلیم مردم و آموزه‌های اخلاقی ایشان دارد اشاره می‌کند و شعرا با استفاده از صنایع مختلف ادبی، کلامی پر از پند و اندرز می‌سرایند و با استفاده از تمثیل های مختلف به فهم مسایل خوب و بد زنده‌گی کمک می‌کند.

**واژه‌های کلیدی:** آموزش‌های اخلاقی، آموزش‌های دینی و مذهبی، آموزش‌های عرفانی، جایگاه اشعار تعلیمی، جوانان، شاعران اخلاق‌گرا.

**۱ . مقدمه**

الحمدلله رب العالمین والصلات و السلام علی سیدالمرسلین و خاتم النبیین محمد(ص) و علی آله و صحبه اجمعین و من تبعهم باحسان الی یوم الدین.

به یقین نوجوانی و جوانی، بهار عمر و هنگام شکوفایی و آغاز فراز و نشیب‌های روحی و جسمی و رسیدن به رشد است. در این دوره آهسته آهسته شخصیت انسان شکل می‌گیرد و پرسش‌های فکری و فرهنگی بسیاری در ذهن جوان پیدا می‌شود. روزهای جوانی لبریز از زیبایی، نشاط، احساسات، لذت‌های متنوع، تفریح و آراستگی‌ست. از سوی دیگر یکی از ویژگی‌های مهم، در دوران جوانی، خداجویی و خدایابی و دین باوری‌ست.

پس با درک همین ویژگی‌ها می‌توان با بیان صحیح باورها و ارزش‌های دینی و مذهبی، تعلیم وتربیت، پند و اندرز، موعظه و حکمت روح ناآرام جوان را آرامش و اطمینان بخشیده و او را به نجات و کمال رساند. از اینکه جوانان به عنوان نیروی محرک و منبع انرژی مثبت نقش عمده و

اساسی در تعیین شخصیت و جهت‌گیری‌ها و توسعهٔ سیاسی، اجتماعی و فرهنگی جوامع دارند و استفادهٔ درست و کارآمد از این عنصر حیاتی باعث پیشترفت، صلح و امیدواری به آینده می‌گردد. از این لحاظ در جامعهٔ اسلامی نیاز است که توجه و تمرکز بیشتر برنخبه‌گان و جوانان شود و زمینهٔ سهولت‌ها و امکانات لازم آموزشی، تربیتی و اخلاقی سازنده و واقعی را فراهم سازند.

جای شک نیست اگر جوانان در جامعه متخلق به اخلاق نیک و تربیه درست و سالم و سازنده باشند، موجب ترقی و پیشرفت و همدیگرپذیری جامعه می‌گردد. کشورهای که جوانان شان را مدیریت سالم نموده و از آنان استفاده مثبت نمودند به رفاه و توسعه دست یافتند؛ اما کشورهای که در این زمینه کم‌توجهی کردند به یک چالش جدی فراه راه ثبات و انکشاف اخلاقی و اجتماعی گردیده است. جوانان آگاه، شایسته، نخبه و متعهد به اخلاق نیک ارزش‌های اساسی جامعه سنگ-بنای یک جامعهٔ سالم و ارزشمند را می‌گذارند و استفادهٔ ابزاری جوانان، صدمهٔ منفی بر تعهد ملی و شایستگی جوانان می‌گذارد.

ملت‌هایی در تاریخ موفق بوده و به رفاه دست یافتند که رهبری امور را به عهدهٔ جوانان با تربیت و با اخلاق گذاشته یا به همچو جوانان اعتماد و باورمندی داشته اند. به هر میزان که در یک جامعهٔ سالم و آرمانی روی ظرفیت‌سازی و ایجاد انگیزه‌های سالم برای سهم و مشارکت واقعی جوانان که متخلق به اخلاق الهی اند توجه صورت گیرد، به همان میزان جوانان مسؤولیت‌پذیر و هدف‌مند تربیه گردیده، فضای مثبت و سازندهٔ زندگی بهتر به وجود آمده، جامعه به طرف ترقی و تعالی رهنمون می‌گردد.

از آنجاکه جوان، دل پاک دارد و بهتر از دیگران پذیرای سخن است به این جهت پس شروع دعوت پیامبر(ص) به اسلام از جوانان آغاز می‌گردد و بیش از دیگران به آنان پیوسته و پیامبر(ص) برای این گروه ارزش و احترام خاصی قایل بود و در بسیاری موارد با وجود صحابهٔ کرام، جوانان را برای مسؤولیت‌های کلیدی انتخاب می‌کرد. بنابراین یکی از شاخص‌ترین کارکردهای که می‌تواند جوانان را آماده سازد ادبیات است. ادبیات بر روی خوانندهٔ خود تأثیر می‌گذارد؛ به ویژه مؤثریت که حاصل دگرگونی فکری مخاطب باشد و این تأثر، از نوع نگاه و بینش متفاوت یک هنرمند حاصل می‌شود. هنرمندان، به خصوص شاعران، باشیوه‌های گوناگونی می‌توانند باعث تأثیر شوند. بسیاری از شاعران خِردگرا، با بیان مضامین مختلف اخلاقی و تربیتی در پوشش صنایع مختلف ادبی، در بیدار کردن وجدان خفتهٔ انسان‌ها و بر انگیختن صفات نیک اخلاقی آنان تلاش بسیاری کرده اند. این نوع ادبیات، ادبیات تعلیمی خوانده می‌شود؛ یعنی ادبیاتی که دانشی را برای خواننده تشریح می‌کند و یا مسایل اخلاقی، مذهبی، اجتماعی، حِکمی و فلسفی را به شکل ادبی بیان می‌کند.

باید اذعان کرد که درونمایه‌های تعلیمی و اخلاقی چنان با انواع شعر فارسی در آمیخته است که هیچ یک از اشعار شاعران را نمی‌توان یافت که از آنها جدا باشد؛ حتی بخش ستایشی و توصیفی شعر زبان فارسی هم که در قالب قصیده قرار می‌گیرد و یا منظومه‌های حماسی و غنایی به کلی از این مفاهیم بیگانه نیست.

به صورت کل اگر تمام اشعار شاعران مورد بررسی قرار گیرد و از دیدگاه اخلاقی اسلامی آن را بررسی نماییم، می توان دید که در اشعار زیادی مسایل اخلاقی، مذهبی، اجتماعی، حِکمی و عرفانی تشکیل می‌دهد که باعث پیشرفت زبان و ادب فارسی شده و زمینهٔ مناسبی را برای رشد عرفان و تصوف و تعلیمات صوفیان فراهم کرده است.

**۱، ۲ . اهداف تحقیق**

**(الف) هدف اصلی**

هدف اصلی از تحقیق حاضر مبنی بر این است که جایگاه اندیشه‌ها و افکار سالم و سازنده‌ی شاعران و ادیبان که پیام و رسالت شان را برای مردم می‌رسانند آگاهی حاصل شود که چقدر این بزرگان، گفتار و کردار شان جایگاه خاصی بر روی اخلاق جوانان و تأکید و تأدیب شان بیشتر بوده است. توجه نمودن به ارزش‌های اخلاقی و خوار شمردن زشتی‌ها، دنیا دوستی و صفات مذموم و کسب فضایل از اهم اهداف ادبیات تعلیمی‌ست.

**ب) هدف فرعی**

چون بخش گسترده‌یی از ادبیات را پندهای اخلاقی دربر دارد؛ از این لحاظ لازم دانستم که در این مورد تحقیق شود، تا وانمود گردد که ادبیات علاوه بر این‌که سبب حفظ و بقای فرهنگ بشری در ادوار گوناگون بوده، از عوامل مهم آموزش و گسترش فرهنگ برای انتقال ارزش‌های فرهنگ نسل-های پیش و پس نیز می‌باشد.

**۱، ۳ . ضرورت تحقیق**

بدون تردید مهم‌ترین درون‌مایهٔ اشعار تعلیمی، پند و اندرز است. تأثیرگذاری این اندرزها بر مخاطبان، مستلزم آن است که ابعاد عاطفی این متون، تحقیق و موشِکافی شود تا مخاطب آن‌ها را متونی خُشک، بی‌روح و صرفاً مفید به حال قرن‌ها قبل، تأکید و قلمداد نکند. در مجامع علمی مخصوصاً پوهنتون‌ها، بررسی متون ادبی، بیشتر محدود به یافتن شواهد بلاغی و نحوی و همچنین شرح مفردات دشوار است و رویکرد عاطفی نسبت به متون ادبی، چندان مورد توجه نبوده است؛ از این لحاظ تحقیق این موضوع را لازم دانستم تا به اندازهٔ توان خود توجه به همین کاستی‌ها شود.

**۱، ۴ . پیشینهٔ تحقیق**

بشر همواره به ادبیات تعلیمی توجه کرده است. چون تعلیم و تربیت همواره یکی از نخستین تمایل-های بشر بوده است و اصولاً رسالت پیامبران و نقش آنان در زندگی انسان‌ها برای رسیدن به این هدف بوده است. بعد از اسلام در جامعه‌ی اسلامی کتاب‌های زیادی توسط دانشمندان، شاعران و ادیبان چه دربخش نظم و چه در بخش نثر نگاشته شده است.

باید گفت که درباره‌ی ادبیات تعلیمی و جایگاه آن تا کنون مقاله‌ها و کتاب‌هایی نگاشته شده است که گاه به صورت جزئی و گاه به صورت کلی به رشته‌ی تحریر در آمده است؛ اما در باره‌ی

موضوع پژوهش حاضر که «جایگاه اشعار تعلیمی شاعران اخلاق‌گرا در تأدیب اخلاق جوانان» است، تا کنون مقاله‌ی مستقلی نگاشته نشده است بنابر این، تحقیق فوق در نوع خود اولین است.

**۱، ۵ . دریافت‌های تحقیق**

از یافته‌های این تحقیق دریافتیم که ادبیات می‌تواند موجب رشد تفکر، هوش زبانی، تخیل، هوش عاطفی و بسیاری از ابعاد دیگر گردد که: در نتیجه با توجه به بحث‌ها و بررسی‌های تحقیق حاضر می‌توان گفت که ادبیات تعلیمی، ادبیاتی‌ست که نیک‌بختی را در بهبود منش اخلاقی او می‌داند و خود را متوجه پرورش قوای روحی و تعلیم اخلاقی انسان می‌کند.

مهم‌ترین موضوعات ادبیات تعلیمی – خداشناسی، تعلیمات دینی و مذهبی، آموزش‌های اخلاقی، عرفانی و تعلیمات سیاسی- اجتماعی می‌باشد که از این لحاظ یکی از مهم‌ترین انواع ادبی‌ست که در فرهنگ و ادبیات هر کشوری یافت می‌شود و سعی در آثاری که به شیوه‌های گوناگون به تعلیم مردم و آموزه‌های اخلاقی ایشان دارد اشاره می‌کند و شعرا با استفاده از صنایع مختلف ادبی، کلامی پر از پند و اندرز می‌سرایند و با استفاده از تمثیل های مختلف به فهم مسایل خوب و بد زنده‌گی کمک می‌کند.

**۱، ٦ . مواد و روش کار تحقیق**

روش‌ها و میتودهای این تحقیق از منظر نحوه‌ی گِردآوری داده‌ها و اطلاعات، توصیفی و تحلیلی بوده و از منظر ماهیت داده‌ها و اطلاعات، از نوع کیفی می‌باشد که از کتاب‌های معتبر و دست اول استفاده شده است. بناءً داده‌ها و اطلاعات به صورت درست تشریح و توضیح شده و به خوانندگان رهنمونی کامل شده است.

**۲ . جایگاه ادبیات تعلیمی**

ادبیات تعلیمی ادبیاتی‌ست که مسایل اخلاقی، مذهبی، اجتماعی، حِکمی و فلسفی را به شکل ادیبانه و زیبا برای مخاطب بیان می‌دارد. پرداختن به تربیت و تعلیم، اساس فکری بزرگان علم و ادب بوده است. «واژه‌ی تربیت در لغت از ماده‌ی ربّو گرفته شده است که به معنای رُشد و نُمو کردن و افزوده شدن و برکشیدن و پرورش دادن است». (دهخدا، ۱۳۳۰: ذیل واژه) و یا تربیت در لغت به معنای «پرورانیدن، پروردن و آموختن به کار می‌رود». (همان)

تعلیم، مصدر باب تفعیل عربی است به معنای آموزش دادن. در اصطلاح، ادبیات تعلیمی یکی از مهم‌ترین و قدیمی‌ترین انواع ادبی‌ست که هدف اصلی آن آموزش است. «گاهی اصطلاح ادبیات تبلیغی را معادل با ادبیات تعلیمی به کار می‌برند؛ اما به قول «ابرمز» در کتاب فرهنگ اصطلاحات ادبی، بهتر است که آن را نوعی از ادبیات تعلیمی بدانیم و در مورد آثاری به کار ببریم که باعث می‌شوند خواننده در خصوص مسایل اخلاقی یا سیاسی، نظری خاص پیدا کند یا وضعیت خاصی اتخاذ نماید». (شمیسا، ۱۳۷۳: ۲۴۸)

کارکردهای گوناگون ادبیات تعلیمی عبارت اند از: پرورش روح، تهذیب نفس، رواج ارزش‌های اخلاقی، افزایش بینش و دانش بشری در حوزه‌ی خود و جهان اطراف خود، همچنین سازگار نمودن انسان برای تحمل مصیبت‌ها و بهره‌مندی و لذت بردن از زندگی و... . از میان این کارکردهای گوناگون، نوع تعلیمی آن بسیار حائز اهمیت است. رمز ماندگاری ادبیات نیز همین سودمندی آن در برابر جوامع بشری‌ست. «افلاطون نخستین کسی‌ست که بر ارزش اخلاقی در ادبیات تکیه می-کند». (اسلامی ندوشن، ۱۳۷۰: ۲۲۶)

آثار ادبیات تعلیمی در جهت تشویق و تحریض اندیشه‌های انسانی در زمینه‌های گوناگونی چون: صفات اخلاقی، خِرد، تربیت نفس و... حائز اهمیت است. آنچه در ادبیات تعلیمی بیش از همه نمود دارد، ارتباط بین مخاطب و شاعر و تأثیر بر روی آن است. بسیاری از شعرا با بهره‌گیری از صنایع ادبی گوناگون، به بیان نکات پندآموز و تعلیمی پرداخته و سعی دارند تأثیری وافر و مؤثر بر خواننده-ی خویش داشته باشند.

با نگاه به ادبیات تعلیمی می‌توان فهمید که در نگاه پیشینیان، ادبیات فراتر از سرگرمی و بیان عواطف و احساسات بوده و دارای صبغه‌ی فرهنگی و تفکرات عالی انسانی‌ست و مشحون از دستورالعمل-های اخلاقی و راهکارهای فرهنگی فراگیر است که با لطافت ادبی بیان شده است. شایان ذکر است که ورود به عرصه‌ی ادبیات تعلیمی بدون دانش و آگاهی میسر نیست. به همین دلیل، شاعرانی چون خیام، سنایی، فردوسی، نظامی، عطار، سعدی، مولانا، حافظ، جامی و... علاوه بر مهارت در بیان اشعار نغز و لطیف، درس حکمت را نیز می‌دانستند و لذا شعر آنان شرشار از ابیات علمی، اخلاقی، حِکمی و پندآموز است. «ماهیت اصلی ادبیات تعلیمی نیکی (خیر)، حقیقت، زیبایی و دانایی است» (شفیعی کدکنی، ۱۳۷۲: ۸۱ )

ادبیات تعلیمی به عنوان منبعی ارزشمند برای دستیابی به دانش و شناخت خود و دیگران و پیرامون جهان است و موجب افزایش سطح آگاهی و دانش انسان به پدیده‌های پیرامون خویش می‌گردد.

تعلیم در ادبیات گاه به طور ضِمنی انجام می‌گیرد و سرِّ دلبران را در حدیث دیگران بیان می‌دارد.

توجه و اهمیت به مسایل اخلاقی برای آدمی، بزرگان ادب را وادار داشته است تا برای این حوزه‌ی ادبیات، اهمیت بسزایی قایل شوند. وجود کتاب‌ها و منظومه‌های متعدد اخلاقی و تعلیمی همچون شاهنامه‌ی فردوسی، حدیقه الحقیقت سنایی، بوستان و گلستان سعدی، مخزن الاسرار نظامی، چهارمنظومه‌ی زیبای شیخ عطار و مثنوی معنوی مولانا از زیباترین و پر معناترین اشعار تعلیمی هستند که در آن‌ها از داستان‌ها و حکایت‌ها و تمثیل‌ها برای بیان مفهوم استفاده شده و به شیوه‌ی پند و اندرز غیر مستقیم است. (مشرف، ۱۳۸۹: ۹)

از قدیم‌ترین کارکردهای ادبیات تعلیمی، حفظ و ارتقای اخلاق در میان افراد جامعه است. اهمیت این نوع از ادبیات تا بدان جاست که گاه ادبیات تعلیمی را مترادف با پند و اندرز اخلاق شمرده اند

و آن را منحصر و محدود به ادبیاتی دانسته اند که هدف و همت خود را متوجه پرورش قوای روح و سرزنش نفس و تعلیم اخلاقی انسان می‌کند. (همان)
توجه به ارزش‌های اخلاقی و خوار شمردن زشتی‌ها، دنیا دوستی و صفات مذموم و کسب فضایل از اهم اهداف ادبیات تعلیمی‌ست. بخش گسترده‌یی از ادبیات را پندهای اخلاقی دربر دارد. بدون تردید، ادبیات علاوه بر اینکه سبب حفظ و بقای فرهنگ بشری در ادوار گوناگون بوده، از عوامل مهم آموزش و گسترش فرهنگ برای انتقال ارزش‌های فرهنگی نسل‌های پیش و پس است.

**۲ ، ۱ . حوزه‌های اشعار تعلیمی و اخلاقی**

روش‌های تعلیم و تربیت در متون نظم فارسی دری را می‌توان به انواع گوناگون تقسیم‌بندی کرد. شاعران برای تعالیم خویش به طُرُق گوناگون با مخاطبان خویش سخن گفته اند. اشعار تعلیمی شاعران با محتوا و مضامین همچون: ارشاد و راهنمایی، استدلال، آزاده‌گی، قناعت و خورسندی، پند و اندرز، تکریم، نیک‌نامی، تنبیه، تنذیر، نیکی و بدی، گفتگو و موعظه سروده شده است.

**۲ ، ۱ ، ۱ . راهنمایی و ارشاد**

شاعران با چشیدن گرم و سرد روزگار، کوله‌باری از تجربه اندوخته‌اند. از این رو می‌توان دریافت‌ها و گفته‌های ایشان را چون دُرّی گران‌بها در اختیار دیگران قرار داد. ارشاد و راهنمایی شاعران چون چراغی فرا راه مردمان قرار گرفته است. «همیشه در عالم حیات بشر دوقوه با یکدیگر در زدو خورد است: یکی قوۀ طبیعت و غریزۀ طبیعی که در نهاد عالم و کلیۀ موجودات مکمون است و دیگری قوۀ تجربۀ بشری؛ یعنی مجموع تجربه‌های که به میراث مردم رسیده و از آن به عقل مکتسب یا عقل بالمستفاد تعبیر می‌کنند و این عقل نیز در نتیجۀ تجربه‌ها روزمره در هرکس به فراخور استعدادش زیاد شده و می‌شود و این قوۀ دوم نیز غالباً خدمت‌گزار قوۀ نخستین قرار می‌گیرد» (بهار، ۱۳۸۹، ج۱: ۱۷۸)

بزرگان سالخورده با تکیه بر تجربه‌های خویش به نصیحت و ارشاد جوانان می‌پردازند. در این میان، پند بزرگان دانا از ارزش ویژه‌یی برخوردار است و جوانانی که گوش جان به پند بزرگان می‌سپارند، به بهره‌ورزی و خوشبختی راه می‌یابند. توصیۀ بزرگان همواره آن بوده تا جوانان این نصایح را از جان کرده گرامی‌تر دارند.

زان جـوانی که در سر افتادش　　نامد از پند پیر خود یادش
چون جوان جوش در نهاد آرد　　پند پیران کجا به یاد آرد
(نظامی، ۱۳۷۸: ۵۳۹)

بدون شک، یکی از پندها و توصیه‌های حافظ نیز که خود در عمل سخت بدان پایبند بود، استفاده از راهنمایی‌های پیران و بزرگان کرده است. این پیر و بزرگ که حافظ گاهی از او به «خضرع» گاهی به «شعیب ع» و زمانی هم به «پیرمغان» و «مرغ سلیمان ع» تعبیر می‌کند، سرشار از آگاهی و تجربه است، به گونه‌یی که گوش شنوا داشتن در برابر پندهای او، هدف را نزدیک می‌کند و شخص را از

گمراهی و سرگردانی می‌رهاند. فقط حق تعالی از اسرار دهر مطلع است و کسی نخواهد توانست معمای هستی را با علم و حکمت حل نماید.
بنابر این حافظ به مخاطب می‌گوید واقعیت‌ها را بنگرید و بر پایهٔ آن‌ها زندگی خویش را بنیاد نهید و کمتر در صدد کشف راز کشف‌ناشدنی دهر برآیید و البته بیان این مسایل چیزی جز واقع‌بینی او برای زندگی اجتماعی نیست:

نصیحت گوش‌کُن جانا که از جان دوست‌تر دارند جـوانان سـعادت‌مند پند پیرِ دانا را
(حافظ، ۱۳۷٦: ۳)

بدون تردید، همیشه بزرگان جهان‌دیده، درستکاری را سرلوحهٔ همهٔ امور می‌دانند و تعجیلی را که سبب تخریب شود، جایز نمی‌دانند و با تأنی و تأمل به امور می‌پردازند.

به غـــرض بنـــدگی دیـــرآمـــدم دیـــر وگـــر دیـــر آمدم شـــیر آمدم شـــیر
چه خوش گفت این سخن، پیر جهانگرد که دیر آی و درست آی، ای جوانمرد
(نظامی، ۱۳۷۸: ۹۰)

سعدی همواره به درک و شنوا بودن گوش جوانان را به سخن بزرگان هشدار داده است:

الا تا نشنوی مدح سخن‌گوی که اندک مایه نفعی از تو دارد
(سعدی، ۱۳۸۹: ۱۷۷)

**۲ ، ۱ ، ۲ . پشتیبان و اعتبار منطقی**

شنیدن سخن بزرگان از روی ارادت، لازمهٔ دستیابی به علوم دیگر است. سعدی مقدم دانستن رفع خطاهای خویش بر خطای دیگران را به جوانان توصیه می‌کند و می‌گوید اگر می‌خواهی بر تو ایراد و خُرده نگیرند، پیش از دیگران، خود به دنبال خطاهای خویش باش و در اصلاح خویش کوشا باش:

بشـــنو به ارادت ســـخنِ پیـــرِکـــهن تا کار جـهان را تو بدانی ســـرو بُن
خواهی که کسی را نرسد بر تو سخن تو خود بنگر آنچه نه نکوست مکُن
(همان: ۸۴۵)

براهین و دلیل‌نمایی بر سخن بزرگان از ویژگی‌های شاخص آنان است. سعدی به عنوان استاد سخنوری با استدلال به پردازش نکات اخلاقی می‌پردازد و با اقناع ذهن مخاطب، او را به موافقت با نظر خویش وادار می‌سازد.

قناعت، توانگر کند مرد را خبر کُن حریص جهانگرد را
(همان: ۳۳۳)

**۲ ، ۱ ، ۳ . پند و اندرز**

شاعران چون همیشه در میان مردم زندگی می‌کنند و از درد و غم و شادی مردم آگاه اند و به ویژگی‌ها و نیازهای مادی و معنوی مردمان آگاهی دارند. بنابر این شاعران متعهد و با خدا می‌خواهند که با

همین دردها و الم‌های مردم خود را شریک بدانند و دردها و آرمان‌های مردم را نمایان کنند و با پند و اندرز، مردم را به ویژگی‌های درونی و بیرونی خود آشنا سازند:

ای دل از احوال عالم باش داییم با خبر طمطراق خواجگی روزی سه‌چاری بیش نیست

(ابن یمین، ۱۳٦۳: ۳۳۱)

بدون شک، تار و پود معنایی در بسا از سروده‌های شاعران به صورت پند و اندرز انعکاس یافته و با دید هوشیارانه در مبانی فلسفی، اجتماعی، اخلاقی خلاصه می‌شود و سپس با ترکیب شدن با لعاب عشق و مستی و صبر و شکیبایی، فضل و دانش، انسان را به دگرگونی درونی در این دنیا هدایت می‌کنند.

گر بدانی فریب دنیی دون دل به جان آیدت ز صحبت او

(همان: ۵۰۵)

نوشـــته یافـــتم امـــروز بر دری بیـــتی کزو دلم همه خون گشت و دیده ام پر درد

خوش است قصر حیات نگارخانهٔ عمر ولی چه سود که مرگش خراب خواهد کرد

(همان: ۴۰۳)

به یقین موعظه و نصیحت از روش‌های مهم تربیت و سازندگی انسان است و کاربردی عام و فراگیر. در بارهٔ اهمیت موعظه همین بس که خداوند در قرآن کریم به موعظهٔ انسان پرداخته و قرآن را کتاب پند و موعظه نامیده است.

اصولاً اشعار به سبب آهنگین و وزین بودن، آسان‌تر به ذهن سپرده می‌شوند، لذا برای موضوعات پند و اندرز آنان را به نظم در می‌آورند. به علاوه اشعار پندآموز بسیار اثرگذارتر از متون خواهند بود؛ چراکه از خلاقیت زبانی برخوردار است. از آنجا که غالب شعرای دوران پیشین و سنتی از علوم گوناگون طب، نجوم، فقه و حکمت و... بهره‌مند بوده اند. «عرصهٔ ادب تعلیمی گسترده است و به جز آثاری که در راستای تعلیم و به خاطر سپردن علوم مختلف مانند صرف و نحو، طب، ریاضیات و ... سروده و نوشته می‌شد، بسیاری از آثار ادبی نیز موضوع یا اندیشه‌ای را به مخاطب انتقال می‌داد و مخاطب از طرق آن به دیدگاه و اندیشه‌های اخلاقی و تربیتی دست می‌یافت.» (یلمه-ها، ۱۳۹۵: ۷)

غالب اشعار شاعران حول پند و نصیحت و موعظه و... آورده شده و در جهت ترغیب و تشویق مخاطبان به امور خیر و نیک پرداخته است. همان‌گونه که سنایی «سخنش را عرصهٔ علم و توحید می‌داند؛ زیرا پند و اندرز در آن بسیار است و در گنجینهٔ اشعارش علوم، امثال، صفات و پند نهفته است. (نبی‌لو، ۱۳۸٦: ۴۸)

جای شک نیست که شعرای اخلاق‌گرا بر این باور اند که هر اثر ادبی باید بیانگر پیامی اخلاقی و مملو از پند و اندرز باشد؛ زیرا وظیفهٔ ادبیات را رواج و گسترش اخلاقیات می‌دانستند. گرچه گاه مجور به رعایت مصالح و منافع قدرت‌مندان بودند و از هدف اصلی خود بازمانده اند.

در بخش داستانی از ادبیات تعلیمی «غرضِ اصلی بیشتر تفهیم و تعلیم همان نتایج اخلاقی و اندرزهای مطرح در داستان است. مقصودِ اصلی از پراختن به این داستان‌ها اغلب نمودار کردن خوب و بد زندگی و آموزش طریق رسیده به درجات عالی و سعادت و رستگاری بر مبنای بینش نویسنده به خواننده است.» (پورنامداریان، ١٣٨٦: ١٦۴)

شاهنامهٔ فردوسی نیز، جای جای مشحون از نصایح و مواعظ است. فردوسی هیچ فرصتی را برای پند و اندرز از دست نمی‌دهد. شاهنامهٔ جای حضور پیرپهلوانانی‌ست که با تجربه‌های اندوختهٔ خود، پیروزی‌های خود را به جوانان هدیه می‌کردند. از این‌رو پادشاهان همواره بزرگان کارآزموده را در امور کشوری و لشکری دخیل می‌کردند و از ایشان پند و اندرز می‌گرفتند. فردوسی توجه به اندرز بزرگان و تَرکِ تندی در رفتار را به جوانان توصیه می‌کند و اشاره می‌کند که تندی و تیزی در رفتار، شایستهٔ خِردمندان نیست.

به گو درز گفت این سخن در خور است　　لبِ پیر با پند نیکو، تَر است

خِردمند باید دل پادشا　　که تیزی و تندی نیارد بها

(فردوسی، ۱۳۸۴: ۱۸۳)

مثنوی مولانا مشحون از پیام‌های اندرزگونه است. مولانا همواره مردم را به سپاس و شکرگزاری دعوت کرده است.

شُکر کن مر شاکران را بنده باش　　پیش ایشان مرده شو پاینده باش

(مولوی، ۱۳۹۱، ج۱: ۲۲)

**۲ ، ۱ ، ۴ . آزادگی و توجه نکردن به مال و ثروت**

شاعران در رابطه به آزادگی و توجه نکردن به مال و ثروت همیشه تأکید کرده اند و جوانان را به قناعت و آزادگی رهنمون می‌کنند. چون گاهی انسان فراموش می‌کند که زندگی او جاویدان نیست و روزی که قرار باشد از دنیا برود ثروت دنیوی نمی‌تواند لحظه‌ی به زندگی او بیفزاید. سعدی این لطیفهٔ اخلاقی را این گونه بیان می‌کند:

خبر داری ای استخوانی قَفَس؟　　که جان تو مرغی است نامش نَفَس؟

چو مرغ از قفس رفت و بگسست قید　　دگر ره نگردد به سعی تو صید

سکندر که بر عالمی حکم داشت　　در آن دم بگذشت و عالم گذاشت

مُیَسّر نبودش کز او عالمی　　ستانند و مهلت دهندش دمی

(سعدی، ۱۳۸۳: ۱۲٦)

ابن یمین در رابطه به آزادگی و انسان‌های آزاده نظر نیک دارد و به مردم به ویژه به جوانان پند می‌دهد که انسان باید قناعت پیشه کند و از ثروت اندوزی بپرهیزد. او «خسیسی و مال‌پرستی و دنیادوستی و تملق و مداهنه پیش ناکسان را امری قبیح شمرده و از مردمِ بَداَصل دون‌همت و رَذِل و

پست شکوه سر داده است؛ در مقابل از نیکی و شرافت و اصالت انسان آزاده ستایش نموده است.» (حاکمی، ۱۳۸۲: ۱۳۹)

پادشاهی نزد اهل معرفت آزادگی‌ست هـرکه بندِ آرزو بگـــشاد از دل پادشاست
گـــرد و خاکِ آســتانِ کُلبهٔ آزادگی گر خِرد دارد کسی چشم خِرد را توتیاست
(ابن یمین، ۱۳۶۳: ۳۳۳)

پنج‌روزی که در کشاکش غم در ســرای سپنج خواهی بود
گــر فزون از کــفاف می‌طلبی طالِبِ درد و رنج خواهی بود
(همان: ۳۷۶)

او آزادگی را به وارستگی پیوند می‌زند و آن را نوعی عفت می‌داند و از صفات عاشقان صادق می‌شمارد. یقین دارد «جامعه‌ای را جامعهٔ موفق می‌دانند که در آن آزادگی مطرح باشد و بتواند سرنوشت نهایی خود را با قلم اختیار و انتخاب خویش رقم زند. توجه به انسان آزاده و تربیت عالی که مایه و پایهٔ کلیهٔ حرکات و فعالیت‌ها و جهت‌گیری‌های انسان را در مسیر کمال تشکیل می‌دهد، از اهداف تعلیم و تربیت امروزی‌ست و در این زمینه ابن یمین به این اشاره دارد که انسان بتواند از حقوق خود دفاع کند. هم خود به ایجاد شرایط مساعد برای آزادگی گام بردارد و هم با پیام‌هایش به آزادبودن و آزادگی ارزش بدهد.» (صافی، ۱۳۷۹: ۲۴۰)

زهد و عفت کز صفات عاشقان صادق است با فقیری خوش بود با شهریاری خوش‌تر است
خوب‌تر بر چــهرهٔ قــدرت نماید خال زهـد کِسوت عفت به قد کامــکاری خوش‌تر است
(ابن یمین، ۱۳۶۳: ۳۴۳)

همین‌گونه نظر شاعران صادق و آزاده این است که پیروی از آمال و تلاش برای دستیابی به آرزوهای بشری گرچه ارزشمند است؛ اما تعیین حدو حدود آن نیز می‌بایست مدِ نظر گرفته شود و این توصیه توسط مولانا به نظم کشیده شده است.

آرزو می‌خواه لیک اندازه خواه بر نتابد کوه را یک برگِ کاه
(مولوی، ۱۳۹۱، ج۱: ۸)

**۲ ، ۱ ، ۵ . غنیمت دانستن عُمر**

توصیه بزرگان و ادبا بر غنیمت دانستن عمر است. برباد دادن و به بیهوده سپری کردن لحظه‌های ناب زندگی به دلیل بازنگشتن دوبارهٔ آن، جز تأسف و دریغ حاصلی به بار نخواهد آورد؛ زیرا هر آنچه در این دنیا از کف آدمی برود بازیافتنی‌ست؛ اما به جز روزهای رفته از عمر که هرگز دوباره باز نخواهند گشت. به کار بردن واژهٔ عمر در جایگاه ردیف در ابیات زیر به عنوان واژه‌ای مهم و کلیدی، سبب برجسته‌تر شدن توجه شاعر بر این مطلب دارد:

می‌رود عُـــمرِ ما دریغـا عــمر مگذارش چنین خدا را عمر
عُمر بر باد می‌دهی حیف است باز نایـد گــذشته جانا عمر

(شاه نعمت الله ولی، ۱۳۷۴: ۳۴۳)

سعدی همیشه به نصیحت‌گری شهرت عام و تام دارد و هرگز مُشک وجودش را پنهان نساخته و فضای ادبیات را از بیان نصایح خویش عطرآکین ساخته است. سعدی در اشعار خویش به مغتنم شمردن عمر به جوانان توصیه کرده است.

صاحبا عمر عزیز است غنیمت دانَش    گویِ خیری که توانی ببر از میدانش
جای گریه است برین عمر که چون غُنچهٔ گل    پنج روز است بقای دهن خندانش

(سعدی، ۱۳۸۹: ۹۸۲)

نظامی نیز جوانان را به غنیمت دانستن فرصت‌های جوانی ترغیب می‌کند و آنان را به تجربه‌-آموزی از پند بزرگان توصیه می‌کند و به زبان هشدار با آنان سخن می‌گوید و واژهٔ «هان» را در مقام تأکید در آن امر آورده و کاربرد مکرر «هان» و تناسب لفظی آن مقصود شاعر را از آگاهانیدن و به تأمل واداشتن می‌رساند و می‌گوید:

ای پسر هان وهان تو را گفتم    که تو بیدار شو که من خفتم
تا جوانی و تندرستی هست    آید اسباب هر مراد به دست

(نظامی، ۱۳۷۸: ۴۳۹)

**۲ ، ۱ ، ٦ . تذکر و سفارش بزرگان**

شاعران همواره جوانان را توصیه به تلاش برای کاشت در دوران جوانی و برداشت در زمان پیری کرده اند. حال آنکه هر آنچه در جوانی در مزرعهٔ زندگی کاشته شود، به هنگام پیری از همان بهره خواهند برد؛ چراکه «هرکسی آن درود عاقبت کار که کشت.» (حافظ، ۱۳۷٦: ۳۷)

دهقان سال‌خورده چه خوش گفت با پِسَر    کای نور چشم من به جز از کِشته ندروی

(همان: ۳۰٦)

همین‌گونه فردوسی به کسانی که سال و ماه ایشان را نفرسوده است و هنوز جوان هستند یادآوری می‌کند و می‌گوید برای دادخواهی بهتر است که ایشان پند و اندرز بزرگان را سرلوحهٔ امور خویش قرار دهند تا داد از چرخ بی‌دادگر بستانند.

ابا نامداران چنین گفت زال    که هرکس که او را نفرسود سال
همه پند پیرانش آید به یاد    از آن پس دهد چرخ گردانش داد

(فردوسی، ۱۳۸۴: ۱۳۲)

اسدی طوسی نیز به غنیمت شمردن فرصت‌ها اشاره می‌کند و می‌گوید پیش از مرگ هشیار باش و نصیحت بزرگان را به جان و دل نیوشا باش. حتا اگر سخنان جوانان سودمند هم باشد باید پند بزرگان را ترجیح داد و بهتر دانست؛ چراکه بزرگان روزگار دیده و سرد و گرم چشیده اند و می‌بایست شأن اجتماعی ایشان را محترم شمرد.

بدو گفت پیش از شدن هوش دار    نِگر تا چه گویم به دل گوش دار

جـوان را اگـرچه سـخن سودمند　　ز پیـــران نکـوتر پـــذیرند پنـــد

(اسدی طوسی، ۱۳۸۹: ۳۱۵)

**۲ ، ۱ ، ۷ . توجه نمودن به علم و علم‌آموزی**

بدون شک، علم آموزی بزرگ‌ترین تذکر و هشداری‌ست که بزرگان بدان پرداخته اند؛ زیرا جهل خطری‌ست که مصیبتی پایان‌ناپذیر بر زندگی آدمی حاکم می‌سازد و هرگز گریزی از آن نیست و تنها راه علاج آن مدد جستن از علم و دانش و تجارب دیگران است.

علم چندان که بیشتر خوانی　　چون عمل در تو نیست نادانی

(سعدی، ۱۳۸۹: ۱۷۲)

سعدی با همان تجربه‌های ذهنی و درونی خویش اشاره به کوتاهی روزگار جوانی دارد و ارج نهادن به این دوران را کار زیرکان و عاقلان می‌داند و تعلل و بی‌توجهی را چون آفتی بر این روزگار تیزپا می‌داند.

روز بازار جوانی پنج روزی بیش نیست　　نقد را باش ای پسر کآفت بود تأخیر را

(همان: ۴۱۵)

جای شک نیست که شاعران همیشه رسالت و پیام خویش را از طریق پند و اندرز برای جوانان رسانده اند. چه بسا کسانی که به سبب دولت و مکنت به گرد آدمی جمع شوند و اینان به هنگام فقر از آنان دوری خواهند گزید. نظامی در این مورد اشاره می‌کند و احتراز از کسانی که دوستی را تنها به دلیل دولت و ثروت می‌داند منع می‌کند و در بیت زیر می‌گوید: پدرش که سرچشمهٔ حِکمت بود او را نصیحت کرده است تا از انسان‌های بداقبال و بدبخت، مانند تیر و با سرعت بگریزم و در نزد انسان‌های صاحب‌اقبال و نیک‌بخت جای گیرم.

پــدر کــز من روانش باد پر نور　　مــرا پیــرانه پنــدی داد مشهور

که از بی‌دولتان بگریزم چون تیر　　سرا درکوی صاحب‌دولتان گیر

(نظامی، ۱۳۷۸: ۲۰۲)

**۲ ، ۱ ، ۸ . گرامی داشتن و حرمت کردن**

شاعران همیشه جوانان را توصیه به تکریم و احترام کردن نموده اند. اسدی طوسی با تأکید به دانایی جوانان هرچند دانا و روشن‌فکر باشند، بازهم برایشان بهتر است تا در نزد بزرگان عاقل بارها و بارها مورد آزمون قرار گیرند تا خطاهایشان رفع گردد و به پختگی رسند. گرچه جوانان سری پرشور دارند و کینه‌توزی و جنگ‌جویی را شایستهٔ دوران جوانی می‌دانند، بزرگان کهن‌سال تدبیر و دانش را شایستهٔ کردار خویش شمرده اند. بدین ترتیب نزد خردمندان بهتر است که پیران، خردمند و خداجوی باشند و در مقابل جوانان، همچون یلانی پهلوان، خوش‌رفتار و گشاده دستی را اختیار نمایند.

جوانان گرچه دانادل و پرفسون　　بـــود نـــزد پیـــر آزمایـــش فـــزون

جوان کینه را شاید و جنگ را　　کـــهن‌پیـــر تـــدبیـــر و فـــرهنـگ را

خردمند بِه پیر و یزدان‌پرست    جوان‌گرد و خوش‌خوی و بخشنده‌دست
(اسدی طوسی، ۱۳۸۹: ۳۲۸)

همین‌گونه امیرخسرو دهلوی نیز به جوانان توصیه می‌کند و حتا آنان را به خدا قسم می‌دهد که حرمت پیران را داشته باشند. چون گاه جوانان با عدم رعایت احترام بر پیران موجب آزرده خاطری ایشان می‌گردند. این‌جاست که شاعر جوانان را به خداقسم می‌دهد که احترام پیرانی که جوانان و جوانی را عزیز نمی‌شمارند نگه دارند.

بهر خدای ای جوان تا بتوانی مدار    حرمت پیری که میل سوی جوانیش نیست
(امرخسروی دهلوی، ۱۳۸۰: ۱۵۶)

**۲ ، ۱ ، ۹ . نیک‌نامی**

نیک‌نامی در فرهنگ لغت به معنای حسن شهرت، خوش‌نامی و نیک‌نام بودن است. (دهخدا، ۱۳۷۷). نیک‌نامی در فرهنگ اسلامی بسیار مورد توجه بوده است. در قرآن کریم یکی از خواسته‌ها و درخواست‌های حضرت ابراهیم ع از خداوند نیک‌نامی است: «وَجعَل لِی لِسانَ صِدقٍ فی الآخِرینَ» (شعراء: ۸۴)؛ یعنی خداوندا برای من در بین مردم نام نیک قرار ده.
این ویژه‌گی بزرگ و برجستهٔ تربیتی را فردوسی در شاهنامه ذکر کرده است:

جز از نیک‌نامی و فرهنگ و داد    ز رفتار گیتی مگیرید یاد
(فردوسی، ۱۳۷۵، ج۳: ۱۹)

بدون تردید یکی از هدف‌های متعالی انسان نیک‌نامی‌ست و به‌دست آوردن نام نیک و سر انجام نیک به معنای جاودانگی‌ست، حتا برای آن می‌توان جان داد و از همهٔ نعمت‌های این جهانی گذشت. بنابراین، نظر و نیت شاعران نیک‌نام این است که انسان از نیک‌نامی نگذرد و به ویژه جوانان که بهترین سرمایه برای جوان همین نیک‌نامی‌ست. چون یکی از بزرگ‌ترین میراث‌های ماندگار فرهنگی در زندگی نیک‌نامی‌ست.

ز تو نام باید که ماند بلند    نگر دل به گیتی ندارد نژند
به گیتی ممانید جز نام نیک    هر آن کس که خواهد سر انجام نیک
همی گفت هرکس که مردن به نام    به از زنده، دشمن بر او شادکام
(همان، ج۲)

اگر توشه‌مان نیک‌نامی بود    روان‌مان بدان سر گرامی بود
و گر آز ورزیم و پیچان شویم    پدید آید آنگه که بیجان شویم
(هما، ج۱: ۲۲۲)

بنابراین فردوسی به این مسئله زیاد توجه نموده و نام نیک را برای انسان یک عمر دوباره می‌داند. می‌گوید که نام نیک انسان موجب عمر دوبارهٔ او می‌شود و در شاهنامه، بزرگ‌مهر در سن جوانی به جمع هفتادنفرهٔ حکیمان و دانایان دربار انوشیروان می‌پیوندد. او وقتی در جمع، زبان به

سخن می‌گشاید، همگان از دانش و هوش او حیرت‌زده می‌شوند و مشکلات و مسایل خود را از او می‌پرسند. یکی از پرسش‌های دانایان از بزرگ‌مهر این است: با چه کاری می‌توان نیک‌نام شد؟ بزرگ‌مهر در پاسخ می‌گوید: از گناه دور شوید همهٔ جهان را مانند وجود خود بدانید و آنچه را که برای خود نمی‌پسندید برای دیگران نخواهید:

چه سازیم تا نام نیک آوریم　　در آغاز فرجام نیک آوریم
بدو گفت شو دور باش از گناه　　جهان را همه چون تن خویش خواه
هر آن چیز کانت نیاید پسند　　تن دوست و دشمن دران بر مبند
دگر گفت کوشش ز اندازه بیش　　چه گویی کزین دو کدام است پیش
(همان، ج۸: ۱۲۳)

**۲ ، ۱ ، ۱۰ . نیکی و بدی**

انسان، نظر به اشاره‌های قرآن پاک از یک سو موجودی‌ست ضعیف، بخیل، ستمگر، جاهل، حیله‌گر، شیفتهٔ دنیا، طغیان‌گر، جدال‌کننده، فخرفروش، عجول، مغرور و کم‌ظرفیتی‌ست که در یک کلمه با بدی خو می‌گیرد؛ نکوهش می‌شود؛ اما از سوی دیگر موجودی برگزیده و گران معرفی شده که ملاک آن نیکی‌ست و با روح ملکوتی و کمال‌طلب از مقام فرشتگان نیز فراتر می‌رود. مصداق این نیکی و بدی در اعمال و رفتار انسانی بیانگر ویژگی‌ها و انتظارهای‌ست که در اشعار شاعران آشکار شده است.

ای دل از احداث روزگار نگردی　　بدکنش و زشتخو که نیک نباشد
(ابن یمین، ۱۳۶۳: ۳۶۳)

او به جوانان توصیه می‌کند که بدکنشی و زشتخویی از آفاتی‌ست که در مقابل نیک‌خصلتی قرار می‌گیرد و جبران ناپذیر است؛ اما هم صحبتی با نیکان را می‌داند که نیک‌بختی و نیک‌خصلتی را در پی دارد به مشک تشبیه می‌کند:

صحبت نیکان بود مانند مشک　　کز نسیمش مغز جان یابد اثر
(همان: ۴۲۵)

**۳ . نتیجه گیری**

آدمی فطرتاً طوری خلق شده است که در هر زمان و در هر مکان احتیاج به تعلیم و تربیت دارد. از زمان حضرت آدم تا حضرت خاتم النبین و مرتبت، همواره تشویش انسان بر این است که باید تعلیم و تربیت را بگیرد. این روند پس از اسلام به دست اصحاب معرفت، ادیبان، شاعران، متکلمان و همه روندگان راه شریعت و طریقت و حقیقت ادامه داشته و پیگیری شده است.

جای شک نیست که شعر تعلیمی در ادبیات و متون کلاسیک و سنتی با عناصر و ویژه‌گی‌هایی خاص و شناخته‌شده از انواع دیگر ادبی متمایز است؛ اگر چه در بسا از انواع دیگر ادبی، آموزه‌های

از تعلیم و آموزش نیز دیده می‌شود؛ اما زبان این نوع آثار، مستقیم و روشن و بدون هرگونه ابهام است و مخاطب به آسانی می‌تواند نکات اخلاقی و اندرزی را دریابد.

بی‌شک با بررسی جامعه‌شناسی هر روزگار، پی تغییر شیوه و نوع بینش و نگرش در تعلیمات بزرگان خواهیم بود. نجات آدمی و روشن نمودن جاده و جامعهٔ آرمانی که بشر همواره در آرزوی آن بوده، برای مخاطبان این نوع ادبی، بیشترین و بزرگ‌ترین هدف را در بر داشته است.

پس از واکاوی و تحقیق در رابطه به موضوع مورد نظر، مواردی را از نظر گذشتاندیم که در زیر به برخی از آن‌ها اشاره می‌نماییم:

۱ . ادبیات تعلیمی به عنوان منبعی ارزشمند موجب افزایش سطح آگاهی و دانش انسان از پدیده-های پیرامون است.

۲ . توجه به ارزش‌های اخلاقی و خوار شمردن زشتی‌ها و بر حذر داشتن از دنیادوستی و صفات مذموم و کسب فضایل، از مهم‌ترین اهداف ادبیات تعلیمی‌ست.

۳ . از بهترین کارکردهای ادبیات تعلیمی، حفظ ارتقای اخلاق در میان افراد جامعه به ویژه جوانان است.

۴ . اشعار تعلیمی در تشویق و ترغیب اندیشه‌های انسانی در زمینه‌های اخلاقی و تربیت نفس حائز اهمیت است.

۵ . در اشعار تعلیمی، شاعر نقش حافظهٔ جامعه را بازی می‌کند و نکاتی را که انسان طی زندگی روزمره از یاد می‌برد، به او یادآوری می‌کند.

٦ . شعرای اخلاق‌گرا معتقد اند هر اثر ادبی باید بیانگر پیامی اخلاقی و غنی از پند و اندرز باشد.

۷ . با ظهور شعر عرفانی، نوع دیگری از ادبیات تعلیمی متولد شد.

**۴ . سرچشمه‌ها**

۱ . قرآن کریم.

۲ . ابن یمین، محمود ابن یمین الدین. (۱۳٦۳). دیوان اشعار ابن یمین، به تصحیح محمدحسین باستانی راد. تهران: انتشارات کتابخانهٔ سنایی.

۳ . اسدی طوسی، ابونصر. (۱۳۸۹). گرشاسب‌نامه، تصحیح حبیب یغمایی، چاپ۲ . تهران: انتشارات دنیای کتاب.

۴ . اسلامی ندوشن، محمدعلی. (۱۳۷۰). جام جهان‌بین. تهران: انتشارات جامی.

۵ . امیرخسرو دهلوی، ابوالحسن. (۱۳۸۰). دیوان، با مقدمهٔ محمد روشن، چاپ۱. تهران: انتشارات نگاه.

٦ . بهار، محمدتقی. (۱۳۸۹). سبک‌شناسی، جلد۱. تهران: انتشارات امیرکبیر.

۷ . پورنامداریان، تقی. (۱۳۸٦). رمز و داستان‌های رمزی در ادب فارسی. تهران: انتشارات علمی و فرهنگی.

۸ . حافظ شیرازی، شمس الدین. (۱۳۷۶). دیوان حافظ، تصحیح محمد قزوینی و قاسم غنی، چاپ ۱۱ . تهران: انتشارات اقبال.
۹ . حاکمی، اسماعیل. (۱۳۸۲). طیران آدمیت. تهران: انتشارات باز.
۱۰ . دهخدا، علی اکبر. (۱۳۷۷). لغت‌نامه، زیر نظر محمدمعین و جعفر شهیدی. مؤسسهٔ انتشارات تهران.
۱۱ . ------------. (۱۳۳۰). لغت‌نامهٔ دهخدا، زیر نظر محمدمعین، چاپ ۱. تهران: انتشارات دانشگاه تهران.
۱۱ . سعدی، مصلح‌الدین. (۱۳۸۹). کلیات سعدی، تصحیح محمدعلی فروغی، چاپ۱۵. تهران: انتشارات امیرکبیر.
۱۲ . -------------- . (۱۳۸۳). بوستان، تصحیح غلام حسین یوسفی. تهران: انتشارات خوارزمی.
۱۳ . شاه نعمت الله ولی. (۱۳۷۴). دیوان شاه نعمت الله، مقدمهٔ سعید نفیسی، چاپ ۱. تهران: انتشارات نگاه.
۱۴ . شفیعی کدکنی، محمدرضا. (۱۳۷۲). «انواع ادبی شعر فارسی، رشد آموزش ادب فارسی»، سال ۸ ، شماره ۳۲.
۱۵ . شمیسا، سیروس. (۱۳۷۳). انواع ادبی، چاپ ۲. تهران: انتشارات فردوس.
۱۶ . صافی، قاسم. (۱۳۷۹). «پیام‌های تربیتی و رفتاری در اشعار ابن یمین»، مجلهٔ دانشکده ادبیات و علوم انسانی، دانشگاه تهران، شمارهٔ ۱۵۳ – ۱۵۴، ۲۳۵ – ۲۴۹ .
۱۷ . فردوسی، ابوالقاسم. (۱۳۸۴). شاهنامه، به کوشش سعیدحمیدیان، چاپ۴. تهران: انتشارات قطره.
۱۸ . --------------. (۱۳۷۵). شاهنامه، بر اساس چاپ مسکو، به کوشش سعیدحمیدیان. تهران: انتشارات قطره.
۱۹ . مشرف، مریم. (۱۳۸۹). جستارهای در ادبیات تعلیمی ایران. تهران: انتشارات سخن.
۲۰ . مولوی، جلال‌الدین محمد. (۱۳۹۱). مثنوی معنوی، به اهتمام رینولد نیکلسون، چاپ۱۸. تهران: انتشارات امیرکبیر.
۲۱ . نبی‌لو، علی رضا. (۱۳۸۶). «بررسی و مقایسهٔ دیدگاه‌های ادبی سنایی و نظامی دربارهٔ شعر، شاعر و مخاطب»، کاوش‌نامه، دانشگاه یزد، شمارهٔ ۱۴، ص ۴۳ – ۷۶.
۲۲ . نظامی، الیاس بن یوسف. (۱۳۷۸). کلیات حکیم نظامی گنجوی، تصحیح و حیددستگردی، با مقدمه‌یی از سعیدقانعی، چاپ ۱. تهران: انتشارات بهزاد.
۲۳ . یلمه‌ها، احمدرضا. (۱۳۹۰). «بررسی تطبیقی اشعار فردوسی و حافظ»، فصل‌نامهٔ پژوهش‌نامهٔ ادبیات تعلیمی دانشگاه آزاد اسلامی واحد دهاقان، سال سوم، شماره یازدهم، ص.ص. ۱۵۳-۱۷۵.
۲۲ . یلمه‌ها، احمدرضا. (۱۳۹۵). «بررسی خاستگاه ادبیات تعلیمی منظوم و سیر تطور و تحول آن در ایران»، پژوهش‌نامهٔ ادبیات تعلیمی، سال هشتم، شمارهٔ ۲۹، ص ۶۱ – ۹۰ .

# افغانستان کې د ښکاري مرغانو پیژندنه

**لیکونکی**: پوهنیار زاهدالله ذهین او پوهندوی غازی جان محمدي شیخ زایدپوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، بیولوژي څانګې استادان
**برېښنالیک:** zahidulla.koner@gmail.com

**لنډیز**
د ښکاري الوتونکو شمیر په نسبي توګه ډیر زیات دی او همدارنګه د بیلا بیلو په زړه پورې فعالیتونو لرونکي دي، نو پیژندل یې اسان کار نه دی. همدا سبب دی، چې د الوتونکو په باره کې پوره معلومات شتون نه لري. ښکاري الوتونکي مرغان په فالکوني فارمیس (Falconiformes) او سټریګي فارمیس (strigiformres) ارډرونو پورې تړاو لري. ټول ښکاري الوتونکي مرغان د ښکار کولو مهارت لري او ډېره تیزه الوتنه کوي. په دې ارډرونو کې عقابونه، بازان، باز ته ورته مرغان، هریر، ټپوسان، لامیرګایر(Lammergeyer)، سپاروهاورک (Sparohawak)، کب خوړونکی، منشي مرغه، جسد خوړونکي، شاهین، خړ شاهین، هوبي مرغان،کیسټریل، میرلین او بوم مرغان شامل دي. اکثره ښکاري الوتونکي د ورځې له خوا ښکار کوونکي دي خو ځینې د شپې له خوا هم ښکار کوي. د ښکاري الوتونکو مرغانو د ژوند کولو ځایونه صحراګانې، د ګرمو سیمو ځنګلونه او ساحلونه دي.

**کلیدي ټکي:** تغذیه، ستریګي فارمس ارډر، ښکاري مرغان او فالکوني فارمس ارډر.

**سریزه**
دا چې په طبیعت کې بیلابیل ژوندي موجودات ژوند کوي ، هر ژوندی موجود د ژوند کولو لپاره خپله طریقه او جلا ځانګړنې لري، چې د ژوندیو موجوداتو له جملې څخه ښکاري مرغان هم د ځانګړو او فوق العاده ځانګړتیاو لرونکي دي. ښکاري مرغان شمزۍ لرونکي حیوانات دي، چې د مرغانو ټولګي او فالکوني فارمس falconiformes په ارډر پورې تړاو لري، چې په طبیعت کې د ډیرو مشهورو حیواناتو څخه شمیرل کیږي. ښکاري الوتونکي له ډیره پخوا انسانانو پیژندل. د بابل له وختونو، په یونان او روم کې د عقاب ښکارې الوتونکې انځور په سکو او مډالونو کې پیدا شوی او د جنګ یو سمبول ګڼل شوی دی. د مصر فرعونیانو دوي ته د یو شاهي اسطورۍ درجه ورکړې وه. اوس هم د ډیرو ملکونو په بیرغ د عقاب ښکارې الوتونکی د ځواک نښه ده. پدې لیکنه کې د الوتونکو ټولګی، دښکاري الوتونکو ځانګړتیاوې، د ښکاري الوتونکو ډلبندي، عقابونه، بازان، باز ته ورته مرغان، لکه هریر، ټپوسان، لامیرګایر، سپاروهاوک،کب خوړونکی، منشي مرغه، جسدخوړونکي، شاهین، خړشاهین، هوبي مرغان، کیسټریل، میرلین او بوم مرغه تشریح شوي دي.

**موخې**

د دغې نیول شوې څېړه نیزې مقالې لنډې موخې په لاندې ډول دي

۱ –د ښکاري مرغانو پېژندل؛

۲ –د ښکاري مرغانو ځانګړتیاو، تغذیه، او اوسیدوځای په هکله کره معلومات ترلاسه کول؛

**مواد او کړنلاره**

دا یوه کتابتوني او ساحوی مقاله ده، چې په لیکلو کې یې د انټرنیټ، د فقاریه زولوژي مختلف کتابونو او علمي خارجي او هم داخلي مقالو څخه استفاده شوي ده.

**ښکاري الوتونکي مرغان**

الوتونکي په لاتین کې د اویس(Aves) او په یوناني ژبه کې د اورنس (Ornis) په نوم سره یادیږي. د بیولوژي هغه څانګه چې الوتونکي مطالعه کوي د الوتونکو پېژندنې(Ornithology) په نوم سره یادیږي. د ښکاري او ټولو الوتونکو بدن په بڼکو پټ شوي دی، بڼکې د عایق په توګه دنده سرته رسوي او د بدن د تودوخې درجې په تنظیم کې عمده رول لري. الوتونکي کولای شي، چې د یو ځای څخه بل ځای ته الوتنه وکړي، نو ځکه دوي کولای شي چې د اوسیدو لپاره ځاي پیدا کړي او هلته ژوندون ته دوام ورکړي. د ښکاري الوتونکو ډول ډول رنګونه او اوازونه د انسانانو لپاره ډېر په زړه پورې دي. له بله پلوه ښکاري الوتونکي د انسانانو لپاره د ساعت تیري یوه مهمه برخه ګڼل کیږي. ښکاري الوتونکي د نورو حیواناتو په پرتله په انساني ټولنو کې ډېر لیدل کیږي. له همدې کبله د انسانانو معلومات د هغوي په هکله ډېر زیات دي(۱،ص ص ۲۳۵–۲۳۷).

**د ښکاري الوتونکو مرغانو ځانګړتیاوې**

ښکاري الوتونکي هغه الوتونکو ته ویل کیږي چې خپله غذا د ښکار په واسطه لاس ته راوړي او ښکاري الوتونکو ته غوښه خوړونکي مرغان هم وایې.  اکثره ښکاري الوتونکي د ورځې له خوا ښکار کوي. ډېر یې کلهوال ژوند لري، خو ځینې یې په یوه سیمه کې ژوند اختیاروي، ځینې یې د حیواناتو له مړو جسدو څخه ځان تغذیه کوي او ځنې یې ژوندي حیوانات ښکار کوي. ښکاري الوتونکي معمولا د ورځي له خوا په رڼا کې د خپل لید په ذریعه ښکار کوي او ډېر وخت هغو سیمو ته د ښکار لپاره ځي په کومو سیمو کې چې نور مرغان ډېره ناسته کوي، لکه د ونو ښاخونه، د ډبرو د پاسه کېناستونکي مرغان او ځیني په زیاتو شنو وښو او یا د ځمکې له پاسه ښکار لټوي. ځینې یې د ماښام په شنه رڼا او تیاره کې خپل خواړه لټوي(۳،ص ص ۲۸۰–۲۸۲).

**د ښکاري الوتونکو ډلبندي**

ټول ښکاري الوتونکي په دوه ارډرونو ویشل شوي دي:

۱- هغه الوتونکي چې د ورځې په جریان کې ښکار کوی، نو دوي د ورځې ښکاري الوتونکو په نوم سره هم یادیږي.

۲- پدې اړډر کې تقریبا ۱۳۴ نوعې، ۲۷ جنسونه او دوه کورنۍ شتون لري. دا ښکاري الوتونکي مرغان معمولاً د شپې لخوا ښکار کوي.

د فالکوني فارمس (Falconiformes) په اردر کې ۲۸۶ نوعې، پنځه کورنۍ شتون لري، چې کورنۍ په لاندی توګه تشریح کیږي:

**الف:** اکسیپټریدای (Accipitridae)کورنۍ: په دې کورنۍ کې عقابونه (Eagles)، بازان (Hawks)، ټپوسان (Kites) او باز ته ورته مرغان (Buzzards) شامل دي. په دې کورنۍ کې ۲۱۷ نوعې شاملې دي.

**ب:** فانډیونیدای(Pandionidae) کورنۍ: په دې کورنۍ کې یوه نوعه شامله ده، چې د ماهی خور (Osprey) په نوم یادیږي.

**ج:** ساګیټاریدای(Sagittariidae) کورنۍ: په دې کورنۍ کې یوه نوعه شامله ده، چې د منشي مرغه (Secretarybird)په نوم یادیږي.

**د:** د کتارتیدای (Cathartidae)کورنۍ: په دې کورنۍ کې د نړۍ جسد خوړونکي (Vultures) شامل دي او په دې کورنۍ اووه نوعې هم موجودې دي.

**ستریګي فارمس اړډر(strigiformres Order)**

په دې اړډر کې تقریباً ۱۳۴ نوعې او ۲۷ جنسونه شتون لري، چې یوه کورنۍ یې ټې تونیدای(Ty_tonidae)په نوم یادیږي او بله کورنۍ یې سټریګي ډای(strigidae) په نوم یادیږي، ښه مثال یې د بوم مرغه (Bubo bubo)دی.

دا ښکاري الوتونکي د مږو، چونګښو، حشراتو او نورو الوتونکو څخه تغذیه کوي. دا ښکاري الوتونکي معمولاً د شپې له خوا ګرځي او ښکار کوي، خو ځیني یې دشپې او ورځې ګرځي او ښکار کوي. د دوي د لیدو قوه د شپې له خوا ډیره زیاته ده، دا ښکاري الوتونکي داسې معلومیږي چې ورمیږ نه لري، خو دوي اورمیږ لري او کولای شي خپل سر وڅرخوي. په دي اړډر کې لاندي ځیني نوعی تر مطالعي لاندي نیول شوي (۲،ص ۸۵).

**عقاب (Eagle)**

عقابونه د اکسیپټردای (Accipitridae) په کورنۍ او فالکوني فارمس (Falconiformes) په اړډر پورې تړاو لري. عقابونه په افغانستان کې مشهور ښکاري الوتونکي دي. دا ښکاري مرغان د افغانستان په شمالي برخو، په غرونو او لوړو برخو کې پیداکیږي. عقاب د ۶۶ سانتي مترو څخه تر ۱۰۲ سانتي مترو پورې اوږدوالې لري. د دې مرغانو د پښو پنجې غټې او د درندو مښوکو لرونکي دي. د سترګو لید یې ډېر قوی دی. هرعقاب کېدای شي چې جسد خوړونکي مرغه ته ورته والي ولري، مګر توپیر یې په لید او د خوړو د لټون په طریقه کې دی. عقاب ډېر وخت ژوندي مرغان او یا نور حیوانات ښکار کوي. خپل ښکار په هوا کې تعقیبوي او بلاخره په ځمکه کې له ناڅاپه کوزیدو وروسته یې ښکار کوي. عقاب له ډېره پخوا انسانانو پیژندلی. د بابل له وختونو په یونان

او روم کې د عقاب انځور په سکو او میډالونو کې پیدا شوي او د جنګ یو سمبول ګڼل شوی(۴، ص ص ۲۷۶-۲۷۸).



۱- انځور : عقاب

**بازان (Hawks)**

بازان د اکسیپټریدا (Accipitridae)کورنۍ اوفالکوني فارمس(Falconiformes) په ارډر پورې تړاو لري. بازان د افغانستان په هغو سیمو کې چې ځنګلات ولري ډېر زیات پیدا کیږي. د اکسیپیټرایډیا (Accipitridae) په کورنۍ کې دا نوم ځنې نورو مرغانو ته هم کاریږي، چې ریښتیني بازان ندي، لکه ټپوس، بوزارډ او هرير مرغان ځيني وخت د فالکونیدای (Falconidae) کورنۍ ځني مارغان هم پرې پيژندل کيږي لکه کره کارا او فالکون مرغان. د باز ډېر مرغان انسانانو ته له تاوان اړولو څخه زيات ګټور دي، مګر بيا هم د نړۍ په ډېرو سيمو کې د خلکو له تعصب سره مخ دي. معمولاً خلك يې په دې وجه نه خوښوي، چې په کورني مرغانو او وړو تي لرونکو حيواناتو حمله کوي، مګر سيمه له ضرر رسونکوخزندګانو لکه ماران او ځيني مضرو حشراتو هم پاکوي. د ښکار کولو لپاره له ډېرو تخنيکونو کار اخلي، خو ډېر عام تخنيك يې په منګولو نيول دي او په ښکار پسې له شا تېز تګ دی او د ښکار له نيولو وروسته د ښکار په مښوکه ټوټه کول دي او د نړۍ په ټولو شپږو لويو وچو کې پيدا کيږي. ډېر يې په ونه کې ځاله کوي، ځيني يې په ځمکه کې د لوړو وښو منځ کې او ځني د ځالې لپاره ډېريزه سيمه خوښوي. له درې څخه تر شپږو پورې هګۍ اچوي (۹، ص ۳۰۱).



۲ -انځور: باز.

**ټپوسان(Kites)**

ټپوسان د اکسیپټریډای (Accipitridae) د کورنۍ مرغان دي. کوچنی جوړښت، وړوکی سر، لنډه مښوکه، نري وزرونه او نرۍ لکۍ لري. د ټولې نړۍ په گرمو سیمو کې پیدا کیږي. ډېر ټپوسان له حشراتو څان تغذیه کوي، ځینې یې مرداري خوړونکي یا جسد خوړونکي دي، او ځیني یې خزنده گان ښکار کوي. په الوتنه کې لامبو وهونکي دي، چې ورو وزرونه وهي او د غوټې وهلو پر وخت کې زوایه یې حالت غوره کوي (۱۰، ص ۴۰۳).



۳- انځور: ټپوس

**شاهين (Falcon)**

شاهين عمومی ښکارې مارغه دی، چې د فالکو په جنس پورې اړه لري. دکورنۍ نوم يې فالکونيدای(Falconidae) دی. د ورځې لخوا ښکار کوي او له تېزې الوتنې پېژندل کيږي. دا مرغان تقريباً په ټوله نړۍ کې پيدا کيږي. د بدن اوږدوالي يې له ۱۵ تر ۶۰ سانتي مترو پورې رسيږي. خپله ځاله معمولاً په ونو، سوريو او يا هم په غارونو کې جوړه وي. د هګيو تعداد يې ځلور يا پنځه وي، د هګيو رنګ يې سپين وي. په خپلو هګيو ۲۸ يا ۳۵ ورځو پورې کښني تر څو بچيان له هګيو راووځي. خپل بچيان تر ۳۵ ورځو پورې په ځاله کې ساتي. د ځمکې په سر ډېره تېزه الوتنه کوي او د الوتنې پر وخت خپل ښکار پر ځمکه لټوي. ځنې فالکون مارغان د خپلې کچې يا له خپلې کچې واړه مارغان ښکار کوي. ځنې نور يې صحرايي سويان، لټکې، موږک او حشرات خوري (۱۱،ص۵۰۱ او ۱۲، ص۳۰۶).



۴– انځور: شاهين

**بوم مرغه (Bubo)**

دا مرغان ستريګي فارمس (strigiformres) اردر پورې تړاو لري. دا ښکاري الوتونکي لوی ګرد سر لري، سترګې يې لوي، مخکنۍ خواته راوتلي او د ښکو په واسطه پوښل شوي دي. پښې يې ښکې لري او د تيرو پنجو لرونکي دي. مښوکه يې قوي ده او پاسنۍ ژامه يې لاندې خواته کږه شوي. د بدن ښکې يې نرمې دي، چې د الوتلو په وخت کې کوم اواز نه توليدوي. د موږکانو، مږو، چونګښو، حشراتو او نورو الوتونکو څخه تغذيه کوي. دا ښکاري الوتونکي معمولاً د شپې له خوا ګرځي او ښکار کوي، خو ځيني يې هم د شپې او هم د ورځې ګرځي او ښکار کوي. د ليدو قوه يې د شپې له خوا ډيره زياته ده، دا ښکارئ الوتونکي داسې معلومېږي چې ورمېږ نه لري خو دوي اورمېږ لري اوکولای شي خپل سر وڅرخوي(۶، ص ۲۳۱).




۵- انځور: بوم مرغه

**هوبي مرغان (Hobby birds)**

دا ښکاري مرغان دي، چې د فالکو (Falco) جنس سره تړاو لري، د بدن کچه يې منځنۍ ده، تر ۳۳ سانتي متره پورې اوږده پيدا کيږي. نيله رنګه نصواري رنګ لري، لاندې سينه يې سپينوالی او په سپين رنګ کې توروالی هم لري او سري پښې لري. پښې يې په ښکو پوښلې دي. په اروپا، افريقا او منځني ختيځ کې پرته له عربستان څخه پيدا کيږي. دا د اسيا په ګرمو اونيمه ګرمو سيمو کې هم پيدا کيږي. غټې حشرې او واړه مرغان ښکار کوي (۵، ص ص ۱۵۰-۱۵۳).



۶- انځور: هوبي مرغان

**کره کار (Caracara)**

کره کار چې بل نوم يې د حيواناتو جسد خوړونکی باز (carrion hawk) هم دی. دا ښکاري مرغان فالکونی دای (falconidae)کورنۍ پورې تړاو لري او لس ډولونه لري. خوراك يې خزنده گان، ذوحياتين او نور مرغان دي. ډېر وخت له بيکاره موادو څخه ځان تغذيه کوي. د بدن کچه يې وړه ده خو بيا هم په ډېرو مرغانو تسلط لري. دا مرغان حمله کوونکی چلند لري او اوږدوالی يې ۴۰تر ۶۰ سانتي متره پورې رسيږي (۱۰، ص ۴۰۵).



۷- انځور: کره کار

**نتيجه**

ښکاري الوتونکي په فالکوني فارمس او ستريگي فارمس اردر پوري تړاو لري. ښکاري الوتونکي په ټولو براعظمونو، بحرونو او ډيرو جزيرو کې پيدا کيږي، چې د خپريدلو ساحه يې د جنوبي قطب او شمالي قطب ساړو سيمو ته غزيدلې ده. د سمندر د سطحې څخه نيولي د غرونو شنو، تر دې چې د ايورست په ۶۰۰۰ متره لوړوالې کې هم موجود دي. ځينې الوتونکي انفرادي او ځينې په اجتماعي ډول ژوند کوي. ټول ښکاري الوتونکي د ښکار کولو مهارت لري او ډېره تيزه الوتنه کوي.په دې اردرونو کې عقابونه، بازان، باز ته ورته مرغان، ټپوسان ، جسد خوړونکي، شاهين، خړ شاهين، هوبي مرغان،کيسټريل، ميرلين او بوم مرغان شامل دي. اکثره ښکاري الوتونکي د ورځې له خوا ښکار کوي، خو ځينې د شپې له خوا هم ښکار کوي. ډېر يې کډوال ژوند لري، خو ځينې يې په يوه سيمه کې ژوند اختياروي، ځينې يې د حيواناتو له مړو جسدو څخه ځان تغذيه کوي او ځيني يې ژوندي حيوانات ښکار کوي. ښکاري الوتونکي له شمالي قطب څخه تر استوايي عرض البلد پورې پيدا کيږي. د ژوند کولو ځايونه يې صحراگانې، د گرمو سيمو ځنگلونه، او ساحلونه دي. ددې مرغانو يوه جوړه په ۱۵کېلومتر مربع کې پيدا کېدل معمول ده او په کومه سيمه کې چې ژوند کوي په زياته پيمانه پيدا کيږي. ښکاري الوتونکي له ډېره پخوا انسانانو پېژندلي. د بابل له وختونو په يونان او روم کې د عقاب انځور په سکو او مډالونو پيدا شوي او د جنگ يو سمبول گڼل شوی. په باز باندې ښکار کول يو قديمي سپورت دی چې له (Far fate)دورې

څخه بې خلك كوي. په باز باندې د ښكار انځورګري، چې د (Hetytaes) پخواني اروپايي هنديانو كړې وه تاريخچه يې د زېږېديز كال څخه ۱۳پېړۍ وړاندې ده. له دې پرته داسې سمڅې موندل شوي چې د ماقبل تاريخ دي او په بازانود ښكار انځور ګري په ديوالونو شوې اروپايان او انګريزان په باز باندې ښكار سره په منځني ختيځ كې اشنا شوي.

ښكاري الوتونكي د انسانانو او نورو حيواناتو سره اړيكې لري. انسانانو د ډير پخوا څخه د ښكاري الوتونكو څخه د لباس لپاره ګټه پورته كړې. همدارنګه د ښكلا، اواز اوريدلو لپاره يې ښكاري الوتونكي ساتلي. سربيره پردې، د ښكاري الوتونكو اهميت هم په دې كې ډير زيات دی، چې ځينې مضرې حشرې او ځينې نور مضر حيوانات، چې نباتاتو ته زيان رسوي، له منځه وړي.

د الوتونكو ژوند د(Jurassic) له دورې څخه پيل شوي او تر اوسه دوام لري او د هغوي ۸۶۰۰ مختلفي نوعي پيژندل شوي دي، چې ټول په دوو فرعي ټولګيو كې طبقه بندي شوي دي. دوهم فرعي ټولګي ني ارنايتس كې ټول ښكاري او نور الوتونكي شامل دي او د حقيقي الوتونكو په نامه سره يادېږي. دوي كې د سينې هډوكی راوتلی او تيره شانته وي يا داچې هموار او تيره نه وي.

**وړانديزونه**

۱ –د هيواد ټول وګړي دې د ښكاري مرغانو د ښكار كولو څخه ډډه وكړي.

۲ – ځنګلات، چې د ښكاري الوتونكو پناه ګاه ده، د دوي د قطع كولو څخه مخنيوی مهم او لازمي دی.

۳ –پكارده، چې د ټولو مهاجر شويو ښكاري مرغانو د بيرته راتګ لپاره لازمي كړنې ترسره كړو.

۴ –څرنګه چې ښكاري مرغان ډېر قيمت لري، نو اړينه ده چې، حكومت ددي ساتنه وكړي.

۵ –د هيواد د اقتصاد د پياوړتيا لپاره د ښكاري مرغانو لپاره په باغ وحش كې ځانګړې ځای ترتيب او جوړ شي.

۶– ځينې مضره الوتونكي شتون لري، چې كښتونو او د باغونو حاصلاتو ته توان رسوي، نو مهمه ده، چې ښكاري الوتونكي وروزل شي او د مضره الوتونكو سره په كلكه مبارزه وشي.

**ماخذونه**

۱ –بابكر خيل، ذاكره.فقاريه زولوژي: ننګرهار پوهنتون، (ص ص۲۳۷–۲۳۵)، (۱۳۹۴).

۲– جلال، احمدشاه. ګل سليم، شرافت. زولوژي: نشر پوهنتون كابل، (ص ص ۲۸۰–۲۸۴)، (۱۳۶۲).

۳– فضلي، عبدالقادر. عمومي ژولوژي: د تخنيكي او مسلكي زده كړو اداره.(ص ۸۵). (۱۳۹۲).

۳ –بصير، عبدالقدير.عمومي بيولوژي، لومړی ټوك: كندهارپوهنتون، (ص ص–۲۷۷–۲۷۶ ۲۷۸)).(۱۳۹۶).

۵ –صابر، عبدالواسع. عمومي بيولوژي: كابل پوهنتون. (ص ص۱۵۰––۱۵۳)).(۱۳۹۶).

۶ -نبي زاده، محمد نبي. زولوژي فقاريه: طبع رياست نشرات تحصيلات عالي کابل).۱۳۸۴).

۷ -ستانکزی، عبدالهادي.وزارت معارف، رياست عمومي تربيه معلم.(ص ص ۵۱-۵۰). (۱۳۹۱)

۸ -جلال، احمدشاه. بيولوژي عمومي. انتشارات عمومي کابل. (۱۳۶۳).

۹- Miller and Harley.. Zoology ٦th edition. McGraw Hill Higher Education USA.(P, 301). (2005)

۱۰- Tracy I. Storer Robert L. Hsenger. Elements of Zoology. McGraw-Hill Book Company. (P, 403 and P, 405). (1961)

۱۱- Solomon, Berg. Martin Biology sixth edition. Tamson learning INC.USA.(P, 501). (2002).

۱۲- Neil A. Campbell. Biology (fourth Edition). The Benjamin/ cumming company INC California.(P, 306). (۱۹۹٦).

# په کلیوالي پراختیا کې د کار آیجادونې( کار آفریني) رول

پوهنیار ثابت احمد باوري د شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځي، کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې علمي کادر غړی
پوهنمل ولي الله یوسفزی د شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځي، نباتاتو ساتنې څانګې علمي کادر غړی.
برېښنالیک: Sabet.bawary@gmail.com

**لنډیز**

کار آیجادونه نن ورځ د وګړو تر منځ د خلاقیت او نوښتونو د ملاتړ تر ټولو اغیزمنه او موثره لار بلل کیږي. څېړنو روښانه کړې چې، کار آیجادونه د یو هېواد له پرمختګ سره نیغې اړیکې لري. کار آیجادونه په ټولو ټولنو په ځانګړي ډول کلیوالي ټولنو کې زیاته مهمه ده، ځکه د پرمختیایي هېوادونو کلیوالي سیمې له ډېرو مزایاو بې برخې پاته دي. کلي په هره ټولنه کې واړه ټولنیز واحدونه بلل کیږي، خو د هېوادونو په پرمختګ او پېشرفت کې د همدغو وړو واحدونو(کلیو) ونډه ډېره بارزه او روښانه وي، د افغانستان کلیوالي ټولنې د ګڼو ستونزو، لکه: بیوزلي، بیکاري، مهاجرت، مناسبې غذا ته نه لاس رسی، بې سوادي، بې علمي او نورو... سره لاس او ګریوان دي. پورته ستونزو ته په کتو سره کلیوالي سیمې د نورو برخو تر څنګ کار آیجادونې او د کار آیجادونې زده کړې ته جدي اړتیا لري، تر څو په مټ یې نوموړیو ستونزو ته حل لاره پیدا شي. کار آیجادونه د کرنې او په ټوله کې د کلیو پراختیا لپاره تر ټولو اغیزمنه او مهمه وسیله بلل کیږي. دا څېړنه د ډول له مخې په کیفي او کتابتوني مطالعاتو کې شاملیږي، تر څو په مرسته یې په کلیوالي پراختیا کې د کار آیجادونې رول او اړتیا روښانه شي. د دې څېړنې پایلو روښانه کړې، چې کلیوالي اقتصاد یوازې له بهر څخه نه بلکې د کلیو په داخل کې د کار آیجادونې په مرسته د فرصتونو او سرچینو په پېژندلو پورې اړه لري، چې له همدغو پیژندل شویو سرچینو څخه په ښه شان ګټه اخیستنه کلیو ته ګڼ کاري فرصتونه او په ټوله کې اقتصادي رفاه ور په برخه کوي.

**کلیدي ټکي:** پراختیا ،کار آیجادونه،کارآیجادونې زده کړه، کلیوالي کار آیجاونه، کلیو پراختیا

**سریزه**

إن الحمد الله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ باالله من شرور أنفسنا وسیئات أعمالنا من یهده االله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا االله وحده لا شریك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله .په ټولو ټولنو کې نن ورځ بې کاري د یوې اساسي ستونزې په ډول مطرح کیږي، د نوموړې ستونزې حل د ډېری هېوادونو برنامه جوړونکي او سیاستمداران له یو لړ لویو خنډونو سره مخامخ کړي، حتی د ډېرو دولتونو سیاسي ثبات او زوال په همدې موضوع پورې تړلي(۸:۴۷).

د کار آیجادونې په برخه کې د مسلکي کسانو روزنه کولی شي، د نويو دندو را منځته کول او په عمومي ډول د یوې ټولنې پرمختګ دوه برابره لوړ او یوې باثباته پراختیا ته زمینه سازي وکړي(۱۲:۹۶). یوه عمده ستونزه چې په وروستیو کلونو کې په ډېرى پرمختیایي هېوادونو کې تر سترګو کیږي د کلیوالي سیمو اقتصادي رکود دی، چې په نتېجه کې یې بې کاري او مهاجرت ته زمینه برابریږي، د نوموړو ستونزو د حل په موخه کلیوالي کار آیجادونه د زیات ارزښت څخه برخمنه ده(۷۸:۲۴). کلیوالو وګړو ته په ټولو برخو په ځانګړي ډول د دوی د کار آیجادونې روحیې ته توجو په کلیوالي سیمو کې له مهمو اقتصادي او ټولنیزو عواملو څخه ګڼل کیږي، چې په مټ یې کلیوالي پراختیا او په ټوله کې د هېوادونو پراختیا را منځته کیږي(۲۷:۱۰۵). د پراختیا او کار آیجادونې د نړیوالې موسیسې د تعریف په اساس کارآفریني(کار آیجادونه) د کارآیجادونکو(کارآفرینانو) په وسیله د سرچینو داسې تخصص چې په پایله کې یې نوې سرمایه ګذاري تر سره او په نتیجه کې یې یو نوښت را منځته شي، عبارت دی( ۱۰۹:۳۲). کار آیجادونه په ټولنیزه ـ اقتصادي وده،ټولنیزه هوساینهاو همدارنګه د کلیوالو وګړو د ژوند د سطحې پهلوړولو، نويو کاري فرصتونو په را منځته کولو، کلیوالي تولیداتو څخه ګټه اخستلو، د عایداداتو په لوړولو، د مهاجرت او بیوزلۍ په کمولو او په پای کې د کلیو په پراختیا کې رغنده رول لوبوي(۱۳:۷۷).

د نړیوال سازمان د خپرې شوې احصائیې په اساس په نړۍ کې ۶۲ سلنه وګړي په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي، چې په ځینو افریقایي او آسیایي هیوادونو کې حتې نوموړې سلنه ۷۶ ته رسیږي(۱۶:۵۶). کلي په هره ټولنه کې د وړو ټولنیزو او اقتصادي واحدونو په حیث له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي، خو په اکثره پرختیایي هیوادونو کې کلي له ګڼ شمیر ستونزو سره لاس او ګریوان دي، د کلیوالو سیمو د ستونزو حلول ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري، تر څو د پراختیا په دایرهکې خپل ځای ثابت کړي(۳۴:۷۴۵). کلي د بې شمېره طبیعي، انساني او ټولنیزو سرچینو په لرلو سره کولی شي ډېرو نويو حرفوي او مسلکي کارونو ته لاره هواره کړي(۲۰:۳۷۵). د څېړنو پایلو روښانه کړې چې د اکثره پرمختیایي هېوادونو له نیمایي څخه ډېر کلیوال وګړي د کار آیجادونې له مهارتونو او تخنیکونو سره ډېره کمه یا هېڅ اشنایي نه لري، چې افغانستان هم له دې حالت څخه مثتثنی نه دی، نو اړینه ده چې کلیوالو وګړو ته په هر برخه کې د کارآیجادونې زدکړې تر سره شي، تر څو په مټ یې نویکاري فرصتونه را منځته شي. د دې څېړنې موخه داده تر څو په کلیوالي پرختیا کې د کارآیجادوني رول او اغیزې څرګندي، او په نتېجه کې یې د کلیو پراختیا ته زمینه برابره شي.

**د څېړنې موخې**

**د څېړنې اساسي موخې:** د څېړنې اساسي موخه په کلیوالي پراختیا کې د کار آیجادونې رول ده.

**د څېړنې فرعي موخې:** پورته اصلي موخې ته د رسیدو په پار څېړنه د لاندې فرعي موخو د تر لاسه کولو په لټه کې ده.

۱. د کليوالي پراختيا پېژندنه.
۲. په کليو کې د پراختيا په موخه د لازمو فرصتونو پېژندنه.
۳. په کليوالي پراختيا کې د کرنې د رول معلومول.
٤. د کار آيجادوني فرهنگ ته وده ورکول.
۵. په کليوالو سيمو کې کار ايجادونې ته زمينه برابرول.

**کړنلاره او کار توکي**

دا څېړنه له کيفي او توصيفي نوعي څخه گڼل کيږي، چې د کليو پراختيا، کرنې پراختيا، کارآيجادونې، کليوالي کار آيجادونې او نورو... په اړه معلومات له کتابونو، گڼ شمېر مقالو او انټرنيټي مطالعاتو څخه تر لاسه شوي.

**نظري برخه**

**کليو پراختيا**

په وروستيو څو لسيزو کې د صنعت او تکنالوژي له پرمختگ سره ښاري سيمو بې ساري وده وکړه، څرنگه چې د کليوالي وگړو عايد کم او له ليرو اقتصادي او ټولنيزو چوپړونو څخه برخمن دی، نو بناً د ښارونو چټکې ودې ور باندې منفي اغېزې وکړې، په جغرافيايي لحاظ د کليو لريوالی، د ټولنيزو چوپړونو نشتون، په کرنيزو چارو کې د تخصص کمښت، د کرنيزو ځمکو خراب حالت، د ښه مديريت نشتون او نور ډېر هغه عوامل دي چې د کليو د بېوزلۍ سبب شوي او د همدغې بوزلۍ په پايله کې کليوال وگړي دې ته مجبور شوي تر څو ښارونو ته مهاجرت وکړي، نو د دې لپاره چې په کليوالي سيمو کې فقر کم، د کليوالو خلگو د ژوند سطحه لوړه، ظرفيتونه يې لوړ او د کار زمينه ور ته مساعده شي د کليو پراختيا مفکوره رامنځته شوه(۱۴:۷۸).

په هر هېواد کې د کليو د پراختيا پروگرامونه د ملي برنامو يوه برخه وي او د همدې ملي برنامو په اډانه کې د کليوالو سيمو د اقتصادي او ټولنيز حالت د ښه والي لپاره طرح کيږي. دغه ډول برنامې چې دولت يا نور سازمانونه يې په کليوالي سيمو کې پلې کوي د کليوالوسيمو له اقتصادي او ټولنيزې رفاه سره مرسته کوي. د دريمې نړۍ په ډېرى هېوادونو کې همدغه برنامې د دولتونو له لارې د خپلوخاصو اقتصادي او سياسي موخو سره په همغږۍ ترسره کيږي او تر ډېره د برنامو او پروگرامونو په طرح او پلي کولو کې د دولت رول بارز وي(۳۴:۷۴۳).

څرنگه چې د کليو پراختيا د ملي پراختيا يوه برخه ده نو د کليو پراختيا کولای شي په کليوالو سيمو کې د مېشتو کم عايد لرونکو وگړو د ژوند د سطحې په ښه والي کې مرسته وکړي او د همدغو کليوالي وگړو هوساينه او خود کفايي د هيواد د ملي پراختيا په چوکاټ کې د يوې مهمې برخې په توگه وپېژني(۱۱:۶۵).

مخکې به د پراختیا لفظ د مدیرانو او سیاستمدارانو له لوري یوازې د کرنېزې پراختیا لپاره استعمالیده او کرنیزې پراختیا ته به د ملي پراختیا په فکر کتل کېدل، خو د څېړنو په اساس کرنیزه پراختیا د ملي پراختیا یوه وړه برخه تشکیلوي او هېڅ کله په یوازې ځان نشي کولای د خلګو ټولو اړتیاو او هیلو ته ځواب ویونکې شي، کلي ټولنیز جوړښتونه لري او په پراختیا کې یې مختلف عوامل ونډه لري، یوازې د کرنې له اړخه پرمختګ او د کسب او کار ایجاد نه شي کولای چې دومره لوی مفهوم افاده کړي. سمه ده چې د کرنې سکتور د غذا او کارو بار په برابرولو کې مرسته کوي اما په کلیو کې ټول وګړي کرنیزه ځمکه نه لري او د کلیو زیاتره ځمکه د زورواکو او ملکانو په لاس کې وي او بل دا چې د کرنې پرمختګ په اوږد مهال کې د کاریګرو کم ګمارنې ته زمینه برابروي، چې دا خپله د بې کارۍ د سطحې په لوړولو او فقر زیاتولو باندې اغېزه لري او له کلیوالي سیمو ښاري سیمو ته د مهاجرت سبب ګرځي(۳:۷۰). د هېواد د کلیوالو سیمو د اړونده مسائلو پېژندنه د ډېر اهمیت وړ موضوع ده، ځکه د ډېرو ټولنیزو ستونزو، لکه: د بیوزلۍ زیاتوالی، د نفوس چټکه وده، زیاتیدونکې بې کاري، نا آنډوله وده او نوروریښه په کلیوالو سیمو کې شتون لري(۳۱:۱۰۴۲). د نړۍ په ټولو ځانګړي ډول پرمختیایي هیوادونو کې د پراختیا له لویو موخو څخه یو هم د بې کاري کمول او کاري برخو ته وده ورکول دي. چې تر ډېره بریده په کلیوالي سیمو پورې اړه لري. د ډېرو پرمختیایي هیوادونو لپاره په وروستیو څو لسیزو کې د کلیو پراختیا موضوع له لویو ستونزو او ننګونو څخه ګڼل کیږي او کلیو پراختیا ته د اساسي اړتیاو د پوره کولو او په ټوله کې د ملي پراختیا د تر لاسه کولو په برخه کې د یوې مهمې ستراتیژۍ په ډول کتل کیږي. نو په همدې موخه د کلیو پراختیا لپاره مختلفې لارې چارې تجربه شوې، چې له ځینو خاصو څخه پرته نورو یې کومه د پام وړ پایله نه ده ورکړې. د نړۍ ډېری وګړي په کلیو بانډو کې مېشت دي او په سخته بیوزلۍ کې د ژوند شپې او ورځې سبا کوي، دا چې د کلیو اکثره وګړي بېوزله دي نو ځکه په پراختیا او پرمختګ کې د دریمې نړۍ د وګړو ونډه ډېره کمه او کم رنګه ښکاري. همدارنګه د همدغو هېوادونو په ښاري څنډو کې مېشت وګړي هم کلیوالي ستړه لري(۷:۹۸).

د نړیوال بانک په وینا د کلیو پراختیا د بېوزله کلیوالو وګړو د ټولنیز – اقتصادي ژوند د ښه والي او همدارنګه د فقر کمولو لپاره هر اړخیزه هڅه او مهمه ستراتیژي ګڼل کیږي. دا ستراتیژې باید په کلیوالو سیمو کې د تولیداتو کمیت(اندازه) او کیفیت(څرنګوالي) له ځانه سره ولري. که په کلیوالو سیمو کې د مختلفو محصولاتو تولید د کیفیت او کمیت له اړخه په ښه حالت کې قرار ولري، نو دا ستراتیژې به تر ډېره بریده بریالۍ وي. کلیو پراختیا باید کلیوالي ټولنه د عصریتوب په مټ له دودیزېانزوا څخه را بهر او له ملي اقتصاد سره یې همغږې او یو ځای کړي. کلیو پراختیا څو اړخیزه هڅه ده چې په یوه مشخص سکتور پورې نه محدودیږي او ګڼ شمېر ټولنیزې، طبیعي، اقتصادي، فزیکي او انساني برخې په خپله غیږ کې را نغاړي(۲۲:۳۷۵).

**کار آیجادونه**

کار آیجادونه د یو نوی کسب او کار د منځته راتګ(آیجاد) په معنا ده. چې په هغه کې کار ایجادونکی سړی د هغې نظرېې په اساس چې په همدغه فرد پورې تړاو لري داسې یو بستر برابروي تر څو له همدغې لارې وکولای شي خپله نظریه په محصول یا خدمت بدله کړي. کار آیجادونه مختلف ډولونه لري، چې هره نوعه یې د کار ایجادونکو وګړو د هغو تجربو په اساس چې په همدې لاره کې یې سرته رسولې، منځته راغلې. په هره ټولنه کې د کار آیجادونې پراختیا د همغه ټولنې د اقتصادي او ټولنیز وضعیت په کیفیت او ارتقاء پورې تړاو لري.


کار آیجادونه(Entrepreeneurship) یا د نوی کار پیدا کولو لغت د فرانسوي ژبې ریښه لري او د متعهد کېدو په مانا ده، نوموړی لغت د یو نوي فعالیت د شروع په بهیر کې د مهارتونو او وړتیاو د کارولو او خطر قبلولو په مانا ده. په ډېره ساده ژبه کار آیجادونه کولای شو د یو نوې سوداګرۍ په پیل کېدو تعبیر کړو، کار آیجادونه د نړیوال بازار په اقتصادي پراختیا کې حیاتي رول لري. د دقیقو تعریفونو په اساس کار آیجادونه د نوې سوداګرۍ د پیل او ډیزاین کولو د پروسې په توګه معرفي شوې. په پورته تعریف کې په ساده ډول کارآیجادونه د یو نوي واړه کاروبار پیلول او په غټه سطحه د یوې لوې سوداګرې طرحه کول، خطر قبلول او مدیریت په بر کې نیسي، چې په پایله کې یې مشخصه ګټه تر لاسه شي او هغه وګړي چې پورته سوداګري په لاره اچوي د کار آیجادونکي په عنوان پېژندل کیږي. د کار آیجادونې په اړه څېړنې او مطالعه د ۱۷ میلادي پېړۍ په وروستیو کې پیل شوي او په دې برخه کې د مشهور اقتصاد پوه ریچارد کانتیلون، چې د کلاسیک اقتصاد بنسټ ایښودونکی دی، هڅې د ستایلو وړ دي.

د کانټیلون په وینا، کار آیجادونه د یوه محصول لپاره د یوې ټاکلې اندازې پیسو تادیه کول او په نا معلوم مبلغ د همدغه محصول د خرڅلاو لپاره پرېکړه کولو په مانا ده. کانټیلون په تعریف کې هم د کار آیجادونې په پروسه کې د خطر قبلولو ته اشاره کړې ده، په یوشتمه میلادي پېړۍ کې کار آیجادونه له سوداګري څخه په لوړ مفهوم مطرح شوه، او زیاته ګټه یې خپله موخه وګرځوله. په همدې پیړۍ کې د نویو ارزښتونو په رامنځته کیدو لکه په ټولنیزه برخه د نوښتونو سره کار آیجادونه هم نوی مفهوم ځان ته غوره کړ، حتې په همدې پېړۍ کې د سیاسي کار آیجادونې کلمه هم د خلګو تر غوږونو ورسیده. یعنې یوازې له سوداګري سره تړلې کار آیجادونې ځان ته لوی ډګر خلاص کړ. په ۲۱ مه پېړۍ کې کار آیجادونه د یو خاص طرز په ډول معرفي شوه. چې ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي او علمي ګړنې په بر کې نیسي(۲۸:۱۵۰)

پورته تعریفونو ته په کتو سره کار آیجادونه د یو بدلون(تغییر) په ډول په نظر کې نیول کیږي او معمولاً وګړې د یو نوي کار یا سوداګري په پیل کې د خطر قبلولو سره مخامخ وي. کار آیجادونه تر اقتصادي ارزښت پورته نور ډېر لوړ فکتورونه لري، ځکه کار یو بعدي ماهیت لري او اقتصادي

ارزښت یې یوه وړه برخه تشکیلوي. د کار آیجادونه مفهوم معمولاً د یو نوي سوداګریز کار په پیل تمرکز لري او د نوي تجارتي کار پیل همېشه له خطرونو سره مل وي. باید انتظار ولرو چې د کار آیجادونې پروسه د بودیجې له کمښت، غلطو تصمیمونو، سختو دولتي سیاستونو او قوانینو، اقتصادي بحرانونو، په بازار کې د تقاضا کمښت او یا نورو ډېرو ناوړه عواملو سره مخامخ کیږي، چې په دې ټولو حالاتو کې ښه حوصله، ثبات او استقامت د کار آیجادونې د پروسې د بریالیتوب لپاره لازمې او ضروري دي. په اقتصادي برخه کې د کار آیجادونې لغت د نویو پدیدو او تکنالوژۍ په مټ په محصولاتو او چوپړونو باندې د بدلون وړتیا ته ویل کیږي. د دې تعریف په اساس، کار آیجادونه د یو نوي سوداګریز کار پیلول او یا هم د پخواني کار د پراختیا په مانا ده(۱۶۵:۹)

کار آیجادونه د ودې او پراختیا مهم ابزار(وسایل) ګڼل کیږي، په ځانګړې ډول کلیوالي کار آیجادونه کولی شي، په کلیوالي ټولنو کې نابرابري له منځه یوسي او له موجودو کمیابه سرچینو څخه په علمي ډول نوي کاري فرصتونه را منځته کړي تر څو په کلیوالو سیمو کې سرمایه اچونې ته لاره هواره شي. همدارنګه کار آیجادونه د کلیو لوې برخې وګړو ته په کاري فرصتونو سربېره په کلیو پراختیا کې مهم رول لوبوي(۱۰۱:۱۷).د کار آیجادونې مفهوم په لاندې شکل کې ښه شان روښانه شوی.




۱- شکل: د کار ایجادونې مفهوم(۱۶۰:۱۰)

اقتصاد پوهانو (Peak & Marshal) په خپله څېړنه کې روښانه کړې چې ځینې پوهان، لکه: شومپیتر، کار ایجادونکي د اقتصادي پراختیا تر ټولو مهم عامل بولي. د شومیتر په آند کار آیجادونکید فکر او ابتکار یو مدبر مدیر ده، چې همېشه په نوښتونو، خطرقبلولو، هوش او فکر سره طلایي چانسونه او فرصتونه را منځته کوي، کار آیجادونکی کولی شي په خپل نوښتګر فکر سره نوي مثبت تحولات را منځته کړي او یو ستونزمن کار په ګټور کار سره تبدیل کړي(۱۴۲:۱۹).

د کار ایجادونې مرحلې له یو لړ اجزاو او عناصرو څخه تشکیل شوې چې په لاندې جدول کې روښانه شوې.

۱ـ جدول

| | |
|---|---|
| کار ایجادونکی | هغه کس چې آګاهانه تصمیم نیسي تر څو یو نوی کاروبار پیل کړي |
| فرصت | په سیمه او بازار کې نوي فرصتونه تشخیص او تجزیه کوي |
| جوړښت | کار آیجادونکی تصمیم نیسي تر څو له فردي یا سهامي شرکت سره کار پیل کړي |
| سرچینې | د حمایت کونکو سرچینو(دولت) په شمول د هغو منابعو پېژندنه چې په کارو بار سرمایه ګذاري کیږي |
| پالیسي | د کار کلي موخې، د کار اچونې اجرایوي برنامې او پروګرامونه |

(۱۲۳:۲۹)

اقتصاد پوهان په دې آند دي، چې کار آیجادونه ټولنې ته درې ګټورې پایلې وړاندې کوي، چې عبارت دې له:

۱. پایداره، مولد او ګټور کاري فرصتونه
۲. په ټولنیزه، اقتصادي او محیطي برخو کې اغېزمن نوښتونه
۳. عواید او رفاه

**کلیوالي کار آیجادونه( کار افریني)**


په کلیو کې د شته سرچینو داسې نوښتګر استعمال چې په پایله کې یې نوي کاري فرصتونه را منځته شي کلیوالي کار آیجادونه بلل کیږي. کلیوالي کار آیجادونه د کلیوالو ټولنو د ظرفیت لوړونې او په ټوله کې د کلیو پراختیا لپاره یو راهکار ګڼل کیږي. په کلیوالو سیمو کې په حقیقت باندې د نوښتګرو نظریو بدلیدل د کلیوالي کار آیجادونې اصلي مفهوم ګڼل کیږي(۷۸:۱۸). کلیوالي کار آیجادونه د کلیو او ښارونو تر منځ د فاصلې د کمولو، نویو دندو را منځته کولو، د کلیوالي ټولنو د اقتصادي، فزیکي، ټولنیزې، محیطي او همدارنګه د باثباته پراختیا له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي(۲۷:۱۲۰). کلیوالي کار آیجادونه په اصل کې د کار آیجادونې له عام مفهوم سره هیڅ توپیر نه لري، یوازې په کلیو کې ځینو حاکمو ځانګړو شرایطو، لکه: د خطر زیاتوالي، د امکاناتو او منابعو کموالي، کمزوری مدیریت او نور... هغه څه دي چې کلیوالي کار آیجاونه یې له نورو برخو څخه بېله او یوازې کلیوالي ټولنې یې ورته مختص کړې(۳۰:۲۱۳). کارآیجاونه په کلیوالي ټولنو کې پټې سرمایې کشف او د ګټې وړ ګرځوي. د کار آیجادونې د زده کړیزو پروګرامونو په پلي کیدو سره په کلیو کې د کار آیجادونې واړه شرکتونه په فعالیت پیل کوي، چې په پایله کې یې کلیوال وګړي د خپلې اړتیا وړ توکو او چوپړونو ته لاس رسی پیدا کوي، او ورسره په څنګ کې وړو سوداګریزو کاروبارونو ته لاره هواریږي(۲۰:۳۷۷). مشهور اقتصاد پوه پترین په کلیوالي ټولنو کې کار آیجاونه دا ډول تعریفوي: اول، کلیوالي کار آیجادونه د یوې قوې په ډول شته سرچینې د بازار د بې پایه تقاضا د پوره کولو په موخه تنظیموي. دویم، کلیوالي کار

ایجاونه داسې یو نوښت دی چې له هیڅ څخه یو څه په لاس را وړي. دریم، د سرچینو داسې ترکیب چې په پایله کې یې ارزښت را منځته شي، کلیوالي کار آیجادونه بلل کیږي(۲۶:۱۲۰). په کلیوالي سیمو کې باید د کار آیجادونې کړنې(فعالیتونه) په کلیو کې شته ظرفیتونو، سرچینو او پوتنسیلونو ته په کتو تر سره شي، تر څو په دې برخه کې بریالیتوب تر لاسه او د کلیو باثباته پراختیا تضمین شي(۳:۷۳). نو لازمه ده چې په کلیوالي ټولنو کې د هر پروګرام له پلي کیدو وړاندې په کلیو کې شته ظرفیتونه، انساني او غیر انساني سرچینې تشخص او بررسي شي، او بیا همدغو سرچینو سره متناسب او کلیوالي اړتیاوو ته په کتو سره په مختلفو برخو کې د کارآیجاونې پروګرامونه طرح او پلي شي(۷: ۱۸۰).

د مایکل تودارو په آند کلیوالي پراختیا په ښاري پراختیا تقدم او لمړیتوب لري، ځکه د ښاري بې کاري او د نفوسو د تراکم ستونزې تر ډېره بریده په کلیوالي پراختیا سره د حل وړ دي(۱۳:۳).
کلي د کرنیزو تولیداتو سربیره چې د نفوس یوې لوې برخې ته یې د اوسیدو ځای او دندې برابرې کړي، د هیوادونو لپاره د پراختیا په پلان جوړولو کې ځانګړی اهمیت لري او د هیوادونو د ملي پراختیا له مهمو اجزاو څخه ګڼل کیږي(۱۱:۴۵). نن ورځ آقتصاد پوهان په دې نظر دي چې د کار آیجادونې په لاره د نویو کاروبارونو را منځته کولو ته د وګړو هڅونه د کلیوالي ستونزو په حل او اقتصادي رغونه کې ځانګړی رول لوبوي(۱۰۹:۱۹).
که موږ غواړو د کلیوالي پراختیا موخې تر لاسه کړو، نو اول باید د کرنې په پراختیا کار وشي، کرنه عصري شي، د محصولاتو تولید لوړ شي، د کرنیزو محصولاتو لپاره وړ او مناسب بازار پیدا او په ټوله کې کرنې ته هر اړخیز کار وشي، خو څېړنو جوته کړې چې د کرنې پراختیا له کار آیجادونې سره مستقیمې اړیکې لري او له کار آیجادونې پرته د کرنې پراختیا امکان نه لري(۱۰:۹۹).

**د کلیوالي کار آیجادنې د پراختیا لپاره لازم شرطونه**

په لاندې دویمه ګڼه شکل کې درې مهم او اساسي عوامل چې د کلیوالي سیمو د کارایجادونې د پراختیا لپاره لازم دي روښانه شوي، نوموړو عواملو ته نه پاملرنه د کلیوالي کار آیجادونې پراختیا او وده له ځنډ او خنډ سره مخامخ کوي.




۲- شکل: د کار ایجادونې مفهوم(۸: ۳۳)

**د کار آیجادونې زده کړه**

بې له شکه چې په هره ټولنه کې د کار آیجادونې په ترویجي پروګرامونو کې زده کړه له مهمو او اړینو ابعادو څخه ګڼل کیږي، د کار آیجادونې زده کړې ته د ۱۹۵۰ لسیزې په وروستیو او ۱۹۶۰ لسیزې په پیل کې هغه وخت چې (مک کله لند او مور) له خوا د کار آیجادونې مسلکي بحثونه مطرح شول تمایل ډېر شو(۹۰:۲۳). پخوا داسې فکر کېده چې کار آیجادونکي په ذاتي ډول ځینې ځانګړنې لکه نوښت، خطر قبلول، تصمیم نیونه او نورې لري، چې د دوی له تولد سره یو ځای په دوی کې موجودې دي، خو څېړونکي نن دې حقیقت ته رسیدلي چې کار آیجادونه د نورو ټولو ځانګو په شان د زده کړې وړ ده او په دې برخه کې مناسب زده کړیز پروګرامونه کولي شي، دا پروسه لا پسې ګړندۍ کړي. همدارنګه د کار آیجادونې زده کړه د ټولنو په اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري پراختیا کې رغنده رول لوبوي(۱۲:۱۵۰). کار آیجادونه د نویو کاري فرصتونو په را منځته کولو او عواید زیاتولو سره اقتصادي پراختیا ته لاره هواروي، چې په لویه کې د ټولنې له پراختیا سره مرسته کوي(۹:۱۲۳). د کار آیجادونې اهمیت او په هیوادونو یې اغېزیو ته په کتو سره د ډېری دولتونو سیاستمداران او برنامه جوړونکي په دې هڅه کې دي، تر څو په مختلفو او ګڼو برخو کې کار آیجادونه را منځته کړي، خو د کار آیجادونې د ترویج او کارایجادونکو د زیاتوالی یوازنۍ لار په دې برخه کې رسمي او غیر رسمي ښوونیزې برنامې دي، چې باید زیاته توجه ورته وشي( ۲۳:۱۰۲). د کارآیجادونې د پراختیا او ودې لپاره تر ټولو غوره لار د ښوونې روزنې او لوړو زده کړو په چوکاټ کې د کار ایجادونې د زده کړیزو مرکزونو را منځته کول بللای شوو، تر څو په مټ یې د کار آیجادونې په برخه کې په لوړو زده کړو سمبال زده کړیالان د کار بازارته وړاندې شي(۳۱:۱۰۴۵). د (۱۲:۱۵۰) د پترین په آند تر اوسه د کار

آیجادونې زده کړې ته ځانګړې موخې نه دې تعریف شوې، خو په خلاصه توګه د کارآیجادونې زده کړیزې دورې د لاندې موخو د تر لاسه کولو په لټه کې دي:

I. د نویو کاروبارونو لپاره د بالقوه کارآیجادونکو پېژندل او روزنه.
II. د نویو دندیزو فرصتونو د منځته راتلو په موخه د کار ایجادونکو حمایت او ملاتړ.
III. کار ایجادونې ترویج.

د ځینو نورو پوهانو په آند د کارآیجادونې زده کړه د لاندې موخو له پاره تر سره کیږي:

I. د کار آیجادونې په اړه د پوهې تر لاسه کول.
II. د اقتصادي فرصتونو د را منځته کولو په موخه د مهارتونو تر لاسه کول.
III. د کار آیجادونې د مهارتونو او استعدادونو زیاتول.
IV. د کار آیجادونې څخه د مرستې او حمایت د روحیې پیاوړي کول(۲۵:۱۰).

د کار آیجادونې زده کړه، ټولې هغه کړنې په بر کې نیسي، چې موخه یې د ذهنیتونوروښانتیا، په تولید او نورو برخو کې د نوښتونو او مهارتونو رامنځته کول وي. د کار آیجادونې زده کړه د عمومي زده کړو هغه برخه ده چې د کاروبارونو د پراختیا، نوښتونو د رامنځته کولو او مهارتونو لوړولو په موخه کار آیجادونکو ته ارائیه کیږي( ۵:۲۷۰).

په عام ډول د کار آیجادونې زده کړه د کار آیجادونکو په روزنه او په کلیوالي ټولنو کې د نویو اقتصادي فرصتونو په را منځته کولو سربیره د کلیو په پراختیا کې موثر رول لوبوي( ۱۹: ۹۷).

**کرنیزه کار آیجادونه**

که چېرته د کار آیجادونې ټول اصول او قوانین د کرنې په برخه کې پلي شي، دې ته کرنیزه کار آیجادونه ویل کیږي. په دې موخه چې کرنې پراختیا موندلې وي، نو باید کرنیزه کار آیجادونه تر سره شي، خو کرنیزه کارآیجادونه د وړ او مسلکي کارآیجادونکو په مټ مخ ته تلای شي، د کرنې د برخې یو کار آیجادونکی چې وکولی شي د کرنې په پراختیا کې موثر واقع شي او زیاته ګټه تر لاسه کړي، باید لاندې ځانګړنې ولري:

I. د با کیفیته توکو تولید.
II. د منابعو له بې ځایه لګښته مخنیوی کول.
III. په کم وخت کې د ښه کیفیت لرونکو توکو تولید(وخت مدیریت).
IV. له ستونزو او محدودیتونو سره ښه او چټک برخورد.
V. د نویو سرچینو کشفول او ورڅخه وړ ګټه اخیستنه(نوښت او خلاقیت).
VI. د را تلوونکي په اړه وړاندوینه لرل.
VII. له سرچینو په خپل ځای کې ګټه اخستنه

مخ پر وده هېوادونو کې باید د کرنیزې کار آیجادونې د پراختیا په موخه لاندې پروګرامونه پلي شي:

I. د کار آیجادونې له لارې پر نویو تولید شویو کرنیزو توکو ډېر تمرکز.
II. د کرنې په برخه کې کاملاً د نویو او رقابتي ماډلونو او سرمایو په نظر کې نیول.
III. د کرنې په برخه کې له کار آیجادونکو څخه د حمایت او ملاتړ ادارو را منځته کول.
IV. د کار آیجادونې د پراختیا په موخه عمومي او خصوصي پانګه اچونې ته لاره هوارول.
V. د کرنې له زړو ماډلونو څخه فاصله نیول(۶: ۱۸۹).

د کرنې په برخه کې کار آیجادونه د لاندې دلایلو په اساس د ارزښت وړ ده:

I. اقلیمي، اقتصادي او ټولنیزو شرایطو ته په کتو سره د کرنیزو فعالیتونو متنوع کیدل.
II. د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په موخه داخلي او خارجي بازراونو ته د توکو عرضه کیدل.
III. د غذایي امنیت تامین.
IV. د عایداتو لوړیدل.
V. د غذایي توکو د ضایعاتو مخنیوی(۷:۱۸۰).

**په کرنه کې د کار آیجادونې اهمیت**

د نړۍ نفوس ورځ په ورځ د ډېریدو په حال کې دی، د نفوس په ډېریدو سره غذایي توکو ته اړتیای ډېرېږي، خو په ټولو برخو په ځانګړې ډول د کرنې په برخه کې تولیدي امکانات او سرچینې محدودې دي، نو اړتیا لیدل کیږي چې د کرنې په برخه کې له نوښتونو او نوې تکنالوژي څخه ګټه پورته شي، تر څو د نړۍ مخ په ودهنفوس ته د غذا په شمول اولیه توکي او په ټوله کې د کرنې پراختیا را منځته شي. د کرنې پراختیا د انساني سرچینو له اغېزمنو مهارتونو او پوهې پرته ناشونې بریښي، نو ویلای شو چې د کرنې پراختیا په برخه کې د کار ایجادونې له رول او اهمیت څخه انکار نه شو کولې، پرمختللی هیوادونه په اقتصادي، ټولنیزو او نور ټولو برخو کې کار آیجادونې ته ځانګړې پاملرنه کوي، او د کار آیجادونکو روزنه د خپلو پراختیایي پروګرامونو په لمړیتوبونو کې حسابوي. د کار آیجادونې زده کړه نه یوازې پوهه او مهارت را منځته کوي، بلکې د خطرقبلولو وړتیا، ستونزو ته آمادګي، په نفس اعتماد او او ظرفیتونه لوړوي(۲:۷۶).

د سمیت(Smith) په آند په کرنه کې د کار آفریني فعالیتونه یو لړ هڅو ته اړتیا لري لکه د معلوماتو را ټولول، له نورو تولیدي برخو سره اړیکې قایمول، د بازار پیژندنه او یو مناسب تصمیم نیول.

د کرنې په برخه کې د کار آیجادونې پراختیا او ترویج د کلیو پراختیا یو له مهمو انتخابونو څخه ګڼل کیږي. چې نوموړي حالت ته د رسیدو په موخه باید لاندې شرایط په پام کې ونیول شي:

۱. د کرنې په برخه کې د دولت د بې ځایه مداخلو مخنیوی او د ازاد نظام پیاوړتیا.
۲. د کرنې اړتیاوو ته په کتو سره بنسټیزه سرمایه ګذاري.
۳. د کرنې په برخه کې د کار آیجادونې شرایطو ته زمینه سازي کول، او د سرمایه آچونې له پاره د آمنیت تامین.

د کرنیزې کار آیجادونېتر ټولو مهمه موخه د کم ځمکو بزګرانو د کرنیزو جوړښتونو نوي او تقویه کول همدارنګه په کلیوالي ټولنو کې د کرنې په برخه کې د یو داسي نوي محیط را منځته کول تر څو په پایله کې یې د کرنې او کلیو پراختیا ته زمینه برابره شي(۱۱:۵۰).

**په کرنه کې د کار آیجادونې د پیاوړتیا تګلارې**

په وروستیو لسیزو کې په اقتصادي پراختیا کې د کرنې د رول او ارزښت په اړه ډېرې څېړنې تر سره شوې. څېړونکي په دې نظر دي چې د کرنې له پراختیا څخه ملاتړ د کلیو په پراختیا کې برخلیک ټاکوونکی رول لوبوي، او په اصل کې کرنیزه پراختیا د کلیو پراختیا لپاره اساس بلل کیږي.کرنه د ګڼو ټولنو لپاره د ټولنیزې، اقتصادي او فرهنګي ودې، غذایي تامین، محیط ساتنې او په ټوله کې د کلیو پراختیا اصلي عامل بلل کیږي. په ټولو هیوادونو په ځانګړی ډول پرمختیایي هیوادونو کې کرنه د اقتصادي پراختیا لپاره لومړنی سرمایه، د تولید لپاره خام توکي او چاپیریال لپاره یو مناسب حالت را منځته کوي. کرنه د کار آیجادونې د فعالیتونو له پاره مناسب محیط بلل کیږي. په کرنه کې د کار آیجادونې فعالیتونه له کلیو څخه د مهاجرتونو په کمولو، بیوزلۍ د سطحې په ټیټولو، کاري فرصتونو په را منځته کولو او په ټوله کې د اقتصادي پراختیا سبب ګرځي. که په کرنه کې کاري فرصتونه ډېر شي، نو طبعاً کلیوال وګړي مهاجرت ته زړه نه ښه کوي، ځکه د دوی د مهاجرت اصلي عامل دنده نه موندل دي. کله چې ورته په کلي کې دنده پیدا شي، مهاجرتونه خپله کمیږي، چې دا خپله د بیوزلۍ له کمولو سره مرسته کوي(۱۸: ۹۷). په ټولو ټولنو په ځانګړي ډول کلیو کې کار آیجادونکي زیات حمایت او ملاتړ ته اړتیا لري، تر څو په خپلو کړنو کې له نور نوښت او ابتکار څخهاستفاده وکړي.زیاتره کلیوالي ټولنې د اړتیا وړ اولیه توکو، تکنالوژي، سرمایې او نورو څخه بې برخې وي. د کار آیجادونې هغه حل لارې چې د کلیوالي ټولنو له پراختیا سره مرسته کوي، عبارت دې له:

I. د کار آیجادونې لپاره د وړ او مناسب چاپیریال برابرول(ظرفیت جوړونه)
II. په ځان د باور جوړونې مهارتونو خپلول(پیاوړتیا).
III. د هڅونې په مرسته کار آیجادونې ته وده ورکول(۸: ۸۹).

**د کلیوالي او کرنیزې کارآیجادونې په پراختیا موثر عوامل**

کلیوالي کار آیجادونه په کرنیزو او غیر کرنیزو برخو کې د دندو د پیدا کولو تر ټولو مناسبه لار بلل کیږي، کار آیجادونه په کلیوالي ټولنو کې ډېره پراخه ساحه لري. څرنګه چې په کلیوالي


سیمو کې تر ډېره بریده کرنیز فعالیتونه د نورو هغو په پرتله غالب وي.نو ځکه د کرنیزې کار آیجادونې په پراختیا تاکید کیږي. څرنگه چې کار آیجادونه په کلیوالي ټولنو مثبتې اغیزې لري، خپله هم د یوې اقتصادي- ټولنیزې او کلتوري پدیدې په ډول له یو لړ عواملو، مهارتونو او مختلفو برخو څخه اغیزمنه وي. هغه عوامل چې په یوه ټولنه کې د کار آیجادونې په را منځته کیدو او شکل اغېزه لري، په پنځو برخو وېشل شوي چې، عبارت دي له:

۱. د اقتصادي او مالي شرایطو شتون لکه( مالي سرچینې، انساني قوه، فزیکي اسانتیاوې، اقتصادي جوړښتونه، وړ او تخصصي چوپړونه او نور)
۲. د متحرک صنعت د جوړښتونو شتون( اندازه، د بازار جوړښت او وده، د صنعتي شرکتونو ستراتیژي او نور).
۳. د اصولو او قوانینو د منظم جوړښت را منځته کولـ(مالیاتي سیستم، حقوقي سیستم، د دولت حمایتي سیاستونه او نور)
٤. د ټولنیزې سرمایې شتون( د کار آیجادونې فرهنگ، حمایت کوونکي بنسټونه، د کار آیجادونې د زده کړییزو شبکو شتون.
٥. شخصي او فردي اړخونه(د کاري تجربې مخینه، زده کړې، له سخت او شاقه کار سره علاقه، انعطاف پذیري، سن، جنس او نور)(۱:۱۳).

کار آیجادونکي په خپلو نوښتگرو مهارتونو سره کولی شي، سنتي او عنعنوي کرنه په عصري او تجارتي کرنه تبدیله کړي. چې همدا بدلونونه ورو ورو اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته لار هواروي. څرنگه چې کرنه په کلیو کې تر سره کیږي او د زیاتره کلیوالي وگړو (بزگرانو) د سواد کچه ټیټه ده، نو لازمه ده تر څو په پراخه پیمانه بزگرانو ته د کارآیجادونې په برخه کې ښوونیز پروگرامونه او د مشورو لپاره مرکزونه جوړ او په لاره ولویږي،تر څو د بزگرانو مهارتونه لوړ او د کرنې او کلیو پراختیا په پروسه کې موثر واقع شي. بزگرانو ته په ښوونیزو پروگرامونو کې په لاندې څلور ډوله مهارتونو تاکید کیږي:

۱. تخصص ته په کتو فني او حرفوي مهارتونه.
۲. مدیریتي مهارتونه لکه مالي مدیریت، بازارموندنې مهارتونه، عمومي اداره(منجمنټ) او د کارمندانو د مدیریت مهارتونه.
۳. د کار آیجادونې مهارتونه لکه د نوي کاروبار د را منځته کولو مهارت، له فرصتونو د گټه اخیستنې مهارتونه، د بازار د تشخیص مهارتونه، د نوښتونو د را منځته کولو مهارتونه او نور(۶: ۱۰۱).

هغه عوامل چې د کلیوالي کار آیجادونې په پراختیا کې موثر دي په لاندې (۳) گڼه شکل کې روښانه شوي.




۳- شکل: د کلیوالي کار آیجادونې سیاستونه(۸:۲۱)

**پایله**

په اکثره پرمختیایي او ټولو پرمختللیو هېوادونو کې د مختلفو بنسټونو له خوا کار آیجادونه د یوې مهمې او اساسي موضوع په توګه د توجه وړ ګرځېدلې. څرنګه چې بیکاري د ټولو ټولنو په ځانګړي ډول د کلیو لپاره یو جدي تهدید بلل کیږي، نو اړینه ده چې په کلیو کې د کرنې او نورو برخو لپاره لازم فرصتونه، نوښتونه او ظرفیتونه را منځته شي. د کرنیزې پراختیا لپاره لازمه ده تر څو د کار آیجادونه زده کړه تر سره شي، تر څو په مټ یې بزګران او نور کلیوال وګړي دې ته آماده شي، چې په کلیوالو ټولنو کې نوي نوښتګر کاروبارونه پیل، د خطرقبلولو استعداد په ځان کې پیدا او لازم فرصتونه تشخص کړي. په کلیو کې کار آیجادونه کولی شي د کرنې او په لویه سطحه د کلیو پراختیا ته لاره هواره کړي. د کار آیجادونې په مټ د بزګرانو عواید لوړیږي او نوې دندې ورته پیدا کیږي، چې دا خپله د باثباته کلیوالي پراختیا لپاره زمینه برابر وي. د کلیوالي پراختیا او کار آفریني تر منځ نیغې اړیکې شتون لري. په خلاصه ډول کار آیجادونه د کلیو پراختیا لپاره لاندې ګټې لري:

۱. له کلیو څخه د مهاجرتونو کموالی.
۲. دندې پیدا کول (اشتغال زایي).
۳. د کلیوالي اقتصاد تنوع.
٤. د کلیوالو د عوایدو لوړیدل.
٥. د چاپېریال د تعادل ساتل.
٦. ټولنیز امنیت.
۷. خصوصي پانګې اچونې ته زمینه برابرول.
۸. له کلیوالي منابعو ګټه اخیستنه.

۹. د ټولنيزې هوساينې ښه والی.
۱۰. د ګڼو عنعنوي جوړښتونو تغير.
۱۱. ټولنيز عدالت.
۱۲. د پوهې را منځته کيدل.
۱۳. څېړنو ته زمينه برابرول.
۱٤. په کليوالي وګړو کې د خطر قبلولو استعداد پيدا کول.
۱۵. د استعدادونو د فرار مخنيوی.

**وړانديزونه**

په دې موخه چې په کليوالي سېمو کې کار آيجادونه وده وکړي اړونده ادارو او څېړونکو ته په لاندې ډول يو لړ وړانديزونه لرم، چې عبارتدې له:

۱. مسلکي او عامو وګړو ته د کار آيجادونې په برخه کې بايد ښوونيز پروګرامونه په لاره واچول شي.
۲. بزګرانو ته بايد په مختلفو برخو کې نوي کرنيز مهارتونه ترويج شي.
۳. ښوونځيو او پوهنتونو په نصاب کې بايد دکار آيجادونې د پراختيا په موخه مضامين ځای په ځای شي.
٤. د لوړو زده کړو په چوکاټ کې د کار آيجادونې پوهنځی او څانګې را منځته کول.
٥. په کليو کې له شته کارآيجادونکو څخه بايدحمايت او ملاتړ وشي.
٦. څېړونکي بايد په مختلفو برخو کې د کار آيجادونې اړوند څېړنې تر سره کړي.

**ماخذونه**


۱. افتخاری، عبدالرضا رکن الدين، & پورطاهری. (۲۰۱۰). سنجش و ارزيابی معيارهای مؤثر بر عملکرد کشاورزان عادی و موفق روستايی، مطالعه موردی: روستاهای شهرستان خدابنده. *پژوهشهای جغرافيای انسانی*، ٤۲(۲)، ۱-۱٦.
۲. احمدپور داريانی، ا. ۱۳۸۰ ،کارآفرينی: تعاريف، نظريات و الگوها. تهران، نشر شرکت ٥۷.
۳. پترين، ت. ۱۳۸۱ .کارآفرينی به منزله يک نيروي اقتصادي در توسعه روستايی. از دفتر منطقهاي فائو در اروپا. مترجم: حميدرضا زرنگار. مجله جهاد، ۲۲)۲٥۳ :(۷٥-٦۸).
٤. پوررجب، پ. ۱۳۸۹ .آسيبشناسی کارافرينی روستايی در ايران. ماهنامه دهياريها، ٦)۳۰ :(۳٥-۲).
٥. حيدريساربان، وکيل، ۱۳۹۱ .عوامل مؤثر بر تقويت کارآفرينی کشاورزان در مناطق روستايی.فصلنامه جغرافيا ۱۰(۳٥): ۲۷۸-۲٦٤.
٦. خانی جزنی، جمال، ۱۳۸۷ .اصول و مبانی فرهنگ کارآفرينی، انتشارات مهراوش.

۷. دادورخانی، فضیله، ر وانی، محمدر ا، ایمنیقشالاق، سیاوش، بوذرجمهری، خدیجه، ۱۳۹۰ .تحلیل نقمش گردشگری در توسعه ویژگیهای کارآفرینانه و گرایش به کارآفرینی در بین جوانان روستایی مطالعه موردی: روستای کندوان و اسکندان اسکو، پژوهم های جغرافیای انسانی، شماره ۷۸ ،ص: ۱۶۵–۱۹۵ ،زمستان.

۸. رکنالدین افتخاري، ع.، سجاسیقیداري، ح.، رضوي، ح. ۱۳۸۹ .راهبردهاي توسعۀ کارآفرینی کشاورزي در مناطق روستایی: مطالعۀ موردي روستاهاي شهرستان خدابنده. فصلنامه روستا و توسعه.۱۳(۳): ۲۹–۱. ،

۹. رضوانی، & نجارزاده. (۲۰۰۹). بررسی و تحلیل زمین ههای کارآفرینی روستاییان در فرایند توسعه ی نواحی روستایی مطالعه موردی: دهستان براآن جنوبی (شهرستان اصفهان). فصلنامه علمی پژوهشی توسعه کارآفرینی، ۱(۲)، ۱۶۱–۱۸۲.

۱۰. رکنالدین افتخاري، ع.، سجاسیقیداري. ح. ۱۳۸۹ .توسعه روستایی با تأکید بر کارآفرینی (تعاریف، دیدگاهها و تجربیات). تهران، انتشارات سمت.

۱۱. رکنالدین افتخاري، ع.، طاهرخانی، م.، سجاسیقیداري، ح. ۱۳۸۸ .تحلیل ابعاد و عوامل مؤثر بر توسعه کارآفرینی کشاورزي مناطق روستایی: مطالعه موردي روستاهاي شهرستان خدابنده. فصلنامه روستا و توسعه ۱۲(۳): ۷۲–۴۳.

۱۲. سجاسی قیداری، حمداله، پالوج، رکن الدین افتخاری، & صادقلو. (۲۰۱۱). ارائه راهبردهای توسعه کارآفرینی کشاورزی در مناطق روستایی با استفاده از روشهای تحلیل چند متغیره MCDM و SWOT. اقتصاد کشاورزی و توسعه، ۱۹(۲)، ۱۴۹–۱۸۰.

۱۳. عنبري موسي. تحلیل مسایل و کاستي هاي پژوهش هاي نوین در جامعه شناسي توسعه روستایي ایران.۱(۱ ،۳–۱)

١٤. Adelaja, S. 2007. Enabling Innovation in Michigan Agriculture; A Viable Agriculture Report. East Lansing: MSU Land Policy Institute.

١٥. Bantel, K., Jackson, S. 2000. Top management and innovations in banking: does the composition of the top team maked difference. Strategic management journal, 7: 107-110.

١٦. Chrisman, J.J., Chua, J.H., and Sharma, P. 2003. Current trends and future directions in family business management studies: Toward a theory of the family firm. Coleman White Paper Series, (4): 1-63.

١٧. Heriot, Kirk, C., Campbell, N.D. 2002. A new approach to rural entrepreneurship: a case study of tworuralelectric cooperatives. Available on: http://usasbe.og/knowledge/proceedings/proceedingsDocs/USASBE.٢٠٠٥.PROCEEDINGS-hERIOT%2030.pdf.

۱۸. Heritot, K. 2002. A New Approach to Rural Entrepreneurship a Case Study of Two Rural Electric Cooperatives. Western Kentucky University, and Noel D. Campbell, North Georgia College and State University.
۱۹. Kader, A. 2007. Success factors for small rural entrepreneurs under the onedistrict-one industry programme in Malaysia. Faculty of Economics and Administration, University of Malaya.
۲۰. Laukkanen, M. 2003. Exploring academic entrepreneurship: drivers and tensions of university-based business. Journal of Small Business and Enterprise Development, 10(4): 372-382.
۲۱. Maia, L. 2002. Enhancing Entrepreneurship in Rural Tourism for Sustainable Regional Development: The Case of Söderslätt Region Sweden. The International Institute for Industial Environmental Economics (IIIEE), International Miljö Institute.
۲۲. Meccheri, N. and Pelloni, G. (2006): Rural Entrepreneurs and Institutional Assistance: an Empirical Study from Mountainous Italy, Entrepreneurship and Regional Development, Vol. 18, pp: 371-392.Mihalič, T. (2002): Tourism and development: Concept and Issues. Chapter 3: Tourism and Economic Development Issues, Edited by: Richard Sharpley and David Telfer, pp: 81-111.
۲۳. Mihalič, T. (2002): Tourism and development: Concept and Issues. Chapter 3: Tourism and Economic Development Issues, Edited by: Richard Sharpley and David Telfer, pp: 81-111.
۲٤. Moreira, A.C. and Martins, P.L. (2009): An integrated Methodology for incubation of Business Ideas in Rural Community in Portugal, Journal of Enterprising Communities: People and Places in the Global Economy, Vol. 3, Issue 2, pp: 176-192.
۲٥. Nandanwar, K.P (2011): Role of Rural Entrepreneurship in Rural Development, Research Paper, International Referred Research Journal, Vol. 2, ISSUE.26, pp: 1-14.
۲٦. Panagiota, S. and Nastis, S.A. (2011): Collective Entrepreneurship in Agriculture and its Contribution to Sustainable Rural Development in Greece, Journal of the Geographical Institute, Vol. 61, No. 2, pp:109-128
۲۷. Pivcevic, S. (2005): Constraints and opportunities of agro-tourism development in the Republic of Croatia with the special stress on Sinj region, Sixth International Conference on “Enterprise in Transition” in Bol, Croatia, May 2005.
۲۸. Psaltopoulos, D., Stathopoulau, S. and Skuras, D. (2005): The Location of Markets, Perceived Entrepreneurial Risk, and Start-up

Capital of Micro Rural Firms, Small Business Economics, No. 25, pp:147-158.

۲۹. Schumpeter, J.A. (1934): The Theory of Economic Development: An Inquiry into Profits, Capital, Credit, Interest, and the Business Cycle, Harvard University Press: Cambridge, USA.

۳۰. Shane, S. and Venkataraman, S. (2003): A general theory of Entrepreneurship, Edward Elgar Publishing Ltd: London.

۳۱. Sharpley, R. and Vassb, A. (2006): Tourism, Farming and Diversification: An Attitudinal Study, Tourism management, Vol. 27, pp:1040-1052.

۳۲. Smith, D. (2010): The Role of Entrepreneurship in Economic Growth, Undergraduate Economic Review, Vol. 6, Issue. 1, Article 7. Available at: http://digitalcommons.iwu.edu/uer/vol6/iss1/7

۳۳. Young , W & Tilly, F. (2009). Can businesses move beyond efficiency? The shift toward effectiveness and equity in the corporate sustainability debate. Business Strategy and the Environment, 15(6), 402- 415.

۳٤. Yuan,P, liu,Y, Ju, F, li, X, 2017. A study on farmer's Agriculture related tourism entrepreneurship behavior, Computer Science,V: 122, P:743-750.

۳٥. Zamora, O. M. (2011): Development Instruments for the Cross-Border Cooperation in Ukraine, In: Problems of tourism development on rural areas, KrystynaKrzyżanowska (ed.), Warsaw University of Life Sciences Press, Warsaw 2011, pp: 109- 121.

۳٦. Zamora, O, M, 2011.Development instrument for the cross-Border cooperation in Ukraine, in: problems of tourism development on rural areas, krystyna, Krzyzanowdka (ed), warsaw university of life sciences press, warsaw 2013,p: 109-۱۲۱.

# بررسی، سنتز و کاربرد نمک‌های دای‌آزونیم

پوهنیار سید محمد رامش استاد پوهنتون دایکندی پوهنځی تعلیم و تربیه دیپارتمنت کیمیا و پوهنیار نورالله حسین خیل استاد پوهنتون شیخ زاید پوهنځی تعلیم و تربیه دیپارتمنت کیمیا

ایمل ادرس: Noorullahhussainkhil55@gmail.com

**خلاصه**

نمک های دای ازونیم مرکبات نایتروجن دار عضوي هستند که تمام این مرکبات در ترکیب خود دوه یا سه اتوم نایتروجن به شکل کانجوگیت یا غیر کانجوگیت دارد، تمام این مرکبات دارای رنگ خاص هستند که در صنعت امروزی استعمال و فعالیت خوب دارا هستند که در آن‌ها تعاملات آیونی بین گروپ‌های آزو ($N_2^+$)و انیون‌های ( $X^- = Cl^-. F^-. Br^-. I^-. CH_3-. \dots$ ) باشند. فورمول عمومی ( $RN_2^+X^-$) است در زنجیره جانبی $R$ ممکن است یک گروپ الیفاتیک و یا گروپ ارایل ( Ar ) یعنی حلقه معطراروماتیکی باشد. از این فورمول عمومی نمک دای آزونیم می‌توان گفت که گروپ آزو بنا بر داشتن چارج مثبت یکی از اتوم‌های نایتروجن ($Ar - N^+ \equiv N$) بسیار بی ثبات و ناپایدار است. البته این آیون نایتروجن با چارج مثبت با حلقه اروماتیکی حالت رزونانس را برقرار می کند و هم چنین این چارج مثبت قادر به جداسازی سیستم پای حلقه معطر است. طور مثال: نمک‌های دای آزونیم اروماتیکی یا معطر بسبت به الیفاتیک با ثبات و پایدار هستند زیرا چارج مثبت را نمی توان در طول زنجیر کاربن ( $CH_3-, CH_3 - CH_2-, \dots$ جدا نمود.

**کلید واژه:**آیونونایتروزونیم، تعاملات کوپلنگ، حرارت مؤثر، دای ایزونیم، ، رنگ های ازو.

**مقدمه**

الحمدالله رب العالمین والصلات والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وعلی اله واصحابه اجمعین اما بعد:

نمک‌ها دای آزونیم ترکیبات عضوی هستند که در آن‌ها تعاملات آیونی بین گروپ‌های آزو ($N_2^+$)و انیون‌های ( $X^- = Cl^-. F^-. Br^-. I^-. CH_3-. ...$ )باشند. فورمول عمومی ( $RN_2^+X^-$ ) است در زنجیره جانبی $R$ ممکن است یک گروپ الیفاتیک و یا گروپ ارایل ( Ar ) یعنی حلقه معطراروماتیکی باشد. از این فورمول عمومی نمک دای آزونیم می‌توان گفت که گروپ آزو بنا بر داشتن چارج مثبت یکی از اتوم‌های نایتروجن ($Ar - N^+ \equiv N$ ) بسیار بی ثبات و فعال است. البته این آیون نایتروجن با چارج مثبت با حلقه اروماتیکی حالت رزونانس را برقرار می کند و هم چنین این چارج مثبت قادر به جداسازی سیستم پای حلقه معطر است. طور مثال: نمک‌های دای آزونیم اروماتیکی یا معطر بسبت به الیفاتیک با ثبات و پایدار هستند زیرا چارج مثبت را نمی توان در طول زنجیر کاربن ( $CH_3-, CH_3 - CH_2-, ...$جدا نمود(۱، ص ۱۴).

**روش تحقیق**

جمع کردن مواد این مقاله شکل کتابتوني دارد، از کتاب های معتبر کیمیا عضوي و مقالات بین المللی استفاده شده است همچنان ار ویب سایت های مختلف برای غنی شدن این مقاله استفاده شده است.


**سنتز و استحصال نمک‌های دای آزونیم**

یکی ازروش معمول برای سنتز این نمک‌ها عبارت از تعامل امین‌های اولی همراه سودیم نایتریت ($NaNO_2$ )یا نایترس اسید ( $HNO_2$ )درموجودیت اسیدهای HX مخصوصاً HClمی‌باشد. شرایط تعامل باید طوری باشد که محلول مواد های فوق را باید در حمام سرد گذاشت تا اینکه درجه حرارت آن کمتر از ℃5 گردد چون این نمک‌ها بسیار ناپایدار است.


میخانکیت سنتیز نمک‌های دای آزونیم طی مراحل ذیل امکان پذیر اند:

مرحله اول: تشکیل آیون نایتروزونیم از $HNO_2$

برای تشکیل آیون نایتروزونیم، سودیم نایترایت را همراه هایدروکلوریک اسید یکجا





نموده تا نایترس اسید حاصل شود(۲، ص،ص ۱۳،۲۵).




هدف اصلی این $HCl$تبدیل بیش‌تر $HNO_۲$ به الکتروفیل قدرت‌مند آیون نایتروزونیم ( $NO^+$) است که نمک دای آزونیم را تشکیل میدهد.

آیون نایتروزونیم از طریق پروتونیشن شدن $OH$ و در نتیجه از دست دادن مالیکول آب ( $H_۲O$) تشکیل می‌شود:

مرحله دوم تشکیل یک رابطه جدید بین اتوم‌های نایتروجن است طوری‌که اتوم نایتروجن امین دارای یک جوره الکترون بوده و با خاصیت نوکلیوفیلی خویش بالای گروپ آیون نایتروزونیم الکتروفیلی حمله نموده رابطه جدید ( $Ar -N^+H_۲ - N = O$)تشکیل را می‌سازد که این مرحله خیلی ناپایدار بوده و با شکست روابط پای و دوباره تشکیل روابط پای، پروتون‌های نایتروجن به اتوم اکسیجن انتقال پیدا می کنند. در نهایت یک مالیکول آب از ارایل دای آزو خارج می شود و نمک دای آزونیم استحصال می گردد(۳، ص۱۳).




شکل(۱): میکانیزم سنتز آیون نمک دای آزونیم

**خواص فزیکی**

به طور عموم خواص نمک های دای آزونیم بی رنگ، کرستلی است و ناپایدار هستند. محلول آنها در درجات حرارت کمتر از( ۰ – ٥℃ ) با ثبات و پایدار می‌باشند(۱، ص ۳۴).

بعضی از این نمک‌ها در مقابل عوامل خارجی از قبیل ضربه و عملیات فزیکی خیلی کم بسیار حساس هستند که با کوچک‌ترین ضربه انفجار می کنند.

**خواص کیمیاوی**


نمک‌های دای آزونیم آزاد کننده‌های بالقوه نایتروجن مالیکولی هستند که تشکیل آن‌ها وجه مشترک تعاملات تعویضی است. نمونه‌ای از این تعاملات نمک دای آزونیم در ذیل آورده شده است.

۱– هایدرولیز نمک دای آزونیماگر محلول یک نمک دای آزونیم گرم شود:

$C_6H_5N_2^+Cl^-(aq) + H_2O(l) \rightarrow C_6H_5OH + N_2(g) + HCl(aq)$


**تعاملات نوکلئوفیلی در نایتروجن:**

نوکلوئوفیل‌ها با آیون های دای آزونیم تعامل میکند طوریمثال: فنول توسط زوجآیونهایفینوکساید خویش بانمک دای آزونیم در pH 9- ۱۰ بهمنظوراستحصالپاراآزوفنولها، تعاملیخوبیدارند(۴، ص ص۱۳،۲۴).





**تعامل $SN_1$**

نمک های دای آزونیم در اثر گرم شدن به نایتروجن و کتیون ارایل تجزیه می‌شوند که آیون ارایل تعامل پذیری بالایی دارد و می‌تواند توسط هر نوکلئوفیلی که در مجاورت آن موقعیت دارد موردحملهقرار بگیرد(۴، ص۲۳).





**تعامل رادیکالی**

آیون های دای آزونیم می‌تواند به وسیله تک الکترون ها (رادیکال آزاد ) به یک رادیکال ارایل و نایتروجنارجاع پیدا کنند.مس(I) اغلب برای این منظور استفاده می‌شود و رادیکال ارایل تعامل پذیری بالایی دارد برای جذب کردن لیگاندی که از سمت فلز انتقال پیدا می‌کند یا اتوم هایدروجنی که از یک رابطهکوولانسی به دست می‌آید( ۵، ص ص ۲۳،۱۲).





**تعاملات خارج کردن نایتروجن یا دی نایتروجنیشن:**

a) تعویضی با هایدروکسیل:-نمک دای آزونیم زمانی که گرم شود در آب طبق مکانیزم $SN_1$فنل آزاد می‌شود.این تعامل به طور کلی در محلول اسیدی برای حفظ شکل فنولی انجام می‌شود(۸،ص،۲۳).





b)تعویضی با هلوجن‌ها

تعامل شیمان:یک محلول آبی از نمک دای آزونیم همراه با فلوئوربوریک اسید سرد تعامل میدهد و دای آزونیم فلوئوربورات تشکیل میدهند.که در اثر خشک کردن وحرارتدادنبهآرامی فلوئوروبنزنآن طبقتجزیهشدن فلوئوبورات مطابق میخانکیت $SN_1$ تشکیلمی‌شود( ۶، ص ۲۳).




تعامل سندمایر(Sand Meyer)


تعاملی که برای تولید ارایل هلایدها از نمک های دای آزونیم به کار می‌رود.همچنین یک روش موثر برای تهیه آروماتیک های برومايد و کلوراید است( ۱۲، ص ص ۱۲،۱۳).



تعامل تعویضی به وسیله کاربن های آروماتیک

تعدادی از روش ها باعث می‌شود که ارایلیشن کاربن اروماتیک به‌وسیله نمک دای آزونیم صورت بگیرد(۴، ص ۱۳).


این تعامل سنتز فنانترین و مشتقات آنرا از طریق دیاستروپی توصیف می کند و سپس با استفاده از پودر مس دوران دوطرفه و تشکیل حلقه شکل می گیرد





G = CH=CH, $CH_2$-$CH_2$, CO, NH, $CH_2$, others

تعاملات جفت شدن(اتصالCoupling)

تعاملات جفت شدن، تعاملات الکتروفیلی تعویضی هستند که فورمول عمومی آن به شرح زیر نوشته می شود.





میخانیکیت تعامل کوپلینگ شدن




آیون های دای آزونیم الکتروفیل‌های ضعیفی هستند گرچه در صورت کوپلینگ شدن هسته های آروماتیک آنهافعالمی‌شودمانند ارایل آمین ها ، فنل ها و ترکیبات هتروسیکل های آروماتیکبرای مثال N،N – دایمیتایل انیلین همراه یون دای آزونیم

در موقعیت پاراتعامل میدهد. گرچه کنترل دقیق pH محیط تعامل یکیازموفقیتهاپیروسه است.
خلاصه تعاملات نمک دای آزونیم را در شکل ذیل آورده شده است( ۱۲، ص ۲۵).




شکل(۲): تعاملات آیون دای آزونیم

## کاربرد و مورد استفاده نمک دای آزونیم



















نمک‌های دای آزونیم به عنوان مرکب بین البینی در سنتزهای کیمیای عضوی دارای کابردی زیادی هستند. این نمک‌ها می‌توانند از طریق تعاملات تعویضی (که در نتیجه آن‌ها نایتروجن $N_2$ آزاد می شود) و مزدوج شدن (کوپلینگ) با هترو اتومها
















صورت می گیرند، در سنتز انواعی از ترکیبات مانند: داروها، رنگ‌ها، مواد عطری و مشتقات آن‌ها استفاده می شود.







هم‌چینان در صنایع نساجی، مواد پولیمری، کاغذ سازی، در زمینه‌های مواد حساس و غیره کاربرد فوق العاده دارند( ۱۲، ص، ص ۲۵،۳۵).

طور مثال: یکی از کاربرد مهم این نمک‌ها در سنتز رنگ‌های دای آزو می‌باشد. که در جدول (۱) قابل مشاهده است.

جدول۱: سنتز رنگ های آزو در موجودیت سلفوریک اسید در درجه حرارت اتاق


| ردیف | ارایل امین | ریجنت جفت شونده | زمان (دقیقه) | محصول | نقطه ذوب محصول °C [مرجع] | بازده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ |  |  | ۲۵ |  | ۲۰۷-۲۱۰ [4، 5] | ۹۸ |
| ۲ |  |  | ۲۰ |  | ۲۱۸-۲۲۲ [5] | ۹۵ |
| ۳ |  |  | ۲۸ |  | [۵]۲۷۰ | ۹۰ |
| ۴ |  |  | ۲۰ |  | [٦]۲۴۷-۲۵۰ | ۹۰ |
| ۵ |  |  | ۳۰ |  | ۱۹۸- ۲۰۳ [7] | ۸۵ |
| ۶ |  |  | ۲۰ |  | ۱۱۰-۱۱۳ | ۸۰ |
| ۷ | | | ۲۵ | | | ۹۸ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| |  |  | |  | | |
| ٨ |  |  | ٢٠ |  | | ٩٠ |
| ٩ |  |  | ٢٠ |  | | ٨۵ |
| ١٠ |  |  | ٢٨ |  | | ٨٠ |
| ١١ |  |  | ٣۵ |  | | ٩١ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ١٢ |  |  | ٢٠ |  | | ٨٣ |
| ١٣ |  |  | ٢٧ |  | | ٨٨ |

باید گفت که سنتر رنگ‌های دای آزو در درجه حرارت اتاق، بدون استفاده از محلل در موجودیت سلولوز سلفوریک اسید در فشار معمولی با محصولات بالا قرار

شرح ذیل صورت گرفته که از لحاظ کیمیا سبز دارای اهمیت خاصی بوده و سازگاری با محیط زندگی است(۸، ص ۲۳)




شکل ( ۳ ) سنتز رنگ های آزو در موجودیت سلولوز سلفوریک اسید

این یکی از بهترین روش ها و شرایط برای ثبات نمک های دای آزونیم در شرایط اتاق است که برای سنتز رنگ‌های دای آزو مورد استفاده قرار گرفته اند چون همان طوری که تجارب نشان میدهد این نمک ها در محیط اتاق بی ثبات بوده و تنها در درجات حرارت ( $۵°C - ۰$ ) سنتز می شود( ۱۰، ص ۴۵).

**نتیجه گیری**

یکی از روش معمول برای سنتز این نمک‌ها عبارت از تعامل امین‌های اولی همراه سودیم نایتریت ( $NaNO_۲$ )یا نایترس اسید ( $HNO_۲$ )در موجودیت اسیدهای HX مخصوصاً HClمی‌باشد. شرایط تعامل باید طوری باشد که محلول مواد های فوق را باید در حمام سرد گذاشت تا اینکه درجه حرارت آن کمتر از □٥ گردد چون این نمک‌ها بی ثبات است.

آیون های دای آزونیم الکتروفیل‌های ضعیفی هستند گرچه در صورت کوپلینگ شدن هسته های آروماتیک آنهافعالمی‌شودمانند ارایل آمین ها ، فنل ها و ترکیبات هتروسیکل های آروماتیکبرای مثال N،N – دایمیتایل انیلین همراه یون دای آزونیم در موقعیت پاراتعامل میدهد. گرچه کنترل دقیق pH محیط تعامل یکیازموفقیتهاپیروسه است.

نمک‌های دای آزونیم به عنوان مرکب بین البینی در سنتزهای کیمیای عضوی دارای کابردی زیادی هستند. این نمک‌ها می‌توانند از طریق تعاملات تعویضی (که در نتیجه آن‌ها نایتروجن $N_2$ آزاد می شود) و مزدوج شدن (کوپلینگ) با هترو اتوم‌ها صورت می گیرند، در سنتز انواعی از ترکیبات مانند: داروها، رنگ‌ها، مواد عطری و مشتقات آن‌ها استفاده می شود.

آیون های دای آزونیم می‌تواند به وسیله تک الکترون ها (رادیکال آزاد ) به یک رادیکال ارایل و نایتروجنکاهش پیدا کنند.مس(I) اغلب برای این منظور استفاده می‌شود و رادیکال ارایل تعامل پذیری بالایی دارد برای جذب کردن لیگاندی که از سمت فلز انتقال پیدا می‌کند یا اتوم هایدروجنی که از یک رابطهکوولانسی به دست می‌آید.

**پیشنهادات**

۱- در تعاملات دای ایزونیم باید از کتالیست هایی قلوی استفاده شوده.

۲- در وقت انجام شدن واکنش های دای ایزونیم باید از احتیاط کار گرفته شود.

۳- تمام این تعاملات باید در لابراتوار ها داخل قفسچه انجام شود.

۴- در انجام این تعاملات باید تمام شرایطی ایمني باید در نظر گرفته شوده.

منابع و مآخذ

۱- زلفی گل، محمد علی مباحث نوین در شیمی آلی. تهران: مدرسان شریف.(۱۳۹۷).

۲- صادقی، بهاره، اصول بنیادی شیمی هتروسیکل. تهران: انتشارات مدرسان شریف(۱۳۹۷)..

۳- قربانی، آرش، شیمی آلی پیشرفته. ایلام: انتشارات دانشگاه ایلام (۱۳۹۶).

۴- کریمی، محمد علی، نانو شیمی. تهران: انتشارات د انشگاه پیام نور(۱۳۹۵).

[6] Y. Fu, Y. Chen, R. Huang, Z. Ding, X. Fu, et al., An Amine-Functionalized Titanium Metal–Organic Framework Photocatalyst with Visible- Light-Induced Activity for CO2 Reduction, AngewChemInt Ed, 51 (2012) 3364-7.

[7] N.A. Khan, S.H. Jhung, Adsorptive removal of hazardous materials using metal-organic frameworks (MOFs): A review, J Hazard Mater, 244–245
(2013) 444-56.

[8] Z. Ma, B. Moulton, Recent advances of discrete coordination complexes and coordination polymers in drug delivery, Coord. Chem. Rev., 255 (2011) 1623-1641.

[28] S.R. Batten, S.M. Neville, D.R. Turner, Coordination Polymers: Design, Analysis and Application: The Royal Society of Chemistry; 2009.

[9] S.-i. Noro, S. Kitagawa, T. Nakamura, Coordination polymers constructed from transition metal ions and organic N-containing heterocycliclіgands: Crystal structures and microporous properties, ProgPolymSci, 34 (2009)
[10] D. Wang and D. Astruc, (2014) Chem. Rev., 114:6949–6985.
[11] L. Levy, Y. Sahoo, K.-S. Kim, E.J. Bergey, and P.N. Prasad, (2002) Chem. Mater. 14:3715–3721.
[12] M. Dabiri, P. Salehi, S. Otokesh, M. Baghbanzadeh, G. Kozehgary, and A.A. Mohammadi, (2005) Tetrahedron Lett., 46:6123–6126.
[13] A. Dömling, (2006) Chem. Rev., 106:17–89.
[14] M.G. Dekamin, S. Ilkhanizadeh, Z. Latifidoost, H. Daemi, Z. Karimi, and M. Barikani, (2014) RSC Adv., 4:56658–56664.
[15] V.P. Ananikov, D.G. Musaev, and K. Morokuma, (2005) *O*rganometallics, 24:715–723.

# د نفقې د نشتوالي له امله د ښځې او خاوند ترمنځ د قضائي تفریق حکم

پوهنیار نسیم الله هجران د شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقهې او قانون څانګې استاد
**ایمیل ادرس:** nasimullahsafi123@gmail.com

**لنډیز**
دا موضوع د نفقې د نشتوالي له امله د ښځې او خاوند ترمنځ د قضائي تفریق حکم تر عنوان لاندې لیکل شوې ده، کتابخانه یي څیړنه ده، چې موخه یې د اسلامي شریعت له آنده د نفقې د نشتوالي له امله د ښځې او خاوند ترمنځ د قضائي تفریق حکم پیژندل دي. اصل په طلاق کې دا دی، چې دا د میړه ملکیت دی او میرمن یې حق نه لري؛ مګر کله چې میرمن د میړه څخه د عیب، ضرر، د نفقې څخه د میړه ناتوانایي یا انکار، د میړه غیابت، ورکیدل او داسې نورو لاملونو له کبله متضرره کیږي؛ نو کولای شي، چې خپل شکایت محکمې ته د دې لپاره وړاندې کړي، چې د دې او د میړه ترمنځ یې جدایي راولي، میرمن محکمې ته عارضــه کوي او د ذکر شــوو لاملونو څخه د یو لامل له کبله د خپل میړه څخه د جدایۍ غوښــتنه کوي؛ نو که محکمې ته دا جوته شـي، چې ښـځه په خپله ادعا کې رښـتونې ده؛ نو محکمه د میړه او میرمن ترمنځ د جدایۍ حکم کوي، چې دا جدایي د قضائي تفریق په نامه یادیږي. یا په بل عبارت: قضائي تفریق د قضاء او محکمې په حکم د ځانګړو اسبابو او لاملونو، لکه: (عیب، ضرر، د نفقې څخه د میړه ناتوانایي یا انکار او داسې نورو..) له کبله په میرمن باندې د میړه د نکاح د ملکیت باطلولو او له منځه وړلو څخه عبارت دی. قضـائي تفریق نظر د تفریق لاملونو ته په کتو کله د رجعي طلاق او کله د بائن طلاق حکم لري.

**کلیدي کلمې**: د تفریق پیژندنه. د قضـــائي تفریق حکم. د قضـــائي تفریق طریقه. د میرمن د نفقې حق. د نفقې ډولونه.

**سریزه**

**الحمد لله الذي خلقنا من نفس واحدة وجعل لنا من أنفسنا أزواجاً وذرية، والصلاة والسلام على من حثنا بالزواج و جعل لنا طرقا لانحلاله عند الازعاج، أما بعد:**

الله تعالی د انساني نسل د بقاء او زیاتوالي لپاره زواج یا واده مشروع کړیدی، د دې لپاره، چې د انساني نسل بقاء په ښه شکل صورت ونیسي، د هر چا عزت، نسب، وراثت ... خوندي پاتې شي او د پلار د شتون له کبله د راتلونکي نسل د ضایع کیدو مخه ونیول شي.

الله تعالی فرمایي: ( **وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ... ). [ النور: ۳۲ ]**

ژباړه: او په نکاح کوئ ای (اولیاوو) هغه بې مړونو ښځې او بې ښځو سړي له تاسې. (۱۲ : ۳۱۲)

مگر د عمومي قاعدې خلاف کله نا کله د واده څخه وروسته د زوج (مېړه) لخوا زوجې (میرمن) ته یو شـــمیر ضـــررونه متوجه کیږي، لکه: د (نفقې څخه د مېړه ناتوانایي یا انکار، په مېړه کې د عیب شـــتون، د مېړه ورکیدنه، د مېړه غیابت، د مېړه بندیتوب او بالآخره د ښـــځې او مېړه ترمنځ دوامداره جنگ جگړې)، چې د دې ضـــررونو د مخنیوي لپاره د واده د انحلال او له منځه وړلو څخه پرته بله کومه لار شتون نلري.

دا چې په اسلامي شریعت کې ښځه (میرمن) لکه د مېړه په څیر په طلاق ورکولو کې استقلالیت او خپلواکي نلري؛ بلکې خپل امر به قضـــاء ته وړاندې کوي؛ نو که محکمې یې دلائل منطقي و گڼل په ښـــځه باندې د مېړه د ملکیت د باطلولو حکم کوي، چې دې ته قضـــائي تفریق وایي، زه پدې مقاله کې د قضـــائي تفریق له ذکر شـــوو مواردو څخه یواځې یو مورد، چې د نفقې څخه د مېړه ناتوانایي یا انکار دی، ترڅېړنې لاندې نیسم.

**موخې**

لوستونکي به:

- په مېړه باندې د میرمن د نفقې حق و پیژني.
- په مېړه باندې د میرمنې د نفقې ډولونه و پیژني.
- د نفقې د نشتوالي له امله د قضائي تفریق حکم و پیژني.
- د نفقې د نشتوالي په صورت کې د قضائي تفریق طریقه و پیژني.

**د څېړنې کړنلاره او د کار توکي**

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې لومړی د الله تعالی کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې اســـاس یې لومړی په قرآن کریم کې پیداکړم وروسته مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده، همدارنگه د څېړنې په بهیر کې مې په قرآن کریم او نبوي ســنتو کې د پلټنې وروســته د فقهي مســتندو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې ده؛ یعنې د لیکنې تګلاره مې کتابخانه یي تحقیق دی. دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د خپل توان په اندازه مې د پښتو ژبې د لیک دود ټول معیارونه په پام کې نیولي او پلي کړي دي.

**د تفریق لغوي پیژندنه**

تفریق د فرق مصدر دی او فُرْقَةٌ د فَرَقَ اسم دی، چې د دوو شیانو ترمنځ په توپیر او ښکلا دلالت کوي. (۲ : ۴۹۴)

ابن منظور د تفریق لغوي تعریف داســـې کړیدی: فرقة د افتراق مصـــدر دی، لکه عرب په خپلو خبرو اترو کې وایي: **( فارق فلان امرأته مفارقة وفراقاَ : باینها )**. (۴ : ۸۳) یعنې فلاني خپله میرمن جدا کړه په جداکولو او جداوالي سره، یعنې جلا یې کړه.

**د تفریق اصطلاحي پېژندنه**

علماوو د تفریق لپاره مختلف اصطلاحي تعریفونه کړيدي، چې ځینې يې په لاندې توګه دي:

کاساني داسې تعریف کړی دی: ( **التَّفْرِيقَ: إِبْطَالُ مِلْكِ النِّكَاحِ عَلَى الزَّوْجِ مِنْ غَيْرِ رِضَاهُ** ). (۱۸ : ۳۳۰)

ژباړه: په زوج یا مېړه باندې د هغه د رضاء او خوښې څخه پرته د نکاح د ملکیت باطلول د تفریق څخه عبارت دي.

زحیلي داسې تعریف کړی دی: ( **انحلال رابطة الزواج، وانقطاع العلاقة بين الزوجين بسبب من الأسباب** ). (۸ : ۶۸۶۳)

ژباړه: په یو سبب د اسبابو نه د زواج یا واده اړیکه له منځه وړل او د مېړه او مېرمن ترمنځ د علاقې او اړیکې پرې کول د تفریق یا فرقې څخه عبارت دی.

د معاصرو علماوو نه دکتور رمضان الشرنباصي داسې تعریف کړیدی: ( **الفرقة بين الزوجين: هي انحلال رابطة الزوجية وانقطاع العلاقة بين الزوجين بسبب من الأسباب** ). (۱۰ : ۲۲۵)

ژباړه: په یو سبب د اسبابونه د مېړه او مېرمن ترمنځ د علاقې او اړیکې پرې کول، د زوجیت (مېړه توب او مېرمنتوب) اړیکه له منځه وړل، د تفریق یا جدایی څخه عبارت دی.

که د تفریق پورتنیو تعریفونو ته ځیرشو؛ نو د کاساني د تعریف څخه صراحتا، د زحیلي او رمضان الشرنباصي د تعریفونو څخه ضمنا دا جوتیږي، چې د زوجینو (مېړه او مېرمن) ترمنځ تفریق کې د مېړه خوښي او ناخوښي شرط نده.

همدا رنګه له ذکر شوو تعریفونو څخه دا هم جوتیږي چې، تفریق، د زوجینو (مېړه او مېرمن) ترمنځ جلا والي او جدایی ته وایي، او چې کله دا جلا والی او جدایي د محکمې او قضاء لخوا صورت ونیسي قضائي تفریق بلل کیږي.

یا په بل عبارت: د ځانګړو اسبابو او لاملونو له امله د قضاء او محکمې په حکم په مېړه باندې د مېرمن د نکاح د ملکیت باطلول او د دوی ترمنځ د زوجیت اړیکه له منځه وړل، د قضائي تفریق څخه عبارت دي، عام له دې، چې زوج یا مېړه خوښ وي یا ناخوښ.

**په مېړه باندې د مېرمن د نفقې حق**

په اسلامي شریعت کې په مېرمن باندې مناسبه خرچه کول د مېړه مسؤلیت دی او مېړه به پخپله مېرمن باندې د خپل مالي توان په اندازه مناسبه خرچه کوي. پدې اړه الله تعالی فرمایي: ( **لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا**). **[الطلاق: ۷]**

ژباړه: نو نفقه دې ورکـــوي خاوندان د پراخۍ له خپلو شتو څخه او هغه څوک چې تنګ کړی شـــوی دی په ده باندې رزق د هغه، پس نفقه دې کوي له هغه څه نه، چې ورکړي وي الله هغه لره، الله هیڅ نفس ندی مکلف کړی؛ مګر پـــه هغه اندازه چې الله هغه لره ورکړی وي له مال نه، ژر به ښکاره کړي الله پس له سختۍ او تنګۍ څخه اساني او پراخي. (۱۲ : ۱۴۶۳)

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «... **وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**...». (۱۶ : ۸۸۶)

ژباړه: د هغوی (میرمنو) پر تا سو باندې په مـــــروجه او معروفه طریقه رزق او جامې (کالي) دي. یعنې دا د میرمنو پر تاسو حق دی.

د ذکر شوي ایت او حدیث څخه په ډاګه څرګندیږي، چې هر میړه به پخپله میرمن باندې د خپل مالي توان په اندازه مناسـبه خرڅه کوي، کـــــه څوک غریب وي د خپل غربت په اندازه او که څوک مالداره وي د خپلې مالدارتیا په اندازه.

**د میرمنې د نفقې ډولونه**

میرمن په میړه باندې د درې ډوله نفقې حق لري: خوراک او څښـاک، لباس، مسـکن (د اوسیدو ځای)، یعنې کور.

د میرمنې ذکر شـــوي حقوق الله تعالی په خپل کتاب قرآن کریم کې ذکر کړې دي، الله تعالی فرمایي: (...**وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**...). **[البقرة: ۲۳۳]**

ژباړه: او شته پر هغه چا چې ورته زیږول شوی دی ماشوم (یعنې پلار)، روزي او کالي (جامې) د دوی (میندو)، په معروفې طریقې سره. (۱۳ : ۱۹۰) یعنې د منطقې د عرف او رواج مطابق.

په بل ځای کې فرمایي: (**أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ**...). **[الطلاق: ۶]**

ژباړه: و او سوئ دا (طلاقې کړی شوې ښځې) په هغه ځای کې چې تا سې پکې او سیږئ. (۱۲ : ۱۴۶۰)

د پورتنیو آیتونو څخه دا جوتیږي، چې میرمن په میړه د درې ډوله نفقې حق لري او میړه به په دې درې ډوله نفقه کې د خپل مالي توان په اندازه خپل خرڅ کوي.

د یادونې وړ ده، چې د نفقې د کیفیت د څرنګوالي په تړاو د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف شتون لري، ځینې وایي، چې د میړه اقتصادي توان د نفقې د کیفیت لپاره معیار دی، ځینې وایي، چې د میرمن او د میرمن د پلرینې اقتصـادي توان د نفقې د کیفیت لپاره معیار دی او ځینې وایي، چې د میړه او میرمن دواړو اقتصـــادي توان د نفقې د کیفیت لپاره معیار دی؛ مګر غوره قول دادی، چې د میړه اقتصـــــادي توان د نفقې د کیفیت لپاره معیار دی، لکه څرنګه چې د الله تعالی د دې قول څخه معلومیږي: (**لِيُنْفِقْ ذُو سَـــعَةٍ مِنْ سَـــعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا**...). **[الطلاق: ۷]**

ژباړه: نو نفقه دې ورکوي خاوندان د پراخۍ له خپلو شـــتو څخه، او هغه څوک چې تنګ کړی شـــوی دی په ده باندې رزق د هغه، پس نفقه دې کوي له هغه څه نه، چې ورکړي وي الله هغه لره، الله هیڅ نفس ندی مکلف کړی مګر په هغه اندازه چې الله هغه لره ورکړی وي له مال نه. (۱۲ : ۱۴۶۳)

په ذکر شـوي آیت کې الله تعالی میړونه مخاطب کړي دي او ورته فرمایلي یې دي: چې شـتمن دې د خپلې شـــتمنۍ او غریب دې د خپل غربت په اندازه خرچه وکړي او د میرمنو اقتصـــادي وضعیت او کورنی حال یې په نظر کې نه دی نیولی.

له بل پلوه که وګورو د اسـلامي شـریعت په رڼا کې د میرمنې د نفقې مسـئولیت د میړه پر غاړه دی؛ نو باید د نفقې د کیفیت معیار هم د میړه اقتصادي توان ونیول شي او دا عادلانه نده، چې د نفقې مسئولیت دې د میړه پر غاړه وي او معیار دې ورته د میرمنې اقتصادي وضعیت په پام کې ونیول شي.

البته که د میړه اقتصـــادي توان وي، مګر په خپله میرمن او بچو باندې د اړتیا وړ خرچه نه کوي، نو میرمن کولای شـي، چې د میړه د مال څخه د هغه د اجازې پرته د ضـرورت او بسـیا په اندازه خرچه وکړي. دلیل درباندې دا لاندې حدیث دی:

**عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي، إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ، فَقَالَ: «خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ، بِالْمَعْرُوفِ».** (۶ : ۵۳۶۴)

ژباړه: د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې یقیناً د عتبة لور هندې وویل: ای د الله رسوله! یقیناً أبو سفیان یو بخیل سړی دی په هغه اندازه خرچه ماته نه راکوي، چې زما او زما د بچي کفایت او بسنه وکړي؛ مګر دا چې زه یې د هغه د مال څخه پداسې حال کې واخلم، چې هغه پوهه نه شي؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: په هغه اندازه مال ترې واخله، چې ستا او ستا د بچي بسنه کوي په معروفه طریقه.

هنده د أبو سفیان میرمن وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې د میړه څخه په پټه د میړه د مال څخه د خرچې د اخیستلو پوښتنه وکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې کولای شـــې، خو په معروفه طریقه، پدې معنی، چې زیاتي مصـــرف به نه کوې؛ بلکې د اړتیا او بسیا په اندازه به ور څخه خرچه کوې.

**د نفقې د نشتوالي له امله د ښځې او خاوند ترمنځ د قضائي تفریق حکم**

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول په اسلامي شریعت کې په میرمن باندې مناسبه خرچه کول د میړه مسـؤلیت دی او میړه به پخپله میرمن باندې د خپل مالي توان په اندازه مناسـبه خرچه کوي، مګر مشـــکل دادی، چې که چیرې میړه د توان په صـــورت کې په میرمن باندې د خرچې کولو څخه انکار وکړي او یا دا چې میړه د مالي ضعف او کمزورتیا له کبله نشي کولای پخپله میرمن

باندې خرڅه وکړي؛ نو پدې صورت کې به میرمن څه کوي؟ آیا کولای شي، چې د محکمې پر وړاندې د خپل میړه څخه د جدایي غوښتنه وکړي او که نشي کولای؟

پدې اړه د فقاوو ترمنځ دوه نظرونه شتون لري، چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کوم:

**الف – احناف:** د احنافو په آند قاضي نشي کولای، چې د میړه لخوا میرمن ته د نفقې د نه ورکولو له امله د میړه او میرمن ترمنځ جدایي راولي، پدې اړه سرخسي رحمه الله داسې وایي: (**لَمْ يُفَرَّقْ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُنَّ وَلَمْ يُجْبِرْهُ عَلَى طَلَاقِهِنَّ عِنْدَنَا**). (۹ : ۱۹۰)

ژباړه: جدایي به نه راولي قاضي د ده او د ده د میرمنو ترمنځ او د خپلو میرمنو په طلاق یې مجبورولی هم نشي زمونږ په آند.

دوی د خپل مذهب د تائید لپاره د کتاب الله، سنتو او معقول څخه لاندې دلائل وړاندې کوي:

**۱- کتاب الله** – الله تعالی فرمایي: (**لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا). [الطلاق: ۷]**

ژباړه: نو نفقه دې ورکوي خاوندان د پراخۍ له خپلو شتو څخه، او هغه څوک چې تنګ کړی شوی دی په ده باندې رزق د هغه، پس نفقه دې کوي له هغه څه نه، چې ورکړي وي الله هغه لره، الله هیڅ نفس ندی مکلف کړی مګر په هغه اندازه چې الله هغه لره ورکړی وي له مال نه، ژر به ښکاره کړي الله پس له سختۍ او تنګۍ څخه اساني او پراخي. (۱۲ : ۱۴۶۳)

له دې ایت څخه داسې معلومیږي، چې هر څوک به د خپل مالي توان په اندازه پخپله میرمن باندې خرڅه کوي او هیڅوک په هغه اندازه خرڅه کولو باندې مکلف ندی کوم څه چې الله تعالی ده ته ندي ورکړي؛ نو میړه د تنګ لاسۍ او د نفقې څخه د عاجز کیدو په صورت کې ظالم ندی. او دا چې میړه مالي توان لري او پخپله میرمن باندې د خرڅې کولو څخه انکار کوي، نو پدې صورت کې د تفریق پر ځای نورې بدیلې لارې هم شته، قاضي باید له هغې څخه کار واخلي، لکه: د میړه مال خرڅول د میرمن د نفقې لپاره او یا یې بندي کول تر هغې، چې پخپله میرمن باندې خرڅه وکړي.

**۲- سنت** – دوی د جابر رضي الله عنه په هغه اوږد حدیث استدلال کوي کوم، چې امام مسلم روایت کړی دی، په هغې حدیث کې دي، چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور ور داخل شول، نو مونده یې کړه رسول الله صلی علیه وسلم پداسې حالت کې، چې خفه او چپ وو او میرمنې یې ترڅنګ راټولې شوې وې ... بیا هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**...هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ** ». **فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا فَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلاَهُمَا يَقُولُ تَسْأَلْنَ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– مَا لَيْسَ عِنْدَهُ. فَقُلْنَ وَاللَّهِ لاَ نَسْأَلُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ...**». (۱۷ : ۱۸۷)

ژباړه: دوی زما ترخنګ راټولې شوې دي لکه څرنګه چې یې تاسو وینئ نفقه راڅخه غواړي ( د توان څخه د زیادت غوښتنه کوي )، نو ابوبکر په عائشې پسې ورپاڅیده او په مرئ، مرئ کې یې وهله او عمر په حفصې پسې او په مرئ، مرئ کې یې وهله او دواړو ویل: تاسې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه څه غوښتنه کوئ کوم څه چې له هغه صلی الله علیه وسلم سره نشته؟ نو هغوی وویل: قسم په الله چې له دې وروسته به له رسول الله صلی علیه وسلم څخه د هغه څه غوښتنه نه کوو، کوم څه چې له هغه صلی الله علیه وسلم سره نه وي؛ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغوی څخه یوه میاشت یا نهه ویشت ورځې جدا شو.

وجه د استدلال له دې حدیث څخه دا ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې میرمنې طلاقې نه کړې سره له دې چې هغوی ورڅخه د زیاتې نفقې غوښتنه کوله که څه هم یوه میاشت یې تعزیرا جلا کړې وې.

**۳- عقلي** – دوی وایي: د صحابه کرامو څخه ځینې مالداره او ځینې غریب وو؛ خو د یو نه هم د دې ادراک نه کیږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې د نفقې د نشتوالي، فقر او تنګ لاسی د لاسه د سړي او د هغې د میرمن ترمنځ جدایي راوستې وي.

**ب – جمهور:** جمهور فقهاء ( امام مالک، امام شافعي او امام احمد او داسې نور) وایي: چې د میړه لخوا میرمن ته د خرڅې نه ورکولو له امله قاضي کولای شي، چې د میړه او میرمن ترمنځ جدایي راولي، چې کله یې میرمن غوښتنه وکړي پدا سې حال کې، چې د میړه لپاره ښکاره مال نه وي، ترڅو میرمن ترینه خرڅه وکړي. (۳. ۱۴. ۱۵ : ۲۴۴. ۱۵۴. ۷۴۵)

دوی د خپل مذهب د تائید لپاره د کتاب الله، سنتو او معقول څخه لاندې دلائل وړاندې کوي:

**۱- کتاب الله** – الله تعالی فرمایي: (**...فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ...**). **[البقرة: ۲۲۹]**

ژباړه: نو بیا ساتنه د ښځو ده په معروف (ښه وجه ) سره یا پرې ښودل دي، د دې ښځو په ښه وجه سره. (۱۳ : ۱۸۴)

د دې ایت له کبله میړه مکلف دی، چې خپله میرمن له ځان سره په معروفه او نیکه طریقه وساتي او یا یې د احسان او نیکی سره پریږدي. او په دې کې شک نشته، چې د نفقې څخه پرته میرمن له ځان سره ایسارول او ساتل د معروفې او نیکې طریقې سره د ساتلو مخالف دي.

همدارنګه الله تعالی فرمایي: (**...وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا...**). **[البقرة: ۲۳۱]**

ژباړه: او مه ساتئ تاسو! دا ښځې له پاره د ضرر رسولو له جهته د دې، چې پر دوی باندې تیری وکړئ. (۱۳ : ۱۸۷)

او میرمنې له ځان سره پرته له خرڅې ساتل پر دوی باندې تیری دی.

**۲- سنت** – رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ...**». (۵ : ۵۵)

ژباړه: ځان ته به هم ضرر نه رسوې او بل ته هم. او په میرمن باندې خرڅه نه کول بل (میرمن) ته ضرر رسول دي.

**۳- عقلي دليل**– دا چې د ميړه د عيبجن کيدو له کبله قاضي کولای شي د ميړه او ميرمن ترمنځ جدايي راولي؛ نو په ميرمن باندې د خرڅچې نه کولو له امله يې په طريقه أولى کولای شي، ځکه په ميرمن باندې خرڅه نه کول د ميرمن لپاره غټ او سخت ضرر دی له دې نه چې په ميړه کې يې عيب شتون ولري.

**د لومړي قول د قائيلينو د دلائلو ځوابونه**

د لومړي دليل جواب: دوی چې په کوم ايت استدلال کړی د هغې جواب دادی، چې مونږ د ميړه د تنگ لاسی په صورت کې پر ميړه د ميرمن نفقه نه لازموو، بلکې ميرمن د ضرر څخه ژغورو. (۱۱ : ۳۸۵)

د دويم دليل جواب: دوی چې په کوم حديث استدلال کړی وو د همدغه حديث په آخر کې ذکر دي، چې ر سول الله صلى الله عليه و سلم هغوی ته اختيار ورکړی وو. په ذکر شوي حديث کې چې کومه واقعه ذکر ده له هغې وروسته الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا (۲۸) وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا). **[الأحزاب: ۲۸ – ۲۹]**

ژباړه: ای نبي ووايه ته خپلو ميرمنو ته که چېرې يئ تاسې، چې غواړئ هم دغه ژوندون د دنيا او ښائست او رونق د هغې، پس راشئ، چې څه فايده (متعه) در وره سوم تاسې ته او خوشې کړم تاسې په خوشې کولو نيکو سره او که يئ تاسې، چې اراده لرئ د الله او د رسول د دغه الله او د کور د آخرت، پس بيشکه الله تيار کړی دی د پاره د نيکی کوونکو ښځو له تاسې نه اجر ډير لوی. (۱۲ : ۶۷۳)

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل: « **يَا عَائِشَةُ إِنِّى أُرِيدُ أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لاَ تَعْجَلِى فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِى أَبَوَيْكِ** ». **قَالَتْ وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَتَلاَ عَلَيْهَا الآيَةَ قَالَتْ أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَىَّ بَلْ أَخْتَارُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لاَ تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِى قُلْتُ**. (۱۷ : ۱۸۷)

ژباړه: اې عائشې زه تاته يو وړانديز کوم، او خوښه گڼم، چې په هغې کې بيړه و نه کړې، تر څو چې دې له خپل پلار او مور سره مشوره نه وي کړي؛ نو عائشې رضي الله عنها وفرمايل: هغه کوم وړانديز دی ای د الله ر سوله! نو ر سول الله صلى الله عليه و سلم ورباندې ذکر شوی آيت تلاوت کړو، عائشې رضي الله عنها وفرمايل ستا اړوند زه د پلار او مور سره مشوره کوم ای د الله ر سوله؟! بلکې زه الله او د الله ر سول او د آخرت کور غوره کوم او تا نه دا غوښتنه کوم، چې د خپلو بيبانو څخه هيڅ يوه ميرمن په هغه څه مه خبره وه کوم څه چې ما ويلي.

د دریم دلیل جواب: د عقلي دلیل ځخه جواب دادی، چې د صحابه وو رضي الله عنهم په زمانه کې کومې میرمنې دا غوښتنه نه وه کړې.

**د جمهورو فقهاوو په آند د نفقې د نشتوالي په صورت کې د میړه او میرمن تر منځ د قضائي تفریق طریقه**

که چیرې د زوج (میړه) لپاره ښکاره مال وي، چې د هغې ځخه د نفقې د لائحې یا عرف مطابق خرچه کول ممکن وي، نو زوجه کولای شي، چې د هغې ځخه خپله نفقه اداء کړي او دا حق نلري، چې د نفقې د نشتوالي له امله د خپل میړه ځخه طلاق وغواړي، برابره خبره ده که میړه حاضر وي او که غائب، که غیابت یې نږدې وي او یا لیرې؛ ځکه هدف د میرمن، چې د نفقې حاصلول دي، په هغه ښکاره مال کې د هغې د نفقې په اداء کولو متحقق کیږي.

او که چیرې د زوج لپاره ښکاره مال نه وي، چې د میرمن نفقه په هغې کې اداء شي، نو میړه به یا حاضر وي یا غائب په نږدې یا لیرې غیابت سره، که چیرې میړه حاضر وو او میرمن یې وربانديې دا دعوی وکړه، چې بې نفقې یې پریښودې یم او داسې ښکاره مال هم نلري، چې خپله نفقه ترې اداء او پوره کړم او له دې کبله یې ترې طلاق وغوښته؛ نو که میړه یې وویل چې زه تنگ لاسی یم او میرمن یې دا تنگ لاسي رښتنې کړه یا یې رښتونې نه کړه؛ مگر میړه دا تنگ لاسي په گواهانو ثابته کړه، پدې دواړو صورتونو کې به قاضي میړه ته یوه ټاکلې د مهلت موده ورکوي، چې اندازه به یې له یوې میاشت ځخه زیات نه وي، نو که چیرې یې په دې موده کې خرچه وربانديې وکړه، نه به طلاقه کیږي او که وربانديې یې ونه کړه، نو قاضي به یې د میړه نه طلاقه کړي پخپل دې قول سره: طلقتك منه، یعنې طلاقه مې کړې له هغه نه.

او که د پراخې اعتراف یې وکړو او یا دا چې د پراخې او تنگ لاسی له پلوه یې د خپل حال د بیان ځخه ډډه وکړه او چپ پاتې شو، یا یې وویل، چې زه تنگ لا سی یم؛ مگر تنگ لا سي یې میرمن رښتنې نه کړه او نه یې هم په گواهانو ثابته کړه او پدې درې واړو حالاتو کې یې د نفقې په نه ورکولو ټینگار کاوه او میرمن یې د طلاق په غوښتلو ټینگار کاوه؛ نو قاضي به یې طلاقه کړي په هغه باندې همدغه وخت پرته د مهلت ورکولو نه.

که میړه په نږدې غیابت سره غایب وي او میرمن یې وربانديې دعوی وکړي، چې زه یې میرمن یم میړه مې راځخه غایب او زه یې د نفقې ځخه پرته پرې ښودې یم او ښکاره مال هم نلري، چې خپله نفقه ترې اداء کړم؛ نو که میرمن د خپلې دعوی ټول وقائع (حوادث) ثابت کړل، قاضي به دې غایب میړه ته یوه مناسبه موده وټاکي، که چیرې د دغې مودې په اوږدو کې یې هغه ځه راونه لیږل، چې میرمن ترې پر خپل ځان خرچه وکړي – هغه خرچه کومه، چې په میړه باندې د میرمن لپاره واجب ده - او یا داچې میرمن باندې د خرچې یا نفقې لپاره پخپله حاضر نه شي، قاضي به اړونده اداره مکلفه کوي، چې غایب میړه د دې قرار او ټاکلې مودې ځخه، چې کومه د ده لپاره ټاکل شوې ده؛ له هغې خبر کړي؛ نو که چیرې ټاکلې موده تیره شوه او وخت

راورسیده او خپلې میرمن ته یې هغه څـــه را و نه لیږل، چې میرمن ترې پخپل ځان باندې خرڅه وکړي او پخپله هم په میرمن باندې د خرڅې کولو لپاره حاضـــر نه شـــو، پداســـې حال کې چې محکمې ته دا جوته شي، چې اعلان غایب میړه ته رسیدلی دی؛ نو قاضي به یې هغه مهال د هغه نه طلاقه کړي، چې دا میرمن د طلاق په غوښتلو ټینګار کوي.

د نږدې غیابت څخه هدف دادی، چې غایب په داســـې ځای کې وي، چې د محکمې د ټاکلې مودې قرار رسیدل ورته په لنډه موده کې ممکن وي.

او که چیرې میړه په لیرې (بعید) غیابت سره غایب وي او میرمن یېورباندې دعوی وکړي، چې زه یې میرمن یم میړه مې راڅخه غایب او زه یې د نفقې څخه پرته پرې ښودې یم او ښکاره مال هم نلري، چې خپله نفقه ترې اداء کړم؛ نو کـــه میرمن د خپلې دعوی ټول وقائع (حوادث) ثابت کړل، قاضي به یې همدغه مهال د هغه نه طلاقه کړي پرته د مودې او أجل د ټاکلو نه پرته.

د لیرې غیابت څخه هدف دادی، چې د غایب د اوســیدو ځای معلوم او څرګند نه وي او یا هغه مفقود (ورک شوی) چې د مرګ او ژوند معلومات یې نه کیږي. (۷ : ۱۶۵ — ۱۶۷)

**پایله**

د دې لیکنې په اوږدو کې لاندې پایلې په لاس راغلې دي:

۱/ د ځانګړو اسـبابو او لاملونو له امله، لکه: د (نفقې څخه د میړه ناتوانایي یا انکار، په میړه کې د عیب شـــتون، د میړه ورکیدنه، د میړه غیابت، د میړه بندیتوب او بالآخره د ښـــځې او میړه ترمنځ دوامداره جنګ جګړې) د قضـــاء او محکمې په حکم په میړه باندې د میرمن د نکاح د ملکیت باطلول او د دوی ترمنځ د زوجیت اړیکه له منځه وړل، د قضائي تفریق څخه عبارت دي.

۲/ د زوجینو ترمنځ په قضـائي تفریق کې د میړه رضـایت او خوښـي شـرط نده، محکمه کولای شي، چې د میړه د ناخوښۍ په صورت کې هم د زوجینو ترمنځ تفریق واقع کړي.

۳/ د زوجینو ترمنځ په قضــــائي تفریق کې د میرمن لخوا له محکمې څخه د تفریق مطالبه او غوښتنه شرط ده.

۴/ د اسـلامي شـریعت له آنده د میرمنې نفقه د میړه مسئولیت دی او دا د میرمنې پر میړه مسـلم حق دی.

۵/ میرمن پر میړه باندې د درې ډوله نفقې حق لري: الف: خوراک او څښـــاک. ب: لباس. ج: مسکن (د اوسیدو ځای)، یعنې کور.

۶/ د نفقې د کیفیت لپاره د میړه اقتصـادي وضـعیت معیار دی، یعنې هر میړه به د خپل اقتصـادي توان په اندازه په خپله میرمن باندې خرڅه کوي، مالداره د خپلې مالدارۍ په اندازه او غریب د خپلې غریبۍ په اندازه.

۷/ میرمن کولای شي، چې د خپل میړه د مال نه د هغه د اجازې څخه پرته خپله اړتیا پوره کړي، البته په معروفې طریقې سره.

۸/ د نفقې د نشـــتوالي له امله د ښـــځې او خاوند تر منځ تفریق جائز دی، البته د میرمن مطالبه او غوښتنه ورلره شرط ده.

**وړاندیزونه**

۱/ میرمنو ته مې وړاندیز دا دی، چې د میړونو د خراب اقتصـــادي وضـــعیت له امله دې له خپلو میړونو څخه تفریق نه غواړي او صبر دې وکړي، زر دی، چې الله تعالی به په تنګسیا پسې پراخي را ولي.

۲/ میړونو ته مې وړاندیز دا دی، چې په خپلو میرمنو باندې خرچه کولو کې دې بخل نه کوي، ځکه پخپل اهل او عیال خرچه کول غوره صدقه ده.

۳/ قضـــاء او محکمې ته مې وړاندیز دا دی، چې د زوجینو تر منځ د قضـــائي تفریق د مواردو په اثبات او ثبوت کې دې غور او دقت وکړي؛ تر څو بې موجبه د ښـــځې او خاوند تر منځ تفریق واقع نه شي.

**مأخذونه**


۱. القرآن.
۲. ابن فارس، أبوالحســین أحمدبن فارس بن زکریا. (۱۳۹۰هـــــ ). معجم مقاییس اللغة. ( ط.۲). ج۴، ص۴۹۴. تحقیق: عبدالســلام محمد هارون. مصــر – شــرکة ومکتبة ومطبعة مصطفی البابي الحلبي وأولاده.
۳. ابن قدامة، أبو محمد عبد الله بن أحمد المقدســـي. (١٤٠٥). المغني لابن قدامة. (ط.١). ج٩، ص۲۴۴. لبنان- بیروت. دار الفکر.
٤. ابن منظور، جمال الدین بن محمد بن مکرم بن علی الافریقي المصـــري الانصـــاري. ( ۱۴۲۳هـ ). لسان العرب.( ط.١ ). ج۷،ص۸۳. مصر – القاهرة. دارالحدیث.
٥. امام أحمد، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسـد الشـیباني. (١٤٢١ هـ – ۲۰۰۱ م). مسـند الإمام أحمد بن حنبل. (ط.١). ج۵، ص۵۵. تحقیق: شـعیب الأرنؤوط – عادل مرشد، وآخرون. لبنان – بیروت. مؤسسة الرسالة.
٦. البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعیل. (١٤٢هـ). الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رســول الله صــلی الله علیه وســلم وســننه وأیامه = صــحیح البخاري. (ط.١). ج۷، ص۵۳۶۴. تحقیق: محمد زهیر بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة.
۷. خلاف، عبد الوهاب.(۱۳۵۷هـــــ- ۱۹۳۸م). أحکام الأحوال الشـخصـیة في الشـریعة الإسلامیة.(ط.۲).ص۱۶۵-۱۶۷. مصر – قاهره. مطبعة دار الکتب المصریة.
۸. الزُّحَيْلِيّ، وَهْبَة بن م صطفی. ( ب.ت ). الفِقْهُ الإ سلاميُّ وأدلَّتُهُ. ( ط.۴ ). ج۹، ص۶۸۶۳. سوريَّة – دمشق. دار الفكر.

٩. السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل. (١٤١٤هـــ-١٩٩٣م). المبسوط. (ب.ط). ج٥، ص١٩٠. لبنان – بيروت. دار المعرفة.
١٠. الشرنباصي، رمضان علي السيد. ( ٢٠٠٢م ). أحكام الأسرة في الشريعة الاسلامية. ( ط.١). ص٢٢٥. منشورات الحلبي الحقوقية.
١١. الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله اليمني. (١٤١٣هـــ - ١٩٩٣م). نيل الأوطار. (ط.١). ج٦، ص٣٨٥. تحقيق: عصام الدين الصبابطي. مصر. دار الحديث.
١٢. شيخ الهند، ديوبندي محمود الحسن او عثماني شبيراحمد. ژباړه: د افغانستان د سترو علماوو يو ټولگى. (ب.ت). كابلى تفسير. (ب.ط). ج٢، ص٣١٢. مجمع خادم الحرمين الشريفين. سعودي عربستان – مدينة منورة.
١٣. شيخ الهند، ديوبندي محمود الحسن او عثماني شبيراحمد. ژباړه: د افغانستان د سترو علماوو يو ټولگى. (ب.ت). كابلى تفسير. (ب.ط). جخ١، ص٢٤١. مجمع خادم الحرمين الشريفين. سعودي عربستان – مدينة منورة.
١٤. الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف. (ب.ت). المهذب في فقه الإمام الشافعي. (ب.ط). ج٣، ص١٥٤. بيروت – لبنان. دار الكتب العلمية.
١٥. الصاوي، أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، المالكي. (ب.ت). حا شية الصاوي على الشرح الصغير. (ب.ط). ج٢،ص٧٤٥. دار المعارف.
١٦. القشيري، أبو الحسن مسلم بن الحجاج النيسابوري. (ب.ت). صحيح مسلم: المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى ر سول الله صلى الله عليه و سلم. (ب.ط). ج٢، ص٨٨٦. تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي. لبنان- بيروت. دار إحياء التراث العربي.
١٧. القشيري، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري. (ب.ت). صحيح مسلم. (ب.ط). ج٤، ص١٨٧. لبنان - بيروت. دار الجيل + دار الأفاق الجديدة.
١٨. الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي. ( ١٤٠٦هـــ ). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ( ط.٢ ). ج٢، ص٣٣٠. لبنان – بيروت. دار الكتب العلمية.

# د پکتیا ولایت سیندیزه حوزه او د هغې اقتصادي ارزښت

لیکونکي: پوهنیار عصمت الله زیار، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیې څانګې استاد
پوهنیار زینت الله آرمان، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیې څانګې علمي کادر غړی
پوهنیار عبدالحفیظ سلیمانخېل، پکتیا پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، جغرافیې څانګې علمي کادر غړی
zinat.arman2023@gmoil.com

**لنډیز**
اوبه نه یوازې د ژوند لپاره حیاتي ارزښت لري؛ بلکې زموږ د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې هم کلیدي او رغنده رول لوبولی شي. که په دې برخه کې کار وکړو او خپلې اوبه سالمې مدیریت کړو، چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې له نېکمرغه پراخه شتون لري، چې په دې لړ کې یو هم د پکتیا د اوبو حوزه ده، چې له همدې امله ویلی شو، چې د پکتیا سیندیزې حوزې اوبه د بېلا بېلو سیندونو څخه سرچینه لري. درې یې مشهور سیندونه لري، یو یې جلګې سیند دی چې د مچلغو ( بورګیو ) سیمې او میرزکې ولسوالۍ څخه سرچینه اخلي، د سیدکرم، مرکز ګردېز او زرمت کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د مقر ولاړو اوبو ته تویېږي. دوهم یې د خرم سیند دی چې د میرزکې ولسوالۍ او سیدکرم ولسوالۍ له غرونو څخه سرچینه اخلي، د میرزکې، احمد خېل، لجه منګل، ځمکنیو او پټان ولسوالۍ کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د خیبر پښتونخوا سیمې ته ننوځي او دریم یې د شمل سینددی، چې د سټو کنډو څخه سرچینه اخلي، د شواک، ګرده څېړۍ، وزه ځدراڼ، نادرشاه کوټ، مندوزیو، د خوست مرکز متون، علیشېرو کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د خیبر پښتونخوا سیمې ته داخلیږي. په دغه سیندیزه حوزه کې ځینې چېکډېمونه د سیلابې حالت د کنترول او د ځمکو د تخریب د مخنیوي په موخه جوړ شوي دي او ځینې نور یې په پلان کې شتون لري، چې په جوړېدو سره به یې نورې کرنیزې ځمکې ښېرازه او خړوب شي، همدارنګه د مچلغو بند په جوړېدو سره به (۴۰۰) کیلو واټه برېښنا تولید او ۲۳۵۰ هکتاره کرنیزه ځمکه به ورڅخه خړوبه شي. په دغه څېړنیزه مقاله کې د پکتیا سیندیزې حوزې ټول سیندونه د مرسیتلانو په شمول اود هغوی څخه جلا شوي کانالونه تربحث لاندې نېول شوي دي، ددې تر څنګ په یاده حوزه کې د جوړ او پلان شویو چېکډېمونو ته کتنه شوې ده.

**کلیدي ټکي:** سیند، د اوبو سرچینې، د اوبو ظرفیت، اقتصادي ارزښت.

**سریزه**

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ و **امابعد.**

قال الله تبارک و تعالی فی کتابه الکریم: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ( الانبیاء، ۳۰)

اوبه د بېلابېلو سیمه ییزو، ملي او نړیوالو شریکانو تر منځ د یوې ګډې طبیعي سرچینې په توګه، د انسانانو لپاره یوه حیاتي ماده ده، چې سیاسي، اقتصادي او کلتوري پولې نه پېژني(قریشي، ۲۰۱۹، ۲۴۲). افغانستان کې د سلواغې میاشتې څخه تر وري میاشتې پورې شاوخوا ۵۰ سلنه اورښت کېږي، ددې اورښتونو زیاته برخه د مرکزي حوزې په غرونو باندې وي. ۳۰ سلنه اورښت د اوړي په فصل کې د غوايي میاشتې څخه د جنګاښ میاشتې پورې وریږي. په پسرلي او اوړي کې د حرارت درجه لوړیږي، په نتیجه کې یې واورې ویلې کیږي ( یوناما، ۲۰۱۶، ۳). د یادو اورښتونو او واورې ویلې کېدو په پایله کې د پکتیا سیندیزې حوزې د اوبو ډېرښت زیاتیږي، چې له امله یې سیندونه سیلابي بڼه غوره کوي، څکه چې د یادې حوزې سیندونه زیاتره په غرنیو سیمو کې بهیږي. ددې حوزې مشهور درې سیندونه دي چې عبارت له جلګې، خرم او شمل څخه دي ( تڼیوال، ۱۳۹۷، ۶۳، ۶۴ ). د نفوسو زیاتوالی د کرنې او صنعت وده، د سطحي او ځمکې لاندې اوبو د سرچینو کمښت یو له مهمو عواملو څخه دي، د ذکر شویو عواملو سره د مقابلې لپاره اغېزمنه لاره د اوبو مدیریت کول دي( مشایخي، ۱). د پکتیا سیندیزې حوزې سیندونه د بېلا بېلو سیمو څخه سرچینه اخلي، هر یو یې مرستیالان لري. دغه سیندیزه حوزه کې د اوبو ذخیره کولو لپاره چېکډیمونه جوړ شوي، چې د اوبو د ذخیره کولو ظرفیت یې ۳۷۰۰۰ متره مکعب ته رسیږي (ریاست حوزه فرعي دریایی جلګه بالایی پکتیا،۱۴۰۱، ۱۲ ). که څه هم په افغانستان کې د اوبو مدیریت ستونزې پېچلې دي، خو د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي او د اوبو لګولو په پار باید ټولنیزه ستراتیژي دا وي چې د اوبو په مدیریې باندې زیاته پانګونه وشي(Qureshi، ۲۰۰۲، ۱۸). دا چې ددې حوزې اصلي سیندونه کوم دي؟ څومره استفاده ورڅخه کیږي؟ څومره اوبه او څومره کانالونه ورڅخه جلا شوي دي؟ تر کومې کچې ددې حوزې اوبه مدیریت شوې دي؟ دا او دېته ورته د نورو پوښتنو ځوابونه په دې څېړنیزه مقاله کې موندل کیږي.

**د څېړنې مېتود:** د دې څېړنې مواد د کتابتوني او میداني ګډ مېتود له لارې له معتبرو څېړنېزو کتابونو، د ځايي خلکو سره د مرکې، مشاهدې او همدارنګه د پکتیا سیندیزې حوزې مسؤلینو څخه په لیکلي بڼه راټول شوي، وروسته توضیح او تحلیل شوي دي.

**د څېړنې موخې**

۱- د پکتیا سیندیزې حوزې پېژندل.

۲- د ذکر شوې سیندیزې حوزې اقتصادي ارزښت پېژندل.

**فرعي موخې**

۱- د سينديزې حوزې پېژندل

۲- د پکتيا سينديزې حوزې د اوبو سرچينې پېژندل.

۳- د پکتيا سينديزې حوزې د مرستيالانو او د هغوی د سرچينو پېژندل.

۴- د پکتيا سينديز حوزې مديريت شويو اوبو پېژندل.

**بنسټيز مفهومونه**

وړاندې تردې چې د پکتيا سينديزې حوزې په اړه بحث وکړو ، اړينه ده، لومړی د پکتيا ولايت، سيندونه او د هغوی له ډولونو سره آشنايي پيدا کړو:

**پکتيا ولايت:** دغه ولايت د پلازمېنې ( کابل ) څخه۱۲۰ کيلومتره ليرې د هېواد په جنوب ختيځ کې موقعيت لري. د هېواد د زونونو د تشکېل له مخې د سوېل ختيځ زون مرکز ګڼل کيږي ( اقتصاد رياست، ۱۳۹۸، ۸). پکتيا ولايت د توپوګرافيکي جوړښت له مخې ۳/۴ برخه يې غرونو نيولې ده. د ياد ولايت ټولټال مساحت ۶۴۳۲ کيلومتر مربع او د بحر له سحې څخه يې لوړوالی ۲۴۰۹ مترو ته رسيږي(رياست حوزه فرعي دريايی جلګه بالايی پکتيا،۱۰). پکتيا ولايت دشمالي عرض البلد ۳۳ درجو، ۴۳ دقيو او ۳۳ درجې ۲۷ دقيقو ترمنځ او همدارنګه د ختيځ طول البلد په ۶۹ درجو ۱ دقيقه او ۶۹ درجو، ۲۹ دقيقيو کې موقعيت لري( سليمانخېل، ۱۴۰۰، ۱۸۹).

**سيند:** سيند يوه طبيعي مجرا ده، چې اوبه پکې په دايمي يا موسمي توګه بهيږي( عدليې وزارت، ۱۳۹۴، ۱). هغه اوبه چې د تبخير، په نباتاتو او ځمکه کې د جذبېدو او نورو ضايعاتو څخه زياتې شي او په يوه ځانګړې لاره کې په حرکت راشي سيند بلل کيږي. په نړۍ کې زيات سيندونه سمندرونو ته توييږي، خو داسې سيندونه هم شتون لري، چې سمندرونو ته نه شي رسيدلی، په شګلنو صحراګانو، جهيلونو او يا جبه زارو کې توييږي. همدارنګه ويلی شو چې سيندونه معمولاً د بېلا بېلو مرستيالانو څخه منځ ته راغلي وي. د اوبو د جريان له پلوه سيندونه په درې لويو ډلو وېشل شوي دي.




شکل: ۱- د پکتیا ولایت د سیندونو نقشه

**الف- دایمي سیندونه:** هغه سیندونو ته ویل کیږي، چې د کال په اوږدو کې اوبه پکې بهیږي.
**ب- موقت سیندونه:** دا هغه سیندونه دي چې د کال په اوربښت لرونکیو موسمونو کې په حرکت راځي او په ځینو فصلونو کې وچ وي.
**ج- وچ سیندونه:** دا هغه سیندونه دي، چې یوازې په اوربښت لرونکو موسمونو کې بهیږي ولې د کال په اکثرو وختونو کې وچ وي( عزت الله، **۱۳۹۳**، ۱۳۸ – ۱۴۲ ).
لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه، پکتیا یو غرنی ولایت دی، د همدغه غرونو څخه یې بېلا بېل سیندونه سرچینې اخلي. هغه سیندونه چې د یاد ولایت په سیندیزه حوزه کې شتون لري، په لاندې ډول ښودل کیږي.
**ګردېز (جلګه ) سیند:** دا سیند د ګردېز یا جلګه په نومونو یادیږي. جلګه مسطحو او هوارو ځمکو ته ویل کیږي، همدارنګه ویلی شو، چې نوموړی سیند نسبت د پکتیا ولایت نورو سیمو ته په هوارو ځمکو کې راغلی دی، نو ځکه د جلګه په نوم نومول شوی دی ( هاشمي ګردیزی،**۱۳۹۹** ، ۶۲ ).
دغه سیند د دوه لوریو څخه سرچینه اخلي، چې یو لوری یې د احمد اباد ولسوالی مربوط د مچلغو شمال لوري ته (۱۵) کیلومتره لیرې د بورګیو شاوخوا د نظرجای، عطای، سلاواتې او زرګل غرونه دي. همدغه اوبه د مچلغو د بند په لوري خپل مسیر طی کوي، د مچلغو کرنیزو ځمکو تر خړوبولو

وروسته د سیدکرم ولسوالۍ کې د میرزکې او سیدکرم اوبو سره یو ځای کیږي(احمدي، ۱۴۰۱).
د دې سیند د پیل دوهم خانن د میرزکې څخه سرچینه اخلي( نړیوال، ۱۳۸۵، ۱۴۹).

دغه سیند سره د چپ لوري څخه د عثمان خېلو سیند یو ځای کیږي. یاد سیند د بوکر سیمې، جهاد کلي یا منځې غره شمالي اوبو او کوه سین غره څخه سرچینه اخلي، د عثمان خېلو کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د چینو کلي څخه تیریږي، د کندرخېلو سیمې ته رسیږي او د کوڼ قلعه سیمه کې د مچلغو سیند سره یو ځای کیږي. باید یادونه وشي، چې د عثمان خېلو اوبو په پرتله د کوه سین اوبه زیاتې او دایمي دي(عربزی، ۱۴۰۱). د جلگه سیند سره د چپ لوري څخه یو بل سیند، چې د گویان په نوم نومول شوی، ورسره یو ځای کیږي. دغه سیند د غمبر خولۍ غره څخه سرچینه اخلي، وروسته د مموزیو سیمې ته رسیږي، چې دلته د سمت خېلو، فتح خېلو ، کوهیگر ، خواجگان او رحمانخېلو کرنیزې ځمکې خړوبوي. د گویان سیند یو مرستیال لري، چې د شاهي کوټ سیند په نوم یادیږي. دغه سیند د ټاکور څخه سرچینه اخلي او د شاهي کوټ ځمکو تر خړوبولو وروسته د سورکي سیمې ته رسیږي. دلته د سرخ رود په سیمه کې دواړه سیندونه سره یو ځای کیږي(زرمتی، ۱۴۰۱).

د جلگې سیند د زرمت کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د یادې ولسوالۍ څخه تیریږي. ددې سیند اوبه د ژمي موسم کې زیاتې وي، په تېره بیا په پسرلي کې خورا زیاتیږي. یاد سیند د زرمت د ناوې په مخ کې د سویل لویدیځو او بیا سویل لوري ته خپل مسیر طی کوي، وروسته د مرسلې د غانبې په برخه کې د غزني ولایت د سرده له بند څخه تېر شوی او د مقر ولاړو او ډنډ اوبو ته تویيږي( تڼیوال، ۶۳، ۶۴). د جلگې سیند ټولټال اوږدوالی ۱۱۰ کېلومتره ښودل شوی دی. دغه سیند په عمومي ډول ۱۰۶۵ کیلومتر مربع ساحه احتوا کوي(ریاست حوزه فرعي دریایی جلگه بالایی پکتیا،۱۲).

**د خرم سیند:** دغه سیند په ځینو سرچینو کې د پټان سیند په نوم یادشوی دی، ذکر شوی سیند د میرزکې څخه د گردېز او ځمکنیو ولسوالۍ د عمومي سرک په اوږدو کې په ښکلې شنه دره کې بهیږي( تڼیوال، ۱۳۹۱، ۶۲). ذکر شوی سیند د مچلغو د بورگیو غرونو د شمالي او ختیځو برخو او همدارنگه د کجیر غرونو څخه سرچینه اخلي، د کړکین په سیمه کې د میرزکې اوبو سره یو ځای کیږي(ځاځی، ۱۴۰۱). دا سیند له دوه طرفونو څخه سرچینه اخلي چې یو خانن د سپین غره د لکړۍ او کټه سنگ لمنې دي( علومو اکاډمي، ۱۳۴۰، ۳۶۲). دوهم خانن یې د شیژنکونو، تیرۍ ، چینگۍ، د ازاد خوړ او سینجي خوړ یادولای شو، وروسته دواړه خاننونه د میرزکې په سیمه کې سره یو ځای کیږي(توتاخېل، ۱۴۰۱). دغه اوبه د میرزکې په ښکلې دره کې خپل مسیر طی کوي، تر څو د کړکین په سیمه کې د چپ لوري څخه یو بل سیند چې د مچلغو د بورگیو سیمي او کجیرې څخه سرچینه اخلي ورسره یو ځای کیږي او خپل مسیر د احمد خېلو ولسوالۍ په لوري لنډوي. ددې سیند سره د چپ لوري څخه د اریوب سیند یو ځای کیږي. دغه سیند د خیبر

پښتونخوا سره سرحدي سیمې کوز ګوي څخه سرچینه اخلي، چې جنوبي لوري ته یې د منهٔ هېر غر شتون لري. د کوټکي بازار سره خوا کې د ښي لوري یو مرستیال ورسره یو ځای کیږي، چې د سپینې شګې د بېلا بېلو غرونو څخه سرچینه اخلي، له دې څخه وروسته ټولې اوبه د ځدراڼو کلي په لوري خپل مسیر لنډوي. دلته یو بل سیند د سرخ ګل سیند په نوم ورسره یو ځای کیږي، دغه سیند د سپین غره څخه سرچینه نیولې ده. وروسته ټولې اوبه د لیونیو سیمې ته رسیږي، دلته د بېلووټ سیند ورسره یو ځای کیږي، نوموړی سیند د سپین غره څخه سرچینه نیسي. دغه اوبه د بیانخېل په لوري خپل مسیر لنډوي. د بیان خېل سیمه کې بل سیند د شېرختل ورسره یو ځای کیږي، ذکر شوي سیند د متونګی او لکړۍ غرونو څخه سرچینه نیولې ده، وروسته دغه سیند د جګ کوټکي سیمې ته رسیږي، چې دلته ورسره یو بل سیند یو ځای کیږي. دغه سیند کټه سنګ او قاسم خېلو سیمو څخه سرچینه اخلي. دغه ټولې اوبه د سکندرخېلو په لوري خپل مسیر لنډوي، دلته یو سیند د شکاوه په نوم ورسره یو ځای کیږي، شکاوه سیند د موتي غرونو څخه سرچینه نیولې ده. له دې ټولو اوبو سره د حسن خېل سیمه کې یو بل سیند چې د حسن خېل توی په نوم یادیږي ورسره یو ځای کیږي، دغه سیند د ځاځي اریوب کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د باغکې سیمه کې د خرم سیند سره یو ځای کیږي(ثاقب، ۱۴۰۱). د خرم سیند سره د ښي لوري یو مرستیال د لجه منګل په نوم یو ځای کیږي. دغه سیند د سپېر غونډ غره د ختیځو اوبو څخه سرچینه اخلي. یاد سیند د غورغوري، لاکې کلي، تشنک، لکړۍ، بوکر کهول او نورو .... کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د لجې خوله سیمه کې د ښي لوري څخه د خرم سیند سره یو ځای کیږي(منګل، ۱۴۰۱).

د ګبر سیند د ځدراڼو د سروټي د لوړو غرونو څخه سرچینه اخلي. یوې خوا ته یې سرچینه له لوړو غرونو ده او له بلې خوا دلته کرنیزې ځمکې وجود نه لري؛ نو دلته ورڅخه کومه استفاده نه کیږي. د لږې فاصلې تر طی کولو وروسته د وچ پیړي سیمې ته رسیږي، دلته ورڅخه کرنیزې ځمکې خړوبیږي. دغه سیند په خپل مسیر کې د ښي او چپ لوري مرستیالان لري، چې ځینې یې د منځې غره د سیند، د توند ( لوند ) پیړي، د کوه سین خولې توی، د سوړه لادور سیند ( توی )، د مارپرون سیند، د کهو خولې سیند څخه عبارت دي. د ګبر درې سیند دایمي اوبه لري؛ په دغه دره باندې د ژمي په موسم کې زیاته واوره وریږي، چې د همدغه سیند سرچینې تشکیلوي. یاد سیند په یوه تنګه دره کې بهیږي، د برېښنا بندونو جوړولو لپاره وړ او مناسب ځایونه لري. دغه سیند د جاني خېلو ولسوالۍ د مختلفو کلیو ځمکې خړوبوي تر څو د یادې ولسوالۍ له مرکز څخه تیر شي. د جاني خېلو ولسوالۍ تر تېرېدو وروسته دغه سیند د ځمکنیو ولسوالۍ ته داخلیږي، چې دلته د خرم سیند سره یو ځای کیږي( زیار، ۱۳۹۷، ۳۸ – ۴۲ ).


د خرم سیند سره د ښي لوري څخه یو بل سیند چې د مقبلو سیند په نوم یادیږي یو ځای کیږي. ذکر شوی سیند د نري مقبلو او سپېره ونې څخه سرچینه اخلي. د مقبلو کرنیزو ځمکو تر خړوبولو

وروسته، د ډنډ حسن خېل، مټورخ، کګینه سیمو څخه تیریږي د لنډۍ کلي پشې خوړه کې د خرم سیند سره یو ځای کیږي. د خرم سیند سره د ښي لوري څخه د منګیاړ په نوم سیند یو ځای کیږي، چې د ډنډانګ څېري څخه سرچینه اخلي، د منګیاړ کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د عالم کلي ته ننوځي، همدلته د خرم له عمومي سیند سره یو ځای کیږي. همدارنګه د خرم سیند سره د چپ لوري څخه د ګرامي شګې په نوم یو سیند یو ځای کیږي. ددې سیند سرچینه د منډه هېر غره د جنوبي ځوړیو څخه پیل کیږي، وروسته د ګرامي مقبلو څخه تیریږي د ځمکنیو سترکلي سیمه کې د خرم سیند سره یو ځای کیږي(ثاقب، ۱۴۰۱).

پټان سیمې ته په رسیدو سره یې نوم هم د پټان په سیند باندې تبدیل شي. دغه سیند خیبرپښتونخوا سیمې ته تر داخلیدو وروسته د ټل او بنو سیمو ترمنځ د کورمې سیند سره یو ځای کیږي. له یوې خوا دغه سیند دایمي اوبه لري او له بله پلوه په تنګه دره کې بهیږي چې په ډېرې اسانۍ سره درباندې د برېښنا بندونه جوړېدای شي(تنیوال، ۱۳۹۱، ۶۲). په عمومي ډول ذکرش یو سیند ټولټال ۱۹۱۵ کیلومتره مرع ځمکه په خپله غېږه کې رانغاړلې ده(ریاست حوزه فرعي دریایی جلګه بالایی پکتیا،۴).

**شمل ( توی ) سیند:** د شمل سیند چې د خوست توی په نوم یادیږي، د سلیمان غرونو د سلسلو څخه یعنې د پکتیا ولایت سټو کنډو، خدي کنډو جنوبي لمنو څخه سرچینه اخلي. دلته د زیاتو نهرونو اوبه سره یو ځای کیږي او د شواک ولسوالۍ په طرف بهیږي( تنیوال، ۱۳۹۱، ۶۱). کله چې د شواک له ولسوالۍ څخه تېر شي، نو دلته د چپ طرف څخه یو بل سیند چې د ګردې څېړۍ د فرشې په نوم یادیږي ورسره یو ځای کیږي، له دې څخه وروسته د ګردې څېړۍ ولسوالۍ تیریږي او جنوب لوري ته بهیږي، دلته ور سره د وړو وړو غرونو نهرونه یو ځای کیږي، تر څو د میراجان دوکانونو ته ورسیږي، دلته د ښي لوري څخه فخري او کوریزې سیند ورسره یو ځای کیږي، یاد سیند د د نري غره، لغړ غره، چې د شمال څخه جنوب خواته غزیدلی دی سرچینه اخلي، د کوریزې کرنیزو ځمکو تر خړوبولو وروسته د پړانګې او کړېګي سیمې ته په رسیدو د فخري سیند ورسره یو ځای کیږي، یو بل سیند چې د سرانې سیند په نوم یادیږي د مچخړن غره، لوی میله غره څخه سرچینه اخلي، در وړ ته په رسیدو سره د فخري او کوریزې اوبو سره یو ځای کیږي( زیار، ۱۳۹۷، ۲۰). د شمل سیند سره د ښي لوري د غورکې خولې سیند یو ځای کیږي، ذکر شوی سیند د پکتیا ولایت د شواک ولسوالۍ اړوند د شیخ مالي کنډو څخه سرچینه نیولې ده ، چې په دغه سیمه کې یاد سیند د ګړوبي سیند په نوم یادیږي. یاد سیند د غورکې خولې په لوري خپل مسیر طی کوي، د غورکې خولې سیمه کې د شمل توی سره یو ځای کیږي او مخ په جنوب بهیږي(کامل خان، ۱۴۰۱). ددې ترڅنګ د یاد سیند سره د ښي لوري څخه د سید خېلو سیمه کې د میتي سیند چې د دیرکي کنډو څخه سرچینه نیولې یو ځای کیږي. دتنګي لوی سیند د پکتیکا ولایت د نکې ولسوالۍ اړوند د وړیاخېلو غرونو څخه سرچینه اخلي. دغه سیند ځینې مرستیلان

لري، چې منځکي سیند، کایښام سیند، خیان، غورمې، رو زو، تیر مانده، ږلی، سور کابښ، بالمښت، شینکۍ په نومونو یادیږي، وروسته د شمل د عمومي توی سره یو ځای کیږي، له همدې امله یاده سیمه د دوه مونده په نوم یادیږي( زیار، ۱۳۹۷، ۲۳ – ۲۷ ). د شمل سیند د چپ لوري مرستیال چې د منګلو موسی خېلو سیند په نوم یادیږي ورسره یو ځای کیږي. یاد سیند د وچ لادور او توند لادور کنډ وونو د لوړو غرونو د ښکلو شنو درو چې په زیاته اندازه جلغوزي، نښتر او لمنځې لري، سرچینه اخلي. دغه سیند زیات مرستیالان لري، چې ځینې یې له: پاړوخېلو، ناری میتی، شاخل، خواشمند، غازنې، غوجیر لاستي، چښتون، میشتې دره، مل، مزاري دره، نیکوړي، قلندر درې، د غوایبې سیند څخه عبارت دی. پورته یاد شوی سیند د لکڼو مربوط د ملایانو کلي سیمه کې د شمل د لوی سیند سره یو ځای کیږي. د موسی خېلو سیند دایمي اوبه لري، د بندونو د جوړېدو لپاره مناسب ځایونه لري، چې په کم مصرف ورباندې د برېښنا او د اوبو ذخیروي بندونه جوړېدای شي، همدارنګه د سړو اوبو سیمه کې د پخواني جمهور رئیس داود خان د واکمنۍ د وخت نښې اوس هم ترسترګو کیږي، چې د بند جوړلو پلان یې درلوده(منګل، ۱۴۰۱).




شکل:۲– د کابل اصلي او د شمل فرعي حوزو نقشه

د شمل سیند سره د چپ لوري یو بل مرستیال د علیشېرو توی په نوم یادیږي یو ځای کیږي. دا سیند د پکتیا ولایت د جاني خیلو د لوړو غرونو، د غونځۍ منګلو د غرونو څخه سرچینه اخلي. د یاد سیند سره په خپل مسیر کې ځینې مرستیالان یو ځای کیږي، چې د ستکیو، زړین، اسکندرې، الګډې، بیداد کوټکي، سروي پآڼ، زمبر، ابوخېلو او موچۍ څخه یادونه کولای شو. هارون خېلو

ته په رسیدو سره د شمل له سیند سره یو ځای کیږي. دغه سیند په خپل مسیر کې زیاتې کرنیزې ځمکې خړوبوي او باید ووایو چې د علیشېرو سیند دایمي اوبه لري چې له امله یې د شمل سیند د اوبو ډېرښت زیاتیږي( زیار، ۱۳۹۷، ۳۵ – ۳۸ ). څرنګه چې د یاد سیند اوږدوالی زیات دی نو په خپل مسیر کې ډېرې کرنیزې ځمکې ورڅخه خړوبیږي او بالاخره د خوست ولایت څخه خیبر پښتونخوا ته داخلیږي، د بنو ښار په شمال لوري کې د کورمې سیند سره یو ځای کیږي( تڼیوال، ۱۳۹۱، ۶۲). د شمل سیند ټولټال (۷۵۰) کیلومتر مربع ځمکه احتوا کوي. په عمومي ډول د پکتیا ولایت سیندیزه حوزه کې درې لوی سیندونه شامل دي، په کلني ډول یې د اوبو لوړ حد یې $m^3/sec$ ۲۴۹ ، ټیټ حد یې $m^3/sec$ ۴،۲۹ او په منځنی کچه $m^3/sec$ ۸،۶۸ شاوخوا ښودل شوی ده(ریاست حوزه فرعي دریایی جلگه بالایی پکتیا،۱۱، ۱۳ ).

**د اوبو کانالونه**

معمولاً د اوبو سرچینې له دوه برخو څخه جوړې شوې دي، چې یو یې د ځمکې سر اوبه او بل یې د ځمکې داخلي اوبه یادولای شو. د ځمکې سر اوبو کې د افغانستان لویو سیندونو څخه یادونه کوو او داخلي اوبه یې د کاریزونو، چینو او څاه ګانو څخه عبارت دي( باب روټ،۱۳۸۷، ۵، ۷ ). د پکتیا اوبیزه حوزه کې د ځمکې سر اوبه په درې لویو سیندونو کې ښودل شوې دي. ددې حوزې د سیندونو څخه په بېلا بېلو سیمو کې کانالونه جدا شوي دي. ویلی شو چې د جلګې سیند څخه یې ټولټال ۴۶ کانالونه بېل شوي، چې اکثره یې په محلي ډول جوړ شوي دي، له دې جملې څخه یې دوه کانالونه د بېلګې په ډول یادوو، چې یو یې د مستطیل او بل یې د ذوذونقه په ډول جوړښت لري. ددې سیند څخه بېل شوي کانالونه د بېلا بېلو ارتفاعاتو درلودونکي دي، لوړ ارتفاع لرونکی کانال یې ۱،۸ متره لوړوالی او د دغو کانالونو له جملې څخه زیات پراخوالی لرونکی کانال د ۵،۱ مترو پورې رسیږي. د جلګې سیند د اوبو جریان په درې بېلا بېلو برخو وېشل شوی دی چې له دې جملې څخه یې هفته وار جریان ۱۰۰۴۵۷۲۸، میاشتنی جریان ۴۳۰۵۳۱۲۰ او کلنی جریان یې له ۲۵۸۳۱۸۷۲۰ متر مکعب پر سیکنډ سره مساوي دی.

یاده حوزه کې د شمل سیند څخه ۱۹ کانالونه بېل شوي دي، لوړ ارتفاع لرونکی کانال ۱،۳ متره د علمي محمد کانال په نوم یادیږي، لوی عرض لرونکی کانال یې د د میتیا خېل کانال دې چې ۱ متر عرض لري. ددې سیند د اوبو هفته وار جریان۲۷۸۲۰۸۰، میاشتنی جریان ۱۱۹۲۳۲۰۰ او کلنی جریان ۷۱۵۳۹۲۰۰ متر مکعب پر سیکنډ سره برابر دی.

د پکتیا ولایت اوبیزې حوزې دریم یعنې خرم سیند څخه ۴۶ کانالونه په بېلا بېلو سیمو کې بېل شویدي چې تر ټولو لوړ ارتفاع لرونکی کانال د سلتک سیمه کې دی، لوړوالی یې ۱،۵ مترو او عرض یې ۱،۳ متره ښودل شوی دی. ددې تر څنګ د عرض له مخې لوی کانال د برې ډنډې په نوم یادیږي، پلنوالی یې ۱،۴ متره دی. د ذکر شوي شوي سیند د اوبو هفته وار جریان ۱۳۰۶۹۷۲۸، میاشتنی جریان ۵۶۰۱۳۱۲۰ او کلنی جریان۳۳۶۰۷۸۷۲۰ مترمکعب پر سیکنډ ښودل شوی دی.

د پورته حساب له مخې د یادې حوزې اوبو هفته وار جریان د ۲۵۸۹۷۵۳۶ متر مکعب په سیکنډ، میاشتنی جریان ۱۱۰۹۸۹۴۴۰ متر مکعب په سیکنډ او کلنی جریان یې د ۶۶۵۹۳۶۶۴۰ متره مکعب پر سیکنډ سره مساوي کیږي(ریاست حوزه فرعي دریایی جلگه بالایی پکتیا،۲۴ – ۲۶ ).

**چېکډېمونه**

د پکتیا ولایت سیندیزې حوزې د اوبو مدیریت په پار ځینې چېکډېمونه جوړ شوي او ځینې یې په پلان کې شامل دي. هغه چېکډېمونه چې په یاده حوزه باندې جوړ شوي دي، په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو: ۱- دوه چېکډېمونه د تېرې کوتل سیمه کې د گردېز په عمومي سرک د تیرې کوتل چپ لوري ته موقعیت لري، د دواړو چېکډېمونو د اوبو د ذخیرې اندازه تر ۲۰۰۰ متر مکعب پورې رسیږي. ۲- دوه چېکډیمونه د تېرې د لېوانو سیمه کې چې د چراغ ژورې په نوم یادیږي جوړ شوي دی، ددې دواړو ظرفیت ۱۲۰۰۰ متر مکعب ښودل شوی دی. ۳- یو چېک ډېم داحمد اباد ولسوالی په شنه ژوره کې جوړ شوی دی چې د اوبو د ذخېره کولو ظرفیت یې ۷۰۰۰ متر مکعب ته رسیږي. ۴- دوه چېکډیمونه د بنوزیو سیمه کې د خوست او گردېز عمومي سرک په غاړه جوړ شوي دي، چې د دواړو د ذخیرې ظرفیت ۱۵۰۰۰ متره مکعب ته رسیږي. باید یادونه وشي، چې د یاد چېکډېم یوه څنډه تخریب شوې ده. ۵- یو چېکډېم شواک ولسوالی کې جوړ شوی دی چې د عرب خېلو چېکډېم په نوم یادیږي، ددې ډېم د ذخیرې ظرفیت ۱۰۰۰ متره مکعب ته رسیږي(سلطان شاه، ۱۴۰۱).

**د پکتیا سیندیزې حوزې اقتصادی ارزښت**

د افغانستان په پرمختگ او د خلکو په هوساینه کې د اوبو اهمیت له مبالغې لیرې خبره ده. د ملگرو ملتونو د خوړو او کرنې اداره (اف اې او ) په دې نظره ده، چې اوبه د افغانستان لپاره په دودیز ډول د کرنې سره کلکې اړیکې لري. کرنه د هېواد اصلي اقتصادي محرکونو څخه شمېرل کیږي. څېړنې په گوته کوي چې د افغانستان کابو ۸۰ سلنه وگړي خپلې اړتیاوې د کرنې له سکتور څخه پوره کوي( یوناما، ۲۰۱۶، ۳). دا چې د پکتیا په سیندیزه حوزه کې درې لوی سیندونه شاملیږي؛ نو ویلی شو، چې د یادو سیندونو څخه ټولې هغه کرنیزې ځمکې چې دوی او یا یې مرستیلان ورڅخه تیریږي، خړوبوي، د بلېگې په توگه د شمل توی څخه د شواک ولسوالی مربوط کرنیزې ځمکې، د گردې څیړی کرنیزې ځمکې او همدارنگه د خوست ولایت د نادر شاه کوټ ولسوالی، مندوزیو ولسوالی، مرکز متون، علیشېرو ولسوالی کرنیزې ځمکې خړوبیږي( زیار، ۱۳۹۷، ۲۰-۱۹). د جلگې سیند څخه د پکتیا ولایت په بېلا بېلو سیمو کې کرنیزې ځمکې خړوبیږي(اقبال، ۱۴۰۱). خرم سیند د پکتیا اوبیزې حوزې دایمي اوبه لرونکی سیند دی، ددغه سیند اوبه په یوه داسې ښکلې او زړه راښکونکې دره کې بهیږي چې په ځینو ځایونو کې تنگې دي؛ ځکه نو د بریښنا د تولید په موخه پر هغه باندې د بند جوړول ډېر اسان او په لږ لگښت سره کیږي( تنیوال، ۱۳۹۷، ۶۳).

ددې ترڅنګ د پکتیا ولایت مرکز په شمول په ولسوالیو کې چېکډېمونه په پلان کې شتون لري. معمولاً هغه سیمې، چې چېکډیمونه ورته پلان شوي دي؛ خو لا تر اوسه ورباندې جوړ شوي نه دي کرنیزې ځمکې یې ټولټال ۸۰۱۰۰ هکتاره ته رسیږي. د پلان شویو چېکډېمونو وروسته د خړوبه ځمکو اندازه تر ۱۲۲۷۰۰ هکتاره لوړیږي. د دواړو رقمونو تر منځ توپیر ۴۲۶۰۰ هکتاره کیږي، چې دا زیاتوالی د پکتیا په اقتصاد کې رغنده رول لري. د مچلغو بند د مرکز ګردیز څخه ۲۷ کیلومتره لیرې د احمد آبا ولسوالۍ کې موقعیت لري. ذکر شوی بند د ۵،۲۸ میلیون متر مکعب اوبو ذخیره کولو حجم لري، له دې بند څخه دوه کانالونه چې یو یې د ښي لوري چې ټول ټال ۷،۵ کیلومتره اوږدوالی او بل یې د چپ لوري چې ۱۲،۰۹۰ کیلومتره اوږدوالی لري. له ذکر شویو کانالونو څخه ۲۳۵۰ هکتار کرنیزه ځمکه خړوبیږي. ددې تر څنګ یاد بند په اوس وخت کې د ۴۰۰ کیلو واټه برېښنا تولید ظرفیت لري، چې په راتلونکي کې شاید تر یو مېګا واټه پورې ورسیږي. د پورته بندونو او چېکډېمونو په جوړېدو سره به د پکتیاوالو اقتصادي حالت او د ژوند په کچه کې د پام وړ بدلون راشي(سلطان شاه، ۱۴۰۱).

**پایله**

ددې څېړنې له ارزونې څخه دې پایلې ته رسیږو، چې دغه سیندیزه حوزه له خرم، جلګه او شمل سیند څخه جوړه شوې ده. ددې حوزې د اوبو سرچینې د بېلابېلو غرونو د اورښتونو او ځینو ځایونو کې له چینو څخه عبارت ده. د جلګې سیند ټولټال ۱۱۰ کېلومتره اوږدوالی لري، خرم سیند یې ټولټال ۱۲۲ کیلو متره اوږدوالي په لرلو سره دایمي اوبه د برېښنا بندونو جوړولو لپاره مناسب ځایونه لري. ددې حوزې اوبه د پسرلي موسم کې زیاتیږي، ځکه له یوې خوا پسرلني اورښتونه کیږي او له بلې خوا واورې ویلې کیږي. د جلګې سیند باندې د مچلغو سیمه کې د برېښنا بند جوړولو چارې څو ځله پېل شوې خو متاسفانه تر اوسه پورې ورباندې بند تکمل نه شو، د بند جوړول ددې باعث کیږي، چې د پکتیا ولایت د بېلا بېلو سیمو کرنیزې ځمکې خړوب او تر څنګ یې د نوموړي ولایت لپاره کافي برېښنا رامنځته کړي. د پکتیا ولایت په سیندیزه حوزه باندې تر دې دمه اته بېلا بېلو چېکډیمونه جوړ شوي دي چې د اوبو ذخیره کولو ظرفیت یې ۳۷۰۰۰ متر مکعب ښودل شوی دی، ددې ترڅنګ د یادې حوزې د سیندونو څخه په مجموعي ډول ۱۱۱ کانالونه بېل شوي دي. د پکتیا ولایت د سیدیزې حوزې د اوبو هفته وار جریان ۲۵۸۹۷۵۳۶ دی، میاشتنی جریان یې ۱۱۰۹۸۹۴۴۰ ښودل شوی دی او د اوبو کلنی جریان یې له ۶۶۵۹۳۶۶۴۰ سره برابر دی. ددې حوزې د ریاست له لوري ځینې چېکډېمونه پلان شوي دي چې په جوړېدو سره به یې د ۴۲۶۰۰ هکتاره زیاتې ځمکې ته اوبه ورسیږي. د مچلغو بند په جوړېدو سره ۵،۲۸ ملیون متر مکعب اوبه ذخیزه کیږي، چې له دې اوبو څخه ۲۳۵۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبیږي او ورسره د ۴۰۰ کیلو واټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

**سرچينې**

۱- احمدي، شېرپاو.(۱۴۰۱/ ۱۱/ ۱۶). جلگې سيند سرچينه.( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۲- اقبال.(۱۴۰۱ / ۱۱/ ۲۰). د جلگې سيند کرنيزو ځمکو خړوب. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۳- باب روټ.(۱۳۸۷). په افغانستان کې د اوبو لګولو د سيستمونو ډولونه.د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.
۴- تنيوال، محمد ظريف. (۱۳۹۱). د افغانستان عمومي جغرافيه.جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.
۵- توتاخېل، سيدو.(۱۹/۱۱/۱۴۰۱). خرم سيند سرچينه. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۶- ثاقب، عبدالغفور.(۱۴۰۱ / ۱۱/ ۱۷). اريوب سيندونه. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۷- ځاځی، جنت گل.(۱۴۰۱/ ۱۱/ ۱۹) . خرم سيند مرستيال ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۸- د افغانستان علومو اکاډمی. (۱۳۴۰ل ). د افغانستان جغرافيايي قاموس ۱ جلد اريانا دايره المعارف ټولنه.
۹- د پکتيا ولايت د اقتصاد رياست. (۱۳۹۸). د پکتيا ولايت پروفايل. د افغانستان اسلامي جمهوريت اقتصاد وزارت.
۱۰- رياست حوزه فرعي دريايی جلگه بالايی پکتيا. ( ؟ ). کتاب معلوماتی کوچک حوزه فرعي دريايی جلگه بالايی پکتيا.رياست عمومی حوزه درېايی کابل
۱۱- زرمتی، حقمل.(۱۴۰۱ / ۱۱/ ۱۷).گويان سيند.( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۱۲- زيار، عصمت الله. (۱۳۹۷). د خوست ولايت منطقوي جغرافيه. د پوهنيار رتبې لپاره علمي اثر.
۱۳- سلطان شاه. (۱۴۰۱/ ۱۱/ ۱۷). چپکډيمونه. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۱۴- سليمانخېل، عبدالحفيظ.(۱۴۰۰). ژورناليزم ( مجله ی علمی پوهنځی ارتباطات و ژورناليزم)، ۴۷، ۱۸۹).
۱۵- عدليې وزارت، (۱۳۹۴). د اوبو د سرچينو او د آبي تاسيساتو د تل ( بستر) او حريم مقرره. پرله پسې نمبر ۱۱۸۷.
۱۶- عربزی، محمدگل.(۱۴۰۱ / ۱۱/ ۱۶).عثمانخېلو، جهاد کلي سيند.( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۱۷- عزت الله.(۱۳۹۳). جيومورفولوژي. جلال آباد: اصلاح افکار کتابپلورنځی، اسحق زی مارکېټ.
۱۸- کامل خان.(۱۴۰۱ / ۱۰/ ۲۱).گروبې سيند. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زيار).
۱۹- قريشي، سيده زهرا.حجت ميان آبادی.مسعود موسوي شفانی. (۲۰۱۹). نقش قدرت در ديپلماسي آب. Volume 15, No 2، تحقيقات منابع آب ايران.
۲۰- مشايخي، سجاد. شهاب عراقي نژاد. فرشته مدرسی.کيومرث ابراهيمي. مديريت يکپارچه منابع آب راهکاری برای گذر از بحران کم آبی. دانشگاه تهران.

۲۱- منگل، گل ولي.(۱۴۰۱ / ۱۱/ ۱۷ ). موسی خېل منگل سیند. ( مرکه کوونکی: عصمت الله زیار).

۲۲- نړیوال، رازقي.(۱۳۸۵). د هیواد لروغنیو ښارونه او د تاریخ پاڼې.کابل: بنگاه انتشارات و مطبعه میوند، جوار ریاست فرامیسی، مقابل لیسه عالی افغان ترک.

۲۳- هاشمي گردیزی، سید علي اغا. (۱۳۹۹). سیمای گردېز در آینه تاریخ و فرهنگ. ناشر مولف.

۲۴- هلال، شادیم خان.(۱۴۰۰). د پکتیا ولایت په کچه د سیلابونو تگ لوري موقعیت او GPS Points، پکتیا ولایت پېښو پر وړاندې مبارزې او چمتووالي ریاست.

۲۵- یوناما. (۲۰۱۶). د اوبو حقوق ( د افغانستان پر کرنیزو اوبو د حاکم قانوني چوکاټ ارزونه). په افغانستان کې د ملگرو ملتونو سازمان د مرستې ماموریت یوناما – د قانون حاکمیت څانگه.

26- Qureshi, A. S. (2002). *Water Resources Management in Afghanistan: The Issues and Options.* Pakistan Series No 49.

# د بيع سلم پر اساس د تمويل څرنگوالی

نصرالله سعود نيازی
برېښناليک: nasrullahsaudniazi@gma.com

**لنډيز**
په اسلامي شريعت کې د بيعې لپاره مختلف تړونونه وجود لري، چې د هغو له جملې څخه يو هم بيع سلم دی. سلم هغه بيعه او سودا ده، چې مشتري د توکو پيسې نقدي ورکوي؛ خو بايع مبيعه وروسته په ټاکلې موده کې ورکوي. پر دې اساس د بيعې په عقدونو کې بيع سلم يو استثنايي عقد دی، ځکه په هره بيعه کې بايد درې شرايطه وجود ولري، يعنې توکي بايد موجود وي، د پلورونکي په ملکيت کې وي او همدارنگه د پلورونکي په قبضه کې وي؛ خو دغه ټول شرايط په بيع سلم کې نه دي موجود. په بيع سلم کې بايد يو لړ ځانگړي شرايط موجود شي ترڅو بيع سلم صورت ونيسي، لکه دا چې مشتري بايد د تړون پرمهال د توکو مکمل قيمت اداء کړي، سلم به په هغو توکو کې وي چې کيفيت او کميت يې مخکې له مخکې د ټاکل کېدو وړ وي؛ خو ستونزه دا ده، چې کيفيت او کميت په اړه يې وروسته اختلاف پيدا کيږي او طرفينو ترمنځ د منازعې سبب کيږي؛ نو دې پايلې ته رسيږو، چې د بيع سلم پر اساس تمويل دا دی، چې بايع به په دې مطمينوي چې توکي د تضمين د ژمنې په نتيجه کې په مقابل طرف وپلوري، توليدوونکی له پور اخېستلو پرته د فعاليت لپاره تمويل ترلاسه کوي او هم يې فوري اړتيا بې له قرض او سود اخېستلو څخه پوره کوي، بل دا چې د کروندهگر د محصولاتو او د توليدوونکي د توليداتو لپاره مخکې له مخکې د بازار موندنې زمينه مساعده وي.

**کليدي کليمې:** بيعه، تمويل، سلم ، مشروعيت. قبض

**سريزه**

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وکفا والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفى امابعد:

څرنگه، چې په اسلام کې سود حرام دی؛ نو موږ بايد د تمويلولو داسې لارې پيداکړو، چې له سود څخه پاکې وي. له نيکمرغه ډېرې داسې اسلامي لارې شته، چې له سوده پاکې او د گټې و تاوان د شريکولو پر بنياد ولاړې دي، لکه مضاربت، مشارکت، بيع سلم، بيع موجل، مزارعه، استصناع؛ خوربا يا سود په اسلام کې حرام دی. سلم په اسلامي اقتصاد او د اسلامي بانکونو په راکړه او ورکړه کې د مختلفو مالي اړتياوو د انعطاف او ځواب ويلو لپاره د لنډمهاله، منځمهاله يا اوږدمهاله تمويل يوه ډېره اغيزمنه وسيله گڼل. له بيع سلم څخه په مختلفو سکتورونو او اقتصادي فعاليتونو کې استفاده کيږي. که څه هم له بيع سلم څخه استفاده کول په پيل کې په زراعتي برخه کې وه او په نورو اقتصادي برخو کې يې د کارولو امکان تر ډېره موجود نه و؛ خو اسلامي بانکونو

وکولای شول چې د سوداګریزو او صنعتي فعالیتونو د تمویل لپاره له بیع سلم څخه د استفادې زمینه رامنځته کړي، ترڅو بزګرو، تولیدونکو، صنعتکارانو، قراردادیانو یا سوداګرو ته د خامو موادو د پېرودلو لپاره اړین فنډونه چمتو کړي. د دې بیعې اصلي هدف د کوچنیو کرونده‌ګرو د اړتیاوو پوره کول وو چې هغوی د فصل کرلو او د فصل تر رېبلو پورې د خپلې کورنۍ نفقې ترلاسه کولې، ځکه نو هغوی ته اجازه ورکړل شوه، چې خپل کرنیز محصولات د پېشکي قیمت په بدل کې وپلوري او خپله سوداګري په اسانۍ روانه وساتي. له سلم څخه پلورنکي ته هم ګټه رسېده، ځکه قیمت به یې مخکې له مخکې ترلاسه کړ او پېرونکي ته هم ګټه رسېده، ځکه چې په سلم کې به قیمت د نقدې راکړې و ورکړې په نسبت کم و.

**د موضوع موخې**

د څېړنې موخه د بیع سلم پېژندل، د هغه کیفیت او مشروعیت پېژندل او همدارنګه د تمویل اړخونه روښانه کول دي؛ ترڅو طرفین په دې مطمئن شي چې د بیع سلم پر اساس څنګه تمویل صورت نیسي او څرنګه د نورو طریقو په نسبت د اړتیاو د سمدسي رفع کولو لپاره غوره طریقه ده؟

**د موضوع اهمیت**

په دې مقاله کې ما د بیع سلم په شرایطو، مشروعیت او تمویل باندې هر اړخیز بحث کړي دی چې له کرونده ګرو او تولیدونکو سره به مرسته وکړي تر څو د سود او قرض یوه ښه بدیل په توګه ترې استفاده وکړي او خپله سوداګري پرې په اسانۍ روانه وساتي.

**د لیکنې کړنلاره**

د دغې لیکنې مواد مې له معتبرو علمي کتابونو څخه د کتابتوني تحقیق په بڼه راټول کړي دي، په شکلي لحاظ مې پکې د څېړنې ټول معیارونه په بشپړ دول رعایت کړي دي.

**بیع سلم**

سلم یوه بیعه ده، چې د هغې له لارې پلورونکي دا ذمه‌واري مني چې هغه به په راتلونکې نېټه مشخص توکي پېرونکي ته تسلیموي او په بدل کې به یې د هغه توکي بشپړ قیمت د همدې بیعې پر مهال مخکې له مخکې ترې اخلي. دلته قیمت نقد تادیه کېږي؛ خود مبیع(پلورل کېدونکي توکي) تسلیمي مؤجله او ځنډنۍ ده. پېرونکي ته (رب السلم ) پلورونکي ته (مسلم الیه) او پلورل شوي توکي ته (مسلم فیه) وایي. بیع سلم له خاصو شرطونو سره سم په اسلامي شریعت کې جواز لري. د دې بیعې اصلي هدف د کوچنیو کرونده‌ګرو د اړتیاوو پوره کول وو چې هغوی د فصل کرلو او د فصل تر رېبلو پورې د خپلې کورنۍ د نفقې ترلاسه کولې، ځکه نو هغوی ته اجازه ورکړل شوه، چې خپل کرنیز محصولات د پېشکي قیمت په بدل کې وپلوري. (۳: ۲۰۰). بیع سلم

له هغه عقد څخه عبارت دی، چې اورږد مهاله مبیعه د حال ثمن په مقابل کې وپېرل شي. (۴۵۳:۵).
سلم د بیعې په څېر په ایجاب او قبول منعقد کېږي.(۳۶۵:۴).

**د بیع سلم مشروعیت**

د بیعه سلم په اړه شته اجازه له دې عامې قاعدې څخه یوه استثناء ده، چې له مخې یې راتلونکې ته منسوبه بیعه ناروا ده. په دې اړه الله سبحانه وتعالی فرمايي: [ یا أیها الذین امنوا إذا تداینتم بدین إلی أجل مسمی فاکتبوه]. ژباړه : ای مؤمنانو ! کله چې تر ټاکلې نېټې پورې د قرض او پور معامله کوئ، نو تاسې هغه ولیکئ.(۷۹:۱). او بل دلیل دغه حدیث شریف دی چې: عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال! من اسلف فی شی فلیسلف فی کیل معلوم و وزن معلوم الی اجل معلوم.( ۲۲۴۰:۲) ژباړه: ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي! څوک چې په یوه شي کې د سلف یا سلم (معامله) تر سره کوي، نو هغه به په معلومه پیمانه، معلوم وزن او معلومه نېټه تر سره کوي. سلم بیع دبایع اومشتري دواړو د آسانتیا دپاره جایزه شوی ده. سلم بیع په هر هغه شي کې جایزه ده چې د هغه صفت او څرندوالی په ژبه او قلم سره بیان کړل شي.(۹۸:۶).

**د بیع سلم ارکان**

د بیع سلم یو لړ ارکان لري که چېرته یو له دغو ارکانو څخه نه وي، بیع سلم نه رامنځته کېږي او دغه ارکان یې په لاندې ډول دي:

الف) عاقدین: د سلم څښتن(مشتري)(مسلم الیه، پلورنکی).

ب) صیغه: وړاندیز او قبول(ټول هغه الفاظ چې پر همدې تړون دلالت کوي په هغو سره دغه بیعه صحیح کېږي).

ج) معقود علیه: د سلم سرمایه قیمت، پلورل شوې توکس ملسم فیه.(۱۸۰:۷).

**د بیع سلم د صحت شرایط**

کوم شی د انسان سره نه وي، لکه د هوا مرغه، د اوبو ماهي او داسې نور د هغو شیانو راکړه ورکړه نه کېږي؛ خوسلم داسې یوه راکړه ورکړه ده، چې شی د انسان سره اوس نه وی بیا هم د هغه پر سر راکړه ورکړه کېږي، پیسې یې اوس سپارل کېږي او جنس بیا وروسته تر لاسه کېږي. د سلم راکړې ورکړې د روالي لپاره څو شرطونه دي که هغه شرطونه نه وي پلي شوي، نو تر هغه وخته دا راکړه ورکړه نه صحیح کېږي چې هغه په لاندې ډول دي:

لومړی شرط:کوم شی چې معامله کېږي دهغه پوره تفصیل بیانول په‌کار دي، مثلاً که غنم وي د هغو په باره کې دا تفصیل په‌کار چې وطني، زراعتي یا لیلمي دي، غټ یا نري، سپین یا سره،گرد او غبار به لري اوکه نه؟(۱۶:۸).

دویم شرط: په نرخ یا قیمت به فیصله کوي، مثلاً که غنم اخلي نو قیمت به یې ټاکي داسې سهي نه ده، چې وواېي کله چې فصل تیار شي هغه وخت چې څه نرخ و همغه به یې نرخ وي. همدارنګه

که کوم جنس راغواړي نوقیمت به یې فیصله کوي، دا ورسره ویلای شي چې څومره خرڅ په واردولو او راوړو راغی هغه به راکوې.

**دریم شرط:** د سودا د اخېستلو موده به ټاکي یعنې داسې فیصله به کوي، چې په فلانی میاشت یا فلاني تاریخ به دغه سودا یا جنس درکوم.

**څلورم شرط:** **څلورم شرط** د ځای ښودل دي. خریدار ته به دا ښيي چې په فلاني ځای کې به جنس درته رسوم، البته دا شرط د هغې معاملې لپاره دی، چې وړل او انتقال یې آسانه نه وي، لکه سل منه غنم یا پنځه سوه چوکۍ او داسې نور. که داسې جنس وي، چې وړل یې آسان وي، لکه څو دانې قلمونه یا کتابچې، نو د دا ډول اجناسو لپاره دا شرط نشته.

**پنځم شرط :** ټولې روپۍ به د معاملې کولو په وخت کې اداکوي.

**شپږم شرط:** د څومره مودې لپاره چې معامله شوې ده په دغه ټوله موده کې به د معاملې جنس په بازار کې موجود وي، که هغه شی له بازار نه غایب شي، نو بایع به روپۍ بېرته ورکوي، دا شرط د احنافو دعلماء کرامو دی، مګر امام شافعي، امام مالك او امام احمد وایي چې کوم وخت چې هغه شي ورکوي هغه وخت یې موجوده ګي په کار ده او په ټوله موده کې په کار نه ده. د مودې له تېرېدلو وروسته که بایع ته هغه شی ورنه کړل شي، نو بېرته به پیسې ورکوي، په دغو پیسو بل شی نشي اخیستلای یا به روپۍ بېرته ورکوي یا به هغه ته نور مهلت ورکوي.(۹۷:۶).

اووم شرط: د هغو توکو بیعه سلم نشي ترسره کېدی، چې سمدستي تادیه یې اړینه وي، د مثال په ډول که د سروزور بیعه د سپینوزرو په بدل کې ترسره کیږي شرعآ دا اړینه ده چې د دواړو توکو اداینه پر یوه وخت ترسره شي، نو دلته بیعه سلم اغېزناک نه پرېوځي. په همدې ډول که د غنمو بیعه د وربشو په بدل کې ترسره کیږي، نو د بیعې د سمون لپاره پر یوه وخت د دواړو توکو قبض کول اړین دي، ځکه نو په دې صورت کې د سلم تړون ناروا دی؛ خوپه دې شرطونو یوشمېر نور شرطونه هم شته چې په اړه یې مختلف فقهي مذاهب بېلابېل لید لوري لري.(۲۰۰:۳).

**په اسلامي بانکونو کې د سلم د بیعې پلي کول**

په اسلامي بانکونو کې به د سلم د بیعې پلي کول داسې وي چې د سلم تړون به د تمویل له لارې وي او دا به د هغه قرض قایم مقام وي، چې په ګټه یې ورکوي. د هر چا سره، چې مشروع توکي وي او هغه یې تولیدوي، نو کولای شي چې د هغو یوه برخه وپېري، چې تسلیم به یې په راتلونکي کې صورت نیسي او قیمت به یې همدا اوس اخلي. پر همدې اساس د سلم تړون یو له هغو وسایلو څخه دی چې اسلامې بانکونه یې د توکو د لاسته راوړلو لپاره کاروي؛ خوله عملي واقعیت څخه داسې څرګندیږي چې ګڼ شمېر اسلامي بانکونه د زیاتو صنعتي شرکتونو د لاسته راوړلو لپاره همدغه صیغې کاروي. دا هم شونې ده، چې د سلم بیعه د وحداتو د پلورنې له لارې د عقاراتو په جوړونه کې هم وکارول شي او وروسته له فراغت څخه یې تسلیم کړي.(۱۸۰:۷).

**د سلم تمویل**

له پورتني بحث څخه دا څرګنده شوه، چې شریعت د بیعې سلم اجازه د کرونده‌ګرو او سوداګرو د شته اړتیاوو د بشپړتیا لپاره کړې. پر دې اساس په بنسټیز ډول سلم د کوچنیو سوداګرو او کرونده‌ګرو لپاره د تمویل یوه تګلاره ده او د تمویل دا طریقه په نویو بانکونو او تمویلي ادارو کې هم کارېدلی شي، په ځانګړي ډول د کرنیزې ځانګې د تمویل لپاره. مخکې هم دا څرګنده شوه، چې په سلم کې نسبتاً د هغو توکو قیمت کمېدلی شي کوم چې پېرونکي ته تادیه کیږي، په دې ترتیب که د بازاري او سلم د دوو نرخونو تر منځ کوم توپیر موجود وي هغه به د بانکونو او تمویلي ادارو لپاره روا ګټه وي. د دې خبرې د باوري کولو لپاره چې پلورونکي به غوښتل شوي توکي په ټاکلي وخت تسلیموي له هغه څخه تضمین غوښتلی شي چې د ضمانت، ګروي او نورو په صورت ترسره کېدای شي. د توکو د نه تسلیمۍ په صورت کې د پلورونکي له ضامن څخه د دې غوښتنه کېدلای شي چې پېرونکي ته هغه توکي تسلیم کړي او د ګروي په صورت کې پېرونکي یا تمویلوونکي د ګرو کړل شوي توکي د پلور له لارې اړوند توکي له بازار څخه پېرلي شي یا هم پلورونکي ته ورکړل شوی پېشکي قیمت بېرته ترلاسه کولای شي. یوازینۍ ستونزه، چې نوې تمویلي ادارې یا بانکونه ورسره مخ کېدای شي دا ده چې دوی به له خپلو مشتریانو څخه د نغدو پیسو پر ځای توکي ترلاسه کوي دا چې اوسني بانکونه یوازې د پیسو په راکړه ورکړه کې مهارت لري، ځکه نو په‌ښکاره دا کار پر دوی یو ډول پېټې ښکاري چې هغوی له بېلابېلو مشتریانو مختلف ډوله توکي ترلاسه کړي او بیا یې په بازار کې وپلوري او هغوی په عملي ډول په هغو توکو له قبضه کولو وړاندې هغه توکي نشي پلورلی، ځکه چې دا کار په شریعت کې ناروا دی. خو کله چې موږ د اسلامي شریعت د تمویلي تګلارو په اړه بحث کوو، نو یو بنسټیز ټکی باید له یاده و، نه باسو هغه دا چې د داسې تمویلي ادارو تصور چې یوازې د زرو (پیسو) راکړه ورکړه کوي د اسلامي شریعت لپاره پردی دی. (۳: ۲۰۳).

که دا ادارې غواړي چې حلاله ګټه ترلاسه کړي؛ نو هغوی به په یو نه یو ډول د توکو راکړه ورکړه هم ترسره کوي، ځکه د شریعت له مخې یوازې د پور پر ورکړه ګټه نشي ترلاسه کېدای، نو د اسلامي اقتصاد د رامنځته کولو لپاره د تمویلي ادارو په لید لوري او فکر کې حتمي دی چې بدلون راشي. دا ادارې د توکو د راکړې ورکړې لپاره ځانګړې ځانګې جوړولی شي چې د بیعه سلم له لارې به د توکو پېر او په نغدو یې په بازار کې پلور ستونزمن نه وي. د بیعه سلم له تړون څخه د ګټې اخیستو دوه نورې لارې هم شته چې په لاندې ډول څرګندیږي.

لومړۍ لاره دا ده، چې د سلم په توګه د یوه توکي له پېرلو وروسته تمویلي اداره کولای شي چې د سلم د یوه ورته تړون له لارې هغه توکي وپلوري البته په دې دویم تړون کې بهه هم د تسلیمۍ نېټه د لومړی سلم د تسلیمۍ نېټه وي. له دې کبله، چې د سلم په دویم تړون کې به د

تسليمی موده کمه وي، ځکه نو په هغه کې به د توکو قيمت د لومړي ترون په نسبت يو څه زيات وي او د لومړي او دويم سلم د اړوند نرخونو ترمنځ چې کوم توپير وي، هغه به تمويلي ادارو ته ترلاسه کېدونکې ګټه وي. د دويم سلم ټاکلې موده چې څومره کمه وي نرخ به يې هماغومره زيات وي او ګټه به يې هغومره ډېره وي.

دويمه لاره دا ده چې که له څه امله يو بل د سلم موازي ترون د عملي کېدو وړ نه وي، نو دا تمويلي ادارې له کوم درېيم لوري څخه د توکو د پېرلو ژمنه اخيستلې شي او دا ژمنه به د متوقع پېرونکي لخوا يو اړخيزه ژمنه وي. داچې دا يوازې ژمنه ده او عملاً بيعه نه ده، ځکه نو پېرونکی د پېشکی د ورکړې پابند نه دی. پر دې اساس په دې تګلاره کې لوړ قيمت هم ټاکلې شي او داچې اړوند توکي به تمويلي اداره ترسلاه کوي، نو هغه به له ژمنې سره سم په ټاکل شوي نرخ په درېيم لوري وپلوري. ځينې مهال يوه درېيمه لاره هم وړانديز کېږي هغه داچې د تسليمی د ټاکلې نېټې په رارسېدو هغه توکي بېرته په پلورونکي په لوړ قيمت وپلورل شي؛ خودا وړانديز له شرعي حکمونو سره سمون نه خوري، شرعاً دا کار ناروا دی چې پېرونکي له قبضې وړاندې هغه توکي په پلورونکي وپلوري او که دا راکړه ورکړه په لوړ قيمت ترسره کېږي، نو سود ته ورته معنا لري کوم چې په بشپړ ډول ممنوع دی. که دا دويمه بيعه په شته توکو د پېرونکي له قبضه کولو وروسته هم ترسره کېږي بيا هم د لومړنی بيعې پر وخت د دې دويمې بيعې بندوبست نشي کېدای، ځکه نو دا وړانديز په هېڅ ډول د عملي کېدو وړ نه دی.۳: ۲۰۴).

**په ټوليزو استثماراتو کې د سلم عقد**

په ټوليزو استثمارتو کې له بيع سلم څخه استفاده په لاندې ډول ده:

الف ـ د تمويل لاسته راوړل،

ب ـ مخکې له مخکې د توليداتو او حصلاتو پلورنه،

ج ـ مشتري په دې توانيدل چې د توکو مناسب قيمت لاسته راوړي،

د ـ له دې کړنو څخه د صادرونکو استفاده او د توليدي شرکتونو څښتنان پر دې توانيدل چې ګټه لاسته راوړي،

د ـ د سودي قرضونو يو ښه بديل،

**د قسط په ډول د سلم بيعه**

د دې مقصد دا دی، چې توکي به څوځله ورکوي يعنې که يو سړی شل ټنه وريژې د يو کال په نېټه د سلم په توګه پېري او شرط يې دا وي چې په هره مياشت کې به (۱۰۰) کيلو ګرامه ورته سپاري، جمهور علماوو په دې اند دي چې د سلم دغه بيعه جواز لري او د تقسيط بيعه پر بيعه باندې قياس ده؛ خوکه چيرې ترون فسخه شي نو حساب به د قيمت پر بنسټ په مساوي توګه صورت نيسي، همدارنګه د سلم له توکو څخه د توليد له مخې په مشتريانو وېشل کيدای شي خو دا تسليم به په جزيي توګه صورت نيسي. (۷: ۱۸۳).

**د سلم بیعه په اسلامي بانکونو کې**

لومړی: بانک چې مشتري دی د تجارت توکي په هغه وخت کې لاسته راوړي چې دی یې غوښتونکی وي، په دې سره د پلورونکي ذمه مشغوله وي چې پر هغه وفاء لازمي ګڼل کیږي . بانک له نازل قیمت څخه ګټه اخلي، ځکه د سلم بیعه له حاضره بیعې څخه ارزانه وي چې په دې سره د اسعارو له اوښتون څخه خوندي پاتې کیږي.

دویم: بانک کولای شي د سلم هغه توکي چې پېرلي یې دي په موازي سلم سره وپلوري، پرته له دې چې د دواړو تړونو تر منځ کومه اړیکه موجوده وي. دا هم شونې ده چې انتظار وباسي ترڅو هغه توکي چې پېرلي یې دي تسلیم کړي چې په دې مهال به یې بیا په حاضر قیمت سره وپلوري.

دریېم: د سلم د بیعې په تړون کې بانک د تړون په مجلس کې قیمت سپاري ترڅو پلورونکي ورڅخه استفاده وکړي او خپل حاجتونه پرې پوره کړي، البته پلورنکی د توکو په تسلیم او د ژمنې پر وفاء ملتزم دی.

څلورم: په دویم پړاو کې دسلم د توکو تسلیمي په ټاکل شوې نېټه کې د بانک په وړاندې ترسره کیږي چې دا بېلا بېل حالات لري. په لومړی حالت کې بانک توکي په ټاکلې موده کې تسلیموي او له تسلیمي څخه وروسته یې بانک په نېټه یا هم حاضر قیمت سره پېري چې بانک پلورونکي د توکو د پلور لپاره خپل وکیل نیسي، دغه وکالت به یا په مزدوري سره وي یا به هم پرته له مزدورۍ وي.

**سلم په بیعه کې خیار شرط**

دا، چې د سلم په بیعه کې خیار شرط وجود لري او که نه؟ په لاندې ډول یې روښانه کوو:

جمهور علماء په دې اند دي چې دا نه ده روا؛ خومالکي علماء وایي چې د دریېو ورځو تر مودې پورې جواز لري؛ خوپه دې شرط چې راس المال به نه تسلیموي. دوی وایي چې د راس المال د چټکې اداء او خیار تر منځ یو ځای والي امکان نه لري. ایا روا ده چې قرضونه راس المال وګرځوي؟

الف: جمهور علماء وایي دا صحیح نه ده؛ ځکه دا د پور پلورل په پور دي بل دا چې په دې کې د جاهلیت د سود شبهه ده.

ب: یو شمیر علماء وایي چې دا جواز لري؛ داسې ښکاري چې دغه چاره روا ده په دې شرط چې پوروړی پورو ورکوونکی ؟شتمن وي او پوروړی فقیر وي نو بیا نه ده روا. (۷: ۱۸۷).

**پخوا له قبض څخه د سلم بیعه**

لومړی صورت) په دریېم سړی د سلم د توکو پلورنه: په دې باره دې کې د علماوو اختلاف دی. جمهور علماء وایي چې دا نه ده روا؛ ځکه په حدیث کې راغلی چې وایي (چاچې دسلم بیعه وکړه نو بل ته دې نه حواله کوي.) بل دا چې دا داسې پور دی چې استقرار نه لري او داسې ګټه ده چې د تاوان یې ضامن نه دی، پر دې سربېره سود خوړولو ته راګرځي.

په پلورونکي یې بېرته پلورل: دا هم د جمهورو علماوو له انده حرامه بیعه ده؛ ځکه په حدیث کې یې منع راغلې او داسې ګټه ده چې د تاوان ضامن یې نه دی. مالکیان او امام احمد په یو روایت کې وایي چې دا بیعه جواز لري، ځکه په حدیث کې راځي ( که د همغې ورځې په قیمت وي او هم په داسې حالت کې یو له بله جلا شي چې په زړه کې یې هیڅ نه وي بیا باک نه کوي.) دا رنګه په دې ډول بیع کې داسې ګټه نشته چې د تاوان ضامن په کې نه وي.

دویم صورت: پهځپله په بایع یا پلورونکي باندې د توکو پلورل(دا له بدلون سره زیات ورته والی لري.)

په لومړی صورت کې چې په درېیم شخص یې د سلم توکي پلورل، په هغه کې د علماوو تر منځ اختلاف دی. جمهور علماء وایي چې دا نه ده رواه، ځکه په حدیث کې راغلي چې وایي( چا چې د سلم بیعه وکړه، نو بل چا ته دې نه حواله کوي.) بل دا چې دا داسې پور دی چې استقرار نه لري، داسې ګټه ده، چې د تاوان یې ضامن نه دی او پر دې سربېره سود خوړلو ته راګرځي.

په پلورنکي یې بېرته پلورل: دا هم د جمهورو علماوو له انده حرامه بیعه ده، ځکه په حدیث شریف کې د دې منع راغلې او هم داسې ګټه ده، چې د تاوان ضامن یې نه دی. مالکیان او امام احمد په یو روایت کې وایي چې دا بیعه جواز لري، ځکه په حدیث کې راځي( که د هماغې ورځې په قیمت وي او هم په داسې حالت کې یو له بله جلا شي، چې په زړه کې یې هیڅ نه وي بیا باک نه کوي.) دارنګه په دې قسم بیعه کې داسې ګټه نشته چې د تاوان ضامن پهکې نه وي.(۷: ۱۸۲).

**پایله**

وروسته له دې چې موږ د بیع سلم د تمویل په برخه کې څېړنه پای ته ورسوله دې پایلې ته رسېږو چې بیع سلم د بیعې په عقدونه کې یو استثنائي عقد دی. په بیعه کې مشتري د توکو پیسې نقدې ورکوي او بایع توکي وروسته په ټاکلې موده په هغو شرایطو چې تعهد یې پرې کړې تسلیموي. بیع سلم په قران کریم او نبوي احادیثو سره ثابته ده؛ خود خاصو شرطونو په رعایت سره، لکه د کوم شي چې پېر و پلور کېږي هغه باید متعین، طي شوی او قیمت یې په فوري ډول اداء شي. که د قیمت سپارل قرض وي، نو بیا دا بیعه ناجایزه ده البته امام مالک (رح) دومره رعایت ورکړی، چې که د قیمت سپارل له معاهدې څخه دوه یا درې ورځې وروسته وشي، نو دا هم نقد سپارل ګڼل کېږي. د کومو شیانو تبادله چې کېږي هغه باید له یو جنس څخه نه وي د بیلګې په توګه، غنم د غنمو په بدل کې یا سره زر د سرو زرو په مقابل کې نه وي، د سامان د تیارولو او سپارلو تاریخ و ځای له مخکې څخه ټاکل کېږي، ځکه له رسول الله (ص) څخه روایت دی چې فرمایي(که له تاسو نه، کوم شخص بیع سلم وکړي، نو هغه دې په معین مقدار، وزن او مودې سره کوي) تاریخ باید حتمي او ټاکلی وي، مثلا دا صحیح نه ده چې څوک ووایي کله چې فصل راغونډ کړل شي یا حاصلات واخستل شي بیا به یې سپارو، بلکې د میاشتې او نیټې تعینول ضروري دي. کله، چې اخستونکی د شي قیمت اداکړي شي یې

ملکیت گرځي او د تصرف ټول حقوق ورته حاصلیږي. همدارنگه سلم په پیسو کې روا نه دی؛ خوپه توکو کې روا دی. د بیع سلم پر اساس تمویل په مختلفو ډولونو سره صورت نیسي. که په بیع سلم سره بایع په دې مطمین کیږي، چې توکي د تضمین د ژمنې په پایله کې وپلوري، بایع له پور اخیستلو پرته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. د دوی د توکو لپاره له مخکې له مخکې یو ډول بازار موندنه ده او بل دا چې د سود یو ښه بدیل دي چې بایع او مشتري په روا لارو له روا مفادو څخه برخمن کیږي.

**وړاندیزونه**

۱ـ بیع سلم د گټې او د فوري اړتیاوو د رفع کولو لپاره یوه مشروع لار ده، په‌کار ده چې کرونده‌گر او تولیدونکي له دې طریقې څخه په استفادې سره تمویل شي، ترڅو خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

۲ـ د بیع سلم اساسي حکمیت د اړمن کس د سمدستي اړتیاوو رفع کول دي، نو په‌کار ده چې موده یې له یوې ورځې څخه زیاته و نه ځنډول شي.

۳ـ بیع سلم په توکو کې جواز لري خو توکي باید یو له بله اختلاف ولري، نو په‌کار ده چې عقدین دې نقطې ته هم متوجې شي او په پام کې یې ونیسي.

**ماخذونه**


۱ـ قران کریم، پښتو ژباړه، شاه فیصل، (۱۴۳۴هـ ق)، فهم القران،(چ،۲). پیښور، پاکستان، فصل خپرندویه ټولنه.

۲ـ محمد بن اسماعیل ابو عبدالله البخاری الجعفي، (۱۴۲۲ق). صحیح البخاري، محقق: محمد زهیر بن ناصر الناصر، بیروت، دار طوق النجاه.

۳ـ محمد تقي، عثماني،(۱۳۹۹). د اسلامي بانکوالۍ بنسټونه یوه پیژندنه،(چ، ۱)، ژباړه، شېراغا کریمي، کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه.

۴ـ سلیم رستم باز، لبناني،(۲۰۱۶). توضیح المرام، (ج، ۱)، (چ، ۱). ژباړه، برهان الدین، صدیقي. جدید مکتبه رشیدیه خپرندویه ټولنه.

۵– روح الله، موسوی خمینی.( ۱۳۷۸). تحریر الوسیله،( ج۱)، (چ، ۱)، تهران: انتشارات مؤسسه مطبوعات دارالعلم قم.

۶ـ حمدالله، شاکري،(۱۳۹۴). معاملاتو فقه لارښود،(چ، ۱)، کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه.

۷ـ محمد مصطفی، نیازی(۱۳۹۶). د بانکدارۍ مقایسوي حقوق، (چ، ۱)، ننگرهار، یار خپروندیه ټولنه.

۸ـ حمید، فیاض، (۱۳۹۴).کاروباري مسایل او اسلامي حل لارې، (چ، ۱)، کابل: د افغانستان ملي تحریک فرهنگي څانگې خپرندوی ټولنه.

# Clarification of Finance on the basis of Bia Salam

Nasrullah Saud Niazi
Email: nasrullahsaudniazi@gma.com

Abstract
In Islamic law, there are various agreements for financing one of which is Bia Salam (Commerce of Salam). Salam is a sale and purchase, in which the buyer pays cash for the goods, but the seller pays the sale after a certain period of time. Accordingly, sales sale is an exceptional contract, because in every sale, these three conditions must be present. For example, the goods must be available, they must be in the seller's possession, and they must also be in the charge of the seller, but all these conditions are not present in the Bia Salam (Commerce of Salam). Beyond, the customer should pay the full price of the goods during the contract, the contract will be on goods whose quality and quantity can be determined in advance, the nature and quality of the goods must be known, the weight and size of the goods must be known, and the date and place of delivery of the goods must be known. On the other hand, the producer obtains financing for the operation without taking a loan and also meets the immediate need without taking any loan or interest and the ground of marketing must also be available.

**Key words:** Commerce, financing, salam, legitimacy, possession.

# Paktia Province's Rivers Basin and its Economic value

Teaching Assistant: Asmatullah Ziar, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography, Sheikh Zayed University, Khost Afghanistan.
Teaching Assistant: Zinatullah Arman, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography, Sheikh Zayed University, Khost Afghanistan.
Teaching Assistant: Abdulhafeez sulaimankhil, Education Faculty, Department of Geography, Pakitai University, Paktia Afghanistan.
zinat.arman2023@gmoil.com

**Abstract**

Water is not only essential for life, but it also plays a significant and positive role in the growth of our nation's economy. Consequently, it may be claimed that the water in the Paktia River Basin comes from a variety of rivers. Three of these are well-known rivers, one of them is the Jalgae River. It originates from the Machalghou (Borgi) region and Mirzaka district, which irrigates the nearby agricultural areas of Sayed karam, Center Gardez, and Zurmat. Eventually it empties into the Maquar Lake. The second one is the Khoram River, which originates from the Mirzaka and Sayed Karam District's mountains. After irrigating the agricultural lands of the Mirzaka, Ahmad Khel, Lajha Mangal, Chamkni, and Patan districts, it flows toward the Khyber Pakhtunkhwa region. The last one (Shamal River) originates from Sato Kandow. This river irrigates the farmlands of the shwak, Gerda Serey, Waza Jadran, Nader Shah Kote, Manduzi and Matun's agricultural areas. Finally, it keeps the flow toward the Khyber Pakhtunkhwa. In this river basin, several dams have already been constructed, and others are intended that eventually it will provide the opportunity to irrigate more farmlands then now. In this research paper, we have discussed about all the Paktia River Basin's rivers, its rivals and the canals that are separated from this basin. Also, the dams that are constructed and to be construct in the future are consisted too.

**Key words:** river, river basin, water resources, water capacity, economical value.

# Order of judicial separation between wife and husband due to lack of feed

Teaching Assistant Nasimullah Hijran, Sheikh Zayed University Faculty of Shari'a, Teacher of Fiqa and Law
Email Address: nasimullahsafi123@gmail.com

**Abstract:**

This topic is written under the title of judicial separation between husband and wife due to lack of feed, This is a bibliographic study, the purpose of which is to know the ruling of judicial separation between husband and wife due to the lack of feed according to Islamic law.

The principle in divorce is that it is the property of the husband and the wife has no right to it, But when the wife suffers from her husband's flaw, harm, non-feed, Inability or refusal of the husband, disappearance of the husband, absence and other such reasons, So, she can submit her complaint to the court in order to bring separation between her and her husband, The wife appeals to the court and requests a divorce from her husband for one of the reasons mentioned; So if the court finds that the woman is truthful in her claim;  So the court orders a divorce between the husband and the wife, This separation is called judicial separation. Or in other words: judicial separation by order of the judiciary and the court for specific causes and reasons, such as: (flaw, harm, inability or refusal of the husband to provide feed, etc.) due to these reasons the invalidating and destroying the marriage property of the husband on the wife is called judicial separation. The judicial separation consider to the reasons of separation has order sometime return divorce and sometime irrevocable divorce.

**Key Words:** The wife's right of feed on her husband. Introduction of separation. Types of wife's feed. Method of judicial separation in case of non-feed. Judicial separation order due to lack of feed.

# Investigation, synthesis and application of diazonium salts

Teaching Assistant. Syed Mohammad Ramesh, Daikandi University, Faculty of Education, Department of Chemistry, and Teaching Assistant Nurullah Hussain Khil, Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Department of Chemistry

Email address: Noorullahhussainkhil55@gmail.com

## Abstract

Diazonium salts are organic nitrogenous citrus fruits that all these citrus fruits have two or three nitrogen atoms in their composition in conjugated or non-conjugated form. be ionic between azo groups and anionsThe general formula is in the side chain R may be an aliphatic group or an aryl group (Ar), that is, an aromatic aromatic ring. From this general formula of diazonium salt, it can be said that the azo group is very unstable due to having a positive charge on one of the nitrogen atoms Of course, this positively charged nitrogen ion establishes a resonance state with the aromatic ring, and this positive charge is also able to separate the base system of the aromatic ring. For example: aromatic diazonium salts are more stable than aliphatic because the positive charge cannot be separated along the carbon chain

**Key word:** Di isonium, nitrosonium ion, azo dyes, effective heat, coupling interactions.

# The role of entrepreneurship in rural development

Junior Teaching Assistant Sabit Ahmad Bawary of Sheikh Zayed University, Faculty of Agriculture, Economics and Development Department, Academic staff member.
Senior Teaching Assistant Waliullah Yousafzai of Sheikh Zayed University, Faculty of Agriculture, Plant Protection Department, Academic staff member.
Email address:Sabet.bawary@gmail.com

**Abstract**

Creating work is considered to be the most effective and efficient approach to support creativity and innovation among people nowadays. Research has made it clear that work inventions have a direct relationship with the development of a country. Employment is very important in all societies, especially in rural areas, because rural areas in developing countries are deprived of many benefits. Villages are called small social units in every society, but the contribution of these small units (villages) in the development and progress of countries is very understandable and clear. The rural communities of Afghanistan are struggling with many problems such as: issues such as poverty, unemployment, migration, inadequate nutrition, illiteracy, and other related issues. Looking at the mentioned problems, rural areas have a serious need for job creation and job creation education in addition to other areas, in order to find a solution to these problems. Innovations are considered to be the most effective and important tool for agriculture and overall rural development. This research is included in qualitative and bibliographic studies according to the type, so that the role and need of job creation in rural development can be clarified with its help. The results of the research made it clear that the rural economy is not only dependent on the recognition of opportunities and resources with the help of job creation within the villages. Good use of these known resources provides many job opportunities and overall economic prosperity to the villages.

**Key words:** Development, entrepreneurship, entrepreneurship training, rural entrepreneurship, rural development

# Introduction of Predatory Aves in Afghanistan

T.Asst. Zahidullah zaheen and assistant prof. Ghazi Jan mohammadi
Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Biology Department.
Email addres: zahidullah.koner@gmail.com

**Abstract**

The different living things live in nature, each living thing has its own way to live and different characteristics. Predators Birds also have special and extraordinary characteristics. It seems that Predators birds have been known to humans for a long time. From Babylonian times, in Greece and Rome, the flying eagle appeared on coins and medals and was considered a symbol of war. The pharaohs of Egypt gave them the status of a royal legend. Also, the eagle flying on the flag of many countries is a symbol of power.

Predators Birds appear to belong to the Falconiformes and Strigiiformes orders. All Predators birds seem to have hunting skills and fly very fast. These orders include eagles, falcons, falcons, harriers, sparrowhawks, lamergyers, sparrowhawks, fish-eaters, secretary hens, carrion-eaters, falcons, peregrine falcons, hobbits, kestrels, merlins, and boobies. Most spotted birds are day hunters, but some are nocturnal hunters. The habitats of these birds are deserts, tropical forests and beaches.

**Key words:** Predators Birds, Falconiformes order, Stregiiformes order and Bird feeding.

# The Position of Educational Poetry by Ethical Poets in the Moral Education of Youth

Author: Senior Assistant professor Abdul Basir Hakimi, Sheikh Zayed University, Department of Dari Language and Literature
Email Address: abdulbasirh68@gmail.com

**Abstract:**
The present research investigates the position of ethical poetry in the moral education of youth. It examines the evolution of this literary genre and the teachings of ethics, spirituality, and mysticism in the Persian language poetry. The research methodology employed descriptive and analytical approaches in terms of data collection and information. Furthermore, the nature of the data and information was qualitative. The findings of this study suggest that literature can contribute to the development of critical thinking, linguistic intelligence, imagination, emotional intelligence, and various other dimensions. Consequently, based on the discussions and investigations of this research, it can be concluded that educational literature is a type of literature that recognizes the prosperity in improving one's moral character and focuses on nurturing spiritual powers and moral teachings of individuals. The most important subjects of educational literature include theology, religious and spiritual teachings, moral education, mysticism, and socio-political teachings. It is one of the most significant types of literature found in the culture and literature of every country. It refers to works that aim to educate people through various methods and their moral teachings. Poets, utilizing different literary techniques, create verses filled with advice and admonition, employing various metaphors to facilitate the understanding of good and evil matters and contribute to a righteous way of life.

**Keywords:** moral education, religious and spiritual teachings, mystical teachings, position of educational poetry, youth, ethical poets.

**The contribution of women in jouresprudence and area fatwa throughout the course of Islamic history**

Senior Teaching Assistant Fazal Kareem Sharaf, Kabul University
Faculty of Shari'a, Teacher of Department Islamic Culture
Email Address: fkareem1990@gmail.com

**Abstract:**
The issue of female Mufti is controversial and most debated among Islamic scholars. Some scholars deny female Fatwa (Legal Opinion) while others accept it as part of female Mufti's rights and every group has reasons for their opinion. The first reason behind this dissension is the custom since the majority of Mufti were male religious scholars throughout Islamic history. Secondly, the existence of a wide disagreement of opinions about whether a woman can become a judge or not, but the issue of female Mufti was different.
The significance of the research lies in the fact that it has unveiled the relationship of women with Jurisprudence, Fatwa, and as a whole with religious education and presented examples in theoretical and practical ways.
The historical and analytical method was used to investigate the historical narrations about the relationship of women with jurisprudence and Fatwa and as well as the research offered an in-depth analysis to the different ideas of Islamic scholars on the subject matter of women's Fatwa.
**Keywords:** Islam, History, Fatwa, Jurisprudence, Women.

# Finding the volumes of complex shaped bodies

Senior Teaching Assistance: EhsanullahHemati&Senior Teaching Assistance: Mohammad ZubairTanweer, Faculty of Education, Math Department

**Email address :**Ehsanullah.hemati@gmail.com& Tanweer.zubair@gmail.com

**Abstract**

The volume of a body plays an important role in various problems of the physical sciences, so since the science of geometry has created various formulas to find and calculate the volume of simple bodies that have regular geometric shapes; But he did not create any special formulas for complex shaped bodies; Therefore, in order to reach this goal, we have explained and explained the formulas that are obtained by means of integrals and the volumes of bodies with complex shapes are calculated. We have presented and solved examples according to the application of the formula, in addition to this, we have also briefly mentioned the concepts that are necessary for these formulas.

**Key words**: Integral sums, volume,periodic bodies, definite integral.

# Ethics of Public Relations

Senior Teaching Assistant, Farooq Jan Mangal, School of Communication and Public Relations, Public Relations Department
Teaching Assistant Hilal Arshad

**Abstract**

People in all professions typically conduct with sincerity, honesty, and dedication by abiding by a variety of oral and written practically universally acknowledged rules, which eventually instills a moral sense. In the professional world, as evidenced by the legal, medical, and engineering professions, among others, practitioners take an oath and swear to uphold the ethical standards of their respective domains at all times. Public relations professionals are expected to adhere to a set of ethical rules and principles in the course of their work. Public relations is a field, a profession, and a career that demands a number of these standards.

Public relations play a major role in the relationships that many companies and institutions have with the community. For this reason, public relations is a career at many institutions that focus on or offer services. Referred to as an organization's moral center and conscience is its public relations department, which also sets the organization's commitment to certain ethical standards and directs its actions. This has led to the creation of several public relations codes of ethics, which enable those in this field to meet their ethical obligations and accomplish their strategic objectives—namely, delivering the finest service—under the guidelines and foundation of these ethical codes.

Keywords: Ethical codes, Ethics, Ethics of Public Relations, Public Relations

# Determination of each type of hydrogen in organic compounds by $H^1$ N.M.R spectroscopic method

Senior Teaching assistant Ph.D Ghulam Iqbal Marastial, Teaching Assistant. Noorullah Hussain Khel, Sheikh Zayed University, Faculty of Education. Department of Chemistry
Email: iqbalmarastial1982@gmail.com

## Abstract

By nuclear magnetic resonance, it is possible to identify organic substances better than IR spectroscopy. There are two types of spectroscopy, C13NMR and H1NMR. In this research paper, only H1NMR or proton NMR spectroscopy has been studied. Since all radiations have different effects on a chemical molecule, for example: when a molecule is exposed to X-rays, since the wavelength of these rays is very short and their energy is high, it can cause the molecules to cause destruction.

When a molecule is exposed to IR radiation, since the wavelength of these rays is greater than that of X-rays and the angle is less, it only causes the chemical bonds in the molecules to vibrate, and when a molecule In contrast to radio waves or NMR radiation, the wavelength of these rays is also very high and their energy is low, so it only causes a change in the resonance of the nucleus, i.e. from +1/2 to -1/ 2 or vice versa. In this article, only the proton spectroscopy method is used to study the detection of any proton in an organic compound.

**Key words:** magnetic resonance, nuclear spin, isotropy, chemical shift, equivalent hydrogens

# Social and Economic value of some Tourist Resorts in Afghanistan

S.T.Assit: Qudratullah Saddiqi
Department of Sociology and Philosophy, ShaikhZayed University, Khost, Afghanistan
Email: qudratullahsadiqi@gmail.com

**Abstract**

Afghanistan is a mountainous country, endowed with riches, natural resources, and scenic beauty that make it an excellent resource for the global tourist industry, which is seen as a vital component in bolstering the social and economic spheres. The tourism industry is one of the most lucrative in the globe, second only to the mining extraction and export business in the country. This business plays a vital role in the ongoing growth of nations worldwide, and its significance is growing every day. Afghanistan's geographic position is ideal for this industry because it offers a wealth of natural resources and historical sites. This industry has not received much attention up to this point due to many issues. 42% of Afghans live in poverty, according to studies conducted in 2007 and 2014. This industry can help alleviate this problem because it can offer young people with education employment opportunities as well as economic opportunities for people with a variety of skills. In addition, it can help people become more familiar with the languages, cultures, and social situations of people from around the globe. The most crucial issue is that security is guaranteed in Afghanistan; thus, you need to take significant action in this area and draw the Islamic Emirate's attention to it. Restoring historical sites (reservoirs) to their original standards and developing the services required for the tourist sector, or tourism to the nation's most desirable natural resource locations, are critical to the industry's growth. These essential services have a fundamental role in the tourism industry, the current contemporary technology permits the reconstruction of natural green areas and historical areas at the level of the country, the provision of facilities such as: Internet, accommodation, routes, essential services and so on. Documentaries should be translated into different languages in video format can be broadcasted through media through internal and external channels to attract domestic and foreign tourists. These above activities lead to development in this industry and lead to economic investment and development of different strata of the society.

**Key words**: Afghanistan, economic value, social value, tourism, tourism opportunities, rural development, familiarity with other cultures and languages

# Conflict in International Politics

Senior Teaching Assistant: Mohammad shahed Law and political science Faculty Department administration and diplomacy Shaikh Zayed University.
Senior Teaching Assistant: Irfan Law and political science Faculty Department administration and diplomacy Shaikh Zayed University.

**Abstract:**
The special focus of this research paper is on the conflict between states in international politics. In this research, an attempt has been made to examine the definition of conflict, the meaning and concept of conflict, the structures of conflict, the sides of conflict, the location of conflict and the causes of conflict in the international system. Also, the political, social and international changes that have occurred at the international level and have caused conflicts have been investigated, and the situation on which conflicts between states have arisen has been mentioned. At the international level, it has been mentioned the conflicts that the states use for their goals. In simple words, we should write that international conflicts occur when individuals, groups or states want to take inappropriate actions and reactions against each other.

**Keywords:** Human transformation, Economic competition, the meaning of conflict, conflict structures, conflict over National Interests.

# Investigating the Mechanism of Carbonyl Group Coupling Reactions

SeniorTeaching Assist Ph.D Ghulam Iqbal Marastial, Taeching Assistant. Noorullah Hussain Khil Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Chemistry Department
Email: iqbalmarastial1982@gmail.com

## Abstract

The reactions discussed in this article are one of the most important ways in which new carbon-carbon bonds are formed. These interactions are: international shear interaction, Robinson ring formation reaction, Claisen shear reaction, Diekman shear reaction, Michael summation reaction, Darzen shear reaction and other important reactions under investigation in this article. have been arrested The basis of the mechanism of all these reactions is the interaction of a nucleophilic carbon with a carbonyl group, that is, the reaction is initiated by a nucleophilic attack. a and b are related to the substituents attached to the carbonyl group and are related to the method of the reaction. Four basic processes can occur during these reactions, which we study as follows. . That is, nucleophilic carbon can be used to perform an international reaction and beta hydroxy alkyl ketone can be obtained from it, such as path A and path B in which the acylation process is performed, in which a group is separated from the electrophile containing the carbonyl group, as well. In Wittig and similar reactions, the product containing oxygen reacts with the z substituent to form an elimination product such as the c pathway as well as the d pathway if the enolate compounds have a dissociative function at the alpha position. If the group has, then here again the circle formation takes place

**Key words**: Cross-linking reactions, annulation, aldolation, Darzen ta'al, Dikman reaction

# Effects of Composted Pure Animals Manure and Mixed with Others Plants Residue Compost on plants Growth

Senior Teaching Assistant. Mohammad Ismail MOQBAL[1]*, Assistant prof. Shafigul Shafiqi and Safiullah Hamdard
[1] Shaikh Zayeed University, Faculty of Agriculture
*correspondent
mismail350@gmail.com

**Abstract**

Animal manure is an important organic material for crop production and soil fertility, which plays an important role in plant yield and maintaining of soil fertility. Also, pure animal manure and mixed with other plant residues compost have different effects on plant growth. In order to determine the effects of pure animal manure and animals manure mixed with compost on the growth and yield of plants, this study was conducted in the research farm of Sheikh Zayeed University's Faculty of Agriculture. In this study, pure animal manure, mixed 50% with compost and 50% mixed with soil were used on Corianders (*Coriandrum sativum*) plants. In addition, all the fertilizers were used in four levels (amounts) including control, that is 0 tons, 5 tons per hectare, 10 tons per hectare and 15 tons per hectare. All treatments were replicated three times. A total of 30 experimental units were formed, which were randomly divided into three blocks. For measurements, plant height, total plant yield, fresh weight and dry weight of plants were measured during observation and final harvest. The results of this study show that, in generally, animal manure mixed with compost and the appropriate amount of use (10 tons per hectare) have good results. As a result, this study recommends to farmers that decomposed compost mixed with animal manure and using it in proper amount has good results.

Keywords: Animals manure, Compost, Coriander plant, Different manure levels, Mixed Organic manure

# Afghanistan – Pakistan relations during the reign of Muhammad zahir shah

Senior Teaching Assistant: Mohammad Shahed Law and political science Faculty Department administration and diplomacy Shaikh Zayed University.
Senior Teaching Assistant: Irfan Law and political science Faculty Department administration and diplomacy Shaikh Zayed university.

**Abstract:**
When the British Government decided to leave the Indian continent and divide the region between India and Pakistan. At that time Afghanistan was ruled by Muhammad Zahir shah. He criticized the British governments plan and said that the Soba Serhad, the current Khyber Pakhtunkhwa, is a part of Afghanistan. Before the creation of Pakistan, in July 1947, the Afghan government requested the British government with an official letter, that the British government should grant independence to the Pashtuns of British India or the right to join Afghanistan. In this research paper, during the reign of king relations would be very bad, even to the point of war, and sometimes they would be friendly. At the same time, the trips of political leaders of the world to build relations between Afghanistan and Pakistan have also been investigated.

**Keywords:** creation of Pakistan, political leader’s, relationships, pashtonistan, Non-exclusion

# Investigating the effects of noise pollution

Asst.Prof. Khan Wazir Adil and Asst.Prof Ghazi Jan Mohammadi Shaikh Zayed University, Faculty of Education, Department of Biology

**Abstract**

Any unwanted sound emitted into the environment is called noise pollution. In general, noise pollution is the sound that is irritating to one's ear, which comes from an external source. Do you know how much noise pollution harms human health, how much the effects of noise pollution on humans generally harm the peace of mind, the effects of noise pollution on humans generally cause mental confusion, mental confusion and Hearing involves a reduction in strength. Getting used to loud sounds actually reduces the sense of hearing and pollution gradually leaves its unwanted effects.

Noise pollution higher than the permissible level is associated with decreased libido, increased blood pressure, dizziness, fatigue, mood swings, nervousness, impaired communication, memory loss, increased miscarriage and stillbirth. The main causes of low birth weight in newborns have been identified. This pollution, unlike other pollutants, is present in urban and densely populated environments, especially in industrial areas. For example, the sounds of cars, machines, factories, loud radio and television sounds, the sound of airplanes, etc. are the factors that cause noise pollution.

**Key words**: Noise pollution, volume, decibels

# Poisonous Plants of Afghanistan

Abdul Khalil Afghani. Shaikh Zayed University, Faculty of Agriculture, Department of Agronomy

**Abstract**

In this Library based academic research article, information about 51 Afghanistan Poisonous plants along with their colored images are gathered with the help of different books, related research articles and trusted internet sites. Among these Solanaceae is leading with 12 poisonous plants, Ranunculaceae with 11, Euphorbiaceae with 8, Asclepiadaceae with 6, Liliaceae with 3, Asteraceae with 2 poisonous plants. The remaining 9 poisonous plants belonging to the families Cucurbitaceae, Fabaceae, Caprifoliaceae, Apocynaceae, Maliaceae, Verbinaceae, Aracliaceae, Apiaceae and Taxaceae ( Each family with 1 poisonous plants). In the last portion of the article a comprehensive table is given indicating the scientific and local names of the plants, poisonous substances names, names of the poisonous parts of the plants, lethal amounts and adverse effects on human beings in case of consumption of the poisonous parts of the plants.

**Key Words:** Afghanistan, Care, Plants, Poisonous, Poison.

# Specialized organizations affiliated with the United Nations

Authors: Associate professor Mohammadullah Mandozay And senior teaching Assistant Fazal rahman ayoubi Administration and Diplomacy Departments Faculty of law and political science of Shakh Zayed University .

**Abstract**

On that day, when the governments Exist on the earth, there was a need to know how to meet the needs of our people. It was for this reason that in order to meet these needs of the countries of the region, they have to work together at the regional level (economically, politically, culturally, religiously, militarily...) Organizations were established in the areas and this process took an international form with the passage of time. In the current situation, the number of such organizations has reached thousands of organizations, which have become a means of cooperation between governments and non-governmental institutions. In addition, specialized and professional organizations have been established in different areas of Tolin's life, and this process is still ongoing.

By reading this article, readers will get more information and able to get acquainted with the conternt ihternational organizations and many others issues.

**Keyword**: Organnization, United Nations, treaties, Unisco, Environment and Background.

**Shaikh Zayed**
**Quarterly Academic and Research Journal 2024, No: 33**

# Editorial Board

- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assis. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assist Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**

**Add: Shaikh Zayed University, Vice chancellor for Research and academic Journal, the directorate of Academic Journal, Khost, Afghanistan**

journals@szu.edu.af

**+93777791653 / +93774302477**